# سیګار

خانګړی عمومي تفتیش
د افغانستان بیا رغونه

اکتوبر 30
2010









د متحدو آیالتونو کنګرې ته درې میاشتنی راپور

4

سیګار | د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی راپور | میاشت 30, 2010

سیګار
خانګړی عمومي تفتیش
د افغانستان بیا رغونه

2221 South Clark Street
Suite 800
Arlington, VA 22202-3712



په 1.7میلونه CERP نوی پول تر درې کلنې بیارغونې وروسته د موټرو پرمخ پرانیستل شو. دا پول د Tojg د ډالره مالي لګښت جوړ شو، چې د فراه د سیند له پاسه غزېدلی او 300متره اوږدوالی لري. دا پول د فراه مرکز له ځينو نورو ولسواليو سره نښلوي. له دې پوله توقع کېږيَ چې په سیمه کې به اقتصادي فعالیتونه ګړندي شي، چې له دې سره به د افغان ملي اردو په شمېر کې کمښت راشي.
(د آیساف تصویر)

د سرپاڼې انځورونه (د بره چپ نه ښي لور ته):

یو افغان د سپتمبر د 18مې د ولسي جرګې د ټاکنو رايې ازمايي. د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسون د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له لارې د نړیوالې ټولنې د کړیو مرسته په کارونه د ټاکنو بشپړ مسوولیت پر غاړه واخیست. وروستۍ پایلې به د نومبر په پیل کې اعلان شي. (د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې تصویر)

د 2010کال په اکتوبر کې په کابل کې ځلورم نړیوال ننداړتون کې یو افغان ځارویو ته خواړه ورکوي. افغانستان په منځنۍ آسیا کې د کرنې د ګړندي پرمختللي بازار هېوادونو دی.
ننداړتون د افغانانو لپاره، متخصيصينو ته د خپلو تولیداتو د ښوولو شرایط مساعد کړل. (د ایساف تصویر، SSgt جوزف سوافورډ)

افغانې نجونې په اکتوبر کې په کابل کې امید ښوونځی تعقیبوي. په دې درو میاشتو کې تر 100و زیاتې نجونې او ښوونکې د کرنیزو درملو په واسطه مسمومې شوې. زهرپېژندونکو جوته کړه، چې دا سموم لاسي و؛ خو منظم نه و.
د افغانستان د ښوونځو پر نجونو د طالباتو تر راپرزېدو وروسته وخت ناوخت بریدونه کېږي. (د متحده ایالاتو د سمندري ځواک انځور، CPO Joshua R. Treadwell)

په سپمتبرکې په کابل کې د افغان ملي تجارتي فابریکي یو موچي د افغان ملي اردو لپاره بوټونه جوړوي. په رسمي توګه، د متحده ایالاتو شرکتونو د افغان ملي اردو لپاره بوټونه لېږدول. لومړیو افغاني لومړیتوبونو، افغان ملي اردو، ناټو، ایساف او د متحده ایالاتو ځواکونه وهڅول، چې له افغان شرکتونو نه خریداري زیاته کړي. دا شرکت په ورځې کې 2,400 بوټونه جوړوي. (د متحده ایالاتو د هوايي ځواک انځور، سارا براون)

# سیګار

د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي تفتیش

د اکتوبر 30 2010

## د ملي د فاع د صلاحیت ورکولو قانون (پي. ایل. 181-110) د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي تفتیش (سیګار) بنسټ کیښود.

د سیګار د نظارت ماموریت، لکه چي د قانون په جوړولو کي تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول ده.

- له هغو پروګرامونو او چارو سره د ترلو نظارتونو څارنه کول چې د افغانستان د بیا رغوې لپاره بودیجه ورته ځانګړې شوې، او یا موندل شوې وي.
- د هغو تګلارو مشرتوپ او همغاړیتوب، او د هغوي په اړه وړاندیزونه کول چې د اقصادي ودې، او د پروګرامونو او چارو په مدیریت کې د اغېزناکتوب او کفایت لپاره طرح شوي وي، او په دغه ډول پروګرامونو او چارو کې د ناوړه ګټه اخیستنې، درغلیو او بېځایه لګونې مخنیوي کوي او په ګوته کوي يې.
- په دغه ډول پروګرامونو او چارو کې د شتو ستونزو او خنډونو، او همداشان په هغوی کې د پرمختګ او لازمو سمونو په اړه د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو ته د بشپړو او سمو مالوماتو د ورکولو لارې چارې.

دافغانستان‌په‌بیارغونه‌کې‌هر هغه‌مهم‌قرارداد، بې‌بدیله‌مرسته، موافقه‌او یا بل‌مرستندویه‌میکانیزم‌شامل‌دی‌چې‌دامریکامتحدو آیالتونو د هروزارت‌اویاددغه‌هیوادد هرې‌ادارې‌له‌لارې‌ورکړل‌شوي‌وي، پیسې‌یې‌ځانګړې‌شوې‌وي، اویاهم‌ورکړل‌شوي‌وي.

سرچینه: پی. ایل. ۱۱۰ -۱۸۱، "د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ملي دفاع د واک ورکولو قانون،" ۱\۲۸\۲۰۰۸.

# له نېټې سره سم د سیګار پایلې

## تفتیشو نه

- 34 بشپړ شوي تفتیشي راپورونه له 4.4$ بیلیونو ډالرو څخه د ډېر پیسو د لګېدو په اړه څرګندوني لري
- 18 تفتیشي راپورونه د قراردادونو د مدیریت او څار په اړه دي
- 3 د کرمینل تخنیک تفتیشونو دم ګړي له 37 بیلیونو ډالرو څخه د ډېرو ارزښت لرونکو بیارغنیزو قراردادونو د سندونو شننه کړې ده

## څېړ نې

- د81 قراردادونو څېړنه، چې ټولټال ارزښت یې 6.1 بیلیونه دی، روانه ده
- 4 کره شوي، 9 لغوه شوي، او تر 6 میلیونه ډېر ډالر بیرته د متحدو آیالتونو دولت ته ورکړل شوي
- 333 مخابروي شکایتونه ترلاسه شوي او ځواب ورته ویل شوی

## چارې

- د افغانستان د 34 ولایتونو له ډلې څخه د 22 ولایتونو په 48 سیمو )ولسوالیو، ښارونو او نورو عملیاتي سیمو ( کې کار ترسره شوی دی



د افغانستان د بیا رغوني لپاره
ځانګړی عمومي تفتیش

اکتوبر 30, 2010

خوشاله يم چي په افغانستان کې د امريکا متحدو آيالتونو د بيارغنيزو چارو په اړه نهم درې مياشتنی راپور سپارم. دغه راپور د سيګار د څارنيزو چارو، او همداشان په افغانستان کې د بيارغنيزو پروګرامونو په اړه د راپور په اړونده موده کې چې د اکتوبر پر 30، 2010 نېټه پايته ورسېده، جزئيات ورکوي.

له دغو دريو مياشتو سره په افغانستان کې د امريکا متحدو آيالتونو د ښکېلتيا څلورم کال پيل شو. له 2001 کال راهيسي د امريکا متحدو آيالتونو کنګرې د افغانستان د امنيتي ځواکونو د جوړېدو، د اداري وړتيا د لوړېدو او پرمختللي اقتصادي ودې لپاره شاوخوا 56 بيليونه ډالر ځانګړي کړي دي. ولسمشر اوباما د 2011 مالي کال لپاره له کنګرې څخه د 16.2 بيليونو نورو ډالرو غوښتنه وکړه چې له دې سره به د ټولو ځانګړو شويو پيسو شمېر 72 بيليونو ډالرو ته ورسېږي.

زه افغانستان ته له خپل اتم سفر څخه تازه راستون شوم. ما د متحدو آيالتونو له ملکي او پوځي چارواکو، او د ولسمشر حامد کرزي او د بلخ او لغمان د واليانو په ګډون د افغانستان د دولت له مامورينو سره وکتل. ما د هغو مهمو موضوعګانو په اړه خبرې درلودې چې سيګار اشاره ورته کړې وه، لکه د ناوړه ګټه اخيستنې، درغليو او بېځايه لګونې له امله د امريکا د پانګه اچونې په خطر کې لوېدنه. دغه موضوعګانې قرارداد ورکونه، اداري فساد او هغه پلان چې د امريکا متحد آيالتونه غواړي چې د افغانستان د دولتي ادارو له لارې خپلې مرستې ترسره کړي، او د افغان ملي امنيتي ځواکونو پرمختيا، وې:

- په داسې حال کې چې د متحدو آيالتونو بيارغنيز پروګرام تر ډېره پر قرارداديانو متکي دی، سيګار موندلې چې د ياد هېواد شرکتونه د پرژو د پلي کېدنې، د کيفيت د کنټرول او قراردادونو په دوسيه ساتنه کې اوس هم ستونزې لري. زما د سفر په ترڅ کې د ايساف قوماندان جنرال ډيوډ پيټريوس ماته ووېل چې هغه د قراردادونو د دودې او پروګرام د مديريت لپاره د پوځي قرارداد ورکولو وړتيا لوړوي او قرارداد ورکونکي افسران د پروژو د پلي کېدو سيمو ته استوي. نوموړي همداشان د قراردادونو د ورکړې په برخه کې يو نوی لارښود خپور کړی چې د لومړۍ افغان ټګلارې پر پلي کېدو چې لومړيتوب افغان کمپنيو ته ورکوي، او د سمو قرادادي چارو پر ارزښت ټينګار کوي، متمرکزه ده.
- اداري فساد په دوامداره توګه پر بيارغنيزو چارو خپل ناوړه اغېز ته دوام ورکوي. په کابل کې د امريکا متحدو آيالتونو سفارت په افغانستان کې د خپل هيواد د چارو د رهبري کولو په موخه د اداري فساد په وړاندې د يوې ټګلارې مسوده چمتو کړې، خو تردې دمه د کورنيو چارو وزارت له خوا نه ده منل شوې. دا په داسې حال کې ده چې ياد سفارت سيګار ته ويلي چې ياده ټګلاره پلي کوي. د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په برخه کې سيګار د متحدو آيالتونو د کورنيو چارو وزارت ته وړانديز کوي چې ياده ټګلاره ومني، او د اداري فساد د کمښت په موخه له مهمو افغان ادارو سره لا ډېره مرسته وکړي.
- متحد آيالتونه ځان ژمن ګڼي چې خپلې 50% بيارغنيزې مرستې د افغان دولت د ادارو له لارې ولګوي. زه له دې امله اندېښمن يم چې افغان دولت اوس هم دا وړتيا نه لري چې ددغو نورو مآلي مرستندويانو د مرستو په اړه حساب ورکړي او تنظيم يې کړي. د بېلګې په توګه متحدو آيالتونو په 2009 کال په ننګرهار ولايت کې 100 ميليونه ډالر لګولي. د سيګار تفتيش موندلې چې نه ياد ولايت په خپلواکه توګه د پرمختيايي بوديجې د لګولو وړتيا لري، نه د پرمختيايي پلان جوړونې کومه پروسه لري، او نه هم دا وړتيا لري چې د پروژو بشپړولو ته دوام ورکړي.

- په افغانستان کې د متحدو آیالتونو تګلاره په خپلواکه توګه د عملیاتو د ترسره کولو په موخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو په جوړېدنه اړه لري. څرنګه چې د متحدو آیالتونو تر نیمي ډېره بیارغنیزې پیسې د افغان ملي امنیتي ځواکونو پر جوړېدو لګېږي نو یاد هېواد اړ دي چې ددغو ځواکونو د وړتیا ارزولو لپاره یوه اغېزناکه لار ولري. زه خوښ یم چې اوس د ایساف ګډه قوماندانۍ هم د افغان ملي اردو او هم د ملي پولیسو د وړتیا ارزولو لپاره له یوه نوي سیستم څخه کار اخلي. د نوي قوماندان د ارزونیزې وسلې یونیټ (CUAT) د سیګار له ډېری هغو وړاندیزونو سره جوړ دی چې د درجه ټاکنې په برخه کې یې د زاړه سیستم په اړه کړي وو.

آن پر بیارغنیزو مرستو د څار د ودې په برخه کې له مثبتو ګامونو، او د سیګار له هغو ادعاګانو سره چې د امریکا متحدو آیالتونو پیسې په افغانستان کې د ناوړه ګټه اخیستنې او یا درغلیو او بېځایه لګونې له امله د ستر خطر له ګواښ سره مخ دي. ددغه راپور په لومړۍ برخه کې موږ د هغو شپږو پراخو موضوعګانو په اړه خبرې کوو چې متحد آیالتونه باید د خپلو پیسو د خوندیتوب غم وخوري.

د تېرو 18 میاشتو په ترڅ کې سیګار د پروژو په اړه 34 تفتیشي راپورونه خپاره کړي او تر 100 ډېر وړاندیزونه یې کړي، چې ددغو پروژو ټولټال ارزښت له 4.4 بیلیونه ډالرو څخه اوړي. سیګار همداشان په ګډو څېړنو کې هم ګډون کړی، چې په پایله کې یې په بډه اخیستنه او په خریداریزو درغلیو ککړ کسان وپېژندل او وشړل شول، او د امریکا دولت ته میلیونونه ډالر بیرته ورکړل شول. سیګار دا مهال د قراردادي او خریداري درغلیو او اداري فساد په اړه 81 رواني څېړنې لري.

موږ د بیارغنیزو هڅو د ارزونې له لارې خپله اداره پیاوړې کوو. سیګار د ټولو دوه اړخیزو کتنو وړاندیزونه د تفتیشونو د دفتر لپاره پلي کړي، او زموږ د څېړنو دفتر اوس په بشپړه توګه د لوی څارنوال له لارښوونو او د CIGIE له معیارونو سره سم کار کوي. ددغه راپور د خپراوي پر مهال سیګار 117 تنه پوره وختي کارکونکي لرل. سیګار د افغانستان په بیارغنیزو هڅو کې د ناوړه ګټه اخیستنې، درغلیو د موندنې او مخنیوي په موخه د مفتیشانو او څېړونکو ګومارنې ته دوام ورکوي.

په ډېر درناوي،



ارنولډ فیلډز
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي تفتیش

SPECIAL INSPECTOR GENERAL

مفتش خاص برای بازسازی افغانستان

دافغانستان دبیارغونی ځانګړی مفتش

AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

# د منځپانګې فهرست

## لومړۍ برخه



### افغانستان ته لنډه کتنه


3 د محتدو آيالتونو د پانګه اچوني لپاره خطر
4 د قراردادونو او پروګرام مديريت
6 له افغانانو سره همغږي
8 ميټريکس\ګامونه
9 اداري فساد
10 افغان وړتيا
12 امنيت
13 وړاندې کتل


## دويمه برخه



### د سيګار نظارت


17 د سيګار تفتيشونه
36 د سيګار څېړني
39 دوه اړخيزه کتنه
40 د سيګار بوديجه
40 د سيګار کارکوونکي


## دريمه برخه



### د بيارغوني په اړه تازه مالومات


45 لنډه کتنه
49 د مرستو حالت
61 امنيت
77 حکومتداري
93 اقتصادي او ټولنيز پرمختګ
109 د نشه يي توکو پرضد مبارزه
113 د اداري فساد پرضد مبارزه

# د منځپانګې فهرست



## څلورمه برخه

### د نورو ادارو نظارت


121 د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه
127 د نظارت روان فعالیتونه
137 د نورو ادارو څېرنې


### ضمیمې او پایلیکونه


140 الف ضمیمه: د راپور قانوني غوښتنې
146 ب ضمیمه: د متحده ایالاتو د دولت اختصاص شوي بودیجې
148 ج ضمیمه: د سیګار تفتیشونه
150 د ضمیمه: د سیګار تحقیقات او د تماس شمیره
151 هـ ضمیمه: مخففات او لنډیزونه
154 پایلیکونه

**د کرونده ګرو او پېرېدونکو نښلول**

یو افغان کرونده ګر په څلورم نړیوال افغان نندارتون کې، چې په اکتوبر میاشت کې په کابل کې جوړ شوی و، خپلو غلو دانو ته بازار مومي. د کرنې غوړېدا په افغانستان کې د امریکا متحدو ایالتونو په تګلاره کې د کورنیو لومړیتوبونو په سر کې راځي.(د ایساف تصویر، مک جانسون کارټر)

# 1

# افغانستان
# ته لنډه کتنه



""څرنګه چې موږ تول د چټکو پایلو تمه لرو نو چټک قراردادونه درغلیو، بېځایه لګښتونو او ناوړه ګټه اخیستنې ته لار پرانیزي.
راتلونکی پلان، د مناسبو زماني کرښو رامنځته کول، د شفافیت او څار باوري کول، او په دې توګه د قراردادونو او خریداریو پیاوړي کول، نه زموږ د مقصدونو کمول."

—جنرال ډیوېډ پېټریوس، په افغانستان کې د ایساف او امریکایي ځواکونو قوماندان.

سرچینه: کمایساف، "د اورپکتوب په وړاندی د کمایساف د مبارزې قراردادي لاربنود " 9/8/2010.

# افغانستان ته لنډه کتنه

ددغه راپور په ترځ کې په افغانستان کې د امریکا متحدو ایالتونو ښکېلتیا خپل لسم کال ته ننوته. په افغانستان کې د امریکا متحدو آیالتونو د بیارغونې لګښت د عراق د هغه په پرتله ډېر دی. له کومه چې د امریکا متحدو آیالتونو او د هغه ایتلافي ملګرو د ۲۰۰۱ میلادي کال د اکتوبر پر ۷ نېټه خپل عملیات پیل کړي، تر دې دمه یې په افغانستان کې چې د لسیزو جګړو او مستبد حکومت له امله ویجاړ شوی، د امنیتي ځواکونو د روزنې، په دغه هېواد کې د ملکي خدمتونو د وړاندې کولو، اقتصادي ودې، او اداري پرمختیا لپاره څه نه څه ۵۶ بیلیونه ډالر پانګه اچونه کړې ده. ددغو پیسو له ډلې څخه یې تر ۷۵ ٪ ډېرې؛ شاوخوا ۴۳ بیلیونه ډالر له ۲۰۰۷ میلادي کال څخه لګېدلې. ولسمشر باراک اوباما له کنګرې څخه د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د افغانستان د بیا رغونې په موخه د ۱۶.۲ بیلیونو ډالرو نورې بودیجې د چمتوالي غوښتنه کړې ده، چې له دې سره به په افغانستان کې د امریکا له خوا د ټولټال لګېدلو پیسو کچه تر ۷۲ بیلیونو ډالرو لوړه شي، او دا کچه د عراق له هغو ۵۳ بیلیونو ډالرو څخه لوړه ده چې امریکا د دغه هېواد د بیا رغونې لپاره بېل کړي وو.

سیګار د خپل څارنیز او تفتیشي کار له لارې په وروستیو ۱۸ میاشتو کې شپږ هغه پراخې موضوعګانې څېړلې چې د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د پانګه اچونې په برخه د ناوړه ګټه اخیستنې، درغلیو او بېځایه لګښتونو څرګندونه کوي. سیګار د ۳۴ څېړو شویو راپورونو، او له ۱۰۰ څخه د ډېرو تبصرو او وړاندیزونو په ترځ کې د بیارغونې په پروګرامونو کې د دغو خطرونو د کمېدو، د ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي، د اقتصادي ودې، وړتیا او اغېزناکتیا غوښتنه کړې ده. پلې کونکو شرکتونو د سیګار ټول وړاندیزونه په بشپړه توګه، یا تر یو ځایه منلي دي. سیګار به د خپلو دغو وړاندیزونو د پلې کېدو چارو ته دوام ورکړي.

په وروستیو درېو میاشتو کې سیګار اووه داسې راپورونه خپاره کړي چې د خطرونو د ګنو فکتورونو، په ځانګړې توګه د څار په ترځ کې د لومړیتوبونو درېو موندل شویو سیمو په اړه څرګندونې لري: قراردادونه، د فساد په وړاندې مبارزه او د وړتیاو لوړوالی، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو پرمختیا.

## د متحدو آیالتونو د پانګه اچونې لپاره خطر

هغه خطر چې ښایي له امله یې د امریکا متحدو آیالتونو پانګه اچونه له ناوړه ګټه اخیستنې، درغلیو، او بېځایه لګونې سره مخ شي په دوو پراخو موضوعګانو پورې اړه لري: د امریکا د حکومت له خوا ددغو پیسو اداره او مدیریت، او په افغانستان کې د بیارغونې ستونزمن چاپېریال. د امریکا متحد آیالتونه د بیارغونې لپاره خپل لګېدونکي ډالر باید په درېو برخو کې په لا غوره توګه اداره کړي:

- قراردادونه او د پروګرامونو مدیریت
- له افغانانو سره همغاړیتوب
- او د پرمختګ په برخه وړ ګامونه پورته کول

کېدای شي چې په افغانستان کې د روان حالت له امله د امریکا متحدو آیالتونو د بیارغونې هڅې په همدې توګه له یو شمېر جدي ننګونو سره مخ شي. درې ستري ننګوني د امریکا متحدو آیالتونو د بیارغوني هڅي په خطر کي اچوي:

- اداري فساد
- د پروژو د مدیریت په برخه کي د افغانانو محدوده وړتیا
- امنیت

## د قراردادونو او پروګرام مدیریت

کنګرې د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او امریکا لپاره د بیارغوني ډېره بودیجه ځانګړې کړې ده د امریکامتحدو آیالتونو نړیواله پراختیایي اداره (USAID). دغو ادارو په افغانستان کې د پراخو خدمتونو د وړاندي کولو لپاره په پراخه توګه پر قراردادیانو تکیه کړې ده. که څه هم کنګرې له دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او امریکامتحدو آیالتونو نړیوالي پراختیایي ادارې څخه غوښتي چي د قراردادیانو او قراردادي ادارو لپاره یو عمومي ډیټابیس جوړ کړي، خو ستونزمنه ده چي یادې اداري دغه کار وکړي. ددې تر څنګ، له دغو ادارو څخه هیڅ یوې هم د بیارغونې په برخه کي د قراردادونو، دوه اړخیزو موافقو، او اجارو په اړه بشپړ مالومات نه دي ورکړي، چي دا کار په افغانستان کي د امریکا له نورو فعالیتونو سره په ټکر کي دی، د بېلګي په توګه د امریکایي ځواکونو ملاتړ.

په حقیت کي دواړو، سیګار او د عراق د بیارغوانې لپاره ځانګړي تفتیش په پرلپسې توګه د مالوماتو مدیریت د بیارغونې د هڅو لپاره د یوې جدي ننګوني توګه یاد کړی دی. خو اوس هم د امریکامتحدو آیالتونو د مالوماتو یو داسي همغاړی سیستم نه دی رامنځته کړی چي د بیارغوني په پروژو او پروګرامونو کي د امریکا یو عمومي فعالیتي تصویر وړاندي کړي. ددغه ډول یو سیستم نشتوالی د امریکا د حکومت لپاره دا کار ډېر ستونزمنوي چي د افغانستان پر، پراخېدونکي بیارغونه اغېزناک څار ولري.

په روانو دریو میاشتو کي سیګار په افغانستان کي د بیارغوني د پروګرامونو قراردادیانو، او د هغوی د پلي کېدونکو او په هغوی کي د ښکېلو غاړو، او د قراردادونو، اجارو او د همکاری د موافقو د وړاندي کولو مالي میکانیزم لومړۍ ځارنه بشپړه کړه. په دې ترڅ کي سیګار وموندله چي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او د امریکا متحدوآیالتونو پرمختیایي ادارې د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۹ مالي کلونو تر منځ ۶۹۰۰ قراردادیانو او نورو شرکتونو ته تر 17.7 بیلیونه ډېر ډالر ورکړي دي. سیګار دغه مالومات د خپل څار او تفتیش لپاره د یوه لارښود په توګه کاروي. دغه څارنه په ډاګه کوي چي په افغانستان کي څومره څار ته اړتیا شته او دغه اداره به د خپلو راتلونکو کارونو لومړیتوبونه څنګه وټاکي. د تفتیش د موندنو په اړه د جزیاتو لپاره ددغه راپور ۲ برخه وګورئ.

د سیګار څه نه څه خپل تر نیمي ډېرې ارزوني د قرارداد د مدیریت او قراردادیانو د اجرااتو په اړه په بېلابېلو وختونو کي ترسره کړي چي مجموعي ارزښت یې له 2.6 بیلیونو ډالرو څخه اوړي. په داسي حال کي چي د امریکا متحد آیالتونه د افغانستان د بیارغونې په ډګر کي د نږدې یوې لسیزې راوروسته کار کوي، سیګار اوس موندلې چي د امریکا پلي کونکي شرکتونه اوس هم د قراردادونو دوسیې نه لري، د پروژو پر پلي کېدو څار نه لري او نشي کولای چي کاري کیفیت باوري کړي. دغه ستونزه هم په کوچنیو، او هم په سترو پروژو کي صدق کوي. د بېلګې په توګه، سیګار په یوه قرارداد کي چي ټاکل شوې وه په هلمند او کندهار ولایتونو کي شپږ د افغان ملي پولیسو مرکزونه جوړ کړي، د پروژې د ځنډ او جعلي روغوني په شمول بېلابېلي ستونزې وموندلې. د امریکا متحدو آیالتونو د پوځي قول اردو انجنیران، چي ددغي 5.9 میلیونه ډالریزې پروژې د قرارداد په برخه کي مسوول

وو، نه وو توانېدلي چې یاده پروژه په سمه توګه وڅاري، افغان قراردادیانو ته د نیمګړي کیفیت په اړه د راپورونو پر بنسټ پیسې ورکړي. د امریکا متحدو آیالتونو حکومت تقریبا اړ دی چې د یادو ودانیو د ودانیزو نیمګړتیاوو د رغونې لپاره ۱ میلیون نور ډالر چې د یاد قرارداد شاوخوا ۱۷٪ کېږي، ولګوي. له دې څخه وړاندې هم سیګار د افغان ملي اردو پروژو په قراردادونو کې ورته ستونزې موندلې وې.

## لومړی افغان تګلاره او د قراردادونو په برخه کې نوې لارښوونې

ددغې لومړۍ افغاني تګلارې د یوې برخې په توګه د امریکا متحدو آیالتونه په پام کې لري چې د قراردادونو په ورکړه کې تر ټولو ستر لومړیتوب افغاني شرکتونو ته ورکړي. په ورته وخت کې په دې برخه کې هم اندېښنې مخ پر ډېرېدو دي چې د ځینو ګومارل شویو امنیتي، اکمالاتي، او بیارغنیزو کمپنیو پیسې د طالبانو او جنایي ګروپونو جیبو ته لار کوي. د راپور ورکونې په دغه موده کې په افغانستان کې د ایستاف ځواکونو قوماندان جنرال پیټریوس یادونه وکړه چې بیارغونې هم فرصتونه او هم خطرونه رامنځته کړي دي. نوموړي د یوه تازه خپاره شوي لارښود په ترڅ کې له اړوندو قوماندانانو څخه وغوښتل چې په قراردادونو کې د لګېدونکو پیسو اغېزې په پام کې ونیسي او ځان په دې پوه کړي چې له دغو پیسو څخه څوک ګټه اخلي. په دغه حکم کې راغلي چې "له سم څار سره یو قرارداد اقتصادي پرمختیا ته لار پرانیزي او د افغان دولت او ایساف له کاري موخو سره مرسته کوي." په دغه حکم کې همداشان خبرداری ورکړل شوی چې " که موږ د نړیوالو قراردادونو سترې پیسې په بېړه، او له ناسم څار سره ولګوو، نو دا به ددې مانا ولري چې ددغو پیسو یوه برخه د اداري فساد په پیاوړتیا کې لګېږي، له اورپکو ادارو سره د مالي مرستې لامل کېږي، جرمي ډلې پیاوړي کوي او په افغانستان کې زموږ هڅې له ځوړتیا سره مخ کوي."[1]

دغه نوی لارښود ددغو هڅو پر ارزښت د ټینګار په ترڅ کې له قوماندانانو څخه غواړي چې "په لومړي ګام کې افغانان وګوماري، افغاني تولیدات واخلي، او د افغانانو وړتیا لوړه کړي"[2]:

- د نړیوالو قراردادونو د ترلاسه کولو په موخه د سیالۍ د جوګه کېدو لپاره د وړو او منځنیو کاروبارونو د فرصتونو ډېروالی
- د تداوم رامنځته کول او په شتو قراردادونو کې سمونې راوستل
- د کرنې، خوراکي توکو د پروسس، او ودانیزو چارو کمپنۍ چې د سملاسي او اوږدمهالي ودې ځواک لري، پراخول
- د انفلاسیون د کموالي لپاره د معاشونو او بیو، یو عادلانه تګلاره رامنځته کول
- د افغانانو په سوداګریو د درغلیو په اړه د لګېدونکو تورونو څارنه کول

دغه لارښود همداشان قوماندانانو ته لارښونه کوي چې، د راتلونکي پلان جوړونې، وړ زماني کربښو د ټاکنې، شفافیت او څار په مرسته "د مسوولیت لرونکو قراردادونو تمرینونه ترسره کړي" او په دې توګه "باید قراردادونه او خریداری زموږ له مقصدونو سره په ټکر کې نه وي." [3]

دغه نوی لارښود د کاروباریانو او قراردادیانو د څارنې پر اړتیا د ټینګار په ترڅ کې څرګندوي چې، د فرعي قراردادیانو د کړنو په اړه لومړي قراردادیان باد مسوول وګڼل شي، او د فرعي قراردادیانو د شبکو څرګندتیا ډېره شي، او په دې توګه باوري کړل شي چې "له قرارداد څخه ناوړه خلک ګټه نه اخلي، او یا پیسې بېځایه نه لګېږي."[4] سیګار به ددغه نوي لارښود د بریالي پلي کېدو په برخه د امریکا متحدو آیالاتونو له بیارغنیزو شرکتونو سره مرسته وکړي.

## اجرايوي ځواک ۲۰۱۰

په دغو دريو مياشتو کې د ۲۰۱۰ ميلادي کال اجرايوي ځواک په افغانستان کې په کار پيل کړی، او غواړي د هغو ادعاوو په اړه څېړنه وکړي چې ويل کېږي د امنيتي، اکمالاتي او ودانيزو شرکتونو پيسې د اورپکو جرمي ګروپونو جيبونو ته نه ځي. د دفاع وزارت له غوښتنې سره سم، دغه اجرايوي ډله په يوه ملکي – پوځي اداره بدله شوې، او غواړي چې د امريکا متحدو آيالتونو د دولت ادارو، او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ته ځان ورسوي. دغه ځواک په لومړني ډول د لاندينيو موخو لپاره د اصلي او فرعي قراردادیانو په اړه د يوه ډيټابيس پر جوړولو تمرکز لري (1) چې د امريکا متحدو ايالتونو په پيسو پر مخ تلونکو فرعي قراردادونو کې د چارو روڼتيا ډېره کړي (2) او د هغو قراردادیانو او افرادو جيبو ته ددغو پيسو د تګ مخه ونيسي چې د اورپکتوب او جرمي فعاليتونو ملاتړ کوي.[5]

د ۲۰۱۰ ميلادي کال اجرايوي ځواک هڅه کوي چې د قرارداد فعاليتونه وڅاري، د قراردادونو په پروسه کې شفافيت او حساب ورکونه پياوړې کړي، په قراردادونو کې د اداري فساد مخه ونيسي، او اقتصادي ودې ته پراختيا ورکړي. د جولای مياشتې راپه دېخوا د ۲۰۱۰ کال اجرايوي ځواک د قرادادونو په برخه کې يو داسې عملي پلان جوړ کړی چې ددغه ځواک مشر، او د جګړې قوماندانان وکولای شي په چارو کې د ځنډونو يا خنډونو په اړه ګډې مشورې سره وکړي، علتونه له منځه يوسي، يا هر هغه قراردادي د ملګرو ملتونو په ۱۲۶۷ کنګل ليست کې شامل کړي چې له اورپکتوب يا نورو جنايي ګروپونو سره مرسته کوي. ددغه راپور ورکونې په موده کې ۲۰۱۰ اجرايوي ځواک، وطن ريسک منجمينټ او افغان امنيتي قرادادي کمپنۍ وموندل، او وروسته يې د هغوی چارې وځنډولې او قرادادونه يې ورڅخه واخيستل. دا هغه کمپنۍ وې چې په اورپکو ته يې ډېرې پيسې ورکولې.[6]

د امريکا متحد آيالتونه دا واک نه لري په افغانستان کې درغلي کونکي افغان قراردادیان ونيسي او څارنوالۍ ته يې وروپېژني. دغې قانوني ستونزې ته د ځواب ويلو لپاره ۲۰۱۰ اجرايوي ګروپ د امريکا او افغانستان يوه ګډه څارونکې ډله د (افغان شفافيت څارونکی يونيټ) (ASIU) تر سليک لاندې جوړه کړې ده. شفافيت په درې ژبه کې رڼوالي ته وايي. په دغه ډله کې د سيګار، د پلټنې د فدرالي بيرو، هلمند امنيتي پلټنې، د جنايي پلټنې دفاعي سرويس، او د پوځي جنايي پلټنو استازي ونډه لري. د امريکا متحد آيالتونه به د (ASIU) له لارې هڅه وکړي چې له سيګار سره په ګډه هغه افغان قراردادیان ونيسي او څارنوالۍ ته وروپېژني چې په درغليو ککړ دي. سيګار د خپل پلټونکې لاسرسي د پراختيا په موخه له ۲۰۱۰ اجرايوي ځواک او (ASIU) سره ګډ کار کوي.

## له افغانانو سره همغږي

سيګار د امريکا متحدو آيالتونو د پلي کونکو شرکتونو او افغانستان اسلامي جمهوري دولت (GIRoA) ترمنځ په افغانستان کې د بيارغنيزو پروژو په جوړولو او پلي کولو کې د همغږۍ د نشتوالي له امله اندېښمن دی. که څه هم د افغان لوري په ملګري توب کار د امريکا متحدو آيالتونو تګلاره ده، خو په تېرو نهو کلونو کې ډېری پرمختيايي مرستې او چارې د امريکايي شرکتونو او قراردادیانو ترمنځ ترسره شوي، او د افغانستان دولت څنګته کړل شوی دی. د روان کال په ترڅ کې د امريکا متحد آيالتونو او نړيوالې ټولنې ژمنه وکړه چې د ولايتي ادارو د پياوړتيا په موخه به د GIRoA له لارې نوره مرسته او همکاري کوي. دغه ژمنتيا په GIRoA کې د اداري فساد کموالی، د خپل مالي مديريت پرمختيا او بوديجي لګول، د ولسي خدمتونو د رامنځته کولو لپاره د مرکزي او ولايتي دولتي ادارو د ورتيا لوړوالی په ځان کې رانغاړي.

په روانو دريو مياشتو کې د سيګار تفتيش په ننګرهار ولايت کې چې يو ګڼ مېشتی ولايت دی، او له پاکستان سره د سوداګرۍ لومړی ور ګڼل کېږي، د امريکا متحدو آيالتونو او د هغه د نړيوالو ملګرو د ياد ژمنتوب د




مفتیش فیلډس د سپمبر پر ۳۰ نېټه د لغمان له والي محمد عزیزي سره، په یاد ولایت کې د امریکا د بیارغنیزو هڅو په اړه د هغه د نظر پوښتلو په موخه وګوري . عزیزي پر نړیوالي ټولنې غږ وکړ چې په ګډه ددې لپاره کار وکړي چې "کم لګښت او ډېره ګټه ولري". (د سیګار تصویر)

بشپړاوې په لار کې یو لړ ننګوني په ګوته کړې. سیګار په ۲۰۰۹ مالي کال کې د امریکا متحدو آیالتونو د پرمختیایي فعالیتونو مجموعي لګښت ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالره ښوولی؛ په دغه ترڅ کې د قوماندانانو د بېړني غبرګون پروګرام (CERP) یادونه کولای شو چې ۲۰۲ پروژې لري او ټول ارزښت یې 58.7 میلیونه ډالره دی، او د پورتنی شمېرې تر نیمه ډېره برخه جوړوي. په هره توګه، کېدای شي چې د امریکا متحدو آیالتونو د GIRoA مرکزي طبعیت، د مالي مرستندویانو د راپورونو د نشتوالي، او یو شمېر هغو پرمختیایي پروژو د ځای له امله چې د ټول لګښت مالومول یې ډېر ستونزمن کار دی، په ننګرهار کې د نورو چارو لپاره هم مالي مرسته کړې وي.

په یوه ولایت کې دغې پام وړ پانګه اچونې سره سره، سیګار له ولایتي چارواکو سره د پروژو په ټاکلو او پلي کولو کې د امریکا همغږي کمه موندلې ده. ننګرهار په افغانستان کې د عایداتو د ترلاسه کولو له مخې دویم ستر ولایت دی، دغه ولایت نه اوپراتیفي پرمختیایي پلان لري او نه هم داسې یوه عملي پروسه لري چې په مرسته یې پروژې مشخصې، پلې او اداره کړل شي. که څه هم یاد ولایت په ۲۰۰۸ کال کې یو پرمختیایي پلان چمتو کړی و، خو پلې نشو. په همدې توګه، که څه هم یاد ولایت یوه ولایتي پرمختیایي پروژه، او د بودیجې جوړولو او د پرمختیایي پلانونو د نظارت یوه پروسه لري خو سیګار موندلې ده چې د امریکا متحدو آیالتونو د نړیوالي پرمختیایي اداري هیڅ پروژه د یادې پروسې له لارې نه ده پلې شوې. په واقعیت کې د امریکا متحدو آیالتونو د نړیوالي پرمختیایي اداري پروژې د ملي یا ولایتي چارواکو له پوهاوي یا دخالت پرته پلې شوي دي. د سیګار د CERP څېړنیز ریکارډونه ښیي چې که څه هم د ۲۶ پروژو له ډلې څخه د ۲۴ دوسیې ښیي چې له ملي دولت سره په همغږۍ ترسره شوي، خو په دغه ډله کې یوازې د ۴ پروژو سندونه ددغې همغږۍ څرنګوالی په ګوته کوي.

د امریکا متحدو آیالتونو او افغانستان اسلامي جمهوري دولت د یوه پرمختیایي پلان نشتوالی د بیارغونې د یوې داسې ناڅرګندي مصرفي تګلارې د رامنځته کېدو لامل شوی چې د باثباته اقتصادي پرمختیا، لوړې ولایتي وړتیا او د پرمختللي اداري په برخه کې د امریکا متحدو آیالتونو ستراتیژیک هدفونه نه ترلاسه کوي. بلاخره سیګار دې پایلې ته رسېدلی چې ولایتي اداري د نورو پرمختیایي مسوولیتونو د مدیریت وړتیا نه درلوده. ددغه تفتیش د نورو جزیاتو لپاره ددغه راپور ۲ برخه وګورئ.

د امریکا متحد آیالتونه داسې ملکي کارپوهان روزي چې د افغانستان د اداري وړتیا د لوړېدو، د قانون د واکمنۍ او باثباته اقتصادي پرمختګ لپاره پروګرامونه پلي کړي. د ملکي لوړتیا یو هدف دادی چې د امریکا متحدو آیالتونو په مالي مرسته د پلي کېدونکو پروژو په جوړولو او پلي کولو کې د امریکایي شرکتونو او افغانستان اسلامي جمهوري دولت ترمنځ همغږۍ ته وده ورکړي. سیګار د ملکي لوړتیا په اړه خپل لومړی تفتیشي راپور په روانه ځلوریزه کې خپور کړ، او اعلان یې کړی دی چې دویم به یې له کورنیو چارو وزارت او تفتیش ځانګې سره په ګډه خپور شي. سیګار د افغانستان د کرنې د پرمختیا په برخه کې د امریکا متحدو آیالتونو همکارۍ ته هم د کتنې هڅې پیل کړې دي. په دغه تفتیش کې به ددې په شمول چې د کرنې په برخه کې د امریکا مرسته تر کومه بریده له نورو مالي مرستندویانو او افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره همغږې ده، نورې ګڼې موضوعګانې وڅېړل شي.

## میټریکس\ګامونه

د عراق او افغانستان د بیارغونې تجربې ښیي چې کله چې د یو پروګرام بریالیتوب نه ارزول کېږي او یا د هغه پالې ته د کتو پر ځای یوازې د هغه تولید ارزول کېږي نو د امریکایي مالیه ورکونکو ډالرونه د بېځایه لګېدنې له خطر سره مخ کېږي. له همدې امله سیګار د پرمختګونو د ارزونې په ترڅ کې دواړ، تولید یا محصول او پایلو ته ګوري. د بېلګې په توګه، په افغانستان کې د بیارغونې لپاره ترنیمې ډېرې لګېدلې پیسې د افغان ملي امنیتي ځواکونو پر روزنه، تجهیزونه او ځای جوړونه لګېدلې دي. "تولیدي هدف" دادی چې د ۲۰۱۱ میلادي کال تر اکتوبر پورې 171,600 افغان ملي اردو ځواکونه او 134,000 ملي پولیس ولرو. "نتیجوي مقصد" دادی چې د افغانستان د امنیت ساتنې لپاره وړ ملي اردو او ملي پولیس ولرو. د روان کال په ترڅ کې سیګار یوه ارزونه خپره کړه او د وړتیاو ارزونې هغه سیستم یې وڅېړی چې د ۲۰۰۵ کال راپه دې خوا د افغان ملي امنیتي ځواکونو د محصول او مقصدونو د ارزونې په موخه کار ورڅخه اخیستل کېدی. سیګار ومونده چې دغه سیستم نه و توانېدلی چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د وړتیا یوه د اعتبار وړ ارزونه وکړي، او یادې اداري ددغې ستونزې د له منځه وړلو لپاره ۱۳ وړاندیزونه کړي دي.

د وروستیو شپږو میاشتو راهیسې د ایساف ګډې قوماندانۍ د (CUAT) په نوم د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ارزونې لپاره یو نوی سیستم رامنځته کړ دی. افغانستان ته د مشر څارنوال د وروستي سفر په ترڅ کې د ایساف ګډې قوماندانۍ د هغو ګامونو په اړه هغه ته لنډ مالومات ورکړل چې د وړتیاوو د ارزونې د سیستم په برخه کې د سیګار د وړاندیزونو پر بنسټ پورته شوي وو. د ایساف ګډې قوماندانۍ د روزنې، راپور ورکونې او له جګپوړو قوماندانیو سره د همغږۍ د مهمو برخو په ارزونه کې پرمختګونه کړي دي. CUAT د موادو د کیفیتي ارزونې، لکه د مشرۍ او اوپراتیفي اجراات، او د ګومارنې او توکو د کمیتي ارزونې په شمول، د سیګار هغه وړاندیزونه په پام کې نیسي چې د پخواني روزنیز سیستم د ارزونې پر مهال یې کړي وو.[7] د CUAT په اړه د نورو مالوماتو لپاره ددغه راپور ۳ برخه وګورئ.

## اداري فساد

د امریکا متحدو آیالتونو حکومت، نړیواله ټولنه، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او تر ټولو مهمه دا چې د افغانستان ولس په دغه هېواد کې د شته اداري فساد له امله اندېښمن دي. اداري فساد د د افغانستان اسلامي جمهوري دولت قانونیت تر پوښتنې لاندې راولي، د پانګه اچونې لپاره خنډونه جوړوي او له اورپکتوب سره مرسته کوي. اتلس میاشتې وړاندې سیګار وموندله چې په افغانستان کې شته پراخ اداري فساد د امریکا متحدو آیالتونو د بیارغونې هڅې په جدي توګه له خطر سره مخ کړي دي. ددې ستونزې د له منځه وړلو لپاره سیګار په دې اړه یو تفتیشي پلان چمتو کړی چې امریکا او نور مالي مرستندویه هېوادونه څه وکړي چې (1) د اداري فساد د مخنیوي او قانون د واکمنی لپاره د افغاني ادارو وړتیا لوړه کړي، (2) د افغاني اداري په دې وتوانوي چې مالي مرستندویانو ته د حساب ورکوني له لارې د پام وړ پیسې یا فنډ تر لاسه کړي. ددغه ابتکار د یوې برخې په توګه سیګار د افغانستان د نظارت عالي اداري، او کنټرول او تفتش د اداري په شمول نور ګڼ تفتشونه خپاره کړي دي. د اداري فساد د مخنیوي او مالي مرستندویانو ته د حساب ورکوني په برخه کې د یادو ادارو مهم رول لوبوني پر اړتیا سربېره، د امریکا متحدو آیالتونو په بریالی توګه د چارو د ترسره کولو لپاره د وړتیاوو د لوړوالي په موخه له نوموړو ادارو سره ډېره لږ مرسته کړې ده.

په روانه څلوریزه کې سیګار یو داسې راپور خپور کړ چې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې لپاره یې د افغانستان له اسلامي جمهوریت سره د امریکا متحدو آیالتونو همکاري څرګندوله، او د اداري فساد په وړاندې یې د افغانستان د مهمو ادارو وړتیا وارزوله. که څه هم په کابل کې د امریکا سفارت په تېر اپریل کې د ادري فساد په وړاندې یوه هر اړخیزه کړنلاره جوړه کړې، خو تر اوسه د کورنیو چارو وزارت له خوا نه ده منل شوې. له دې سره سره یاد سفارت سیګار ته ویلي چې دغه کړنلاره پلي کوي. دغه مسوده له امریکا متحدو آیالتونو څخه غواړي چې په څلورو برخو کې مرسته وکړي:

- د اداري فساد د کموالي په موخه د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د شفافیت او حساب ورکوني لپاره مرسته کول.
- د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره پر مالي چارو د څار لپاره مرسته کول.
- د قانون د واکمنی لپاره د افغاني وړتیا لوړول.
- د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت او مدني ټولنې سره د ولس د باسواده کولو او پیاوړتیا لپاره مرسته کول.

په افغانستان کې د ادري فساد په وړاندې د امریکا متحدو آیالتونو د هڅو د ودې او رهبري کولو لپاره سیګار د کورنیو چارو له وزارت څخه د اداري فساد په وړاندې د یادې کړنلارې د مسودې د منلو او پلي کولو غوښتنه کړې ده.

سیګار همداشان موندلې ده چې د امریکا متحدو آیالتونو شرکتونه هغو پروګرامونو ته پیسې ورکوي چې د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د اداري فساد په وړاندې په مبارزه کې مرسته کولای شي. ددې ترڅنګ د اداري فساد د کمښت په موخه د امریکا متحدو آیالتونو د بیا رغونې ځیني پروګرامونه په داسې ځانګړې شکل طرح شوي چې وکولای شي د اداري فساد په مخنیوي کې مرسته وکړي. د امریکا متحدو آیالتونو شپږ ځانګې او شرکتونه له هغو پروژو سره مرسته کوي چې په نغبه او نا نبغه توګه د اداري فساد په وړاندې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ادارو د وړتیا په لوړولو کې مرسته کوي. دغه اداري دادي— دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د خزانې ریاست، عدلیه ریاست، د کورني امنیت ریاست او د امریکا متحدو آیالتونو نړیواله پرمختیایي اداره. ددغو پروګرامونو په اړه ددغه راپور په ۳ برخه کې خبري شوي دي.

د اداري فساد په وړاندي هڅې باید په نه حل کېدونکي توګه د قانون د واکمنۍ او د ولسي بوديجې په برخه کې د حساب ورکوني او مديريت لپاره د افغاني وړتيا له لوړېدو سره تړاو ولري. په روانو دريو مياشتو کې سيګار دوه تفتيشونه پيل کړي چې ددغو موضوعګانو په اړه به مالومات ولري. په يوه تفتيش کې سيګار د بانکي سکټور او افغانيو د کنټرول د سيستم د پرمختيا لپاره د امريکا متحدو آيالتونو او نړيوالو مالي مرستندويانو مرستې ته کتنه کوي. دغه تفتيش بايد د کابل بانک او د کابل نړيوال هوايي ډګر له لارې د پيسو د لېږ په څېر موضوعګانو باندې رڼا واچوي. د سيګار دويم تفتيش د درنو جرمونو په وړاندي د اجرايوي ځواک په برخه کې د افغان وړتيا د لوړېدو په موخه د امريکا متحدو آيالتونو د هڅو ارزونه کوي. دغه اجرايوي ځواک د هغو هڅو په لومړی کرښه کې راځي چې په مرسته به يې په اداري فساد کې د ججپوړو دولتي چارواکو لاس لرنه بربنډه شي.

د اداري فساد په وړاندي د يوې هر اړخيز کړنلارې رامنځته کول په ځانګړې توګه د امريکا متحدو آيالتونو د هغې ژمنې لپاره مهمه ده چې غواړي خپلې ٪۵۰ پرمختيايي مرستې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ادارو له لارې ترسره کړي. سيګار دې خبرې ته اندېښمن دی چې امريکا او نور مالي مرستندويه هېوادونه ددې موضوع ارزونه نه کوي چې آيا افغاني اداري د مرسته شويو پيسو د مديريت او حساب ورکوني وړتيا لري که څنګه. په کابل کې د امريکا سفارت چارواکو سيګار ته ويلي چې دوی له نړيوالې ټولنې سره په ګډه غواړي چې يوه عمومي، معياري او منل شوې کړنلاره رامنځته کړي. دوی همداشان د هغه ناسم احساس د سمون لپاره کار کوي چې د امريکا متحد آيالتونه او نړيواله ټولنه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د وزارتونو د ارزوني لپاره څه کوي. ددې ترڅنګ د سفارت چارواکي د امريکا متحدو آيالتونو د نړيوالې پرمختيايي اداري د تفيش له دفتر څخه دا ډاډ ترلاسه کول غواړي چې د يادې اداری له پيسو څخه به ناوړه ګټه نه اخيستل کېږي، درغلی به نه پکې کېږي او نه به هم بېځايه لګول کېږي..[8] د ياد سفارت په وينا، تر هغه به د امريکا پرمختيايي مرسته د افغاني وزارتونو له لارې نه لګول کېږي چې دغه وزارتونه ددغو پيسو د خونديتوب پلان جوړوي.

## افغاني وړتيا

د سيګار چارې څرګندوي چې د حکومت دارۍ، اجراآتو، د پروژو د ساتنې او څارنې او دوام لپاره د افغانانو د وړتيا نشتوالي په افغانستان کې د امريکا پانګه اچونه له ستر خطر سره مخ کړې ده. د سيګار څلور هغه راپورونه چې په روانو دريو مياشتو کې خپاره شوي، د حکومت دارۍ په برخه کې د امريکا متحدو آيالتونو په مرسته د افغان وړتيا د لوړ والي په اړه دي. د اداري فساد په وړاندي د امريکا متحدو آيالتونو د تګلارې د ارزونې، او په ننګرهار ولايت کې د پرمختيايي مرستو د څارنې ترڅنګ، سيګار د افغانستان اسلامي جمهوري دولت چارواکو ته د امريکا او نړيوالو مالي مرستندويانو د معاش ورکونې د سيستم کتنه بشپړه کړې، او د ټاکنو له پروسې څخه د يوه زده کړل شوي لوست راپور يې چمتو کړی دی.

د ۲۰۰۲ ميلادي کال راهيسې امريکا او نورو نړيوالو مالي مرستندويانو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د وړتيا د لوړالي په موخه د دولت زرګونو ملکي کارکونکو او تخنيکي مشاورينو ته معاش ورکړی دی. د افغانستان ماليه وزارت اټکل کوي چې ۱۷ مالي مرستندويانو له کاله ۴۵ ميليونه ډالر ۶۶۰۰ ملکي کارکونکو او مشاورينو ته ورکړي دي. دغه مرسته له هغو پيسو څخه بېله ده چې د افغان بيارغوني وجهي صندوق (ARTF) له خوا چمتو شوي. (ARTF) د ګنو ملکي خدمتونو لپاره په منظمه توګه د افغانستان په مصرفي بوديجه کې د ونډه اخيستنې له لارې پيسې ورکوي. د امريکا متحدو آيالتونو د ۲۰۰۲ کال راهيسې (ARTF) ته ۹۲۲ ميليونه ډالر ورکړي دي. د امريکا متحدو آيالتونو د ۲۰۱۰ کال لپاره د ۵۹۰ ميليونو ډالرو ژمنه کړې او له دغو پيسو

ځخه يې ۲۱۵ میلیونه پر وخت ورکړي.

سیګار موندلې ده چې که څه هم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د تجربه لرونکو افغانانو د ګومارنې لپاره تر ډېره د مرستندویه هېوادونو د معاشي سیسټم پر مرسته ولاړ دی، خو دغه سیسټم د کار سیمه یز بازار منحریف کړی او په اوږدمهال کې د یوه وړ او دوامداره حکومت د رامنځته کولو چارې بې ارزښته کوي. مالي مرستندویان د معاش ورکونې لپاره یو معیاري سیسټم نه لري او ډېری وختونه ددې پر ځای چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت وکولای شي پر خپلو ملتو په دوامداره توګه متکي شي، د دولتي معاشونو په پرتله ۱۰ تر ۲۰ ځله لوړ معاشونه ورکوي. ددې ترڅنګ مالي مرستندویان د افغانستان د پلان جوړونې او بودیجه ټاکنې له پروسې څخه بهر معاشونه ټاکي او په دې توګه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت نشي کولای چې د خپلو ملکي خدمتونو مدیریت او ادارې ته ځان چمتو کړي. د مالي مرستندویانو له خوا ډېری وړاندې شوي بستونه د دولت د ګومارنې په جدول کې نه شاملېږي.

سیګار اندېښمن دی چې کېدای شي امریکا او د هغه ملګري چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په اداري وړتیا کې د جدي تشو د ډکولو په موخه د معاش ورکولو په سیسټم کې مرسته کوي، د لنډې مودې لپاره د پر خپلو پښو د ولاړ دولت د رامنځته کېدو لپاره د افغانستان اوږدمهالي وړتیا او مالي ثبات ته زیان ورسوي. د امریکا متحدو ایالتونو له خوا د معاشونو په چمتو شوي سیسټم کې د شفافیت او حساب ورکونې، او په غوره توګه د وړ او دوامداره افغان دولت جوړولو پر چارو د تمرکز په موخه سیګار یو شمېر وړاندیزونه کړي دي. دغه وړاندیزونه عبارت دي له، د معاشتونو د یوه غوره معیاري سیسټم رامنځته کول، او د معاش ورکونکو مرستندویانو لپاره د اداسې اصولو ټاکل چې په یوه توګه افغانانو ته د مسوولیت سپارنې لار اواره کړي. ددغه تفتیش په اړه د نورو مالوماتو لپاره ددغه راپور ۲ برخه وګورئ.

په خپلواکه توګه د ټاکنو د ترسره کېدو لپاره د افغانانو د وړتیا لوړوالي د امریکا متحدو ایالتونو او د هغه د نړیوالو ملګرو یو له مهمو هدفونو څخه دی. د روان کال د سپټمبر پر ۱۸ نېټه د افغانستان د ولسي جرګې د ۲۴۹ څوکیو لپاره ټاکنې ترسره شوې. دغه ټاکنې هم د تېر کال ولسمشریزو هغو په څېر له پراخو درغلیو سره ملې وې. د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون تر پارلماني ټاکنو وروسته 1.3 میلیونه رایې چې د ټولټال ۵ میلیونو اچول شویو رایو ٪۲۶ جوړوي، باطلې اعلان کړې. دا په داسې حال کې ده چې امریکایي چارواکو سیګار ته ویلي چې د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسون د تېر کال په ترڅ کې د ټاکنیزې پروسې په پرتله د مدیریت په برخه کې پرمختګ کړی دی. د ټاکنو خپلواک کمیسون د ټاکنیزو مرکزونو د ټاکنې او د هغوی د پرمخبېونې، او همداشان د مشکوکو درغلیو په وړاندې د غبرګون ښوونې په برخه کې خپله دنده په غوره توګه ترسره کړه. همداشان د تېر کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د افغان ملي اردو او ملي پولیسو ترمنځ غوره همکارۍ د امنیت په ټینګښت کې مرسته وکړه. د روان کال د ولسي جرګې د ټاکنو وروستۍ پایلې به د نومبر تر.[9] نېټې وړاندې څرګندې نشي. د دغو ټاکنو په اړه د نورو مالوماتو لپاره ددغه راپور ۳ برخه وګورئ.

د روانو دریو میاشتو په ترڅ کې د افغانستان له تېرو ولسمشریزو ټاکنو څخه د زده کړل شوي لوست په نوم په یوه راپور کې سیګار له وخت څخه مخکې د رایه اچونې د مرکزونو د څرګندولو، او پر رایه اچونه د ډېر کنټرول په شمول، یو شمېر کاري ننګونې په ګوته کړې، چې باید له منځه یوړل شي. سیګار موندلې چې د رایه ورکونې لپاره د رجسټرولو، د کاندیدانو پېژندلو، او په ریښتنې توګه د ټاکنو د یوه خپلواکې ادارې د رامنځته کولو په شمول، د یو شمېر نورو ستونزو له منځه وړل به ډېر کلونه وخت واخلي. ددغه راپور په اړه د نورو مالوماتو لپاره ۲ برخه وګورئ.

## امنیت

د امریکا متحدو آیالتونو ډېری د بیارغونې چارې په جګړه یزو سیمو کې ترسره کېږي. دغه خطرناک حالت د هرې پروژې د لګښت د لوړوالي لامل کېږي او د ډېرو لویو او کوچنیو پروژو د بشپړاوي مخنیوی کوي. د بېلګې په توګه، د روان کال په ترڅ کې د برېښنا په برخه کې د سیګار یوې څېړنې وښودله چې د امریکایي پروژو لپاره د امنیت د رامنځته کولو د لګښتونو بیه د قرارداد د ټولټال بیې ٪۳۰ کېدل. په یاده څېړنه کې همداشان څرګنده شوې ده چې امنیتي ستونزو په وار وار د امریکامتحدو آیالتونو نړیواله پرمختیایي اداره اړایستې چې په هلمند کې د کجکي بند د بیا رغونې چارې ودروي. د یوې بلې بلېګې په توګه په روانو دریو میاشتو کې د سیګار یوې څېړنې وښودله چې د افغان ملي پولیسو لپاره د مرکزونو د جوړېدو د قراردادونو په ډله کې د یوه مزکز د جوړېدو چارې د امنیت د نشتوالي له امله په ټپه ودرېدې. همداشان سیګار څرګنده کړې چې USACE وایي چې امنیتي ستونزې د ودانیو د ستونزو یو تر ټولو بنسټیز لامل دی. د سیګار پر راپور د تبصرې په ترڅ کې USACE ویلي چې دغه پروژې په "دوو تر ټولو ناارامه ولایتونو، کندهار او هلمند" کې پلي کېدې، او په دغو سیمو کې د "امنیت نشوالي د یادې اداري کارکونکي او ګومارل شوي قراردادیان له جدي خطر سره مخ کوي." [10]

په افغانستان کې د بیاروغونې په چارو ټولې بوختې اداري – د امریکا پلي کونکي شرکتونه، قراردادیان، نړیوال سازمانونه، او نادولتي موسسې د پروژو د امنیت ساتلو په برخه کې پر شخصي امنیتي قراردادیانو (PSCs) تکیه کوي. د ۲۰۱۰ کال د اګسټ پر ۱۷ نېټه ولسمشر حامد کرزي د روان کال تر پایه د ټولو کورنیو او بهرنیو امنیتي شرکتونو د منحلېدو اعلان وکړ. ددغه راپور تر خپراوي وروسته څرګنده نه وه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ددغه فرمان عملي کول څنګه پلان کړي و.

سیګار ددغه فرمان د عملي کولو د څرنګوالي په اړه اندېښمن دی، او وایي چې یاد فرمان کولای شي په افغانستان کې د امریکا متحدو آیالتونو بیارغنیزې چارې په جدي توګه اغېزمنې کړي. یوازي د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کې د شخصي، اکمالاتي او ځایي امنیت د خوندیتوب لپاره شاوخوا 18,000 د خصوصي امنیتي کمپنیو کارکونکي ګومارلي دي. ددغو 16,687 قراردادیانو غوڅ اکثریت افغانان دي. په کابل کې د امریکا سفارت د اټکل له مخې د بیارغنیزو پروګرامونو د لګښتونو لړ تر لږه ۲ بیلیونه ډالر خصوصي امنیتي شرکتونو ته د امنیت ساتنې په موخه ورکول کېږي. دغه فرمان به د کورنیو چارو وزارت او USAID پر ۹۶ پروژو ناوړه اغېز وکړي. ددې ترڅنګ به زرګونه افغانان وزګار شي.

که څه هم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ویلي چې د خصوصي امنیتي شرکتونو اوسنی دنده به افغان ملي امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي، خو سیګار په دغه فرمان کې د تاکل شوي نېټې په اړه د یادو ځواکونو د رهبری لپاره د پلان په اړه هیڅ مالومات نه لري. په خصوصي امنیتي ځواکونو کې د دریمو هېوادونو کارکونکي دې ته چمتوالی نیسي چې کېدای شي د روان کال تر پایه له افغانستان څخه ووزي. د امریکا متحدو آیالتونو پرمختیایي اداري سیګار ته وویل چې ددغې اداري پلي کونکي ملګرو ته به دا یو فرصت وي چې که یاد فرمان له پلان سره سم د ۲۰۱۱ کال د جنوری پر لومړۍ نېټه تصویب شي. د یادې اداري له څرګندونو سره سم، ددې غوښتنې لامل دادی چې ددغې اداري پلي کونکي ملګري لږ تر لږه ۶۰ ورځنی خبرتیا ته اړتیا لري، تر څو وکولای شي مناسب ګامونه پورته کړي، له هېواد څخه ډېر وتونکي کارکونکي د دندو په لټه کې دي. ددې ترڅنګ قراردادیان غواړي چې د خصوصي امنیتي شرکتونو د ستونزو د اواري ترمهاله قراردادونه ورکړي.

د امریکا متحدو آیالتونو دولت، کنګره او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د خصوصي امنیتي شرکتونو د فعالیتونو په اړه پوښتنې لري. دغو اندېښنو ته د ځواب ویلو لپاره سیګار غواړي د هغو خصوصي امنیتي شرکتونو په اړه یوه څېړنه وکړي چې د USACE د کارکونکو امنیت ساتي، او په دې اړه د روان کال په ترڅ کې درې

نوري څېړنې ترسره کړي. يوه څېړنه به د ۲۰۰۷ مالي کال له پيله په افغانستان کې د امريکا د دولت لپاره ټول ګومارل شوي خصوصي امنيتي شرکتونه، او د هغوی لګښتونه څرګند کړي، او دويمه څېړنه به د يو انفرادي خصوصي امنيتي شرکت قرارداد وازمايي. دريمه څېړنه به د کاروانونو په خونديتوب کې د يادو شرکتونو د قوماندانانو ورتياوې وارزوي.

## وړاندې کتل

څرنګه چې په افغانستان کې د امريکا متحدو ايالتونو بيارغنيزې چارې لسم کال ته د ننوتو په درشل کې دي نو سيګار خپلې د ۲۰۱۱ مالي کال هڅې پر دريو مهمو برخو متمرکزوي: قراردادونه، د اداري فساد په وړاندې مبارزه، او د افغان ملي امنيتي ځواکونو پرمختيا. د سيګار څېړنې به د قراردادونو د چارو، لګښتونو، شرکتونو د ځار، مناسبوالي د ارزونې لپاره د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او امريکا متحدو ايالتونو پرمختيايي اداري له ۳ بيليونو ډالرو څخه د ډېرو قراردادونو سپړنه وکړي. له دې امله چې اداري فساد د امريکا د هڅو په وړاندې يو جدي ګواښ دی نو سيګار به د اداري فساد د مخنيوې په برخه کې د افغانانو د وړتيا و لوېدو لپاره د امريکا د هڅو څارنې ته دوام ورکړي. په پای کې، څنګه چې د لګېدونکو ډالرو تر نيمي ډېره برخه د افغان ملي اردو او ملي پوليسو د پرمختيا لپاره لګېږي نو سيګار به ددغه ماموريت ټولو روزنيزو او تجهيزي اړخونو ته کتنه ولري. د سيګار مفتشان او څېړونکي ژمن دي چې ټولې هغه درغلی، ناوړه ګټه اخيستنې او بېځايه لګښتونه وسپړي چې د امريکا پانګه اچونه له خطر سره مخوي، او ددغه خطر د کمښت لپاره وړانديزونه کوي.

**د راتلونکي لپاره وداني**

یو بنا د ګډو افغان ملي پولیسو د مرکز په ۲۸۰ جریبه ځمکه کې چې د کورنیو چارو په وزارت پورې اړه، لري د راتلونکي لپاره مرکز جوړوي، تر څو په کندهار ولایت کې امنیتي حالت لا ښه شي. څرنګه چې له افغانستان سره د مرستې شویو ډالرو تر نیمې ډېره برخه د افغان ملي اردو، او افغان ملي پولیسو پر، پرمختیا لګېږي نو سیګار به په دغه برخه کې د روزنیز او تجهزاتي ماموریت ټول اړخونه تر نظر تېر کړي. (د امریکایي سمندري ځواکونو تصویر، سي پي اوو برین برانون)

# 2 د سیګار نظارت



"د امریکا متحد آیالتونه پلان لري چې د خپلو بیارغنیزو مرستو تر نیمي ډېره برخه د افغان دولت د ادارو له خوا ولګوي....

ددغه کار بریالیتوب به د افغان دولت په هغه لوړه سویه او وړتیا پورې اړه ولري چې څنګه کولای شي د امریکا مرستې اداره کړي، د امریکا متحدو آیالتونو د بیارغنیزو مرستو مدیریت وکړي، د اصراف، درغلیو، ناوړه ګټه اخیستنې او د اداري فساد د نورو ډولونو مخه یې ونیسي."

ـــــد سیګار تفتیش ۱۰ ـ ۱۵

سرچینه: سیګار، تفتیش ۱۰ ـ ۱۵ "په افغانستان کې به د امریکا متحدو آیالتونو د بیارغنیزې مرستې د اداري فساد په وړاندې د امریکا د هر اړخیزې تګلارې له نهایي کېدو څخه ګټه واخلي،" ۸/۵/۲۰۱۰.

# د سيګار نظارت

د روانو دريو مياشتو په ترڅ کې سيګار ۷ راپورونه او ۶ نوي تفتيشونه خپاره کړل، او په دې توګه د روانو تفتيشونو شمېر ۱۴ ته ورسېد. پر دې سربېره سيګار د افغانستان د دريو نورو بيارغنيزو پولي معالو په اړه چې ارزښت يې 37.65 بيليونه ډالر دی، سندونه د کرمينل تخنيک له لارې ګوري. دغه درې معاملې په دې توګه دي: د افغانستان د امنيتي ځواکونو وجهي صندوق، د اقتصادي مرستې وجهي صندوق او د نړيوال کنټرول او قانون د پياوړتيا وجهي صندوق. د سيګار څېړونکو ۳۲ نوي قضيې پرانيستي او ۶ يې تړلې، چې په دې توګه د روانو قضيو شمېر ۸۱ ته رسېږي. پر دې سربېره د سيګار هاټلاين يا اتوماتي مخابراتي کرښې ۱۲۵ شکايتونه ترلاسه کړي، د روانو دريو مياشتو ٪۱۰۰.

## د سيګار تفتيشونه

ددغه راپور په موده کې اووه تفتيشونه بشپړ شوي چې دوه يې پر ودانيزو قراردادونو متمرکز دي، درې يې په افغانستان کې د افغان وړتيا د لوړېدو او اداري فساد د کمښت، يو يې د ټولنيز ښېګڼې په اړه د امريکا د بيارغنيزو هڅو په برخه کې وو، او همداشان يو راپور هم د افغانستان له ټاکنو څخه د زده کړل شوي لوست په اړه و. 2.1 جدول ددغو تفتيشونو نومونه په ځان کې رانغاړي. سيګار په دريو لاندينيو برخو کې خپلو تفتيشي چارو ته لومړيتوب ورکوي:

2.1 جدول

| د 2010 د اکتوبر پر 30مه د سيګار بشپړ شوي عمليات | | |
|---|---|---|
| راپورپوه | د راپور سرليک | د صدور نېټه |
| د سيګار - تفتيش - 11-5 | د نا همغږيو، او د افغان دولت کارکونکو ته د امريکا د معاشونو په برخه کې د څار او تخنيکي مشاورينو د کموالي د له منځه وړلو لپاره هڅو ته اړتيا شته | 10/29/2010 |
| د سيګار - تفتيش - 11-4 | دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او د امريکا متحدو آيالتونو نړيوالي پرمختيايي اداري د ۲۰۰۷ – ۲۰۰۹ مالي کلونو ترمنځ د افغانستان د بيارغوني لپاره 17.7 بيليونه ډالر 6,900 قراردادیانو او نورو ادارو ته ورکړي دي. | 10/27/2010 |
| د سيګار - تفتيش - 11-3 | په هلمند او کندهار ولايتونو کې د افغان ملي پوليسو د قوماندانيو ودانی د څار د نشتوالي، او پر قراردادیانو د بې کيفيته کار له امله ناوړه حالت لري. | 10/27/2010 |
| د سيګار - تفتيش - 11-2 | په افغانستان کې د امريکا متحدو آيالتونو ملکي پياوړتيا د پرمختګ په حال کې ده، له دې سره سره د پلي کېدنې په څېر يو شمېر مهمې موضوعګانې او ازمايښتونه په مخ دي | 10/26/2010 |
| د سيګار - تفتيش - 11-1 | په راپور ورکونه کې د پرمختيايي مرستو په برخه کې کمزوري، او د ولايتي وړتيا کموالی په ننګرهار ولايت کې د امريکا متحدو آيالتونو تګلارې ته خطرونه رامنځته کوي | 10/26/2010 |
| د سيګار - تفتيش - 10-16 | په افغانستان کې د ټاکنو له چمتوالي او ترسره کېدو څخه زده کړل شوي لوستونه | 9/9/2010 |
| د سيګار - تفتيش - 10-15 | په افغانستان کې د امريکا متحدو آيالتونو بيارغنيزې هڅې بايد د اداري فساد په وړاندې د امريکا له وروستی هر اړخيزې تګلارې څخه ګټه واخلي | 8/5/2010 |

- قرارداد کول
- د اداري فساد په وړاندي مبارزه/ د وړتيا لوړوالی
- د افغان ملي امنيتي ځواکونو د جوړېدو هڅې

سيګار د افغان ملي امنيتي ځواکونو د جوړېدو، کرني او بانکداری ته پراختيا ورکولو، اداري فساد د کمښت، د ټولنيزې ښېګڼي د دوام، او د قراردادي کارکونکو لپاره اداري بيمي په برخه کي د امريکا متحدو آيالتونو د هڅو په اړه شپږ نوي تفتيشونه اعلان کړي دي.

## بشپړ شوي تفتيشي راپورونه

په روانو دريو مياشتو کي سيګار اووه تفتيشي راپورونه خپاره کړي چي لنډيز يې په لاندي ډول دی.

### 11-3 تفتيش: په ولسواليو کي د افغان ملي پوليسو قوماندانی

**په هلمند او کندهار ولايتونو کي د افغان ملي پوليسو د قوماندانيو ودانی د څار د نشتوالي، او پر قراردادیانو د بې کيفيته کار له امله ناوړه حالت لري.**

د ۲۰۰۹ ميلادي کال د ډسمبر مياشتي د يوه راپور پر بنسټ په پام کي ده چي د افغان ملي پوليسو شمېر تر ۲۰۱۱ کال پوري له 95,000 څخه 135,000 ته لوړ شي. د افغان ملي اردو ځواکونو د شمېر د ډېرېدو، او په سيمه يزه او د ولسواليو په کچه د هغوی د عملياتو د ملاتړ لپاره د افغانستان د امنيت ګډ انتقالي ځواک (CSTC-A) د هېواد په کچه د يوه پراخ پروګرام مالي ملاتړ کوي. د امريکا متحدو آيالتونو د انجنيرانو قول اردو (USACE) دوه ولسواليز دفترونه ددغو پروژو د ورکړي، نظارت، او بريالی ترسره کېدني مسووليت لري. د امريکا متحدو آيالتونو د انجنيرانو قول اردو د افغانستان د انجنيری برخه (AED) د هلمند او کندهار ولايتونو په ولسواليو کي د افغان ملي اردو د اوو قوماندانيو د جوړېدو چاري بصيرت افغاني ودانيزې کمپنی ته د 5.9 ميليونو ډالرو يو قرارداد ورکړ. په اړونده سيمه کي د امنيتي اندېښنو له امله د يوې قوماندانی د جوړېدو قرارد فسخ شو او په دې توګه د قرارداد ارزښت 5.4 ميليونو ډالرو ته راټيټ شو.

#### موخې

دغه تفتيش د دريو موخو په اړه دی:

- دا مالومول چي آيا د افغان ملي پوليسو د بيارغنيزو پروژو چارې له پلان او ټاکل شوې بوديجې سره سمې مخته ځي که څنګه.
- ددې ارزونه کول چي آيا ودانيزې چارې له منل شويو ودانيزو پلانونو او ځانګړتياوو سره سم مخته ځي که څنګه.
- د USACE ودانيزې کمپنی د چوکاټ او وړتيا، او د ودانيز نظارت ارزونه کول.

#### موندنې

1. ټاکل شوې وه چي ياده پروژه د ۲۰۰۹ ميلادي کال د جنوري مياشتي پر ۹ نېټه پايته رسېدلې وای، خو د دوو عمده لاملونو له امله وځنډېده: (۱) له دې امله د ۲۰۱۰ ميلادي کال د مي تر ۲۴ نېټي د يادې پروژې ۵۰۰ ورځنی غځېدنه چي د يوه قرارداد بدلون د شپږو پروژوي سايټونو له ډلي څخه يو اغېزمن کړ، او (۲) د USACE او بصيرت ترمنځ د پروژو د طرحي په برخه کي د ستونزې شته والی او د USACE له خوا

د دوو ځنډ ليکونو استول. د يوه ځنډ ليک پایله امنيتي اندېښنې وې.

2. د ۲۰۱۰ ميلادي کال په اګسټ کې USACE په دغو شپږو سايټونو کې يو داسې وموندل چې ۹۰٪ بشپړه شوی و، او افغان ملي پوليسو ته سپارل شوی و. د پنځو نورو سايټونو په ډله کې يو يې افغان ملي پوليسو ته د سپارنې لپاره واضح شوی و، يو يې د قراردادي له خوا تش په نوم بشپړ شوی و، او د پاتو دريو کار پر نيمي حال پاته دی. په هر سايټ کې د بياوډانيزو چارو د قرارداد په سندونو کې راغلي، او منل شوي ودانيز شرايط نه وه پوره شوي. د رضايت د نشتوالي کچې په هر سايټ کې توپير درلود، خو په عمومي توګه دغه ودانيزې چارې بې کيفيته او د نه منلو وړ ګڼل کېدای شي. د کنکريټ ټيټ کيفيت او نابشپړه چت جوړونه هغه دوې ستونزې دي چې سيګار موندلي دي. سيګار همداشان د توليداتو د بدلون داسې ګڼې قضيې وموندلې چې په ترڅ کې يې په قرارداد کې د منل شويو توکو خلاف، د ټيټ کيفيت لرونکي توکي، لکه کړکی، کارول شوي وو.

3. که څه هم دغه قراردادي ته د امريکا متحدو آيالتونو له خوا د ټاکل شويو پيسو د جدول ارزښت له 5.5 ميليونو ډالرو څخه نه اوړي، خو دا څرګنده نه ده چې آيا دغه قراردادي به وکولای شي چې د پنځو سايټونو پاتې نيمګړې چارې چې بايد بشپړې شي، د قرارداد په پاتو پيسو بشپړې کړي که څنګه.

4. که څه هم دغه قراردادي د کاري کمبوديو د پوره کېدو مسوول دی، خو مالومه نه ده چې دغه کار به وشي که نه، ځکه چې نږدې ټولې پيسې هغه ته له وړاندې ورکړل شوې دي. د نابشپړو کارونو د بشپړېدو په موخه ډېرې کمې پيسې له قراردادي څخه راګرځول شوې وې، ځکه نو هغه د قرارداد د شرايطو د پوره کېدو لپاره ډېر لږ هڅول کېدی. د بصيرت ودانيزې کمپنۍ دغې او له USACE سره د هغې نورو پروژو ته په کتو سره به ډېره ستونزمنه وي چې نور قراردادونه ترلاسه کړي.

5. USACE د پروژو د کنيفيت د باوري کېدو او همداشان بصيرت کمپنۍ د کيفيت د کنټرول پلانونه جوړ کړي وو، خو په اغېزناکه توګه نه وو پلي شوي. په ځانګړې توګه د کيفيت د باوري کېدو غوښتل شوې، د کيفيت د کنټرول ازمويني، د کاري برخو درې پړاويز څار او د ورځنی کتنې راپورونه په عمومي توګه نه وو ورکړل شوي. USACE د کيفيت د باروي کېدو په اړه د نابشپړو راپورونو او د قراردادي له خوا د اخيستل شويو تصويرونو پر بنسټ پيسې ورکړې وې.

6. USACE پر پروژو د بشپړ څار د نشتوالي لامل امنيتي ستونزې ګڼي. په هر حال، د USACE کارکونکي د خپلو امنيتي قراردادیانو او سيمه يزو سرچينو د بشپړو ګټو په اړه خبرو کولو ته چمتو نه و، لکه په راتلونکو عملياتي سيمو کې د ايساف د سرچينو په اړه چې کېدای شي د يوه سايټ د پروژې نظارت په بر کې ونيسي. سيګار وموندله چې هم قراردادي او هم د کيفيت د باوري کولو سيمه يز استازي په اوږنده کاري سيمه کې د روانو چارو په اړه د بشپړ ورځني راپور په ورکونه کې پاتې راغلي وو.

**وړانديزونه**

ددغې پروژې نږدې هر اړخ په سمه توګه د هغې د بشپړېدو لپاره يوه ننګونه وه. سيګار يو شمېر هغه ودانيزې نيمګړتياوې موندلې چې د يادو ودانيو جوړښتي يوستوب له بنسټه خرابوي. د امريکا متحدو آيالتونو حکومت اړ دی چې ددغو ودانيو د بيا رغونې او اړوندو ستونو د لرې کېدو او د سالمو ودانيو د وړاندې کولو لپاره لږ تر لږه ۱ ميليون ډالر ورکړي. سيګار د USACE قوماندان جنرال ته د يادو ودانيزو د نيمګړتياوو د لرې کېدو او په راتلونکو پروژو کې دغې کمپنۍ ته د پيسو د ورکړې اجرايوي ستونزو د لرې کېدو لپاره ۶ وړانديزونه وکړل.

سیګار د پلي کېدو وړ قرارداد پر بنسټ د ودانیزو چارو د پشپړېدو او ودانیزو معیارونو په اړه او همداشان د USACE له خوا د ورته ودانیزو پروژو د بشپړېدو په برخه کې ګڼ وړاندیزونه کړي.

**د اداري وړاندیزونه**

USACE له څلورو وړاندیزونو سره جوړ راغلی او ویلي یې دي چې د دوو نه منل شویو وړاندیزونو په هدف یوه دی. هغه ومنل چې په هره سیمه کې ودانیو د قرارداد شرایط نه دي پوره کړي، خو دا یې ونه منل چې په یوه سیمه کې ودانیزو ستونزو د ودانیو یوستون اغېزمن کړی دی. USACE وویل چې قراردادي د یادو ودانیزو نیمګړتیاوو د او د نابشپړو ودانیو د پوره کېدو ژمنه کړې وه. د سیګار هغه وړاندیز ونه منلی چې له قراردادي څخه د اړوندې ودانۍ د ترمیم لپاره هغه اندازه حد اکثر پیسې راوګرځول شي چې د FAR له خوا یې اجازه ورکړل شوې ده. هغه وویل چې د دغې تګلارې پلي کېدل پر افغاني شرکتونو منفي اغېز کولای شي. هغه زیاته کړه چې ددې خبرې دلیل دادی چې په افغانستان کې د ودانیزو چارو هر قرارداد او قراردادي یوه ځانګړې ستونزه لري، او د ساتنې یوه ځانګړې تګلاره به له شکه پرته د پروژې د ناکامۍ چانس ډېر کړي.

## 11-4 تفتیش: د بیارغونې د چارو قراردادونه، د هغوی ورکړه او همکاریزې هوکړې

**دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او د امریکا متحده آیالتونو نړیوالي پرمختیایي اداري د ۲۰۰۷ – ۲۰۰۹ مالي کلونو ترمنځ د افغانستان د بیارغونې لپاره 17.7 بیلیونه ډالر 6,900 قراردادیانو او نورو ادارو ته ورکړي دي.**
له ۲۰۰۱ کال راهیسې د امریکا متحده آیالتونو د افغانستان د بیارغونې لپاره ۵۶ بیلیونه ډالر ځانګړي کړي دي. د بیارغونې بودیجه د افغانستان د فزیکي زېربنا د جوړونې یا بیاجوړونې، د افغانستان د اسلامي جمهوریت لپاره د روزنیزو یا تخنیکي پروګرامونو د جوړېدو، د افغانستان د خلکو لپاره د خیر ښېګڼې د رامنځته کېدو او د امنیت د ټینګښت یا داسې نورو بیارغنیزو هڅو لپاره لګول کېږي. دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او د امریکامتحدو آیالتونو نړیوالي پرمختیایي اداري په افغانستان کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره په پراخه توګه پر قراردادیانو تکیه کړې. 2.1 شکل د یوې بېلګې په توګه د دفاع وزارت لپاره د قرارداد په برخه کې د قراردادي ادارو قراردادي مکلفیتونه ښیي.

کنګرې په افغانستان او عراق کې پر قراردادونو د څار د ډېروالي په موخه یو شمېر ګامونه پورته کړي چې په دې ډله کې له پورته یادو شویو ادارو څخه د قراردادیانو او قراردادونو د ځانګړي لپاره د یوه واحد ډیټابیس د رامنځته کېدو د وړاندیز یادونه کولای شو. په هر حال، یادې اداري ددغه ډول ډیټابیس د کارونې په برخه کې له ستونزو سره مخ دي. پر دې سربېره دغه اداري په دې اړه راپور نه ورکوي چې آیا په افغانستان کې قراردادونه، همکاریزې هوکړې، او بې بدیله مرستې د بیارغنیزو موخو، که د امریکا متحدو آیالتونو له جنګیالیو سره د مرستې په برخه کې دي.

**موخې**

دغه تفتیش د یوې موخې په اړه خبرې کوي:

- د هغو قراردادیانو او نورو شرکتونو چې د بیارغونې لپاره پیسې ترلاسه کوي، او ددغو پیسو د چمتو کولو مالي میکانیزم پېژندل.

**موندنې**

1. دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او د امریکامتحدو آیالتونو نړیوالي پرمختیایي اداري د یوه راپور په ترڅ

2.1 شکل

افغان بیا رغونه: قرارداد په DoD لازمي قرارداد کول تشکیل مالي کال 2007 – 2009 (په ملیاردونو ډالر)




یادونې: JCC-I/A = د عراق/افغانستان د قرارداد کولو ګډه قومانده. USACE= د متحده ایالاتو د پوځ د انجینیرانو قول اردو (د افغانستان د انجینیرۍ ولسوالي).AFCEE = د انجینیرۍ او چاپېریال لپاره د هوایي ځواک مرکز. SMDC د متحده ایالاتو د خلا او میزایل دفاعي قومانده.

سرچینه: د AFCEE، USACE، JCC-I/A، او SMDC په ډاټا د سیګار تحلیل.

کې له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۹ مالي کال پورې په افغانستان کې د قراردادونو، همکاريزو هوکړو، او بې بديله مرستو کچه 17.7 بيليونه ډالر ښوولې ده. سيګار د عايد لرونکو او بې عايدو، ګټې اړخيزو ادارو او د امريکا د نورو شرکتونو په شمول 6,900 قراردادیان او نور شرکتونه پېژندلي دي.

2. د دفاع وزارت اړوندو قراردادي ادارو په لومړنی توګه د افغان ملي امنيتي ځواکونو د روزنې او تجهيزونې لپاره شاوخوا 11.5 بيلونه ډالر لګولي دي.

a. د افغانستان او عراق د قراردادونو ګډې قوماندانی د يوه راپور په ترڅ کې د قراردادونو د پيسو ارزښت 6.7 بيليونه ډالره ښودلی دی. سيګار 6,253 قراردادیان پېژندلي چې له دې ډلې څخه يې يوازې ۲۷ د افغانستان او عراق د قراردادونو د ګډې قوماندانی له خوا د قراردادونو د ټولټال ښوول شوي ارزښت تر نيمي ډېره برخه جوړوي. په دغه موده کې تر ټولو ستر قرارداد د 691 ميليونو ډالرو په ارزښت دی چې د کابل جان په نوم يوه افغان ودانيز شرکت ته ورکړل شوی و.

b. USACE د يوه راپور په ترڅ کې د 398 قراردادونو ارزښت 3.2 بيليونه ډالر ښودلی دی. د USACE له خوا د ټولټال ښودل شوي ارزښت تر نيمايي ډېره برخه يوازې اووه قراردادونه پوره کوي. په دغه دوره کې د ۳۶۶ ميليونو ډالرو په ارزښت تر ټولو ستر قرارداد کنټرکټ انټرنيشنل ته د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ودانيو د جوړېدو لپاره ورکړل شوی و.

c. د انجينری او چاپېريال لپاره د هوايي ځواکونو قرارداد 770 ميليونه ډالر ښوول شوي چې ۱۷ قراردادیانتو ته ورکړل شوی چې په دغه ډله کې ۵ قراردادونه د ياد مرکز د ټول لګښت ۷۰٪ کېږي.

d. د ترهګری په وړاندې د دفاع وزارت ټکنالوژی د پروګرام دفتر (CNTPO) له راپور سره سم د ۵ قراردادیانو د قراردادونو ارزښت ۸۵۰ ميليونو ډالرو ته رسېږي چې ۲ يې د ياد دفتر د مجموعي ارزښت له ۶۰٪ څخه ډېره برخه جوړوي.

3. د دفاع وزارت دوو بيروګانو ارزښت 2.4 بيليونه ښودل شوی دی.:

a. ويل کېږي چې د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې او قانون د پياوړتيا د چارو د نړيوالې بيرو (INL) د قراردادونو ارزښت څه نه څه 2.3 بيليونه ډالره دی. سيګار موندلې ده چې په دغه دوره کې د ۴ کمپنيو؛ ډاين کورپ انټرنيشنل د قراردادونو ارزښت د (INL) د هغو د ټولټا ارزښت ۸۰٪ جوړوي.

b. د همکاريزو هوکړو او بې بديله مرستو په برخه کې د دفاع وزارت د وګړو، کډوالو، او کډوالی بيرو (PRM) د قراردادونو ارزښت شاوخوا 178 ميليونو ډالرو ته رسېږي. سيګار موندلې ده چې په دغه دوره کې د کډوالی په چارو کې ملګرو ملتونو د عالي کميشنری د ۲۱ پلې کونکو همکارانو د قراردادونو ارزښت د (PRM) د ټولټال قراردادونو د ارزښت تر نيمه ډېره برخه جوړوي.

4. د امريکا متحدو آيالتونو د نړيوالې پرمختيايي ادارې د 3.8 بيليونو ډالرو په ارزښت فه ۲۸۳ قراردادیانو او نورو شرکتونو سره، قراردادونه کړي چې په دغه شمېره کې له ۲ بيليونه څخه ډېر (۵۳٪) په قراردادونو، 1.1 بيليونه (شاوخوا ۳۰٪) په همکاريزو هوکړو کې، 625 ميليونه (۱۷٪) په بې بديله مرستو کې لګېدلي دي. په دغو قراردادونو کې لويس برګر انټرنيشنل د همکاريزو هوکړو (736 ميليونه ډالره)، نړيوالې خير ښېګڼې او پرمختيا (358 ميليونه ډالره)، او نړيوال بانک د بې بديله مرستو (۳۲۲ ميليونه ډالره) ترلاسه کړي دي. د امريکامتحدو آيالتونو د نړيوالې پرمختيايي ادارې د ټولټال ۸۰۹ ميليونو ډالرو د قراردادونو د ارزښت ۲۱٪ ګټې اړخيزو فدرالي شرکتونو ته تللي دي.

**وړاندیزونه**

سیګار ددغه راپور په اړه هیڅ تبصره نه ده کړې. دا د افغانستان په ودانیزو چارو کې د ښکېلو عمده قراردادیانو او نورو شرکتونو، او د لګول شویو پیسو د میکانیزم د پېژندې په اړه لومړی څېړنه ده. سیګار پلان لري چې دغه مالومات د خپلو تفتیشي او څېړنیزو فعالیتونو لپاره د یوه لارښود په توګه وکاروي.

**د اداري وړاندیزونه**

د تفتیشي راپور پر مسوده د تبصرو په ترڅ کې JCC-I/A وویل چې دغې ادرې د شرکتونو ترمنځ په کاري ګروپونو کې د ګډون او د تېروتنو د کمولو لپاره د مالوماتو د سیستم د پروتوکول د پرمختیا په شمول د قراردادونو د مالوماتو د کیفیت د ښه کېدو په برخه کې ګډ ګامونه پورته کړي دي. نه USACE، USAID او نه هم دفاع وزات ددغه راپور په اړه کوم څخه ویلي دي. دغه اداري یوازې په وروستي تفتیشي راپور کې نښتي دي. ددغه راپور د لوستلو لپاره د سیګار ویبپاڼه (www.sigar.mil) کتلای شئ.

## 10-15 تفتیش: د اداري فساد په وړاندې د امریکا تګلاره

**په افغانستان کې د امریکا متحدو آیالتونو بیارغنیزې هڅې باید د اداري فساد په وړاندې د امریکا له وروستی هر اړخیزې تګلارې څخه ګټه واخلي**

له ۲۰۰۲ کال راهیسې د امریکا متحدو آیالتونو د افغانستان د بیارغنیزو چارو لپاره شاوخوا ۵۶ بیلیونه ډالر بېل کړي دي. د ۲۰۱۰ کال په فرورۍ میاشت کې ولسمشر اوباما د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د خپلې وړتیا د لوړېدو، او پر خپلو پښو د دریدو، او اغېزناکې دولت دارۍ په موخه د افغانستان اسلامي جمهوریت لپاره د 16.2 بیلیونو ډالرو نورې بودیجې غوښتنه وکړه.[11] د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ کې د مالي مرستندوینې په اړه د نوې رامنځته شوې میتود پر بنسټ امریکا پلان لري چې خپلې تر نیمې ډېرې مرستې د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولتي ادارو له لارې ولګوي. ددغه کار بریالیتوب به د افغان دولت په هغه لوړه سویه او وړتیا پورې اړه ولري چې څنګه کولای شي چې د امریکا مرستې اداره کړي، او د ناوړه ګټه اخیستنې، درغلیو او بېځایه لګونې، او اداري فساد د نورو ډولونو مخه پکې ونیسي.

**موخې**

دغه راپور لاندینۍ موخې لري:

- د اداري فساد په وړاندې په مبارزه کې د خبلو وړتیاوو د لوړېدو لپاره د افغانستان له اسلامي جمهوریت سره د امریکا متحدو آیالتونو د مرستو پېژندنه.
- د اداري فساد په وړاندې د افغانستان د مهمو ادارو د وړتیا سپړنه.

**موندنې**

1. د افغانستان په ادارو کې د روڼتیا او حساب ورکونې د رامنځته کېدو لارښوونې او د اداري فساد د کمېښت او مالي څار د ودې په موخه په کابل کې د امریکا متحدو آیالتونو سفارت د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په موخه د یوې هراړخیزې تګلارې مسوده چمتو کړې ده. خو دفاع وزارت تر اوسه دغه تګلاره نه ده منلې.
2. د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په موخه د افغانو څارونکو ادارو د رامنځته کېدو همکارۍ ته نوره وده ورکول په پرلپسې توګه یوه مهمه چاره ده، ځکه چې د امریکا متحدو آیالتونو حکومت غواړي چې په راتلونکې کې خپلې ډېرې بیارغنیزې مرستې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ادارو له لارې ترسره کړي.

3. مهمي افغاني څارونکي اداري د بشپړې خپلواکۍ، تفتیش د واک او ورتیا له کموالي سره مخ دي. د افغانستان اسلامي جمهوریت د يوې خپرې شوې ژمنې په ترڅ کې د وزارتونو په کچه يو شمېر ادارو او دفترونو ته د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په برخه کې مستقیم رول ورکړی دی. په ځانګړې توګه د څار عالي اداره، د کنټرول او تفتیش اداره او په وزارتونو کې د داخلي تفتیش رياستونه د اداري فساد په وړاندې د افغانستان اسلامي جمهوریت د څار مهمي اداري چې په دغه برخه کې د پام وړ مسوولیتونه لري. په هر حال، د سیګار، USAID او نړيوال بانک د اسنادو پر بنسټ دغه اداري د خپلواکۍ، د تفتیش د واک، او ورتیا د کموالي له امله ډېرې محدودې پاتې دي.

**وړاندیزونه**

په افغانستان کې د اداري فساد په وړاندې د امريکا متحدو آيالتونو د هڅو د پرمختیا او رهبري کولو، د اداري فساد په وړاندې د مبارزې لپاره د افغانستان اسلامي جمهوریت د اداري ورتيا د لوړوالي، او په دغه هېواد کې د امریکا متحدو آيالتونو او نورو مالي مرستندویانو له پیسو خخه د ناوړه ګټه اخیستنې، درغلیو، بېځايه کاروني د مخنیوي په موخه د امریکا متحدو آيالتونو د دولت د تګلارې لپاره سیګار لاندیني وړاندیزونه کړي:

- په افغانستان کې د بیارغنیزو هڅو لپاره د اداري فساد په وړاندې د يوې تګلارې جوړول او پلي کول.
- ددې لپاره د څار په برخه کې د افغانستان د مهمو ادارو، په ځانګړې توګه په وزارتونو کې د داخلي تفتیشي ادارو کتنه چې آيا د امریکا متحد آيالتونه باید د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په برخه کې د هغوی د ورتيا د لوړوالي، او د افغانستان اسلامي جمهوریت د ادارو له لارې د امریکا د بیارغنیزو مرستو د لګونې لپاره د حساب ورکونې په موخه، نوره مرسته وکړي که څنګه.

**د اداري وړاندیزونه**

په کابل کې د امریکا متحدو آيالتونو سفارت او USAID ددغه راپور د وړاندیزونو ملاتړ کړی او ويلي يې دي چې هغوی د افغانستان او پاکستان له ځانګړو استازو څخه تمه لرله چې د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر پر ۳۰ په واشنګټن کې د اداري فساد په وړاندې د امریکا متحدو آيالتونو هراړخیزه تګلاره نهايي کړي. خو تر هغه مهاله چې دغه درې میاشتني راپور خپرېدی، یاده تګلاره نه وه نهايي شوې. یاد سفارت د خپلو څرګندونو په ترڅ کې یادونه وکړه چې د دغې تګلارې پلي کېدل دوام لري. دغه سفارت همداشان یادونه وکړه چې د افغانستان د مهمو وزارتونو او نورو دولتي ادارو د ارزوني د پروسې د رامنځته کېدو په برخه کې د امریکا متحدو آيالتونو چارې دوام لري.

د نوموړي سفارت له وینا سره سم د اوسنيو قوانینو په رڼا کې د ناڅرګندو مسوولیتونو له امله په مهمو وزارتونو کې د داخلي تفتیش له رياستونو سره مرسته کول ستونزمن کار دي. دغه سفارت یادونه وکړه چې د امریکا متحدو آيالتونو حکومت ددغې ستونز اوارې په افغانستان کې د پیسو د بیارغنيز صندوق د هڅو په پروګرام کې د يوه محک په توګه شامل کړ. ددغې ستونزې د اوارې په موخه د افغانستان له اسلامي جمهورتی سره په مرسته کې د امریکا د خزانې رياست هم ښکېل دی.

## 11-1 تفتیش: ولايتي پرمختيايي ورتيا

**په راپور ورکونه کې د پرمختيايي مرستو په برخه کې کمزورې، او د ولايتي ورتيا کموالی په ننګرهار ولايت کې د امریکا متحدو آيالتونو تګلارې ته خطرونه رامنځته کوي**

له ۲۰۰۲ کال راهیسې د امریکا متحدو آيالتونو ډېرى پرمختيايي مرستې د امریکايي شرکتونو له خوا اداره شوي او د افغانستان اسلامي جمهوریت څنګته کړل شوی دی. د ۲۰۱۰ کال په جولای میاشت کې په جوړه شوي کابل

کنفرانس کې د امریکا متحدو آیالتونو او نړیوالي ټولنې یو ځل بیا خپله هغه ژمنه تازه کړه چې تر راتلونکو دوو کلونو پورې به تر ٪۵۰ خپلې پرمختیايي مرستې د افغانستان اسلامي جمهوریت د ادارو له لارې ورسوي. د امریکا متحدو آیالتونو د دولت او نړیوالي ټولنې ددغې ژمنې د پوره کېدو لپاره د افغانستان حکومت ته په کار ده چې د اداري فساد کچه راټيټه کړي، مالي مدیریت او بودیجه لګونې ته وده ورکړي، او د ملکي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه په مرکز او ولایتونو کې د دولتي ادارو وړتیا لوړه کړي. نړیواله ټولنه د ولایتي حکومت داری د پیاوړتیا په لار کې خپلو هڅو ته دوام ورکوي. دغه هڅې د افغانستان د حکومت داری د وړتیا او پر حکومت د افغانانو د باور د ډېرېدو لپاره لازمي دي. د نړیوالې ټولنې د پیسو ورکونې د نوې تګلارې بریا له یو بل سره تړلو موخو د ترلاسه کولو لپاره د پرمختیايي مرستو د ترلاسه کولو او لګولو په برخه کې د ولایتي ادارو په وړیا پورې اړه لري.

**موخې**

دغه تفتیش درې موخې لری:

- په ننګرهار ولایت کې د افغان، امریکامتحدو آیالتونو، او نورو پرمختیايي مالي مرستندویانو د لګول شویو بیسو کچه او ډول موندل.
- په دې بوهېدل چې د امریکا متحدو آیالتونو او نورو مرستندویه ادارو پروژې تر کومې کچې د ننګرهار ولایت له پرمختیايي لومړیتوبونو سره همغږې دي.
- د هغه برید ارزونه کول چې له مخې یې د ننګرهار ولایت اداره د نورو مرستو ترلاسه کولو او لګولو ته چمتو ده.

**موندنې**

1. ننګرهار ولایت د افغانستان اسلامي جمهوریت، نړیوالو مالي مرستندویانو او نورو ملګرو په شمول له بېلابېلو سرچینو څخه عادي او پرمختیايي بودیجه ترلاسه کوي. د ننګرهار ولایتي ریاستونه او اداری د مرکزي عادي بودیجې شاوخوا ٪۸۵ (51.3 میلیونه ډالر) د میاشتنیو او او ورځنیو معاشونو لپاره لګوي، او د اصلي بودیجې یوازې ٪۴ په پرمختیايي چارو کې لګوي.
2. د امریکا متحدو آیالتونو دولت او نورو مالي مرستندویانو ډېرې چارې په ننګرهار ولایت کې ترسره کېږي. سیګار موندلې ده چې د ۲۰۰۹ مالي کال په ترڅ کې په دغه ولایت کې د امریکا متحدو آیالتونو له ۱۰۰ میلیونه څخه د ډېرو الرو په ارزښت پرمختیايي چارې ترسره کړې دي. د قوماندان د بېړني غبرګون پروګرام (CERP) له لارې ۲۰۲ پروژو ته پیسې ورکول شوې چې ټولټالیز ارزښت یې 58.7 میلیونه ډالره دی، او دغه شمېر د اړوندو پرمختیايي چارو تر نیمې ډېره برخه جوړوي.
3. په ننګرهار ولایت کې د پرمختیا په برخه کې د ټولو لګېدلو پیسو د کچې مالومول او ارزول په درېو دلیلونو ستونزمن کار دی: د افغانستان اسلامي جمهوریت مرکزي خصوصیت، د مالي مرستندویانو د راپوروړکونې نشتوالی، او د ځینو پرمختیايي پروژو سیمه یا موقعیت.
4. د امریکا متحدو آیالتونو هغو دولتي ادارو چې د ننګرهار ولایت لپاره پرمختیايي بودیجه چمتو کوي، د پرمختیايي پروژو او دغه ولایت د لومړیتوبونو ترمنځ په همغږۍ کې یو شمېر پرمختګونه کړي دي. خو له دې سره اوس هم د امریکا متحدو ایالتونو د حکومت پرمختیايي پروژې د ولایتي، او د افغانستان اسلامي جمهوریت له پرمختیايي پلان څخه په نه ګډه اخیستنه پلې کېږي.
5. ننګرهار د پرمختیايي پلان جوړونې یوه فعاله پروسه نه لري. که څه هم د ننګرهار ولایت پرمختیايي پلان

بشپړ شوی، خو تر وخت تېر، له ځانګړي فنډ ورکوني سره بې تړاوه، او له لویه سره هم د ملي او هم ولایتي حکومت، او هم د نړیوالي ټولنې له پامه غورځېدلی دی. د بېلګې په توګه، په ننګرهار کې د CERP پروژو د شنني په ترڅ کې سیګار وموندله چې د ۲۶ پروژو له ډلې یوازې ۱ د ولایتي پرمختیایي پلان له مخې پلي شوې ده.

6. د سیګار او ګڼو امریکایي چاراواکو چې په دغه ولایت کې د ارزښتناکو پروژو مسوولیت پر غاړه لري، له شنني سره سم د افغانستان اسلامي جمهوریت په ننګرهار ولایت کې د امریکا متحدو آیالتونو په مالي مرسته پلي کېدونکي پروژې مخته نه بیایي. د کورنیو مالي مرستو به مټ په ډېرو پلي کېدونکو پروژو کې د افغانستان اسلامي جمهوریت حضور یا د نشتوالی، او به اغېزناکه توګه د په نګرهار ولایت کې د هڅو د همغږۍ په برخه کې د مالي مرستندویانو ناوړتیا، د پرمختیایي پروژو د پلان او دوام په برخه کې د مرکزي او ولایتي دولت وړتیا نوره هم پېچلې کوي.
7. د مرکزیتوب کچه، د خریداریو د واک، او بودیجه جوړوني نشتوالي، د وزارتونو او اړوندو ریاستونو ترمنځ د باور شتوالي د نورو مرستو د ترلاسه کولو او لګولو په برخه کې د ننګرهار ولایت د مهمو ریاستونو د وړتیا د کموالي لامل شوي دي. د ننګرهار ولایت اړوند ریاستونه په ولایتي بیارغنیزو چارو کې ډېر محدود رول لوبوي او ټولې ورته چارې په کابل کې د وزارتونو په کچه ترسره کېږي.

**وړاندیزونه**

په ننګرهار ولایت کې د امریکا متحدو آیالتونو پرمختیایي تګلارو د فغان دولت او افغانانو ترمنځ د یو پل په توګه د خلکو او او دولت تر منځ د واټن ستونزې له منځه وړي دي. د مریکا متحدو آیالتونو او افغنستان اسلامي جمهوریت له خوا د ولایتي پرمختیایي پلان د نشوالي له امله چارې د هغوی د اړتیاوو په وړاندې نشي پرتله کېدای، دوامداره اقتصادي پرمختیا نه ده رامنځته شوې او د ولایتي ادارو تګلورې نه دي بدل شوې. نړیوالې ټولنې ته په کار ده چې د ننګرهار ولایت له اداري سره د امریکا متحدو آیالتونو ولایتي بیارغنیزې ډلې (PRT) یا نورو مرستندویه ادارو ته د پرپوزلونو په چمتو کولو کې د مرستې پر ځای هغوی وهڅوي چې د تولیدي برخې د تګلارو او پرمختیایي پلانونو پر جوړولو تمرکز وکړ. سیګار د لاندینیو موضوعګانو د باوري کېدو په برخه کې د مرستې لپاره یو شمېر وړاندیزونه کړي دي:

- د ننګرهار ولایت ریاستونه دې دا وړتیا پیدا کړي چې پرمختیایي بودیجه ترلاسه او ولګوي، او پروژې پلې کړي.
- د افغانستان اسلامي جمهوریت او د امریکا متحدو آیالتونو دولتي کارکونکي باید په ټول افغانستان کې د روانو پرمختیایي چارو په اړه مالومات ولري.
- په ننګرهار ولایت کې دې د امریکا متحدو آیالتونو پرمختیایي مرستې د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولایتي پرمختیایي لومړیتوبونو سره سمې ولګول شي.
- د افغانستان اسلامي جمهوریت دې د پروژو بشپړ شوی CERP ولري.

**د اداري وړاندیزونه**

د تفتیشي راپور پر مسودې د تبصرو په برخه کې USFOR-A د سیګار له وړاندیزونو سره موافقه وکړه او ویې منل چې په ټول هېواد کې د لازیاتي لاربنوني او د افغانستان اسلامي جمهوریت د پروژو د سند ساتنې او مسوولیتونو د دوام لپاره به CERP کړنلاره رامنځته کوي. ددغه راپور د خپرېدو په ترڅ کې سیګار د سفارت له لوري کوم رسمي وړاندیزونه ترلاسه نه کړل.

2.2 شکل

د مرستندویانو له خوا معاشونه، فبروري 2010 (په ملیونونو ډالر).




یادونه: په نورو مرستندویانو کې شامل دي اسیایي پرمختیایي بانک، UNESCO، او WHO.

سرچینه: د مالیې د وزارت د اسنادو شننه چې د نړیوالو مرستندویانو لخوا ورکړل شوی.

## 11-5 تفتیش: له افغانانو سره د معاش په برخه کې د امریکا مرسته

**د نا همغږیو، او د افغان دولت کارکونکو ته د امریکا د معاشونو په برخه کې د څار او تخنیکي مشاورینو د کموالي د له منځه وړلو لپاره هڅو ته اړتیا شته**

د وړتیا د لوړوالي په مرسته د افغان حکومت داری پیاوړتیا، او د اداري فساد کمښت د افغانستان لپاره د امریکا متحدو آیالتونو د تګلارې اصلي توک دی. د افغانستان اسلامي جمهوریت د وړتیا د لوړېدو په موخه د امریکا متحدو آیالتونو او نورو نړیوالو مالي مرستندویانو له ۲۰۰۲ کال راهیسي د افغان دولت زرګونو ملکي کارکونکو او تخنیکي مشاورینو ته معاشونه ورکړي دي. د افغان ولسمشر حامد کرزي په شمول، یو شمېر افغان چارواکي د اداري فساد ودې ته د مالي مرستندویانو له خوا د لوړو معاشونو له ورکړې، او پر بودیجه د کنټرول له نشتوالي سره تړاو ورکوي. یو شمېر څارونکي له مالي مرستندویانو څخه معاش ترلاسه کونکو ملکي دولتي کارکونکو او تخنیکي مشاوېرینو ته د "دویم ملکي سرویس" په سترګه ګوري. ډېری مالي مرستندویان د یو بهرني دولت ملکي کارکونکو ته د معاش ورکوني له چارو سره نه دي جوړ، خو د افغانستان اسلامي جمهوریت د وړتیا سختو محدودیتونو او مالي ستونزو دغه مرستندویان دې ته اړ کړي چې هغوی ته د معاش په ورکړه میلیونه ډالر ولګوي. د ۲۰۱۰ کال په فروري میاشت کې د مالیې وزارت د دا ډول معاشونو کلنی کچه له 45 میلیونو ډالرو څخه ډېره اټکل کړې ده، دغه موضوع په 2.2 شکل کې ښوول شوې ده.

### موخې

دغه تفتیش د څلورو موخو په اړه څرګندوني لري:

- د هغو معاشونو برید مالومول چې د افغانستان اسلامي جمهوریت ملکي کارکونکو او تخنیکي مشاورینو ته د ۲۰۰۵ کال راهیسي ورکړل شوي دي.
- په اوږد مهال کې د افغانستان اسلامي جمهوریت پر وړتیا او دوام ددغو معاشونو د اغېز ارزونه کول.
- د امریکا متحدو آیالتونو د ادارو له خوا د معاشونو د ورکړې بهیر ارزول.
- ددغو معاشونو د داخلي کنټرول او حساب ورکوني د میکانیزم د برید مالومول.

### موندنې

1. نه هم د افغانستان اسلامي جمهوریت او نه هم مالي مرستندویان د افغان دولت هغه ملکي کارکونکي او تخنیکي مشاورین، او هغوی ته د ورکړل شویو پیسو شمېرنه کولای شي. د ۲۰۱۰ کال په فروري میاشت کې د مالیې وزارت اټکل وکړ چې ۱۷ مالي مرستندویه ادارو له کاله 6,600 ملکي کارکونکو او تخنیکي مشاورینو ته ۴۵ میلیونه ډالر ورکړي، خو دغه اټکل د نابشپړو مالوماتو پر بنسټ ولاړ دی. مالي مرستندویان د معاشونو د ورکړې په برخه کې په سمه توګه له راپور ورکولو څخه د مالوماتو د څرګندتیا او ډول په برخه کې د ګډوډۍ له امله ډډه کوي.
2. د امریکا متحدو آیالتونو اداری ددغو معاشونو پر بهیر څار نه دی کړی، څکه چې نه دغه مالومات په مرکزي توګه اداره شوي، او نه هم د هغوی د راټولولو لپاره کوم دفتر مسوولیت درلود. د امریکا متحدو آیالتونو نړیوالې پرمختیایي اداری په ۲۰۰۸ کال کې ددغو مالوماتو په راټولېدو پیل وکړ، خو په کابل کې د امریکا سفارت دغه کار په ۲۰۱۰ کال کې پیل کړ.
3. د افغانستان اسلامي جمهوریت د مهمو پوستونو د ډکولو او د لوړ مهارت لرونکو افغانانو د ګومارنې په برخه کې د مالي مرستندویانو د معاشونو پر مرستو تکیه کوي. په هر حال، له مرستو څخه چمتو شوي معاشونه د

کاري بازار د ماتېدو، او د دولت د ورتیا د زیانمنېدو او مالي ثبات په شمول یو شمېر منفي اغېزې لري.

4. مالي مرستندویان له یوې خوا د معاشونو د ورکړې لپاره معیار نه لري، او له بلې خوا د افغانستان اسلامي جمهوریت سره په توپیر سره دومره لوړ معاشونه ورکوي چې یاد دولت یې د ورکړې توان نشي لرلای. د بېلګې په توګه د افغانستان اسلامي جمهوریت یو شمېر ملکي کارکونکوي د مالي مرستندویانو له خوا د دولتي معاشونو په پرتله ۱۰ تر ۲۰ ځله لوړ معاشونه ترلاسه کوي.

5. د مرستو له لارې چمتو شوي معاشونه همداشان له ملکي خدمتونو څخه د لوړو مهارت لرونکو او پر شرایطو برابرو افغان کارکونکو په وتلو سره په اوږدمهال کې د افغانستان اسلامي جمهوریت پرمختیایي وړتیا له ګواښ سره مخ کوي. ددې ترڅنګ مالي مرستندویان د افغانستان د پلان جوړوني او بودیجه ټاکنې له پروسې څخه بهر معاشونه ټاکي او په دې توګه د افغانستان اسلامي جمهوریت نشي کولای چې د معاشونو د ورکړې یاد کارکونکو د معاشونو د کنټرول په برخه کې د خپلو مسولیتونو په اړه فکر وکړي. ددې ترڅنګ ډېرى بستونه د افغانستان اسلامي جمهوریت د ګومارنې په رسمي لیست کې نه دي مشخص شوي.

6. د امریکا متحدو آیالتونو اداري ددغه ډول معاشونو مرسته د کومې همغاړې لاربښونې پرته ترسره کوي. له ۱۹۸۸ کال راهیسې د امریکا متحدو آیالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې د معاشونو یوه نړیواله تګلاره لرله، خو دغه تګلاره د افغانستان لپاره دوه ځله له پامه غورځېدلې ده. د یادې ادارې تګلاره د امریکا متحدو آیالتونو په نورو ادارو کې د پلې کېدو وړ نه ده، او نه هم د افغانستان اسلامي جمهوریت د تخنیکي مشاورینو د معاشونو کچه ټاکلای شي. ددې ترڅنګ دفاع وزارت نه د مرستندویه معاش ورکړې تګلاره لري، او نه هم د بشپړونکو معاشونو یا په دولتي ادارو کې د تخنیکي مشاورینو لپاره معاش. د معاشونو په برخه کې د یوې رڼې تګلارې دغه نشتوالی د معاشونو د ورکړې په برخه کې د اړتیاوو د لومړیتوبونو او هدفونو د ټاکنې په لار کې د امریکایي ادارو وړتیا زیانمنه کړې ده.

7. د امریکا متحدو آیالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې په راتلونکې کې د افغانستان اسلامي جمهوریت له لارې د معاشونو د ورکړې په موخه د افغان بشري سرچینو، او معاشونو د ورکړې د سیسټم ارزونه نه ده کړې. د معاشونو د ورکړې لپاره د یوه بریښنایي سیسټم د نابشپړې پلې کېدنې، او د بشپړونکو معاشونو د ترلاسه کونې د پېژندنې په برخه کې د توان د نشتوالي په شمول د معاشونو د ورکړې په برخه کې کمزوریو د امریکا متحدو آیالتونو مرستندویه معاشونه د ناوړه مدیریت او ناوړه ګټه اخیستنې له خطر سره مخ کړي دي.

**وړاندیزونه**

څرنګه چې له ۲۰۰۲ کال راهیسې د افغانستان اسلامي جمهوریت د خپلې وړتیا د پوره کولو لپاره د مالي مرستندویانو پر معاشونو تکیه کړې، نو دغو مرستندویانو ته په کار ده چې د لنډې مودې لپاره د افغان دولت د پیاوړې کولو په بیه دې ددغه دولت اوږدمهالی مالي ثبات له ګواښ سره مخ نه کړي. څرنګه چې د امریکا متحدو آیالتونو ادارې د افغانستان اسلامي جمهوریت ته په نېغه توګه د مرستو د ورکړې پلان لري نو د مالیې وزارت به د امریکا متحدو آیالتونو د مرستندویه معاشونو د څار په برخه کې ستر مسوولیت ولري. د امریکا متحدو آیالتونو د مرستندویه معاشونو په پروسه کې د شفافیت او حساب ورکونې، او په اوږد مهال کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د وړتیا لوړېدو په موخه سیګار یو شمېر وړاندیزونه کړي دي.

سیګار همداشان د امریکا متحدو آیالتونو د مالي مرستندویانو د سیالیو د همغاړې کولو، او دا چې مرستندویه معاشونه د ستراتیژیک هدف لپاره لګول کېږي، اپه امریکایي شرکتونو کې په یوستوې توګه ترسره کېږي، او د

معاشونو د پیسو په برخه کې د حساب ورکونې د ودې لپاره هم یو شمېر وړاندیزونه کړي دي.

**د اداري وړاندیزونه**

ددغه درې میاشتني راپور دخپرېدو په وخت کې هم یادو ادارو د تفتیشي راپور پر مسوده خپلو رسمي تبصرو ته دوام ورکړ. په وروستی تفتیشي راپور کې د شرکتونو وړاندیزونو او موندنو او تبصرو ته ځوابونه ورکړل شوي دي. ددغه راپور د لوستلو لپاره د سیګار ویبپاڼه (www.sigar.mil) کتلای شئ.

## 11-2 تفتیش: ملکي پیاوړتیا

**په افغانستان کې د امریکا متحدو آیالتونو ملکي پیاوړتیا د پرمختګ په حال کې ده، له دې سره سره د پلي کېدنې په څېر یو شمېر مهمې موضوعګانې او ازمایښتونه په مخ دي**

د ۲۰۰۹ کال د مارچ پر ۲۷ نېټه د امریکا متحدو آیالتونو ولسمشر د افغانستان لپاره د القاده د ځنډي کولو، بې وسلې کولو او ماتولو، او د هغه د پېژندنې له منځه وړلو په برخه کې له اصلي مخو سره مله تګلاره اعلان کړه. په دغه تګلاره کې د پوځي ځواکونو د ډېروالي ترڅنګ د ملکي پیاوړتیا ــ د افغان دولت د وړتیا د لوړوالي لپاره د ملکي هڅو ډېروالي، د قانون د واکمنۍ د پراختیا، په لومړنۍ توګه د کرنې د پرمختیا له لارې د دوامداره اقتصادي ودې د پیل یادونه هم شوې وه. افغانستان ته د ګڼو امریکایانو راتګ او د بیارغونې په برخه کې د امریکا د هدفونو د لاسته راوړنې ارزښت ته په پام سره شرکتونو ته ددې خبرې باوري کول په کار دي چې دغه، په ځانګړې توګه په ساحه کې بوخت ملکیان د هغو هڅو د ترسره کولو په لار کې چې ستراتیژیکو هدفونو ته د رسېدو لپاره مهمې دي، له لازم ملاتړه برخمن دي.

**موخې**

دغه تفتیش د دوو موخو په اړه خبرې کوي:
- د هغو کارکونکو د شمېر او ډول مالومول چې د ملکي لوړتیا لپاره کار کوي، او هغو مرستو برید مالومول چې ددغو کارکونکو ژوند او کاري چارې اړتیا ورته لري.
- د اندېښنو مهمو برخو ته کتنه ددغې لوړتیا په لومړي پړاو کې راپورته شوه.

**موندنې**

1. د امریکا متحدو آیالتونو شرکتونو د ملکي لوړتیا د کارکونکو د یوې برخې په توګه شاوخوا ۶۷٪ کارکونکي افغانستان ته رالېږلي، او دغو شرکتونو په اړوند ډګر کې د ژوند او چارو لپاره لازم ملاتړ ترسره کړی دی. د ملکي لوړتیا د رواني دورې د یوې برخې په توګه د شاوخوا ۶۲۶ نویو پوستونو د ډکولو لپاره د ۸ ریاستونو شپاړس اداري پرسونل چمتو کوي.
2. د اوسنیو انګېرنو له مخې، ټاکل شوې ده چې د لوړتیا دغه پروګرام په دوو پړاونو کې پلی شي او د امریکا متحدو آیالتونو د ملکي ماموریت د پرسونل شمېر چې د ۲۰۰۹ کال په جنوري میاشت کې ۳۲۰ و، د ۲۰۱۲ کال تر جنوري پورې شاوخوا 1,500 تنو ته لوړ کړي. په دغه ترڅ کې د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر پر ۹ نېټه افغانستان ته 418 تنه دغه ډول پرسونل راغلل، چې 227 ساحوي کارکونکي دي.
3. د ملکي لوړتیا لومړی پړاو د ۲۰۰۹ کال په ډسمبر کې پایته ورسېد، او دویم یې د ۲۰۱۰ کال په جنوري کې پیل شو چې د ۲۰۱۱ کال په ډسمبر کې به بشپړ شي. د 626 پوستونو له ډلې څخه به شاوخوا 294 په کابل کې وي، او د ولایتي بیارغونې ډلې او ولسوالۍ مرستندویه ډلې په څېر نور هغه به په ټول هېواد کې په بېلابېلو سیمو کې ووېشل شي.

4. د سیګار له خوا په کابل کې د امریکا متحدو ایالتونو د سفارت د سندونو د کتنې په کابل کې له ساحوي چاراواکو سره د خبرو پر بنسټ داسې میکانیزمونه جوړ شوي چې د ملکي ژوندانه اړتیاوې پوره کړي، او عملي همکاري وکړي او دغه میکانیزمونه په عمومي توګه په ساحه کې پلې شوي دي. ددغو مرستو د ترسره کولو لپاره د امنیت د نشتوالي په شمول چې ملکي تجهیزونه یې اغېزمنه کړې، په افغانستان کې کاري چاپېریال له ننګونو ډک دی.
5. د ملکي لوړتیا د دویم پړاو پلې کېدنې په ترڅ کې ډېرې ورتیاوې نورو ازمایښتونو ته اړتیا لري. ددغې کتنې په ترڅ کې سیګار د ارزونې د اغېزناکتوب، په ساحه کې پر کار د اداري د لاربښوونې د کچې، او د ملکي – پوځي نمونو د پلي کولو په څېر د ساحې د کارکونو له خوا ددغه پروګرام د پلې کېدو په اړه ګڼې راپوته شوې اندېښنې وموندلې.
6. د ۲۰۱۰ کا ل د جولای په وروستیو کې په کابل کې د امریکا متحدو ایالتونو سفارت له واشنګټن سره په ګډه ددغې لوړتیا د کتنې یوه بین الاداري کتنه پیل کړه. په هر حال، ددغې کتنې لومړنې پلانونه د روزنو او اداري لاربښوونې هر اړخیزه ارزونه په ځان کې نه رانغاړي.
7. په کابل کې د امریکا سفارت د تر ټولو غوره چارو د غوره کېدو او پلې کېدو او له ساحې څخه د زده کړل شویو لوستونو په برخه کې د یوه رسمي میکانیزم له نشتوالي سره مخ دی. د بېلابېلو هڅو د پایلو د څارنې او ارزونې لپاره یو میکانیزم او د غوره کړنو پېژندنه چې په مرسته یې په ساحه کې د ملکي کارکونکو اغېزناکتوب لوړشي.

**وړاندیزونه**

په داسې حال کې چې د امریکا متحدو ایالتونو ماموریت او واشنګټن په ګډه د لوړاوي دغه پروګرام په خپلو منځو کې سر څېړي، اروند چاراواکي اړ دي چې وپوهېږي چې آیا له ملیکانو سره د مرستې اوسنۍ پروسه د بیارغونې په برخه کې د امریکا متحدو ایالتونو د ستراتیژیکو هدفونو په لاسته راوړنه کې اغېزناکه ده که څنګه. ددې ترڅنګ د لوړتیا پروګرام په دغه موده کې د ترټولو غوره اجرااتو د غوره کولو، شنلو او پلي کولو لپاره یو رسمي میکانیزم به د امریکا له سفارت سره مرسته وکړي چې د ملکیانو د اغېزناکتوب او د یادو هدفونو د ترلاسه کولو لپاره اړین بدلونونه رامنځته کړي.

سیګار ددې خبرې د باوري کېدو سره د مرستې لپاره دوه ړوندیزونه وکړه چې د ملکي لوړتیا بین الاداري ارزونه هر اړخیزه ده او د امریکا متحدو ایالتونو د ادارو له خوا په ساحه کې پر ملکیانو په رسمي توګه نظارت اغېزناک دی، نیمګړتیاوې لرې کوي، او اصلاحي ګامونه پورته کوي.

**د اداري وړاندیزونه**

ددغه درې میاشتنې راپور دخپرېدو په وخت کې هم یادو ادارو د تفتیشي راپور پر مسوده خپلو رسمي تبصرو ته دوام ورکړ. په وروستی تفتیشي راپور کې د شرکتونو وړاندیزونو او موندنو او تبصرو ته ځوابونه ورکړل شوي دي. ددغه راپور د لوستلو لپاره د سیګار ویبپاڼه (www.sigar.mil) کتلای شئ.

### 10-16 تفتیش: ټاکنې

**په افغانستان کې د ټاکنو له چمتوالي او ترسره کېدو څخه زده کړل شوي لوستونه**

په افغانستان کې د ټاکنیز سیټم پیاوړتیا د امریکا متحدو ایالتونو د ډیموکراسۍ او حکومت دارۍ د تګلارې کلې ده. د امریکا متحد آیالتونه له نورو نړیوالو مالي مرستندویانو سره په ګډه په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان د ټاکنیزو

ورتیاوو د لوړوالي او په هغوی کې د خلکو د ګډون په موخه شاوخوا ۵۰۰ میلیونه ډالر پانګه اچونه کړې ده. په دغه راپور کې سیګار په ۲۰۰۹ کال کې په افغانستان کې د ټاکنو له چمتوالي او ترسره کېدنې څخه د زده کړل شویو لوستونو په اړه مالومات وړاندي کوي.

**موندنې**

1. د امریکا متحدو آیالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له وینا سره سم د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو یو شمېر ستونزې ترسترګو شوې. د مالي مرستندویانو او افغانستان اسلامي جمهوریت پّه شمول د ټاکنو د رسمي څارنکو، خپلواکو شننونکو، خپلواکو څارونکو او د ټاکنو د ترسره کونکو له څرګندونو سره سم په دغه بهیر کې داسي نیمګړتیاوې وې چې د درغلیو او ټاکنیزې پروسي د کمزورۍ لامل شوې. سیګار ددغو راپورونو د ارزوني په ترڅ کې د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په چمتوالي او ترسره کېدو کې ۱۶ د پام وړ ستونزې وموندلې. دغه ستونزې دادي: (۱) هغه اوپراتیفي ستونزې چې د ټاکنو په رضاکارانه پروسو پورې اړه لري، او (۲) هغه اوږدمهالي ستونې چې د افغانستان اسلامي جمهوریت ټاکنیزو اصلاحاتو او سیاسي ارادې ته اړتیا لري.
2. د نابشپړو ټاکنیزو کړنلارو په څېر اوپراتیفي ستونزې په رایه شمېرنه کې د پراخو درغلیو لامل شوې. له ټاکنو څخه زده کړل شوي لوستونه عبارت دي له: د لازمو لوژیستکي او امنیتي تیاریو د باورې کېدو لپاره مخکې له مخکې د رایه اچونې مرکزونه مشخصول، د درغلیو د مخنیو لپاره د چاپي رایو کنټرول، د کاندیدانو د استازو او ټاکنو د څارونکو د پوهاوي کچه لوړول، د امنیت په موخه تر لمرلوېدو مخکې ټاکنیزې چارې پایته رسول، د لاسوهنې د مخنیوي لپاره ژر راې شمېرنه، له مداخلې څخه په پاکه توګه د پایلو فورمې جوړول، په شفافه توګه د رایو بېلول، او د شکایتونو ژر اورېدنه او اوارۍ.
3. ددې ترڅنګ د افغانستان ټاکنیز سیستم له یو شمېر داسې ستونزو څخه کړېږي چې اوارۍ به یې کلونه وخت واخلي. د افغانستان اسلامي جمهوریت اړ دی چې د رایه ورکونکو د ډاډ وړ لیست په جوړولو سره نوملیکنې ته وده ورکړي، د ښه پېژندل شویو کاندیدانو په غوره کولو سره پر شرایطو نه برابرو ناوړو کاندیدانو مخه ونیسي، د شفافیت د رامنځته کېدو په موخه خپلواکې ټاکنېزې ادارې پیاوړې کړي، بدلونونه په پام کې ونیسي، د لا پراخ استازیتوب لپاره د رایه ورکونې د نه لېږدونې وړ سیستم رامنځته کړي، او د مالي بار د سپکېدو لپاره د ټاکنو شمېر راټیټ کړي.
4. د ۲۰۰۹ کال د اګسټ میاشتې له ټاکنو وروسته د امریکا متحد آیالتونه له نورو مرستندویانو سره په ګډه هڅه کوي چې له دغو ټاکنو څخه د زده کړل شویو لوستونو په رڼا کې ګامونه پورته کړي. ددغو لوستونو پلې کول او په افغانستان کې د ډاډ وړ ټاکنو رامنځته کول د ټاکنیزې پروسي په همغږۍ، او د ډیموکراتیکو اصولو او ټاکنېزې پروسي د دوام په موخه د ټاکنیزو ورتیاوو لپاره د افغانستان اسلامي جمهوریت په ارادې او ورتیا اړه لري. په افغانستان کې ټاکنیزه ورتیا جوړول د ټاکنیز دوران ټولو اړخونو ته پرلپسې پاملرنه غواړي.

## په روانو دریو میاشتو کې اعلان شوي تفتیشونه

په روانو دریو میاشتو کې سیګار شپږ نوي تفتیشونه پیل کړي. دغه تفتیشونه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د جوړېدو، د کرنې او بانکدارۍ د برخو پرمختیا، اداري فساد د مخنیوي، د ملکي لوړتیا او د قراردادي کارکونکو لپاره د دولتي بیمې په برخو کې د امریکا متحدو آیالتونو د هڅو مهم اړخونه څېړي.

### د افغان ملي امنيتي ځواکونو لوژيستکي برخې ته کتنه

دغه تفتيش د افغان ملي اردو د لوژيتکي ورتياوو د پرمختيا څخه څېړي. دغه تفتيش به دري موخې ولري:

- د افغان ملي امنيتي ځواکونو د لوژيستکي ورتيا په وده کې د امريکا متحدو آيالتونو د مرستې پېژندنه، په ځانګړې توګه د افغانستان دفاع وزارت د اکمالاتي ځنځير د مديريت په برخه کې.
- د افغان ملي اردو په اکمالاتي ځنځير کې د درغليو، ناوړه ګټه اخيستنې او بېځايه کارونې د مخنيوي لپاره د پورته شويو ګامونو ارزونه کول، او د بې کفايتی، ورکو او غلاوو برید مالومول.
- د افغان ملي اردو د لوژيستکي سيستم د رغونې د هڅو په لار کې د پرتو ننګونو او هغو ستونو د برید مالومول چې ددغه اردو د لوژيستکي ودې مخه يې نيولې ده.

### د درنو جرمونو په وړاندې د مبارزې د ادارې (MCTF) د وړتياوو د پياوړتيا لپاره د امريکا متحدو آيالتونو هڅې

دغه تفتيش د (MCTF) د پياوړتيا لپاره د امريکا متحدو آيالتونو د هڅو ارزونه کوي، او د اداري فساد په وړاندې په مبارزه کې د افغانستان اسلامي جمهوريت د وړتيا د لوړېدو لپاره د امريکا متحدو آيالتونو او نورو مرستندويانو د همکارۍ کتنه په ځان کې رانغاړي. دغه تفتيش به دري موخې ولري:

- د MCTF د پياوړتيا په برخه کې د امريکا متحدو آيالتونو او نورو مالي مرستندويانو د مرستو پېژندنه.
- دا خبره موندل چې آيا د امريکا متحدو آيالتونو هڅې او پلې کېدنې له اوسنيو قوانينو او اصولو سره سمې طرح شوي که څنګه.
- په دې پوهېدل چې آيا د امريکا متحدو آيالتونو مرستې ټاکل شوې پايلې ترلاسه کوي که څنګه.

### د بانکدارۍ او افغانيو د ودې په برخه کې د امريکا متحدو آيالتونو او نړيوالو مرستندويانو همکارۍ ته کتنه کو

کنګرې د افغانستان د بانکي سيستم او د کابل نړيوال هوايي ډګر له لارې د پيسو د لېږد په اړه اندېښنه ښودلې ده. د کنګرې ددغو اندېښنو پر بنسټ سيګار د نغدو پيسو د لېږد د اصولو په شمول د افغان بانکي سکټور او افغانيو د ودې په برخه کې د امريکا متحدو آيالتونو او نورو نړيوالو مرستندويانو د مرستې تفتيش کړی دی. دغه تفتيش څلور موخې لري:

- د بانکي سکټور حالت او وده ازمايل.
- په هېواد دننه او بهر کې د نغدو پيسو د بهير د اصولو په شمول د پيسو د کنټرول د سيستم، تګلارو او د افغانستان اسلامي جمهوريت د فعاليتونو پېژندنه.
- د پيسو د کنټرول په برخه کې د افغانستان اسلامي جمهوريت له حکومت سره د امريکا متحدو آيالتونو او نورو نړيوالو مرستندويانو د مرستې پېژندنه.
- د کابل نړيوال هوايي ډګر له لارې د پيسو د لېږد د اصولي کولو په موخه د ماموريت د بين الاداري ملکي – پوځي کاري ګروپ د عملي پلان ارزونه.

### د کرنې د ودې لپاره په افغانستان کې د امريکا متحدو آيالتونو همکارۍ ته کتنه

په افغانستان کې د امريکا متحدو آيالتونو تر ټولو ستر لومړيتوب د کرنيز سکټور بيارغونه ده. دغه تفتيش څلور موخې لري:

- د ۲۰۱۰ مالي کال په ترڅ کې د افغانستان له کرنيز سکټور سره د امريکا متحدو آيالتونو او نړيوالو مرستندويانو د همکارۍ پېژندنه.
- د هغه برید ارزول چې له مخې يې د امريکا متحدو آيالتونو کرنيزې همکارۍ ددغه هېواد له شرکتونو، نورو مالي مرستندويانو او د افغانستان اسلامي جمهوريت سره په همغږۍ ترسره کېږي، او له درغليو، ناوړه ګټه اخيستنې او بېځايه لګوني څخه يې خوندي کوي.
- د اورپکتوب په وړاندې د مبارزې په لار کې د امريکا متحدو آيالتونو او نورو امريکايي او افغان تګلارو د موخو د لاسته راوړلو په لار کې د کرنې په برخه کې د امريکا متحدو آيالتونو نړيوالې پرمختيايي ادارې، کورنيو چارو او دفاع وزارتونو د همکاريو ارزونه کول.
- د کرنيز سکټور د ودې او پرمختيا په وړاندې د هغو ننګونو پېژندنه چې پر دغه بهير اغېز کولای شي.

## په افغانستان کې د قراردادیانو لپاره د دفاع پر بنسټ کړنه (DBA) بيمه يي پروګرام پلي کول

د دفاع پر بنسټ د کړنې (DBA) بيمه يي پروګرام چې د کار د رياست له خوا چمتو شوی، غواړي چې د فدرالي حکومت هغو ګڼو قراردادیانو او فرعي قراردادیانو ته دې د کارکونکو بيمه ورکړه شي چې له امريکا متحدو آيالتونو څخه بهر کار کوي دفاع او کورنيو چارو وزارتونه او USAID په افغانستان کې د بيارغنيزو چارو په برخه کې سترې امريکايي ادارې دې د کورنيو چارو وزارت او USAID لړه بيمه ورکونکي ادارې دي، خو د دفاع وزارت ټولې ځانګې له قراردیانو څخه غواړي چې له خپلو ځانې DBA بيمو څخه ګټه واخلي. ددغه تفتيش په ترڅ کې به سيګار ددغه پروګرام لګښتونه، اداره او دغو ترلاسه کونکو ته د پيسو کچه وازمايي.

دغه تفتيش درې موخې لري:

- دا مالومول چې د امريکا متحد آيالتونه په افغانستان د بيارغنيزو قراردیانو لپاره د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو په ترڅ کې د ياد پروګرام په چوکاټ کې څومره پيسې ورکړې دي.
- د مسووليتونو د حالت، د ورکړل شويو پيسو او قراردادیانو ته د بيمې د کمپنۍ له خوا د کمو ورکړل شويو پيسو د څېړنې په شمول، د هغو کړنلارو او پروسو ارزونه کول چې له مخې يې بنسټيزې ادارې او د کار رياست پر دې توانېږي چې DBA پروګرام په افغانستان کې اداره کړي.
- د هغو کړنلارو او پروسو ارزول چې دا خبره باوري کوي چې دغه پيسې پر شرايطو برابرو کسانو ته ورکول کېږي او هغوی د DBA پر بنسټ ددغه جبران مستحق دي.

## په افغانستان کې د امريکا متحدو آيالتونو له خوا د ملکي لوړتيا د پروګرام پلي کول او دوام

د افغانستان لپاره د امريکا تګلاره په لومړۍ برخه کې د امريکا پر هغې وړتيا ولاړه ده چې په افغانستان کې د حکومت دارۍ او اقتصادي ودې لپاره دغه هېواد ته ملکي خدمتونه ولېږدوي او دوام ورکړي. د کورنيو چارو وزارت د عمومي تفتيش له ځانګې سره يو ځای دغه ترسره شوی تفتيش د ملکي لوړتياوو د پلي کېدنې د اړخونو او افغانستان ته د نورو ملکيانو د لېږدونې د دوام په برخه کې د مخکني تفتيش ادامه ده. دغه تفتيش يوه موخه لري:

- د لوړتيا ددغه پروګرام د لګښتونو مالومول، او دا چې څومره لګښتونه پر وخت شوي او ددې پروګرام دوام به نورو څومرو پيسو ته اړتيا ولري. دغه کار به په افغانستان د ياد پروګرام د ګومارل شويو کارکونکو د ګومارنې، روزنې، لېږدونې او لازم ژوندانه او عملياتي ملاتړ پر لګښتونو متمرکز وي.

## روان تفتيش

د راپور ورکوني په دغه دوره کې د قراردادونو د ارزوني، پروګرامونو ته د کتني، د اداري فساد په وړاندي د مبارزې په برخه کې د سيګار د نوښتونو په شمول، سيګار پر اتو تفتيشونو کارکوني ته دوام ورکړ. دغه تفتيشونه په امنيت، حکومت دارۍ او پرمختيا پوري اړوندو موضوعګانو په برخه کې دي.

### د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ودانيو لپاره پلان جوړونه

دغه راپور د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د زيربنا او ودانيو د جوړولو، او د يادو ځواکونو د بدلېدونکو شرايطو د پوره کولو پروسه څېړي. لکه څنګه چې د سيګار په نورو تفتيشي راپورونو کې هم يادونه شوي ده، CSTC-A د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د کوم تازه ودانيز پلان لرلو پرته د داسي ودانيو جوړولو ته دوام ورکوي چې نه د يادو ځواکونو لپاره کافي دي، او نه هم د هغوی اوسنيو غوښتنو ته ځواب ويلای شي. دغه تفتيش درې موخي لري:

- په افغانستان کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د زېربناوو د جوړېدو لپاره CSTC-A د عمومي ودانيز پلان کتنه.
- د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ځای پر ځای کېدو، د بېلابېلو ودانيو د موقعيت، او د افغان ملي اردو او ملي پوليسو په عملياتي ماموريت کې د CSTC-A د رول په شمول، د ياد اردو لپاره د ودانيو جوړېدو په برخه کې ددغي اداری ستراتيژيک او تکتکي پلان ته کتنه.
- ددغي موضوع ارزونه کول چې څنګه CSTC-A د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره په ودانيزو چارو کې د بدلېدونکو شرايطو د پورکېدو د باوري کېدو په موخه خپل ودانيز پلانونه نوي کوي.

### په هرات او مزارشريف کې د انجنيرۍ او چاپېريال د زېربنايي پروژو لپاره د امريکا متحدو ايالتونو د هوايي ځواکونو د مرکز کتنه

سيګار د AFCEE د دوو زيربينايي پروژو څېړنه کوي دغه کتنه درې موخي لري:

- ددې موضوع ارزونه کول چې آيا دغه پروژې د مهالوېش او لګښتونو په شمول د قراردادونو له شرايطو سره سمي بشپړې شوي که څنګه.
- دا روښانه کول چې آيا ودانيزې چارې له منل شويو پلانونو او تخصوصونو سره سمي ترسره شوي که څنګه.
- ددې موضوع ارزونه کول چې آيا د امريکا متحدو آيالتونو د قراردادونو اداره او پر ودانيزو چارو څار اغيزناک دي که څنګه.

### د کابل ښار د اوسېدونکو لپاره د کافي خوړو د نشتوالي د غبرګون د پروګرام (FIRUP-K) په برخه کې د USAID او کير انټرنيشنل تر منځ د همکارۍ هوکړې ته کتنه

سيګار د USAID او کير انترنيشنل تر منځ د ۶۰ ميليونو ډالرو په ارزښت د يوه هوکړه ليک څارنه کوي. د (FIRUP-K) هوکړه ليک د افغانستان په ښاري سيمو کې د کافي خوړو د نشتوالي د غبرګون د څلورو پروګرامونو په برخه کې يو دی. که څه هم ددغه يو کلني پروګرام د بشپړېدو موده د ۲۰۱۰ کال مارچ مياشت وه،

خو په دې وروستیو کې USAID سیګار ته ویلي چې دغه پروګرام د ۲۰۱۱ کال تر سپټمبر پورې غځول شوی دی. دغه تفتیش درې موخې لري:

- د USAID له خوا د همکاریزو هوکړو د ورکړې، په ځانګړې توګه د FIRUP-K د پروسې، او د USAID د مدیریت او څار پروګرام ارزونه کول.
- ددغه پروګرام د هدفونو او موخو کتنه، او ددې موضوع ارزونه کول چې USAID پایلې څنګه ارزوي، او څنګه د پروګرام لاسته راوړنې څېړي.
- د هغو ننګونو پېژندنه چې دغه پروګرام ورسره مخ شوي، او دا چې دغو ننګونو د پلې کېدنې پر بهیر څه اغېز وکړ، او USAID او کیر انټرنیشنل د هغوی د له منځه وړلو لپاره څه وکړل؛ په ځانګړې توګه پر وخت د پروګرام د بشپړېدو لپاره.

## په افغانستان کې د CERP غوره شویو پروژو ته کتنه

دغه کتنه د CERP د پروژو د غوره کېدنې یو ازمایښتي تفتیش دی. سیګار په پام کې لري چې دغه ازمایښتونه په ټاکل شویو جغرافیایي سیمو کې پلي کړي، او د CERP د همکارۍ ډلبندي وکړي. دغه تفتیش به مهالویشونه او لګښتونه، محصولونه، د امریکا متحدو ایالتونو څار، او ددغو پروژو د دوام لپاره پلانونه وڅېړي. دغه تفتیش به د څلورو موخو په اړه خبرې وکړي:

- ددې موضوع ارزونه کول چې آیا د CERP پروژې د مهالویش او لګښتونو په شمول، له اړوندو پلانونو سره بشپړې شوې که څنګه.
- د CERP د پروژو د ارزونې څېړنه کول، او د هغه برید مالومول چې له مخې یې د یادې ادارې د پروژو محصولات ارزول شوي دي.
- د امریکا متحدو ایالتونو د ادارې د برید او څرنګوالي، او د CERP پر پروژو د یاد هیواد د څار ارزونه کول.
- افغان چارواکو ته د پروژو د واک سپارنې، د هغوی د ساتنې، او دوام لپاره د پیسو د ورکړې په اړه د شتو پلانونو پېژندل.

## د افغانستان د ملي پیوستون پروګرام ته کتنه

دا د سیګار په تفتیش کې یوه جدي حساب اخیستنه ده چې د امریکا له متحده ایالاتو او نورو مرستندویو نه د GIRoA د درغلیو پرضد د مبارزې د سپیناوي پوښتنه کوي. دا تفتیش په هېواد دننه دا هم څېړي، چې افغاني نادولتي ټولنې دا باوري کړای شي، چې دولت ته د نړیوالو مرستندویو ټولنو ورکړې مرستې د زیان، درغلۍ او تیرې پرضد اغېزمنې دي.

پر 2003 زېږدي کال د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ملي پیستون پروګرام جوړ کړ، چې افغاني ټولنې د خپلو پرمختیایي چارو په څار، پلان او اداره پوه شي او ترمنځ یې همغږي پیدا شي. تراوسه، دغه پروګرام 900 میلیونه ډالره نړیواله مرسته ترلاسه کړې ده او د 40,000 وړو بنسټي پروژو راپور یې ورکړی دی. د امریکا متحده ایالاتو له دې پروګرام سره د 440 میلیونو ډالرو مرستې ژمنه کړې ده. دا تفیش دوه موخې لري:

- د امریکا د متحده ایالاتو او نورو مرستندویو هېوادونو د مرستو او فعالیتونو هغمږي کول، چې دا باوري شي، چې د دوی مرستې د پامور او اصلي موخو په ترسراینه کې په رڼه او منظمه توګه لګېږي.

- د کليو د بيارغوني او پراختيا وزارت د وړتيا ارزونه، چې پروګرام پلان او اداره کړای شي، چې دا باوري شي، چې له مرستو نه د اړوندو کارونو د پرځای ګټني(استفادې) په موخه ټول فعاليتونو څارل کېږي.

### د امريکا د متحده ايالتونو امنيتي کمپنيو کتنه، چې د افغانستان د بيارغوني پروګرام امنيت ساتي

سيګار دا تفتيش د دې لپاره پيل کړي، چې د هغو تړونونو شمېر مالوم کړي، چې په افغانستان کې امنيتي خدمتونه ترسروي. دا تفتيش دا موخې لري:

- د امريکا د فدرالي کمپنيو لپاره د کارګرو او امنيتي قراردادیانو د شمېر ټاکنه.
- د کمپنيو د اداري ارزونه او د امنيتي لويو او وړو قراردادیانو څار.
- د دولت مسوول دفتر او عمومي څارګرې ټولني ته د ځانګړيو امنيتي تړونونو بريد ټاکل.

### د قرارداد تفتيش: د نړيوالو ستراتيژيکو ډلو، شرکتونو په لاس د امنيتي خدمتونو بيارغون.

دا تفتيش، چې په افغانستان کې د سيګار د شخصي امنيتي قراردادي برابروي، د USACE لپاره په مناسبه بيه، که اړتيا وي، امنيتي خدمتونه برابروي. په دې درو مياشتو کې سيګار د خپلو موخو د رڼاوي لپاره خپل ډګر بدل کړی دی. نوي ډګر دا موخې لري:

- د نړيوالو ستراتيژيو ګروپونو د خدمتونه پيژندنه او دا مالومول، چې امنيتي چارې د تړون له بيو، مهالويش او نورو ترميمونو سره برابرې دي، که نه.
- دا مالومول، چې له USACE سره کړی حساب د فدرالي قانون، د USACE له سپارښتنو او د څار د نورو مقرراتو سره برابر دی، که نه.
- د کاربډلو ځانګړيو امنيتي شرکتونو د کارګرو پيژندنه او دا چې، دوی څرنګه ارزول شوي وو او څرنګه يې خپلې چارې ترسرولې.

### د افغان ملي پوليسو(ANP) اداري پرسونل ته کتنه

سيګار دا تفتيش د ANP د شخصي حساب د پلي کړي دقيق سيستم د کچې او وړتيا د ارزوني لپاره دی. دا حساب له اّره ANP او ANA دواړه په پام کې نيسي؛ خو سيګار د دې حساب پام يواځې ANP ته واړاوه، چې د GAO د تکراري کارونو مخه ونيول شي او ANP ته پاملرنه جلب کړي. بيارغېدلی تفتيش څلور موخې لري:

- د ANP د پرسونل اداري د مراحلو او سيستمونو تشريح.
- د ANP د پرسونل اداري د مراحلو او سيستمونو د پلېيني او ژغور لپاره د GIRoA د اخيستو ګامونو تشريح.
- د هغو ننګونو په ګوته کول، چې کېدای شي د ANP د پرسونل اداري د مراحلو او سيستمونو د پلېيني او ودې مخه ونيسي.
- د هغو حدودو پيژندنه، چې درغلي، زيانونه او تېرې پکې کمېدای شي.

## تفيش د کرمينل تخنيک په مرسته

سيګار د P.L.110-181 د اصلاح شويو په توګه، په څارنه د افغانستان د درو رغنيزو فنډونو قانوني کتنه

ترسروي. قانون له سیګار نه غواړي، چې - د ناسمو ورکړو شویو پیسو او بیلونو غوندې- بېځایه لګښتونه او پیسې وڅېړي او د د افغانستان د بیارغونې لپاره د ورکړو شویو لګښتونو، فنډونو او پرمختیايي چارو بشپړ راپور ورکړي. د USAID، DoD او DoS د معامله شویو اسنادو په ګډون د ټولو هغو اسنادو کتنه او ارزونه، چې د بیارغونې لپاره يې فنډونه ورکړي دي.

### د افغانستان د ملي ځواکونو اړوندو معامله شویو اسنادو قانوني کتنه

سیګار د DoD د هغې بودیجې، لګښتونو او ژمنه کړیو بسپنو کتنه پیل کړې، چې د 2005 له فرورۍ نه 2009 تر فرورۍ پورې د افغانستان د ملي ځواکونو په فنډ (ASFF) پورې تړلې دي او 25.23 بیلونه ډالره کېږي. د قانوني پلټنې لپاره د اسنادو اخځ. معاملات په بېلابېلو طریقو ترسرېږي او په بېلابېلو سیستمونو کې په بېلابېلو ځایونو کې ځای پرځای کېږي. داسې مفصل سیستم لا نشته دی یا په لوړه کچه دی، چې دا مالومه کړای شي، چې د هر سیستم له مخې څومره معاملې شوې دي. د داسې سیستمونو او اسنادو څښتن پیدا کول، چې دا پوهه ولري، چې له پیله تر پای سخت شوي مراحل او په مالي چارو کې د رامنځته شویو درغلیو مخه ونیسي او د بېلابېلو اړخونو په اړه بشپړ مالومات وړاندې کړي،سخت کار دی. پر دې سربېره، چې په ASFF پورې تړلي اسناد راټول شول؛ نو دا به پېچلې وي، چې ټول اسناد یو ډول وشنل شي، ځکه چې د اسنادو ځایونه او بنې له یو بل سره توپیر لري.

سیګار اوس د DoD د کنټرولونکې ډلې او د دفاعي، مالي او حسابي خدمتونو(DFAS) د غړیو ترمنځ اړیکې رغوي، چې د اسنادو د لرونکو او د سرچینو د سیستمونو پته ولګي. د راکړو ورکړو یا معاملو اسناد چې بشپړ شول؛ نو له بیا شمېر او نورو تخنیکونو نه په استفاده دا مالومېږي، چې زیان، درغلي او تېرى څېرته دي. پایلې د سیګار تفتیش او څېړنې پرمخ بیولای شي.

### د افغانستان په بیارغونې پورې تړلې د نړیوال پرمختګ د راکړې ورکړې د اسنادو لپاره د امریکا د متحده ایالتونو د کمپنۍ کتنه

سیګار د USAID د اقصادي مرستو د فنډ(ESF) د 2002 مالي کال نه تراوسه کارېدلې بودیجې، لګښتونو او د راکړې ورکړې د اسنادو پلټنه وکړه، چې ټولټال 9.74 بیلونه ډالره کېږي. د راکړې ورکړې ټول اسناد ترلاسه شوي دي. اوس له خطرې بهر او د سمو تخنیکونو په کارونه هغه ناقانونی راسپړل کېږي، چې کېدای شي، زیان، درغلی او تیري ته يې لمن وهلې وي. پایلې د سیګار تفتیش او څېړنې پرمخ بیولای شي.

### د افغانستان په بیارغونې پورې د بهرنیو چارو د راکړې ورکړې د تړلیو اسنادو کتنه

سیګار د DoS د نړیوال نشه يي توکیو د مخنیوي او قانون پلي‌ینې د فنډ (INCLE) د 2002 مالي کال نه تراوسه کارېدلې بودیجې، لګښتونو او د راکړې ورکړې د اسنادو پلټنه وکړه، چې ټولټال2.68 بیلونه ډالره کېږي. د راکړې ورکړې اسناد اوس DoS راپېژندلي او راټول کړي دي. دا مواد چې راشي؛ نو له خطرې بهر او د سمو تخنیکونو په کارونه هغه ناقانونی راسپړل کېږي، چې کېدای شي، زیان، درغلی او تیري ته يې لمن وهلې وي. پایلې د سیګار تفتیش او څېړنې پرمخ بیولای شي.

2.3 شکل

د سیګار تفتیشونه: د خلاصو قضیو حالت، جولای 1 – اکتوبر 30، 2010

ټول: 81




سرچینه: د سیګار د تفتیشونو ریاست، 10/13/2010.

## د سیګار څېړنې

په دې وروستیو درو میاشتو کې سیګار، 32 نوې پلټنې پیل کړې دي. د سیګار 81 رواني پلټنې د ارزونې، لومړنیو څېړنیو او بشپړو څېړنو په ګډون بېلابېل موضوعات رانغاړي. د دغو څېړنو ترمنځ توپیر له جرم سره په تړاو، د مالوماتو په څرنګوالي او ربښتینولی کې دی. د 2010 د اکتوبر تر 30مې سیګار یوه اروزونکې، 41

2.4 شکل

د سیګار تفتیشونه: نوي قضیې جولای 1 – سپتمبر 30، 2010-11-07




سرچینه: د سیګار د تفتیشونو ریاست.

لومړنی، 39 بشپړې پلټنې ترسره کړې. سیګار 6 دوسیې وتړلې. د مالوماتو لپاره یې د D پایڅوړ وګورئ.

سیګار ټول ناقانونه فعالیتونه ارزولي دي، چې دا مالومه شي، چې د بیارغوني مرستې چېرته لګېږي. د امریکا متحده ایالتونو په افغانستان کې له دومره زیاتو پوځي او ملکي فعالیتونو سره مرسته کړې ده، چې ډېر وګړي په بېلابېلو ځایو کې کار کوي. دې کار دا ستونزه پیدا کړې ده، چې د فنډ د منبع په اسانه او ژر پته نه لګي، په تېره د نغدو پیسو د لېږد.

د پلټنې دوسیې پر ټرونونو، په پېرلو کې ټګې، درغلي، د دولتي ځمکو په غلا او نورو ملکي څېړنو څرخي. دا دوسیې چې تر څو فیصله شوې نه وي، ځایونه یې نه ښوول کېږي. 2.3 شکل او 2.4 شکل د حالت او بنې له مخې د دوسیو له منځه تګ ښیي.

## د سیګار پلټنې لامل شوې، چې د امریکا د متحده ایالتونو د ټرونونو د مشر استازی او دوه افغان قراردادي له دندو ګوښه شي

د بدې اخیستلو په اړه د سیګار کړې د پلټنو له امله، متحده ایالتونو د دوو افغان قراردادیانو ټرونونه وځنډول، چې د متحده ایالتونو د ټرونونو د مشر استازي ته، چې له افغانستان وایستل شو، ډېرې بډې منلې وې. سیګار ، DoS او FBI له عدلیې وزارت سره په ګډه د هغو ناقانونیو په اړه څېړنه کوي، چې د بیارغونې له پروژو رامنځته شوې دي.

## د افغاني کارګرو او ځنډ په اړه د بډو ګډې پلټنې د بشپړتیا په حال کې دي/ د وړو قراردادیانو پرضد هم پلټنې رواني دي.

د سیګار، USAID او FBI ځانګړیو او پټو استازیو د بډو پرضد ترسره کړیو پلټنو د متحده ایالتونو د لویو ټرونونو د قراردادیانو 11 افغان کارګر له دندو ګوښه کړل او د 6 نورو وړو قراردادیانو پرضد لا دوسیه روانه ده، چې نور ورسره ټرونونه ونه شي. افغان کارګرو به له وړو قراردادیو سره د کار لپاره بډې خوړې. پلټنې د قانونه پلي کونکو افغان ادارو او نورو دولتي ادارو سره په ګډه ترسره شوې. په امریکایي محکمو کې افغانانو ته د سزا اورولو او د افغانستان په محکمو کې د بریالیو مراحلو له نشت او نورو ستونزو سره سره د سیګار پلټنې پرمخ رواني دي.

## سیګار له افغانستان نه د نغدو پیسو پر ایستو خپلو پلټنو ته دوام ورکوي

سیګار ډېرې پلټنې پیل کړې دي، چې یوه یې له افغانستان نه د ډېرو پیسو ایستل هم دي. دا څېړنې د نغدو پیسو د بنسټ، میتود او هغو وګړو په اړه ده، چې دې کاروبار ته اسانتیا برابروي. سیګار له نورو فدرالي شرکتونو او افغان چاروکیو سره په ګډه پلټنې کوي، چې د کابل له هوایي ډګره لېږدېدونکو پیسو کچه مالومه او تنظیم کړي.

د متحده ایالتونو دولت او GIRoA کار کوي، چې د افغانستان او متحده ایالتونو قانون پلي کونکو ادارو ته پلټنې اسانې کړي. د کارګرو او مسافرو لپاره د هوایي ډګر د ټرمینل د کنټرول لپاره باید، د هوایي ډګر اسانتیاوې ډېرې شي او له نورو پرمختګونو سره د پیسو په اړه د توضیحاتو نوي کړنلاره رامنځته، چې د کابل له هوایي ډګر نه کېدونکې سوداګرې وڅارل شي.

## سیګار پر 2010 کال د اجرایوي ځواک یو نوی ملګری دی

په افغانستان کې د نړیوال اتحاد د رامنځته کولو لپاره د قراردادیانو پر ژوندي رول د اعتراف او د ګواښندو

ستونزو، چې د بېځایه پیسو د لګښت لامل کېږي، د مخنیوي لپاره DoD د 2010 په لومړیو کې جدي ځواک ځواک وکاراوه، چې د هغو تورونو پلټنه وکړي، چې قراردادیانو له امنیت، لېږد او بیارغنیزو چارو ترلاسه کړې پیسې د طالبانو او نورو جرمي ډلو لپاره فنډ برابر کړی دی. اجراییوګرندي ځواک په دې درو میاشتو کې په افغانستان کې کار پیل کړ او پر دغو څېزونو یې ټینګار وکړ: (1) د لویو او وړو قراردادیانواجاره ګرو ډیټابیس خپور کړي، چې متحده ایالتونه له لویو او وړو قراردادیانواجاره ګرو سره څرنګه مرسته کوي، (2) د لویو او وړو قراردادیانواجاره ګرو پېژندنه چې ترهګرۍ او نورو جرمونو ته فنډ برابر نه کړي او (3) د هغو قراردادیواجاره ګرو پرضد عملي ګام پورته کول، چې په ناقانونه کارونو کې لیدل شوي دي.

د 2010 اجرایوي ځواک د افغانستان د شفافیت څېړنیزه ډله (ASIU). دا د افغنستان او امریکا ګډه څېړنیزه ډله ده،چې سیګار، FBI، ملي امنیت، د جرمونو د مخنیوي خدمتونه او د اردو څېړنیزه ډلګی پکې راځي. د امریکا متحد آیالتونه به د (ASIU) له لارې هڅه وکړي چې له سیګار سره په ګډه هغه افغان قراردادیان ونیسي او څارنوالی ته وروپېژني چې په درغلیو ککړ دي. د سیګار پلټونکي د 2010 له ګړندي ځواک او ASIU سره پوخ او نژدې کار کوي.

## د څېړنیزو وړتیاوو رغونه

له تېر راپور راهیسي، سیګار، د څېړنیز پلاوي16 غړي، 11 ځانګړي استازي، 4 څېړنیز شننوکي او 1 اداري مرستیال لري، چې د دوی ټولو شمېر 32 کېږي او د 2010 مالي کال تر پای د دغو 32 تنو ترمنځ غونډې هم شوې دي. سیګار د پلټنو لپاره هغه چاروکي ټاکي، چې د قانون په پلېینه، د جرمونو، تفتیشونو او درغلی په څېرنه کې پخه تجربه ولري.

په 32 غړیو کې سیګار، 18 افغانستان ته ځانګړي کړي دي او نور د سیګار په میشتغالیو کې په ایرلنګټن او ویرجینیا کې دي. سیګار په کابل کې د امریکا د متحده ایالتونو سفارت، په کیمپ ایګرز کې د CSTC-A میشتغالي، د باګرام هوایي ډګر او کندهار هوايي ډګر ته هم پلټونکي ورکړي دي.

په افغانستان کې د کارونو د پراختیا له امله، سیګار ، په پنځه نورو ولایتونو، بلخ، هرات، خوست، لوګر او ننګرهار کې چې مهم پرمختیایي کارونه پکې روان دي، اووه نوي مرکزونه پرانیزي. سیګار د DoS له چارواکو او د ایساف او USFOR-A له قومندانانو سره په ګډه د ځواکونو امنیت او نورو مرستندویو خدمتونو په ګډون د لوجیستک لپاره اسانتیا برابروي. د پلټنیزو چارو د پراختیا لپاره به سیګار د نویو پلټونکو استخدام ته دوام ورکړي. په راتلونکي مالي کال کې به د پلټونکو شمېر 49 وو ته ورسېږي.

سیګار په افغانستان او امریکا کې د قانون د پلي کونکو دولتي او فدرالي ادارو په ګډه پر دې کار کوي، چې منابع ډېرې کړي او باوري کړي، چې د متحده ایالتونو د مالیه ورکونکو په ګډون، له بېځایه لګښتونو، درغلی او تېري سره جدي چلند کېږي. سیګار په واشنګټن ډي سي کې د نړیوالو تړونونو په ګډ ګړندي ځواک کې د همیشني ځای په لټه کې دی. ګړندی ځواک د متحده ایالتونو د قانون پلي کونکي اداره ده، چې له فدرالي څېړنیزو ادارو سره په ګډه په نړیواله کچه د درغلی په اړه پلټنې کوي.

## د سیګار سره کرښه او د شکایتونو اداري سیستم

په تېرو درو میاشتو کې د سیګار مخابروي کرښې او د شکایتونو اداري سیستم 125 (HCMS) شکایتونه ترلاسه کړي وو، چې تر تېر هغه 100سلنه زیات دي. دربیم ځل پرله پسې د شکایتونو شمېر ډېر شو. د 2009 په جنوري




**د سیگار خبرتیاوې** لکه دا په پښتو کې چې دی، افغانان هڅوي، چې د زیان، درغلۍ او تیري په اړه د سیگار سرې کربښې او شکایتونو د اورېدو سیستم ته راپورونه ورکړي. (د سیگار تصویر)

کې تر عملیاتو وروسته، HCMS په افغانستان کې په بیارغنیزو کارونو کې د درغلۍ، بېځایه لګښتونو او تیري اړوند 333راپورونه ترلاسه کړي دي.

په افغانستان کې د سیگار د سرې کربښې په راتنګولو، د سیگار څېړنو دوام وکړ، چې په درو میاشتو کې د عوامو ملاتړ ترلاسه کړي؛ نو یې ستني ولګولې، سوداګریز کارتونه، فایلرونه، تبلیغاتي لوحې، د عامو اعلانونو خدمتونه وکارول او د درغلیو پرضد د پوهاوي لپاره یې غونډې وکړې. دغه کمپاین د شکایتونو په رارسولو کې پامور زیاتوالی راووست.

په تېرو درو میاشتو کې سیگار خپله ورتیا زیاته کړه، چې د HCMS په مټ ترلاسه شوي شکایتونه حل شي. د پلټنو اداري دري نوي پلټونکي په دندو وګومارل، چې په دې سره د دوی شمېر پنځو ته ورسېد. په دوی کې دوه پلټونکي په افغانستان او دری د سیگار په میشتغالي کې کار کوي.

## دوه اړخیزه کتنه

د2010 کال د فروری په 24مه د رښتینولی او ګټې له عمومي جرګې (CIGIE) نه غوښتنه وکړه، چې د سیگار اداره، تفتیشونه او پلټنیز او مرستندوی عملیاتو وارزوي. CIGIE له مالي فدرالي ادارو 26ګډ مسلکي کارګر رالبرلي وو. په دوی کې د بیمي فدرالي اداره، د تنسي دری چارواکي، DoD، DoS، د کرنې وزارت، د کورنیو چارو وزارت او USAID استازي شامل وو.

د ګډې پلټنې په پایله کې "له کمبودیو سره برې" او د نظرونو یو لیک درجه بندي شول. په ځانګړې توګه، د پلټونکې ډلې له پنځو استثناوو سره، سیگار د خپل معیاري سیستم پیروي کوي او له مسلکې کار سره سره په معیار برابر حساب ورکوي. CIGIE د سیگار له اصلاحي وړاندیزونو سره همغږی دی او سیگار په رپورټ او توضیحاتو په لیک کې دا هر څه یاد کړي دي. کوم لوی وړاندیزونه، نه شته دي. سیگار د کېیستون د راپور ټول وړاندیزونه پلي کړي دي.

د ګډې پرتلنې په پایله کې دا په ډاګه شوه، چې سیگار په لوړو او یقیني معیارونو برابر نه و. له تطابق سره د سمون موضوع یو لوی لومړیتوب و او د پلټنې مدیریت اوس د لوی څارنوال له ټولو قوانینو او CIGIE له کره

معیارونو سره برابر و.

ټول راپور له همدې غوښتنې جوړ شو. دې سپارښتنې ته د سیګار ځواب او ورانديزونه د سیګار په ویبپاڼه (www.sigar.mil) کې شته دي. په دې کې د ګډې ارزوني راپور (اګست، 10، 2010)، د سیستم د پلټنې راپور، د توضیحاتو لیک او د (2010، د جولای د 14مې) دځېړنیزو عملیاتو د ارزوني پلټنې شامل وو.[12]

## د سیګار بودیجه

پر 2008 چې سیګار جوړ شو، کانګرس ورته 46.2بیلونه ډالر بېل کړل، چې خپلې عملیاتي لګښتونه پرې ترسره کړي. له دې سره هممهاله، کانګرس د افغانستان د بیارغوني لپاره فنډونه تقریبا دوه چنده کړل. له 2002 نه تر 2008 پورې کانګرس د افغانستان د بیارغوني لپاره 29.23 بیلونه ډالره ورکړل. له 2008 راهیسې 26.47 ډالره نور هم ورکړل شوي دي. ولسمشر اوباما د 2011 مالي کال په بودیجه کې د نورو 16.2بیلونو ډالرو غوښتنه هم کړې ده. پر دغو مرستو او فنډونو باندې د څار لپاره، سیګار پرله پسې د خپلو کارګرو شمېر زیات کړی دی. د سیګار د 35.6 میلونو ډالر غوښتنه به دا ټولنه پر دې برلاسې کړي، چې د افغانستان په بیارغونه کې د متحده ایالتونو دېرېدونکې پانګې د څارنې لپاره د خپلو غړیو شمېر زیات کړي. 2.2 جدول په 2010 مالي کال کې د سیګار د فنډ لنډیز وړاندې کوي.

## د سیګار کارکوونکي

په تېر درو میاشتو کې د سیګار غړي له 93 نه 117 ته ورسېدل. د بیارغوني د فنډ د زیاتوالي لپاره د ولسمشر غوښتنې ته په پام، سیګار پتېیلي، چې د نوي کال په راتګ سره نوي تجربه کار حساب اخیستونکي او پلټونکي وګوماري. خپل فنډ ته په پام، د سیګار موخه دا ده، چې تر 2011 پورې 180 پوره ورځ کارګر ولري.

2.2 جدول

**د سیګار د فنډ لنډیز** (میلونونو ډالر)

| ځانګړي کول | عمومي قانون | ځانګړي شوي | شته کول | نقضېدل | پیسې |
|---|---|---|---|---|---|
| د H.R.2642،2008 مالي کال لپاره بشپړه بسپنه | P.L. 110-252 | 6/30/2008 | 6/30/2008 | 9/30/2009 | $2.0 |
| د H.R.2642،2008 مالي کال لپاره بشپړه بسپنه | P.L. 110-252 | 6/30/2008 | 10/1/2008 | 9/30/2009 | $5.0 |
| ټینګ شوی امنیت، له ناورینونو سره مرسته او د 2009 کال د ځانګړي قانون غزونه | P.L. 110-329 | 9/30/2008 | 9/30/2008 | 9/30/2010 | $9.0 |
| د H.R.2646،2009 مالي کال لپاره بشپړه بسپنه | P.L. 111-32 | 6/24/2009 | 6/24/2009 | 9/30/2010 | $7.2 |
| د2010، H.R.3288 د ځانګړي قانون غزونه | P.L. 111-117 | 12/16/2009 | 10/1/2009 | 9/30/2010 | $23.0 |
| **ټول:** | | | | | **$46.2** |

# د سيګار نظارت

په افغانستان کې په څلور دفترونو کې دسيګار 33 کارګر دنده ترسروي، چې 30 يې په افغانستان کې د يوه کال لپاره دي او 3 نور لنډمهالي دي. له متحده ایالتونو سره د کړي ترون پر بنسټ د کابل سفارت، سيګار اجازه لري، چې په افغانستان کې خپل 45 پوره ورځ کسان وټاکي. سيګار د متحده ایالتونو له پوځ سره هم کار کوي، چې په پنځو ولايتونو کې اوو نظامي کنترولو اسانتياوو ته د سيګار پلټني وغزوي. 2.5 شکل په افغانستان کې د سيګار دفترونه او عمليات ښيي.

2.5 شکل

سيګار په افغانستان کې

د دفترونو او هغو ځايونو موقعيتونه چيرته چې سيګار پلټني او تفتيشونه ترسره کړي دي




يادونه: FOB – ليرې فعاليت کوونکې اډه

**د لوست ځواک**

د افغان ملي اردو یو عسکر په اکتوبر کې په سویل لویدیځ کې د امریکا د سمندري ځواکو د کمپ په ګډه امنیتي اکاډمۍ کې د سواد د زده کړه په یوه پروګرام کې په کتابچه کې لیکل کوي. د اردو او پولیسو د لوست د کچې لوړاوی د افغانستان د امنیتي ځواکونو د وړتیا د رغونې بنسټیزه غوښتنه ده. (د آیساف تصویر)

# 3 د بيارغوني په اړه تازه مالومات



"موږ ته پته ده، چې په هېواد کې سوله
او امنیت د عدالت او حکومت له ټینګښت
پرته نه شي راتلای."

——لومړیتوب او کاري پلان

سرچینه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت "لومړیتوب او کاري پلان" 7/20/2010، 48 مخ.

# لنډه کتنه

3 مه برخه د دې راپور پرمهال د افغانستان عمومي بنه رنوي. د بریو، ننګونو او سیمه ییزو طرحو تازه کول متن د بیارغنیزو چارو ځار ته چمتو کوي. دا برخه پر نورو شپږو وړو برخو ویشلي ده: د مرستو، امنیت، حکومت، اقتصادي او ټولنیز حالت او د نشه يي توکو او درغلی پرضد هڅې په ګوته کوي. د امنیت، حکومت او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ فرعي برخه پر 2008 کال د افغانستان د ملي پرمختیا کړلار او پر 2010کال د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لومړیتوبونه او کاري پلان په ډاګه کوي. د نشه يي توکو او درغلی پرضد د مبارزې برخه په اسنادو په دواړو اسنادو کې کلیدي او بنسټیز موضوعات رااخلي.

## موضوعات

3 مه برخه پر شپږ لویو موضوعاتو خبري کوي: د پخوانیو او اوسنیو مرستو په اړه مالومات، امنیتي وضع، حکومتي فعالیتونه، اقتصادي او ټولنیز پرمختیایي پروګرامونه او د نشه يي توکو او درغلی پرضد رواني هڅې. ټوله برخه، په تېرو درو میاشتو کې په یوه فرعي برخه کې د یوې موضوع اړوند د بیارغنیزو هڅو ارزښتونه په ګوته کوي.

د پانګونې د فرعي برخې حالت، د افغانستان د بیارغونې لپاره پر بېلو شویو پیسو یوه پراخ بحث ته لار پرانیزي. دا د متحده ایالتونو د لویې پانګونې او نړیوالې ټولنې د ګډون په اړه ځانګړي مالومات لري.

د امنیت فرعي برخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو په اړه جزیات وړاندې کوي او په هېواد کې د امنیت د ټینګښت لپاره د متحده ایالتونو او نړیوالې ټولنې پر روانو هڅو غږېږي. درې میاشتنی غوره توب، د نوي قومندان د ټولې پر ارزونکو توکو، چې د افغان ملي ځواکونو د شونتیاوو د مالومولو لپاره کارېږي، څرخي.

د واک د پراختیا فرعي برخه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د واک د پراختیا په ډګر کې پر لاسته راوړنو او پرمختګونو رڼا اچوي. دا د 2010 کال د سپتمبر د ټاکنو، عمومي مدیریت، عدالت، د زندان د ښه والي او د ښځې او نر د برابرۍ او د لره کیو د سم استازیتوب په ګډون اړوند ورځنې او تازه مالومات وړاندې کوي. درې میاشتنې لومړیتوبونه، افغاني ټولنې ته د جنګیالیو د راستنېدنې او پخلاینې هڅې ارزوي.

د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا فرعي برخه د سیمو پر بنسټ، له کرنې او انرژۍ څخه نیولې تر روغتیایي خدمتونو پورې د بیارغونې پر فعالیتونو رڼا اچوي. دا د اقتصادي حالت، مالي پرمختیا او لاسته راوړنو، پرمختیایي زېرمو، کرنیزو محصولاتو د زیاتولو او د مستقیمو مرستو د ترلاسي لپاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د وزارتونو د وړتیاوو د لوړولو بېړنی انځور وړاندې کوي.

د نشه يي توکو پرضد د مبارزې فرعي برخه په افغانستان کې د نشه يي توکو د کمولو پر هڅو څرخي. دا پر بندیز او ځایناستو پرمختیایي پروګرامونو رڼا اچوي. دا فرعي برخه د نشه يي توکو د سوداګرۍ او ننګونو، چې د دغو هڅو ترمخ خنډ کېږي، د بندیز په اړه د افغانستان او متحد ایالتونو ګډو هڅو ته اشاره کوي.

د اداري فساد پرضد د مبارزې فرعي برخه د اداري فساد په اړه د افغانستان او امریکا کړلارې په ګوته کوي. همدا راز د اداري فساد او پر بیارغنیزو هڅو یې د اغېز پر کمونه رڼا اچوي.

## میتودولوژي

په 3 مه برخه کې د ازادو سرچينو او د متحدو ايالتونو د استخباراتو وړاندې کړې مالومات او اسناد کاروي؛ خو د سيګار مالومات له اخځونو سره وړاندې شوي دي. سيګار دا اسناد خپاره کړي نه دي. دا مالومات د سيګار د نظر څرګندونه نه کوي. د ټولو مالوماتو او اسنادو سرچينې په لمنليکونو، جدولونو او شمېرو کې ښوول شوي دي، څکه چې له بېلابېلو ټولنو او سرچينو مالومات او اسناد راخيستل شوي دي. د سيګار د تېرو درو مياشتنيو ارزونو او پلټنو د بشپړ بحث لپاره 2مه برخه وګورئ.

## د مالوماتو خپراوی

د مالوماتوخپراوی يوه لړۍ ده، چې د متحدو ايالتونو ادارو ته يې په افغانستان کې د دوی چارې ښوولې او په بيارغنيزو پروګرامونو کې يې ورته د ګډون او بوختيا لاربنوونه کوله. د متحده ايالتونو هغه ادارې، چې د دې راپور په جوړولو کې يې برخه اخيستې ده، دا لاندې دي:

- د بهرنيو چارو وزارت
- د دفاع وزارت
- د امريکا متحدو آيالتونو نړيواله پرمختيايي اداره
- د متحد ايالتونو د خزانې وزارت

د راپور تر لومړي ځل خپراوي مخکې ټولو هغو ادارو ته، چې د دې راپور په بشپړتيا کې يې له موادو ګټه اخيستل شوې وه، وښوول شو، چې وړاندې کړي مالومات تاييد او راټه کړي

## د ازاد سرچينو څېړنه

د ازادو سرچينو څېړنه پر وروستنيو او د وګړنيزو سرچينو، چې د ډېر باور وړ دي، ولاړه ده. په دغه دري مياشتني راپور کې د بېلابېلو زېرمو کارېدلی لسټ په لاندې توګه دي:

- د متحدو ايالتونو ادارو مالومات
- اَيساف
- د حکومت د حساب ورکولو وزارت
- ملګري ملتونه (او اړوندې څانګې يې)
- د پيسو نړيوال صندوق
- نړيوال بانک
- د افغانستان وزارتونه او نورې اړوندې ټولنې يې

له ازادو سرچينو څخه راخيستل شوي مواد، د راپور تر خپراوي وړاندې يو ځل ازادو سرچينو ته د تاييد لپاره وليږل شول.

# پر ګرافیکو پوهېدل

ټولو شکلونو او جدولونو د دغو درو میاشتو د اسنادو راپور وړاندي کړ؛ خو د پېژندل شویو سرلیکونو او یادښتونو له پېژندني پرته.

## د تودوخي نقشه

د تودوخي نقشه ولایتونه رنګوي او اړوند مالومات ښیي. هر یو رنګ د یو لړ اسنادو څرګندونه کوي. په کیسه یزه بڼه دي؛ پاخه رنګونه ډېر شمېر او روښانه رنګونه لږ شمېر ښیي.




## اوږده جدولونه

دا راپور ډېری مرستي او پروژي رااخلي، چي ارزښت یې له میلونو نه تر بیلونو ډالرو رسېږي. د دغو شمېرو د دقیقي او سمي انځورني لپاره، ځیني لیکنیز ګرافکونه ښکاري، چي د صفر او لویې شمېرې ترمنځ لوړ زوړ په ګوته کړي.




اوږد جدول د یوې
کرښي په نه توازن




اوږد جدول د یوې
کرښي په توازن

## د مرستو نښه ګر

د مرستو نښه ګر، چي په متن کي راغلی، شخصي پانګي ښیي. شرکت په لاندي خانو کي د لږ شویو فنډونو مسوولیت پر غاړه لري.




## د میلیون او بیلیون ترمنځ توپیر

څرنګه چي دا راپور په میلیون او بیلیون ډالرو دی؛ نو مهمه ده، چي د میلیون او بیلیون ترمنځ توپیر وښوول شي. بیلیون ډالر په بانجاني او میلیون ډالر په شنه رنګ کي دي.



ګډ جدول په ملیونونو کي



ګډ جدول په ملیاردونو کي

# د مرستو حالت

له 2002مالي کال راهيسې د 2010 د سپتمبر تر 30مې پورې متحده ايالتونو په افغانستان کې د رغنيزو چارو د بيا پيل لپاره نژدې 56.10 بيلونه ډالر بېل کړي وو. دا پانګې د 2010 مالي کال د بېلو شويو پيسو او د اژانسونو د راپورونو پر بنسټ وړاندې شوې. لکه په Bپايڅوړ کې چې راغلي، دا ټولې پيسې لاندې کارونو ته بېلې شوې دي:

- نژدې 29.35بيلونه ډالره امنيت ته
- تر 16.35بيلونه ډالرې ډېرې پيسې د حکومتي واک خپراوي او پرمختيا ته
- تر 4.49بيلونو ډالرو ډېرې د نشه يي توکو پرضد مبارزې ته
- نژدې 2.08بيلونه ډالره بشري مرستې ته
- تر 4.03بيلونه ډالره ډېر څار او عملياتو ته

3.1شکل د دغو هڅو د ترسرابنې لپاره د متحدو ايالتونو د پانګونو بشپړه کتنه وړاندې کوي.

3.1 شکل

د افغانستان د بيا رغونې د هڅو د ملاتړ لپاره د متحده ايالاتو بوديجې (په مليارډونو ډالر)




**ASFF:** د افغان امنيتي ځواکونو مرستې

**CERP:** د قومندان د چټک غبرګون پروګرام

**DoD CN:** د دفاع وزارت د نشه يي توکو بنديز او مبارزه

**ESF:** د اقتصادي مرستو پيسې

**INCLE:** د نړيوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ

**Other:** نورې پانګونې

يادونه: شمېر د پړاوونو له مخې ټاکل کېږي.

a. مختلفي نماينده ګې دا دي Doj, DOS, USAID, خزانه دارئ او USDA.

سرچينه: DoD، د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/22/2010؛ DoD، د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګونونه، 10/20/2010، او 10/1/2009؛ د مالي کال 2010 ضميمه؛ د مالي کال 2010 د دفاعي تشريح بيان؛ DoS؛ د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/15/2010 او 10/12/2010؛ خزانه، د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/12/2010؛ OMB، د سيګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 10/19/2010 او 4/19/2010؛ USAID، د سيګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DoJ، د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 7/7/2009؛ USDA؛ د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 4/2009




**له 2002مالي کال راهیسې د متحدو ایالتونو پنځه ستري پانګونې د افغانستان د ټولو بیارغونیزو په کچه 82%سلنې(تر 45.98بیلونو زیاتو ډالره (ته رسیږي. په دغه پیسو کې نږدې 84.7% (تر 38.94بیلیونو زیات ډالر) ځانګړې شوې دي او نږدې 73.3% (نږدې 32.32بیلونه ډالر) لګېدلي دي.**

**لاندینی پاڼې د پانګونو اضافي جزیات وړاندې کوي.**

## د افغانستان لپاره د امریکا د بیارغوني فنډ

د 2010کال د سپتمبر پر 30مه د افغانستان د بیارغوني او مرستي لپاره نژدې 56.10 بیلونه ډالره ځانګړي شوي وو. دا ټولي پیسي د بیارغوني پر پنځو لویو پانګونو ویشل کېدای شي. امنیت، د حکومت د واک خپراوی او پرمختیا، د نشه یي توکو پرضد مبارزه، بشري حقونو او څار او عملیات. د متحدو ایالتونو د ځانګړو شویو مرستو په اړه د بشپړومعلوماتو لپاره د Bپاڼځوړ وګورئ.

څرنګه چې په 3.2شکل کې وښوول شوه د 2009او په 2010 مالي کال کې پرې د 41.4% د ورزیاتو شویو ځانګړو پانګو پیسي نژدې 56.10 بیلونه ډالرو ته رسیږي. له 2002 راهیسې په امنیتي چارو کې تر ټولو زیاتي ځانګړې شوې پېسې مصرف شوې دي. امنیت ته د ټیلو شویو پیسو شمېر (نژدې29.35بیلونو ډالرو) ته رسېده، چې دا د متحد ایالتونو د بیارغوني لپاره د ټول لګښت 52.3% جوړوي. له 2009مال کال سره پر 2010مالي کال امنیت له ځانګړو شویو پېسو بنه ډېره استفاده وکړه، چې (تر%45.4 ډېر) وې. د حکومت د واک خپراوي او پرمختیايي چارو(نژدې%38.7) او د نشه یي توکو پر ضد مبارزې ته (تر %27.9) پیسي ځانګړې شوې دي.

3.3د مخامخ پاڼي شکل له 2002 نه تر 2010مالي کال پورې د بېلابېلو پانګونو کلنی بېلې کړې پیسي ښیي. لیکې، بېل شوې ډالر او pie چارټ په ډلبندي بنه ټولې ځانګړې شوې پیسي ښیي. دا شکل هغه لګښتونه ښیي، چې باوري سرچینو یا اژانسونو وړاندې کړې دي او دا لګښتونه په لاندې قوانینو کې وړاندې کېږي:

- د 2010مالي کال تخصیصي قانون(د 2010مالي کال بشپړ)
- د 2010 مالي کال د دفاع وزارت تخصیصي قانون(د 2010 مالي کال د دفاع وزارت تخصیصي قانون)

3.2 شکل

د بودیجو د کټګوری په ترتیب د اختصاصونو پرتله، د سپتمبر 30، 2010 سره سم (په ملیاردونو ډالر)




هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمني شوي. د تازه معلوماتو نتیجه د تېرې درې میاشتنی په نسبت د مالي کال 2009 لپاره د زیات اختصاص سبب شوه.

سرچینه: DoD، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/22/2010؛ DoD، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګونونه، 10/20/2010، او 10/1/2009؛ د مالي کال 2010 ضمیمه؛ د 2010 مالي کال د دفاعي تشریح بیان؛ DoS؛ د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/15/2010 او 10/12/2010؛ خزانه، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/12/2010؛ OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 10/19/2010 او 4/19/2010؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DoJ، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 7/7/2009؛ USDA؛ د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 4/2009.

# د مرستو حالت

- د استوګنځیو او ښارجوړولو او ټرانسپورټ په وزارتونو پورې د اړوندو اژانسونو تخصیصي قانون(د خونديتوب قانون)

لکه چې 3.3 شکل ښيي، د 2010 مالي لپاره د تخصیصونو پیسې نژدې 16.42بیلونو ډالرو ته رسېږي. په 2009مالي کال کې دا شمېره په فیصدی %57.0 ته رسېده. دا د بیارغېنزو چارو لپاره په یوه کاله کې تر ټولو زیات تخصیصي لګښت و.

پر 2010مالي کې دا تخصیص %63.5 ته لوړ شو او په 2009 مالي کال کې د تخصیص لګښت نژدې 9.17بیلونه ډالره و. په 2010 مالي کال کې د ټول تخصیص تر %55.8سلنه زیات پر امنیتي نوښتونو او %27.4سلنه پر پرمختیایي او د حکومت د واک پر خپراوي لګېدلي دي. په 2010 مالي کال کې پر امنیتي چارو( نژدې 9.17 بیلونه ډالره) لګېدلي پیسې له 2002مالي کال راهیسې په یوه کال کې په بیارغنیزو چارو کې تر ټولو زیات تخصیص دی.

3.3 شکل

د مالي کال، شمېر، او سلنه په ترتیب اختصاصونه (په ملیاردونو ډالر)




یادوني: هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمني شوي. تازه مالومات د 3009 مالي کال لپاره د هغو د ځانګړو شویو پیسو په پرتله لوړه شمېره ښيي چې د تېرو دریو میاشتو په ترځ کې بنودل شوې وه.

سرچینه: DoD، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/22/2010؛ DoD، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګونونه، 10/20/2010، او 10/1/2009؛ د مالي کال 2010 ضمیمه؛ د مالي کال 2010 د دفاعي تشریح بیان؛ DoS؛ د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/15/2010 او 10/12/2010؛ خزانه، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/12/2010؛ OMB، د سیګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 10/19/2010 او 4/19/2010؛ USAID، د سیګار د معلوماتو پوښتنو ته ځوابونه، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DoJ، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 7/7/2009؛ USDA؛ د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 4/2009.




**د ASFF د بودیجي ترمينالوژي**

د دفاع وزارت د مرستو وړاندي کړی راپور، بېل يا ورکړ شوي.
شته: ټولي پيسي د ژمنو
غوښتل شوي: د پيسو د ورکړي
لګېدلي: هغه پيسي چي لګېدلي دي

سرچينه: دفاع وزارت، د SIGAR د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه، 4/13/2010.

## د افغانستان د امنيتي ځواکونو فنډ

کانګريس د افغان امنيتي ځواکونو فنډ(ASFF) رامنځته کړ، چي افغان ملي امنيتي ځواکونه(ANSF) په تجهيزاتو سمبال وروزي، چي له بيارغوني سره مرسته وشي.[13]ابتدايي ټولنه د ANSFد رغوني مسووله ده. دا د ناټو روزنيزه لړی-افغانستان(NTM/CSTC-A).[14]

د 2010مالي کال بشپړ تخصيصي قانون د 2010 د جولای پر 29مه د متحده ايالتونو ولسمشر لاسليک کړ- دي قانون تر 2.60بيلونه ډالرو زياتي پيسي ASFF ته ورکړي.[15] په دې سره د ASFFلپاره ځانګړی لګښت 27.83بيلونه ډالرو ته رسېږي. د متحدو ايالتونو د بيارغنيزو مرستو لګښت 49.6%سلنه کېږيي د 2010 کال په سپتمبر کي دفاع وزارتراپور ورکړ، چي نژدې 23.61بيلونه ډالره بېل شوي دي، چي 21.41بيلونه ډالره يي لګول شوي دي.[16] 3.4 شمېرني، د افغان امنيتي ځواکونو فنډ ته ورکړ شوي پيسي ښيي.

دفاع وزارتراپور ورکوي، چي ټولي بېلي شوي پيسي د 2010 کال د سپيتمبر پر 30مه، د 2010کال د جون تر 30 مي 1.77 بيلونو زياتي شوي. د 2010 کال د سپمتبر پر 30 مه د ورکړ شويو پيسو شمېر د 2010 د جون تر 30 مي 0.62 بيلونه زيات شو.[17] 3.5 شکل د افغان امنيتي ځواکونو فنډ ته د بېلو شويو او ورکړ شويو پيسو پرتله ښيي.

3.5 شکل

د ASFF بوديجي، ټوليزه پرتله (په مليااردونو ډالر)




يادوني: هغه شمېری چي په اټکل اغېزمني شوي. شمېری هغسي راپور شوي چي د دفاع وزارت لخوا ورکړل شوي.

سرچينه: دفاع وزارت، د سيګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/15/2010 او 7/14/2010.

3.4 شکل

د ASFF موجودي بوديجي د مالي کال په ترتيب (په مليااردونو ډالر)




يادونه: هغه شمېری چي په اټکل اغېزمني شوي.

سرچينه: DoD، د سيګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/15/2010.

## د د افغان امنيتي ځواکونو فنډ د فعاليتونو لګښت

دفاع وزارت په د افغان امنيتي ځواکونو فنډ کې دننه درو لګښتي ډلو ته فنډ ورکړ:[18]

- دفاعي ځوکونه(افغان ملي اردو، يا ANA)
- داخلي ځواکونه(افغان ملي پوليس، يا ANP)
- اړوندو فعاليتونه(ابتدايي زنداني عمليات)

د هرې بوديجي فعاليتي ډلي مالي لګښت د څلورو فرعي فعالتونو بودجې څخه زيات دي ډلي: بنستيزځيزونه، تجهيزات او حمل ونقل ، روزنه او عمليات، او ساتنه.[19] د 2010 کال د سيپتمبر پر 30 مه دفاع وزارت نژدې 21.41 بيلونه ډالر د افغان ملي امنيتي ځواکونو نوښتونو او چارو ته ورکړي وي. په دې پيسو کې تر 14.07 بيلونه ډالرو زياتي پيسي د افغان ملي اردو او نژدې 7.10 افغان ملي پوليسو ته ورکړل شوي؛ پاتې 0.10 بيلونه ډالر مستقيما په نورو اړوندو چارو پورې تړلي وو.[20]

لکه 3.6شکل کې چې ښودل شوي دي،افغان ملي اردو ته د ورکړل شوي فند زياته برخه6.37-بيلونه ډالر-يواځې د دوی تجهيزاتو او ترانسپورټ ته ځانګړي وو.لکه 3.7 شکل کې چې ښودل شوي دي. افغان ملي ته د ورکړل شوي فند زياته برخه2.03-بيلونه ډالر- يواځې د دوی تجهيزاتو او ترانسپورټ ته ځانګړي وو.

**د بوديجي د فعاليت ډلي:** د هرې پانګونې د تخصيص او شمېر کټګورۍ، چې د تخصيصي يا ورو پانګيزو فعالو ډلو په مالي مرستو سمبال د فعاليتونو موخې، پروژې او بنې ښيي.

**فرعي فعالتونو بودجې څخه زيات دي ډلي:** چې په عملي ډګر يا ساحه کې يې د کرنيزو پوروونو مخه ونيوه

سرچينه: دفاع وزارت " د دفاع وزارت، د بوديجي لاربنود کتاب، 7110.1م برخه" پر 9/28/2009 خپاره شوي؛ د بحري ځواکونو وزارت، "د روغتيايي اسانتياوو عمومي کتاب" پر 10/2/2009خپاره شوي، 5 مخ.

3.7 شکل

افغان ملي پوليسو لپاره د ASFF لګښتونه د ضمني فعاليت ډلي لخوا، مالي کال 2005 – سپتمبر 30، 2010 (په مليار‌دونو ډالر)




يادونې: هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمني شوي. شمېرې د 9/30/2010 سره سم دي.

سرچينه: DoD، د سيګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/15/2010

3.6 شکل

د ملي اردو لپاره د ASFF لګښتونه د ضمني فعاليت د ډلي له خوا، 2005 مالي کال - سپتمبر 30، 2010 (په مليار‌دونو ډالر)




يادونې: هغه شمېرې په اغېزمني شوي. شمېرې د 9/30/2010 سره سمي دي.

سرچينه: دفاع وزارت، د سيګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/15/2010.

## د قومندان د چټک غبرګون پروګرام

د قومندان د چټک غبرګون پروګرام(CERP) په افغانستان کې امریکایي قومندانان پر دې برلاسي کړل، چې بېړنیو بشري حقونو او په خپلو اړوندو سیمو کې د بیارغوني غوښتنو ته ځواب ووایي. دا پروګرام به له سیمه ییزو وګړو سره ډېره مرسته وکړي. تر دې پروګرام لاندې بودیجه وړو پروژو ته ځانګړې شوې ده، چې لګښت یې تر 500.000ډالرو کم دی.[21]پروژو ته، چې لګښت یې تر 1.00میلونه ډالره تېرې نه کوي، اجازه ورکړل شوې ده؛ خو دا د متحده ایالتونو د مرکزي قوماندې د قوماندان تصویب غواړي.[22]

## د پانګوني حالت

په 2010 مالي کال کې دفاع وزارت د تخصیص قانون، 1.20 بیلیونه ډالره CERP ته ورکړل، چې د فعالیتونو پرمختیا او مرسته پیاوړې شي. په دغو پیسو کې 1.00 بیلیونه د افغانستان نوښتونو ته ځانګړې شوې دي.[23]له دې سره د CERPټولټال مرسته 2.64بیلونو ته ورسېده، چې په افغانستان کې د امریکا د بیارغنیزو کارونو د مرستې 4.7%جوړوي.[24]د 2010کال د سپټمبر پر 30مه دفاع وزارت خبر ورکړ، چې په دغو پیسو کې 1.93بیلیونه ډالره بېل شوي دي، چې له دې نه 1.33بیلیونه ډالره لګېدلي دي. 3.8[25]شمېرنې د مالي کال له مخې د CERP بېل کړې لګښت ښیي.

دفاع وزارت خبر ورکړ، چې د 2010 د جون پر 30مه پر ټول بېل شوي لګښت باندې، د 2010کال د سپټمبر پر 30مه 291.59میلونه ډالر نور هم ورزیات شول. د 2010کال د سپټمبر پر 30مه د 2010کال د جون د 30مې پرخلاف په ورکړ شوي لګښت کې 87.63میلونه ډېروالی راغی. 3.9[26] د CERP د پروژولپاره د ځانګړو شویو، ورکړ شویو او لګېدلو پیسو کچه ښیي.

3.9 شکل

د CERP بودیجې، ټولیزه پرتله (په ملیاردونو ډالر)




یادونې: هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمنې شوې. شمېرې هغسې دي څنګه چې د DoD او OMB لخوا راپور شوې.

سرچینه: OMB، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/20/2010؛ DoD، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 7/15/2010.

3.8 شکل

د مالي کال په ترتیب د CERP اختصاصونه (په ملیونونو ډالر)




یادونې: په مالوماتو کې ښایي بین الاداري لېږدونې شاملې وي. هغه شمېرې چې په اټکلغېزمنې شوې.

سرچینه: OMB، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/19/2010؛دفاع وزارت، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 1/13/2010.




**د CERP د مرستو ټرمینالوژي**

د OMB د CERP د ځانګړې پانګونې راپور.
ځانګړې شوې: د CERP ځانګړې، بېله شوې او ترسره شوې پانګونې ټولې پیسې د دفاع وزارت د ژمنو سره سمې دي.
ځانګړې شوې: ټولې پیسې د ژمنو
غوښتل شوې: د پیسو د ورکړې
لګېدلې: هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: OMB، د SIGAR د مالوماتو په وړاندې غبرګون، نېټه: 4/19/2020؛ دفاع وزارت، د SIGAR د مالوماتو په وړاندې غبرګون، نېټه: 4/19/2020؛

## د دفاع وزارت د نشه يي توکو مخنيوی او د نشه يي توکو پرضد مبارزه

د دفاع وزارت د نشه يي توکو د مخنيوي او نشه يي توکو پرضد مبارزه (دفاع وزارت CN) د نشه يي توکو د مخنيوي او نورو اړوندو فعاليتونو په موخه د افغانستان د ټيکاو لپاره د دفاع وزارت له هڅو سره مرسته کوي. د دفاع وزارت CN مرسته د نشه يي توکو او سوداګرو پرضد يي له نظامي مبارزي او عملياتو سره همکاري کوي؛ د افغان ممانعت د عملياتو د خپراوي او افغان قانون د برلاسي لپاره-افغان سرحدي پولسيو په ګډون- دوی ته ځانګړي روزنه او تجهيزات ورکړل شوي دي او اسانتيا ورته برابرې شوي دي.[27]

په 2010مالي کال کي ټولټال 80.90 ميلونه ډالر دفاع وزارت CN ته ورکړل شول. له دي سره د دفاع وزارت CN ټوليزه مرستي 1.51 بيلونه ډالر ته وختي، چي په افغانستان کي د امريکا د رغنيزو مرستو 2.7%برخه جوړوي. دفاع وزارت خبر ورکړ، چي په دغو پيسو کي تر 1.43بيليونه ډالره بېل شوي او لګېدلي و. 3.10[28] شکل د دفاع وزارت CNبېل کړی لګښت د مالي کال له مخي ښيي.

دفاع وزارت خبر ورکړ، چي د 2010 د جون پر 30مه پر ټول بېل شوي لګښت باندي، د 2010 کال د سپتمبر پر 30 مه 35.16 ميلونه ډالر نور هم ورزيات شول. د 2010 کال د سپتمبر پر 30 مه د 2010 کال د جون د 30 مي پرخلاف په ورکړ شوي لګښت کي 35.16ميلونه ډالره ډېروالی راغی. 26 3.11 د دفاع وزارت CN د پروژولپاره د ځانګړو شويو، ورکړ شويو او لګېدلو پيسو کچه ښيي.




**د دفاع وزارت د CN مرستو ټرمينالوژي**

دفاع وزارت CN ته د دفاع وزارت د ځانګړي شوي، غوښتل شوو يا لګېدلو مرستو راپور.
ځانګړې شوې: ټولې پيسې د ژمنو
غوښتل شوې: د پيسو د ورکړې
لګېدلې: هغه پيسې چې لګېدلې دي

سرچينه: دفاع وزارت، د SIGAR د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه:4/13/2010.

3.11 شکل

د DoD CN بوديجې، ټوليزه پرتله (په مليارډونو ډالر)




يادوني: هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمني شوي. شمېرې هغسي دي چې د DoD لخوا راپور شوي. د ورکړل شويو ډاټا نده ورکړل شوې؛ خو د مصرف شويو سره برابر ګڼل شوي.

سرچينه: DoD، د سيګار د معلوماتو تجربي ته د ځواب، 10/22/2010؛ DoD، د سيګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/6/2010 او 7/13/2010.

3.10 شکل

د مالي کال په ترتيب د DoD CN ورکړې (په مليونونو ډالر)




يادوني: په ډاټا کي ښايي بين الاداري لېږدوني شامل وي. هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمني شوي دي.

سرچينه: DoD، د سيګار د معلوماتو تجربي ته ځواب، 10/6/2010؛ DoD، د سيګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/6/2010.

## د اقتصادي مرستو پیسې

د اقتصادي مرستو پیسې (ESF) پروګرام بېلابېلو هڅوادونو ته د اقتصادي، سیاسي او امنیتي غوښتنو له مخې د اوږمهالو او لنډمهالو سفرونو د برابرولو په موخه د متحد ایالتونو له کټو سره مرسته وکړه. د حکومت د شفافیت او حسابی لپاره د پرمختیایي چارو د اغېزمنی، لاسرسي او ناپېیلي سیستم د جوړولو په موخه د ESF ترهګرۍ ضد مبارزې او د ملي اقتصادي د ودې د ملاتړ پروګرام[30]

په 2010مالي کال کې ESF ته ورکړل شوې پیسې نږدې 1.31 بیلونو ته رسېدې؛ خو په 2010مالي کال کې د بېلوني قانون نږدې 2.04 بیلونه ډالر نور هم ورکړل، چې له دې سره د ESF ټولې پیسې تر 11.14بیلونو زیاتې شوې- د دغوپیسو 19.9% په بیارغنیزو چارو کې د امریکا مرستي جوړوي.[31] د 2010سپتمبر په 30مه (USAID) خبر ورکړ، چې د دغه لګښت تر 9.55بیلونو زیاتې پیسې بېلې شوې وې، چې نږدې 6.28بیلونه یې لګېدلې.[32] 3.12 شکل د ESF تخصیص د مالي کال پر بنسټ ښیي.

د 2010 کال د جون د 30مې اسناد په رسنیو کې نشته. USAID خبر ورکړ، چې د 2010 د مارچ پر 31مه پر ټول بېل شوي لګښت باندې، د 2010کال د سپتمبر پر 30مه 1.98 بیلونه ډالر نور هم ورزیات شول. د 2010کال د سپتمبر پر 30مه د 2010کال د مارچ 31مې پرخلاف په ورکړ شوي لګښت کې 0.88 بیلونه ډالره ډېروالی راغی.[33] 3.13 شکل دESFد پروګرامونو د پروژولپاره د څانګړو شویو، ورکړ شویو او لګېدلو پیسو پرتله ښیي.

3.13 شکل

د ESF بودیجې، تولیزه پرتله (په ملیاردونو ډالر)




یادونې: په شمېرو کې بنایي بین الاداري لېږدوني شاملې وي. هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمنې شوي. شمېرې هغسې دي چې د OMB، USAID، او مالي کال 2010 د ضمیمې لخوا ورکړل شوي. د 9/30/2010 سره سم ورکړل شوي ډاټا د 3/31/2010 سره پرتله شوي څکه چې د 6/30/2010 سره سم ډاټا په لاس کې نه وه.

سرچینه: OMB، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 1/21/2010؛ H.R. 4899، د مالي کال 2010 د ضمیمه یي اختصاصونو قانون، 7/29/2010؛ USAID، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/15/2010 او 4/15/2010.

3.12 شکل

د مالي کال په ترتیب د ESF اختصاصونه (په ملیاردونو ډالر)




یادونې: په شمېرو کې بنایي بین الاداري لېږدوني شاملې وي. هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمني شوي. شمېرې هغسې دي چې د OMB، USAID او مالي کال 2010 د ضمیمې لخوا راپور شوي.

سرچینه: OMB، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 1/21/2010؛ H.R. 4899، د 2010 مالي کال د ضمني اختصاصونو قانون، 7/29/2010؛ USAID، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/15/2010 او 4/15/2010.




**د ESF د مرستو ترمینالوژي**

ESF ته د OMB د څانګړي پانګوني راپور ورکړې دی.

**څانګړي شوي:د ESFد بېلې، څانګړې او لګښتي مرستو له ژمنې سره سم د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو مرستي(USAID) لپاره پیسې موجودې دي.**

له ژمنې سره سم تولې پیسې شته دي: د ترسرېدونکو پانګونو لپاره د پیسو د ورکړې ژمنه: هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: OMB، د SIGAR د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه:4/13/2010؛ د امریکا متحدو آیالتونو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID)، د SIGAR د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه:4/13/2010.

## د نشه يي توکو پرضد نړيواله مبارزه او د قانون تنفذ

د متحدو ايالتونو د نشه يي توکو د مخنيوي او قانون د تنفذ نړيواله ټولنه(د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذ نړيواله ټولنه(INL)) د نشه يي توکو د لېږد او توليد پر ضد او د قانون د تنفذ لپاره مبارزه پيل کړې ده-د نشه يي توکو د مخنيوي او قانون تنفذ(INCLE)مبارزه. INCLE د پوليسو، د نشه يي توکو پرضد د مبارزې او د قانون او عدالت د واکمنولو په ګډون د د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذپلېينې نړيواله ټولنه(INL) له بېلابېلو پروګرامونو سره مرسته کوي.[34]

په 2010مالي کال کې ESF ته ورکړل شوي پيسي نژدې 169.00 ميلونو ته رسېدې.[35]له دې سره د INCLE بېل لګښت 2.85بيلونه ډالره شو- د دغوپيسو 5.1% په بيارغنيزو چارو کې د امريکا مرستي جوړوي.[36]د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذ نړيواله ټولنه(INL) دخبر ورکړ، چې په دې پيسو کې تر 2.42 بيلونو ډالرو زيات بېل شوي وو، چې 1.86بيلونه ډالر يې منحل شوي وو. [37]3.14 شکل د ESFتخصيص د مالي کال پر بنسټ ښيي.

د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذ نړيواله ټولنه(INL) خبر ورکړ، چې د 2010 د جون پر 30مه پر ټول بېل شوي لګښت باندې، د 2010کال د سپتمبر پر 30مه 295.89ميلونه ډالر نور هم ورزيات شول. د

3.15 شکل

د INCLE بوديجې، توليزه پرتله (په مليارډونو ډالر)




يادوني: په ډاټا کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمنې شوي.

سرچينه: H.R. 4899، د مالي کال 2010 د ضميمه يي اختصاصونو قانون، 7/29/2010؛ DoS، د سيګار د معلوماتو پوښتنو ته ځواب، 10/15/2010 او 7/13/2010.

3.14 شکل

د مالي کال په ترتيب د INCLE ورکړې (په مليونونو ډالرو)




يادوني: په ډاټا کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. هغه شمېرې چې په اټکلغېزمنې شوي.

سرچينه: H.R. 4899، د مالي کال 2010 د ضميمه يي اختصاصونو قانون، 7/29/2010؛ DoS، د سيګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/15/2010.




**د د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذ نړيواله ټولنه (INL) د مرستو ترمينالوژي**

د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذ نړيواله ټولنه (INL) ته د OMB د بېلې شوې پانګونې راپور ورکړى دى. ځانګړې شوي:د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذ نړيواله ټولنه (INCLE) او نورو د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذ نړيواله ټولنه(INL) پانګونو ته د د نشه يي توکو د مخنۍوي او د قانون د تنفذ نړيواله ټولنه(INL) پانګونو ته بېلې شوې، ځانګړې او ورکړلېدونکې پيسي شته دي.

ځانګړې شوي: ټولې پيسي د ژمنو
غوښتل شوي: د پيسو د ورکړې
لګېدلي: هغه پيسي چې لګېدلي دي

سرچينه: OMB، د SIGAR د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه:4/19/2010؛DOS، د SIGAR د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه:4/9/2010.

2010کال د سپتمبر پر 30مه د 2010کال د جون د 30مي پرخلاف په منحل شويو پيسو کې 185.56میلونه ډېروالی راغی. [38] 3.15 د CERP د پروژولپاره د ځانګړو شويو، ورکړ شويو او منحل شويو پيسو پرتله ښيي.

## د افغانستان د بيارغونې نړيواله مرسته

د متحدو ایالتونو د مرستو په زیاتوالي کې، نړیواله ټولنه پاموړ دپانګوني لپاره پاموړ لګښت ورکوي، چې په افغانستان د بيار غونې له هڅو سره مرسته وشي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له دغې پانګې خپلو مامورینو ته تنخا ورکوي. په روانو دريو مياشتو کې د سيګار له خوا په څپاره شوي تفتيش کې، يادې اداري موندلي ده، چې نه مالي مرستندويان او نه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په دې پوهيږي،چې څومره مامورينو ته پيسې ورکول کيږي، او څومره پيسي ورکړل شوي دي.[39] د 2010 کال په فروري کې پر نابشپړو اسنادو ولاړ د ماليې وزارت راپور 6,600 ملکي مامورینو او تخنیکي سلاکارانو ته د 45 میلیونه ډالرو ورکړه ښيي. دا د باوري سرچنيو پر بنسټ نه دی، چې-لکه د SIGAR د 2010 د اپريل په دريو مياشتني راپور کې راغلي دي- د مالي مرستندويانو مرستو ته يو ميکانيزم جوړ کړي. د زياتو مالوماتو لپاره د SIGAR د تفتيش په اړه، د دې راپور دويمه برخه وګورئ.

ګډون، چې د ميکانيزم او باوري فنډ پر بنسټ رامنځته شوی دی، مخلوط جوړېږي او تر جوړېدو وروسته د بيارغنيزو فعاليتونو د کاروني لپاره وړاندي کيږي. د دغو پانګونو دوه لويې سرچينې دي، چې د افغانستان د بيارغوني باوري فنډ(ARTF) او د قانون او واک د باور فنډ(LOTFA).[40]

## د افغانستان د بيارغونې لپاره د مرستي صندوق کې ونډه اخيستل

په دې "د مالي حالت په اړه د مدير راپور" کې، د 2010 د سپمتبر په 22مه، نړيوال بانک راپور ورکړ، چې ARTF د 1.06بیلونو ډالرو په ارزښت په ګډه 19فعالي پروژې پرانيستي وې. په دغه لګښت کې 826.61 ډالره لګول شوي دي. د 2002 کال له پيله د 2010 کال د سپتمبر تر 22مې پورې مالي مرستندويانو ARTF ته 3.96بيلونه ډالر ورکړل.[41] د امريکا متحدو ايالتونو په دغو پيسو کي نژدې 922ميلونه ډالره ورکړي وو. [42] 3.16 او 3.17 شکل د 2010کال د سپمتبر تر 22 مي پورې د مالي مرستندويانو او حالت له مخې د مرستو ښوونه کوي. په دغو مرستو کې د مرستو صندوق تر ټولو لويه برخه ده، چې د عملياتي لګښتونو او پرمختيايي پروګرامو لپاره يې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له بوديجې سره مرستي کړې ده.[43]

ګډې مرستي د مرستو پر دوو چېنلونو ويشل کيږي. وروستی ېې (RC) وينډوز او د پانګوني وينډوز. د 2010 د اکتوبر له "د هېواد دري مياشتنی تازه کول" سره سم، د2010 کال د اګست پر 22 مه RC وينډو ته 1.95بيلونه ډالره مرستي ورکړې. RC وينډو د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د جوړښتي بيو مرستي کوي، ځکه چې کورنی لاسته راوړني د بيو د سمبالښت لپاره بس نه دي. د پانګوني کړکی د پرمختيايي پروګرامونو بيې ورکوي. نړيوال بانک راپور ورکوي، چې د پانګوني د وينډو لپاره د بېلې شوي لګښت کچه، د 2010 کال د اګست په 22مه د ټولې پانګې 77% جوړوي.[44]

## د افغانستان لپاره د قانون په تنفذ او د مرستو په صندوق کې ونډې

3.16 شکل

د مرستندویانو په ترتیب د شمسي کال 1389 لپاره د ARTF ورکړې، د سپتمبر 22، 2010 سره سم (په ملیونونو ډالر)




یادونې: هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمنې شوې. شمسي کال 1389 د 3/21/2010 نه تر 3/20/2011 پورې دی.
سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د سپتمبر 22، 2010 سره سم د مالي حالت په اړه د اداري راپور،" مخ 1.

3.17 شکل

د 1389 لمریز کال لپاره د ARTF ورکړې، د سپتمبر 22، 2010 سره سم د ژمنه شویو پیسو هغه برخه چې ورکړل شوې دي (په ملیونونو ډالر)




یادونه: هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمنې شوې. مالي کال 1389 د 3/21/2010 نه تر 3/20/2011 دی.
سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د سپتمبر 22، 2010 سره سم په مالي حالت د اداري راپور،" مخ 1.

## اخیستنې

د 2010 کال په درې میاشتنې راپور کې، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرامونه راپور ورکوي، چې د 2008له سپتمبر نه د 2010 تر جونه پورې، د LOTFA د پنځم پړاو لپاره نړیوالو مالي مرستندویانو نږدې 846. 95 میلونه ډالره ومنل. د دې لګښت 261.00میلونه ډالره د امریکا متحدو ایالتونو ورکړې وې.[45] ددغو پیسو زیاته برخه د 105,965افغان ملي پولیسو په تنخاګانو کې ورکول کېږي. LOTFA[46] پنځه کاري لومړیتوبونه لرل، چې پنځم یې د 2010 کال د اګست پر 31مه بشپړ شو. د یادونې وړ ده، چې د SIGAR د 2010 د جولای راپور، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او نړیوال مالي مرستندویان به پردې بحث وکړي، چې دا پیسې د څومره وخت لپاره، او څرنګه زیاتولای شي.[47]

# امنيت

په دغو درو میاشتو کې په ټول افغانستان کې امنیتي چاپیریال له ستونزو ډک و. د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د نامنیو د ارزونې له مخې، د 2010 د اکتوبر پر 1 په سویل او ختیځ کې امنیتي حالت خراب و، په لویدیځ کې برابر او په شمال کې ښه و. د پولیسو او وروستیو نظامي عملیاتو له بري سره په تړاو- د کابل د شاوخوا په ګډون مرکزي سیمه مهم پرمختګ په ګوته کوي. تر ټولو زیاتي امنیتي ستونزې په هلمند او کندهار کې دي، چې همدا اوس پکې پوځي بریدونه روان دي.[48]

له 2009 راهیسې، د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا، په بریدونو کې د کارېدونکو پرمختللو چاودېدونکو توکیو د 82%زیاتوالي سره په نامنیو کې 69% ډېروالی راغلی دی. د پېچلو ځانمرګو بریدونو شمېر په هره میاشت کې ځلورو ته په رسېدو دوه برابره شوی دی. پر دې سربېره، سرمنشي وایي، چې د حکومت ضد جنیایي ډلو له خوا د خلکو د تښتوني شمېر په دې درو میاشتو کې درې برابره شوی دی، چې په دې توګه په اوونی کې 21کسان تښتول کېږي. د سرمنشي له دغو زیاتونو سره په تړاو د نړیوالو ځواکو په شمېر، د افغان ملي ځواکونو په عملیاتو او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت پرضد د مخالفینو په فعالیتونو کې زیاتوالی راغلی.[49]

د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پرمختیا او پیاوړتیا لپاره د 2010 کال د سپتمبر پر 30مه متحدو ایالتونو- د 2010مالي کال لپاره د نژدې 9.17 بیلونو ډالرو په ګډون-نژدې 29.35بیلونه ډالر ښل کړي وو. د دې پیسو زیاته برخه د افغان د امنیتي ځواکونو له فنډ(ASFF) نه ورکړل شوي. په دې کې د تجهیزاتو، خدمتونو، روزنې او- له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د تړلیو مرستو- بنسټي اډانه برابرول راتلل.[50] د افغان امنیتي ځواکونه فنډ د متحدو ایالتونو د دفاع وزارت (DoD) جوړ کړ. 29.35بیلونه د بیارغوني لپاره د متحدو ایالتونو تر ګردو پیسو ډېر دي. دا د دې راپور په B پایځوړ کې لیدای شئ.

## امنيتي موخې

د ایساف د راپور له مخې د افغان ملي امنیتي ځواکونو شمېر د 2010 کال په جولای کې 235,758 و، چې بیا د 2010 په اکتوبر کې دا شمېره 258, 668 ته وختله. دا وروستی شمېرې د افغان ملي اردو د 138, 164 سرتېرو او د افغان ملي پولیسو د 120, 504 پولیسو شمېر رانغاړي.[51] دا شمېر د افغان ملي امنیتي ځواکونو هغه پرسونل ښیي، چې دندې ته حاضر دي. د راتلونکي پاڼي 3.1جدول له تېرو درو میاشتو راهیسي، د ستراتیژیکو لومړیتوبونو پرضد جریانانو جریانونه رااخلي.

د 2010 د سپتمبر پر 27مه د ناټو د روزنیزې لړۍ قومندان-په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت ډګروال ویلیم کالډویل(امریکایي پوځ) د ناټو نظامي جرګه ګی ته خبري وکړې. د 2009 کال د دسمبر په لومړیو کې، هغه یادونه وکړه،چې افغان ملي امنیتي ځواکونو پرمختیا،د شونتیا تر بریده په نویو تقرورنو ټینګار کوي؛ خو د دغو

3.1 جدول

| د امنیت لپاره ستراتیژیکي ګټې | | | |
|---|---|---|---|
| ګټې | موخې | حالت | له تېرو درو میاشتو راغلی بدلون |
| افغان ملي اردو | پر 10/2010 کال 134,000 سرتېري<br>پر 10/2010 کال 171,600 سرتېري | پر 9/22/2010 کال 138,164سرتېري | +8,279 |
| افغان ملي پولیس | پر 10/2010کال 109,000 پولیس<br>پر 10/2011کال 134,000 پولیس | پر 9/21/2010 کال 120,504 پولیس | +14,631 |

یادونه: شمېر د پراوونو له مخې ټاکل کېږي

سرچینه: د افغانستان اسلامي جهوري دولت "دافغانستان د ملي پرمختیا کړنلارې، لوی لنډیز" PP. 4, 6, ګډه امنیتي انتقالي قومنداني د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه: 10/4/2010، ایساف، 10/5/2010، PERSTAT؛ په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت /مشترکه امنیتي انتقالي قومنداني، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه: 7/6/2010.

"که موږ په افغانستان کې روزنیزې لړۍ ته سرچینې برابرې نه کړو؛ نو ښکاره ده، چې پرمختګ به مو ورو وي"

—LGT ویلیم کالډویل، په افغانستان کې د ناټو د روزنیز ماموریت قومندان

سرچینه: په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت ، "نه روزنه، نه لېږنه: د ناټو د نظامي جرګه ګۍ په نامه"، 9/27/2010 .

تقرونو پر معیار ټینګار نه کوي. پایله یې د پښېمانتیا زیاتوالی او د ودې کمښت و. د 2009له نومبر راهیسې، پاملرنه معیار او تولیداتو ته واوښته: سږکال، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د 2010کال تولیدي موخې تر لاسه کړې. ډګرجنرال کالډویل ټینګار وکړ،چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا او پرځان د باور لپاره اصلي ننګونې، د مسلکیتوب، مشرۍ او لوست پرمختیا ده- او د امنیتي ځواکونو کمښت اړتیا نوره هم زیاته کړه. نوموړي زیاته کړه، چې پر 2011 کال به د افغان ملي امنیتي ځواکونه له (50,000عسکرو) نه 305,000 ته ورسېږي او 305,000 نور سرتېري به وروزل او ونیول شي. [52]

ډګر جنرال کالډویل دا هم وویل،چې د 2009 کال له نومبر راهیسې، په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت خپله زیاته پاملرنه د افغان ملي امنیتي ځواکونو معیاري کولو ته واړوله، چې د موخو له ترلاسي سره یې مرسته کوله. نوموړي د کمبوت بېلګه ورکړه،چې ده د افغان ملي امنیتي ځواکونو په روزنه کې لیدلی و او د دوړو روزنکو د اهمیت خبره یې وکړه، چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا او پرځان د ډاډیني لپاره اړینه ده. نوموړي له ناټو نه غوښتنه وکړه، چې د په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت لپاره دې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ته واک د وړ کولو لپاره د لایقو روزنکو زمینه برابره کړي.[53]

## امنیتي پېښې

د 2010کال د اګست پر لومړی په افغانستان کې د ایساف او متحدو ایالتونو د ځواکونو لوی قومندان ډیوېډ پیټریاس، د ترهګرۍ پرضد د عملیاتو او د ملکي وګړو او د دوی د کور د ژغور لپاره نوي لارښوونه جوړه کړه. نوموړي له افغانانو سره پر نژدې کار، مستقیمو اړیکو، د دواړو لوریو ترمنځ د باور پر پیداکولو، د اداري فساد پرضد پر مبارزه او د هغه پروپاګند پرمخنیوي، چې د مخالفو جنګیالو له لوري کېږي، ټینګار وکړ.[54]

د 2010کال د اګست پر 17مه ولسمشر کرزي د متحده ایالتونو له چارواکو سره لیده کاته وکړه او په افغانستان کې یې د ټولو کړلارو او موخو د پراخې پلټنې پر اړتیا ټینګار وکړ. [55]د 2010کال د اکتوبر پر 4مه په یوه ویډیویي کنفرانس کې له ولسمشر اوباما سره د افغانستان او امریکا د اوږدمهال اړیکو پر ستراتیژیکو موخو وغږېد. په خبرو اترو کې، دواړو ولسمشرانو ومنله، چې دواړه هېوادونه باید د کال تر پای یو داسې سند جوړ کړي، چې تر 2014کال پورې پړاو پړاو افغان امنیتي ځواکونو ته د واک سپارلو لپاره د ستراتیژیکي ملګرتیا جزیات راغلي وي.[56]

په تېرو درو میاشتو کې د ناټو دوو غړیو په افغانستان کې د خپلو ژمنو د بدلون اعلان وکړ. د 2010کال د اګست پر 1 هالینډ په ارزګان کې په ولایتي بیارغونو او امنیتي عملیاتو کې خپلې دندې ته د پای ټکی کېښود. د سپټمبر پر 22مه د المان د دفاع وزارت د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې او سلا لپاره له خپلو 90 د لېږد اعلان وکړ. دا ځایونه د المان د په شا کېدو د پلان-چې په نومبر کې یې شېږ الوتکې هم وروغوښتې، د نوي نظر په پایله کې رامنځته شوي دي.[57]

## سیمه ییزې امنیتي پېښې

له دې اعلان سره هممهالی، پاکستان له افغانستان سره پر شمال لویځ سرحد پرته د تورخم د دروازې-چې د متحدو ایالتونو او ناټو د عملیاتو تر ټولو لویه تمویلونکې لار ده- د پرانیستنې اعلان وکړ. د د متحدو ایالتونو د دفاع وزارت د راپور له مخې، دا دروازه هله پاکستان پوځ 11 ورځې وتړله، چې د سپټمبر پر 30مه په یوه نښته کې د متحدو ایالتونو چورلکې په ناپامۍ کې د پاکستان د سرحدي ځواکونو څو سرتېري ووژل.[58] د متحدو ایالتونو سفیر پر دې پېښې له پاکستان نه بښنه وغوښته او لوی درستیز د پاکستان لوی درستیز ته پر دې پېښه خواشیني وښوده. د متحدو ایالتونو دواړو چارواکو څرګنده کړه، چې د دا راز پېښو د مخنیوي لپاره بویه له پاکستان سره نژدې کار وشي.[59]

د سپټمبر په لومړیو ولسمشر کرزي له پاکستاني ولسمشر آصف علي زرداري سره لیده کاته وکړه او په امنیتي چارو کې یې پر دواړ اړخیزه همکارۍ او ملګرتیا خبرې اترې وکړې. په ګډ خبري کنفرانس کې دواړو مشرانو له ترهګرۍ او بنسټپالنې د راټوکېدلې ګډې ننګونې یادې کړې او هوکړه یې وکړه، چې خپلو ولسونو د امنیت او د ترهګرۍ د ځپلو لپاره به سره کېني او استخباراتي مالومات به سره شریکوي. پر دې سربېره دوی د ګډو امنیتي روزنو او د وړتیا د لوړو لپاره د یوه پروګرام په پیل هوکړه وکړه.[60] له دې سره هممهاله، ولسمشر کرزي، له جنرال پېټریاس او د پاکستان له لوی درستیز جنرال اشفاق کیاني سره هم ولیدل او د افغانستان او پاکستان پر امنیتي وضع یې ورسره خبرې وکړې.[61]

د سیمه ییزو هڅو په موخه، د متحدو ایالتونو پوځ په شمال لویدیځ کې د سیلونو له قربانیانو سره د اګست له 5مې راهیسې مرسته کوي. د دفاع وزارت په وینا، د متحدو ایالتونو ځواکونو تر 20,000 زیات بېځایه شوي وګړي وژغورل او د بیارغونې په هڅو کې یې تر 13.7 پونډو زیاته مرسته کړې ده.[62]

## د ټاکنو امنیت

د دفاع وزارت په وینا، د سیپټمبر پر 18مه د پارلماني ټاکنو پرمهال د شویو بریدونو شمېر یو په درې د 2009کال د ولسمشریزو ټاکنو پرمهال تر شویو بریدونو کم و. تر 1%کمو ټاکنیزو مرکزونو د لویو نښتو خبر ورکړ. په زیاترو بریدونو کې واړه لاسي ګرنیټونه یا توغندي کارول شوي؛ لږې د سرک د غاړې چاودېدونکي موادنښتې وې او هېڅ ځانمرګی برید ونه شو. د ټاکنو پرمهال افغان ملي امنیتي ځواکونو د ټاکنیزو مرکزونو امنیت نیولی و. ایساف له افغان ملي ځواکونو سره مرستې ته چمتو و؛ خو فعاله ونډه یې وانخیسته.[63] د ټاکنو په اړه د زیاتو مالوماتو لپاره د همدې راپور د "حکومتدارۍ" برخه وګورئ.

سرمنشي د سپټمبر په راپور کې امنیتي ستونزې-په تېره د کاندیدانو ګواښونه، بیا د ښځمنو کاندیدانو- ټاکنو ته ننګونه وبلله. څلور کاندیدانو او د ښځمنو کاندیدانو پنځه کمپاینران ووژل شو. سرمنشي دا هم وویل، چې د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسون، افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د ټاکنیزو مرکزونو لست ورکړ، چې امنیتي

وضعیت يې وارزوي. افغان ملي امنيتي ځواکونو وويل، چې په 6,835 ټاکنيزو مرکزونو کې به 5,897(88%) ټاکنيز مرکزونه په امن کې وي. [64]د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کميسون په وينا، 5,510 ټاکنيز مرکزنه د ټاکنو پرمهال پرانيستي وو، تر 387کم مرکزونه افغان ملي امنيتي ځواکونو خوندي کړي وو. [65]

## د خصوصي امنيتي کمپنيو تړل

د 2010کال د اګست پر 17مه ولسمشر کرزي اعلان وکړ، چې په څلورو مياشتو کې به ټولې نړيوالې او ملي خصوصي کمپنۍ منحل شي.[66] دا خبره چې رسنيو ته راووته؛ نو دا څرګنده نه وه، چې دا اعلان به کومه خصوصي امنيتي کمپنۍ ډېره اغېزمنه کړي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، دا اعلان به د نړيوال پرمختګ لپاره د متحدو ايالتونو د ادارو 96 پروژې، د نشه يي توکيو پرضد د مبارزې او د قانون د عملي کولو د نړيوالې ټولنې کاروانه او په کابل کې د امريکا د سفارت سيمه ييز امنيتي مديريت اغېزمن کړي.[67] د دفاع وزارت په وينا، يوازې د دفاع وزارت لپاره د خصوصي امنيتي کمپنيو په چوکاټ کې 18,000 وګړي کار کوي، چې 93% يې افغانان دي. [68]سيګار لاتراوسه په دې اړه کومه پرېکړه نه ده کړې، چې د دسمبر تر ورکړې نېټې پورې څرنګه د خصوصي امنيتي کمپنيو ځای افغان ملي ځواکونو ته ورکړي. امريکايي چاروکي د دغه فرمان د اغېز د معلوملو او اړخيزو اغېزو د کمولو په موخه يې د اړينو اقداماتو د پېژندلو هڅه کوي.

سيګار د تفتيش يو تړون رامنځته کوي، چې د هغې کمپنۍ کار وارزوي، چې په امريکايي پوځ کې د شته انجنيري پرسونل امنيت نيسي. پر دې سربېره، سيګار سږکال له دغې موضوع سره په تړاو د تفتيش درې نورې ارزونې هم پيلوي. پر دغه موضوع د نورو مالوماتو لپاره د دې راپور 2مه برخه وګورئ.

## امنيتي پېښې

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستو د ټولنې(UNAMA) په وينا، د 2010کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د 2009کال په څېر، د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې 31%زياتوالی راغی(1,271مړه او 1,997ژوبل). د دغوملکي مرګ ژوبله درې پر څلورمه برخه، په دولت ضد فعالو ډلو پورې تړلې دي53%-تر 2009کال زيات دي.دولت ضد په فعالو ډلو کې يو خو طالبان راځي؛ خو پر دوی سربېره ځيني نور وګړي او ډلې هم شته دي، چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او نړيوالو ځواکونو ته ستونزې پيدا کوي. په نښتو کې د دولت د ملاتړيو ځواکونو له خوا ملکي وګړيو د اوښتونکي مرګ ژوبلې کچه د 2009کال د همدغه مهال په پرتله 30% ته راټيټه شوې ده. يوناما، ملکي مرګ ژوبله د دولت ضد عناصرو له خوا د وګړو په تېښتونو او په لاسي چاودېدونکو توکو پورې تړي. [69]

په دې تېرو درو مياشتو کې په رامنځته شويو امنيتي پېښو کې ښځې او کوچنيان تر نورو ډېر اغېزمن شوي وو. يوناما، 6%فيصده ښځو ته او 55% کوچنيانو ته په اوښتي زيانونو کې زياتوالی ښوولی دی. د دوی لويه برخه په ځانمرګو او د لاسي چاودېدونکو توکيو په بريدونو کې وژل شوي يا ټپي شوي دي.[70]

## افغان ملي اردو

د ګډې امنيتي قوماندې-افغانستان په وينا، د سپمتبر پر 22مه- د 2010کال د جون د 20مې د 8,279سرتېرو له زياتوالي سره- د افغان ملي اردو شمېر138, 164و. سره له دې چې په اکتوبر کې يې شمېر 134.000 وو. د افغان ملي اردو اوسنۍ موخه، د 2011کال تر اکتوبره د 171,600 شمېر پوره کول دي.[71]

د ګډې امنيتي قوماندانۍ-افغانستان د ارزونې له مخې، د سرتېرو د شمېر زياتوالي ته په شپږو کنډکونو کې پام

شوی دی. د عملياتو ځانګړی ځواک او مرکزي سيمه، چې د سپتمبر تر 30مې يې شمېر 85,359 ته ورسېږ. د يادونې ده، چې په دوی کې 388سرتېري د دفاع وزارت د وروستي تشکيل له مخې راغلي دي. لکه، په 3.19.72 شکل کې چې وښوول شوه، د رسمي او نيول شويو سرتېرو شمېر له هغو سرتېرو سره برابر نه دی، چې عملاً دنده ترسروي . لکه، په 3.19.72 شکل کې چې وښوول شوه، د غير حاضرو سرتېرو شمېر هغه سرتېري، چې دندو ته حاضر دي، ډېر اغېزمن کړي دي .[72]

## د افغان ملي اردو روزنه

په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت /مشترکه امنيتي انتقالي قومنداني له مخې، په تېرو درو مياشتو کې د افغان ملي اردو 22,657 سرتېري له يوه پراخ روزنيز پروګرام نه فارغ شوي دي. په دې شمېره کې 1,616 ساتنمنان په پرمختيايي او 1,422 د افغان ملي اردو د افسرانو د ورتيا د زياتولو په کورسونو کې روزل شوي دي. لکه په 3.20 شکل کې چې راغلي، د دې سرتېرو زيات شمېر، 15,384له اساسي روزنيزو کورسونو فارغ شوي دي . د اساسي روزنيزو کورسونو د برخې په توګه، سرتېري د ښاري پوځ غونډي، د پلي پوځ د يوه ټولي په بڼه، پاټکونه لري او د ترهګرۍ او چاودېدونکو توکيو پرضد د عملياتو لپاره چمتو کېږي. دا کورسونه په سيمه او د کابل په پوځي مرکز کې ترسره کېږي. د يادونې وړ ده، چې د پخوانيو مجاهدينو 326 قومندانان هم د مجاهدينو د ادغام کورس په نامه په يوه اته اوونيز کورس کې وروزل شول او تر روزنې او فراغت وروسته په افغان ملي اردو کې مدغم شول.[73]

**تشکيل:** د غړيو يا پرسونل او تجهيزاتو د اړتياوو ليست، چې دفاع او کورنيو چارو وزارتونه يې کاروي، د دوی د تشکيلي غړيو رتبې او د تجهيزاتو ډولونه ښيي. په دې توګه دا د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليس دواړو لپاره کارېږي. (په دري کې د "ORGANIZATION" د کلمې مانا)

سرچينه: د دولت د احتساب دفتر(متحده ايالات)، د دولت د احتساب دفتر(متحده ايالات)-08-661، "د افغانستان امنيت"، 6/2008، 18مخ.

3.19 شکل

د ملي اردو د پرسونل حضور، منتخب اجزاء، د سپتمبر 2010 په 30مه (سلنه)




يادونې: هغه شمېرې چې په اټکلغېزمني شوي. PDY = په دنده کې موجود؛ AWOL = پرته له رخصۍ غير حاضر. نور = طبي، روزنيزې، يا ورکړل شوې رخصتی.

سرچينه: ISAF-IJC، د ملي اردو د پرسونل احصاييه، 9/30/2010

3.18 شکل

د افغان ملي اردو پياوړتيا، منتخب اجزاء، د سپتمبر 2010 په 30مه




يادونه: په دنده ورته سپارل شويو خو ناموجودو کې شامل دي طبي، د روزنې، او يا ورکړل شوي رخصتی، او همداراز پرته له رخصتی غير حاضر. * د ګومارل شويو، خو ناموجودو = 1,046.

سرچينه: ISAF-IJC، د ملي اردو د پرسونل احصاييه، 9/30/2010.

په تېرو درو میاشتو کې چې د ګډ هوايي ځواک د واک سپارلو قومنداني د ناټو- افغانستان په هوايي قومنداني واوښته، نو متحده ایالاتو او ناټو د بدلون سیګنال ورکړ او په یوه پراخ پروګرام کې یې پرېکړه وکړه، چې د 3,900په شمېر به پیاوړی افغان هوايي ځواک وروزي.[74] د سپتمبر پر 8مه، د کوریا د هوايي ځواک 10 کسيزې روزنيزې ډلې هم په ګډ ځواک کې برخه واخیسته، چې افغان ملي ځواکونو ته د عملیاتو او Mi-17 چورلکو چل وښيي. د ګډ ځواک-افغانستان غړي دا دي: کاناډا، چک جمهوریت، هنګري، برتانیه او متحد ایالتونه. پر Mi-17 چورلکو سربېر، چک، هنګري او متحد ایالتونه افغان ملي اردو ته د لومړنيو بريدونو د چورلکو، Mi-35.75 د ټوپکو چل هم ورښيي.[75]

## د افغان ملي اردو ښځينه سرتېرې

د ګډې امنیتي انتقالي قومنداني په وینا، د 2010کال د سپتمبر پر 30مه په افغان ملي اردو کې د ښځمنو شمېر 299(195افسراني او 104 سرتېرې) و. د افغان ملي اردو کړلار او موخه دا ده، چې پوره ښځينه سرتېرې، چې 10% وي، وروزي. پر دې سربېره، دا کړنلاره له افغان ملي داوطلبانه مرکزه غواړي، چې د سیمه ییزو ښځو شمولیت ته پام واړوي. دا کړنلاره له افغان ملي ځواکونو دا هم غواړي، چې په ټولو افغانستان کې د ښځمنو سرتېرو د شمولیت لپاره باید د تبلیغات پیل کړي او بودیجه ځانګړې کړي.[76]

د 2010کال د سپتمبر پر 23مه، د کابل په پوځي روزنيز مرکز کې، د افسرانو له کاندید ښوونځي نه د افغان ملي اردو 29 ښځينه افسراني فارغې شوې. که څه هم دا د افغان ملي اردو لومړنۍ ښځينه افسراني نه دي، چې فارغېږي؛ خو دوی لومړنۍ افسراني دي،چې له 20 اوونيز کورس نه فارغېږي. په دې کورس کې د متحدو ایالتونو او افغان ملي اردو افسران د بنسټي نظامي وړتیاوو د مشرۍ د اصولو له مخې کاندید افسران د مالي او لوجستیکو افسرانو د ځای نیولو لپاره روزي.[77]

**د اګست پر 18مه د افغان MI-35 او متحده ایالتونو د ګډو ځواکونو (د درېیمي هوايي ټولۍ) په ګډو عملیاتو کې هغه اپاچي چورلکه له خپلې لیکې واوښته، چې غوښتل یې د جنګیالیو تر برید لاندې کاروان وژغورې. له دې سره چې مهمات ونه کارول شول؛ خوپه افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموریت خبر ورکوي، چې د هوايي ځواکونو ګډو الوتنو د جنګیالیو برید مات کړ او له سیمې یې تېښتې ته اړ ایستل.**

سرچینه: په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموریت "افغان Mi-25s له ناټو سره ګډ عملیات پیل کړل" 8/20/2010، پر لیکه لاسرسی 9/15/2010.

3.20 شکل

د پروګرام په ترتیب د ملي اردو فارغان




یادونې: د فارغانو شمېره د 9/30/2010 سره سمه ده. HMMWV = د لوړې کچې د حرکت، ګڼ موخې موټرونه.

سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/4/2010.

## د افغان ملي اردو پرمختيايي چارې

په تېرو درو مياشتو کې، د افغان ملي اردو (د 3.11.1 ميلون ډالرو په بيه) 16 نوي جوړښتي پروژې پرانيستل شوې 46 ، (د 784.5ميلونو ډالرو په بيه) رواني وې او(د 105.9 ډالرو په بيه) بشپړې شوې دي. د ګډې امنيتي انتقالي قومنداني په وينا، په دغو پروژو کې، وداني (کوټې، ميشتغالي، روزنيزمرکزونه، محدوده، اداري، زېرمتونونه او وسله تونونه، چې ټولې اسانتيا ولري او نور) ا و د افغان ملي اردو د عملياتو، پرمختيا او مرستې لپاره اړين او همېشني تجهيزات پکار دي.[78] سيګار د پرمختيا او اسانتيا لپاره د افغان ملي اردو کړلاره د يوې رواني حساب اخيستي په توګه ارزوي.

## د افغان ملي اردو تجهيزات

د ګډې امنيتي انتقالي قومنداني په وينا، د جولای له لومړۍ نېټې نه د 19پورې افغان ملي اردو 6,607 وسلې اخيستي دي.[79] 3.21 شکل ښيي، چې زياتره ورکړ شوي وسلې-4,884- د امريکا جوړې مشينې وې. ځرنګه چې په 3.2.[80] کې ښکاري، چې افغان ملي اردو ته 1, 195 ګاډي او 2,441 مخابرې په تېرو درو مياشتو کې ورکړل شوي دي. پر دې سربېره، افغان ملي اردو په خپل سامانونو کې دوه Mi-17 او C-17 باروړونکې چورلکې نورې هم ورزياتې کړې. په لاندې شمېره ډبړيو کې راوړل شوي دي.[81]

- 27 Mi-17 او 9 Mi35 چورلکې
- 1 An-26، 5 An-32 او 7 C-27 باروړونکې
- 3 L-39 jet

سيګار هغه هڅې د روانو تفتيش اخيستلو په لړۍ کې ارزوي، چې افغان ملي اردو ته د لوجيستکي اسانتياوو د پرمختګ لپاره ترسره کېږي.



پر 23 سپتمبر د کابل د حربي ښوونځي (نظامي روزنيز مرکز) له افسر نوماند ښوونځي نه د افغان ملي اردو د نه ويشتم دويم ځل ډګروال فارغ شو. دا د دې پروګرام لومړنۍ ښځينه فارغه وه. په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت تصوير، د SSgt غړي. ريچل مارټنز).

3.2 جدول

| افغان ملي اردو ته ورکړ شوې مخابرې او ګاډي | |
|---|---|
| **ګاډي** | |
| روښانه او د منځنيو تخنيکونو ګاډي | 1,041 |
| زريدار HMMWVs[الف] | 154 |
| **مخابرې** | |
| د لوړې فريکونسۍ مخابرې[ب] | 2,254 |
| د لوړې فريکونسۍ مخابرې[ج] | 187 |

الف. زريدار HMMWV، چې M1152، M1151 او M1152 امبولينس ماډل

ب. د لوړې فريکونسۍ مخابرې، چې د بېلابېلو جوړښتونو PRC-1077 او HH7700 راديو سيستمونه لري.

ج. د لوړې فريکونسۍ مخابرې، چې د بېلابېلو جوړښتونو RT-7000 او PRC-1099 راديو سيستمونه لري.

سرچينه: سيګار ته د ګډ ځواک مشترکه امنيتي انتقالي قومنداني ځواب، نېټه، 10/4/2010

3.21 شکل

د ملي اردو په کار اچول شوې وسلې، جولای 31 – سپتمبر 19، 2010




يادونه: دا وسلې د ملي اردو ځواکونو ته له 7/31/2010 څخه تر 9/19/2010 لېږدول شوې وې.

سرچينه: NTM-A/CSTC-A، د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/4/2010.

## له دفاع وزارت سره د نړيوالي تولني مرستي

د دفاع وزارت په وينا، ايساف له ملي دفاع وزارت سره خپلو مرسته ته دوام ورکوي، چې په پرمختللي او مسلکي بنه دافغان ملي اردو د روزلو لپاره مرکزونه او سيستمونه جوړ کړي. د متحدو ايالتونو او کاناډا نژدې 272 نظامي، ملکي او قرردادي وګړي لګيا دي، چې د دفاع وزارت اداري وړتياوې، اداري سيستم او عملياتي سيستم ورغوي. له دې به دفاع وزارت د افغان ملي اردو په پلان کولو، پروګرام، اداره کولو او برقرارولو وتوانيږي. دفاع وزارت وايي، چې دا پرمختګ د مشرانو په سلا او مرسته رامنځته شوی دی. پر دې سربېره، سلاکار له دفاع وزارت سره د وزيرانو د همغږۍ، سلاکارۍ جرګه ګۍ، کاري ډلې او د وزارتي پرمختګ د جرګې په رامنځته کولو کار کوي. دا اداري په څلور ساحو کې وړتياوې لوړولای شي: افقي ادغام او ستراتيژيک نظم، عملياتي مرسته، د پرسونل اداره او ملي لوجستيک.[82]

## افغان ملي پوليس

د ګډې امنيتي انتقالي قومنداني په وينا، له افغان ملي پوليسو، چې د عامه نظم پوليس، سرحدي لېوا او جينايي پوليس پکې راځي، هيله کېږي، چې د 2011 تر اکتوبره پورې خپل ټاکلي هدف، 134, 000، ته ورسېږي.[83] د 2010کال د سپتمبر پر 21مه (د کورنيو چارو د وزارت د مېشتغالو په ګډون) د افغان ملي پوليس تشکيل 122,000 و، چې ټولټال يې 128, 613 پوليس وو . 3.3جدول ښيي، چې د (د کورنيو چارو وزارت دمېشتغالي په ګډون) 120,504 سرتېري په تشکيل کې وو-د 2010کال د جون تر 20مې دا شمېره، 14,631 وه- او 8, 109 له تشکيله بهر وو. په دې کې د عامه نظم 829پوليس هم راځي.[84]په اکتوبر کې په پرسونل راپور کې د کورنيو چارو وزارت د پوليسو 56 بې تشکيله ټولي په نښه کړي وو. [85]د افغان ملي پوليسو د اداري پرسونل او سيستم د ارزونې پرمهال، سيګار هڅه کوي، چې دغه 56 ناتشکيله ټولي وپېژني.

که څه هم په تېرو درو مياشتو کې افغان ملي پوليسو خپل تشکيل زيات کړی دی؛ خو د سرحدي پوليسو او د افغانستان د عامه نظم ملي پوليس ځواکمنتيا د دوی تشکيل راتېټ کړ. د افغان د سرحدي پوليسو ټول ځواک، د



دافغان دهوايي ځواک Mi-35 په کابل کې له يوه هوايي ډګره الوتنه وکړه؛ Mi-17 ترانسپورټې په ډګر کې کيني. د متحدو ايالتونو د هوايي ځواکونو تصوير، TSgt Parker Gyokeres)

مجازي ځواک 90% جوړوي(18,529 تول ځواک، د 20689 مجازي په پرتله). سره له دې،چې 3.22 شکل ښيي، چې د د افغانستان د عامه نظم ملي پولیستول ځواک 30% فیصده و. لاندې یې مجازي ځواک ښوول شوی دی (7.890 اختصاصي، 11,276مجازي).[86]

د ایساف په وینا، جذب لا روان دی او دا به افغان ملي پولیس نور هم ځواکمن کړي. د 2009 له سپتمبر نه د 2010 تر اګسته پورې، افغان ملي پولیسو د 102, 580 معتدل ځواک درلود. له دې سره همممهالی، د افغان ملي پولیسو راپور د 16,621پرسونل کمښت ښيي-د جذب کچه یې 16.2%( 12,3% د افغان یونیفورم پولیس، 27.4% د افغان سرحدي پولیسو او 59.9% د د افغانستان د عامه نظم ملي پولیس لپاره). د تشکیل په شمېر کې هغه پولیس هم راغلي دي، چې یا وژل شوي، ټپي شوي، غیر حاضر دي، ورک دي، تښتېدلي، تقاعد شوي، تبتول شوي او یا له دندې ګوښه شوي دي. [87]د متحدو ایالتونو پرخلاف افغان ملي پولیس داسې اشخاص هم لري، چې د دندې له پرېښودو پرته غیر حاضر دي. داسې هم شته دي، چې 21ورځې کېږي، چې له دندې تللي دي؛ خو دفتر ته یې خبر نه دی ورکړی، د داسې پولیسو مخې ته یواځې د "غیر حاضر" کلمه لیکل شوې ده. د 2009 له اکتوبره د 2010 کال تر اګسته پورې، افغان ملي پولیسو تر خپل اصلي هدفه، چې 24,466 و، واوښته او شمېر یې34600 پولیسو ته ورساوه. 3.23 شکل ښيي، چې د افغانستان د عامه نظم ملي پولیس یواځنی مرجع وه، چې خپل اهداف یې ترلاسه کړل.[88]

د سپتمبر پر 26مه، د په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت د پولیسو عمومي قومندال وویل، چې د نشه یي توکیو او ترهګریزو ډلو پرضد د افغان ملي پولیسو عملیاتو اوس په نړیواله کچه دي. د شپږو میاشتو په اوږدو کې، د عمومي قومندان په وینا، دوی په ترهګریزو پېښو کې ککړ 2,800 کسان نیولي، 2, 300 وسلې او 3,300 لاسي چاودېدونکي توکي او بمونه یې کشف کړي دي. [89]

3.22 شکل

د ملي پولیسو پیاوړتیا: د واک ورکړل شویو او ټاکل شویو کچو ترمنځ تشې، د 2010 د اکتوبر له 5مې سره سم، (سلنه)




یادونې: فیصدی په ګردي کولو اغېزمنې شوي. AUP = افغان یونیفورم لرونکي پولیس. ABP = افغان سرحدي پولیس. ANCOP = د افغانستان د عامه نظم پولیس.

سرچینه: ISAF-IJC، د ملي اردو د پرسونل احصاییه، 9/30/2010

## د افغان ملي پولیس سیمه ییز نوښتونه

په تېرو درو میاشتو کې، ولسمشر کرزي د افغان سیمه ییزو پولیسو د جوړولو د پروګرام اعلان وکړ،چې په ټول افغانستان کې امنیت ټینګ کړي، پرمختیایي کارونو ته لار پرانیزي او کلیو ته د حکومت واک وغزوي. د سپتمبر پر 30 مه، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او ایساف-پر توکمیز، قومي او سیمه ییز اساس- د سیمه ییزو پولیسو 8 سایټه پرانیستل؛ خو 60 نور سایټونه هم په پام کې لري. [90]

3.3 جدول

**د افغان ملي پولیسو پیاوړتیا، د 2010د سپتمبر 21مه**

| تول ګومارل شوی ځواک | له تشکیله بهر پوستونو ته ځانګړي شوي | په تېرو درو میاشتو کې راغلي بدلونونه | تشکیلي پوستونو ته ځانګړي شوي | (تشکیل) | |
|---|---|---|---|---|---|
| 128,613 | 8,109 | +14,631 | 120,504 | 122,000 | ټولټال افغان ملي پولیس |
| **د (افغان ملي پولیسو) له خوا ورکړه شوې ماته** | | | | | |
| — | 0 | — | 75,608 | 70,503 | افغان یونیفورم لرونکي پولیس |
| — | 0 | — | 18,529 | 20,689 | افغان سرحدي پولیس |
| — | 0 | — | 7,890[الف] | 11,276 | د افغانستان د عامه نظم پولیس |
| — | 8,109[ج] | — | 18,477[ب] | 19,532 | نور ټولي |

یادونه: — = نشته. الف. د 1,597 په ګډون روزنه. ب.Mol پېدغالي ته بېل شوی پرسونل، جنایت ضد مبارزه، روزنه، د نشه یي توکیو پرضد مبارزه، لوجیستک، روغتیایي اسانتیا، ګولی او کسټم ټولی. ج. د 829 په ګډون د افغان عمومي ژغورني ځواک او 7,280 نامشخص ټولي ته ځانګړي شوي.

سرچینه: ایساف، 10/4/2010 ،PERSTAT؛ په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت /مشترکه امنیتي انتقالي قومانداني، د سیګار ځواب، نېټه: 7/6/2010.

د افغان سیمه ییزو پولیسو یا اربکیانو پروګرام پر هغو ولسونو ډېر ټینګارکوي، چې تر هګری ډلې ځپلې دي، په تېره په هغو ځایونو کې چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو او ایساف ګوټو په شمېر سرتېري پراته دي. د نظامیانو پرخلاف، د افغان سیمه ییزو پولیسو ټولي واړه وي. د دفاعي پولیسو ځواکونه د سیمه ییز جرګو او شورګانو په مرسته اداره کېږي. دوی د افغانانو د دودیز فکر له مخې جوړ دي، چې د خپلو کلو امنیت به پخپله ساتو او دفاع به تري کوو. د دفاع وزارت په وینا، افغان سیمه ییز پولیس یا اربکیان له پخوانو دودونو سره توپیر لري، په دې کې د ولسونو د دفاع نوښتونه او د سیمه ییزې دفاع نوښتونه راځي. په دې توګه دا د کورنیو چارو د وزارت تر قوماندې او کنټرول لاندې دي. پر دې سربېره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د دفاع او کورنیو چارو او نورو وزارتونو د چارواکو یوه مشریزه هم جوړه کړې ده، چې اربکیان یا افغان سیمه ییز پولیس وڅاري، د دوی فعالیتونه وګوري او د اربکیانو سایټونه مشخص کړي. د دفاع وزارت په وینا، د افغان ملي اردو ځانګړو ځواکونو له افغان ملي پولیسو سره په ګډه د اربکیانو د مخ په زیاتېدو شمېر په سایټونو کې مستقر دي، چې له کلیوالو سره د امنیت په ټینګښت، پرمختګ او د حکومت د واک په غزېدا کې مرسته کوي.[91]

د دفاع وزارت له مخې، د اربکیانو پایلې مثبتې دي. د بېلګې په توګه، د کندهار په ارغنداب ولسوالۍ کې ښوونځي پرانیستل شول او اقتصادي پرمختګ وښووله، چې د اربکیانو په شتون کې په کلیو کې امنیت ښه شوی دی. پر دې سربېره، کلیوالو، سیمه ییزو ځواکونو ته د جنګیالیو د خوځښت او د لاسي چاودېدونکو توکیو خبرونه هم ورکړي دي. دفاع وزارت خبر ورکوي، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او ایساف په مرسته په تېر اپریل کې، د دایکندي په ګزاب ولسوالۍ کې کلیوالو، د طالبانو پرضد پاڅون وکړ. تر سپتمبره، مقاومت د ارزګان او دایکندي نورو کلیو ته هم وغزېد. دفاع وزارت ځینې پاتې ننګونې په ګوته کړي، چې په هغې کې اربکیانو ته د طالبانو ګواښونه، موخنې تېښتونې او د لاسي چاودېدونکو توکیو کارونه راځي. دا ننګونې له افغان ملي امنیتي ځواکونو او ایساف نه غواړي، چې له اربکیانو سره، چې ډېره تکیه یې په ولسونو ده، خپلو هڅو ته ادامه ورکړي.[92]

3.23 شکل

د ملي پولیسو جلب و جذب: ټولیزه، اکتوبر 2009 – اګست 2010 (په زرګونو)




یادونې: شمېرې هغسې دي چې د ملي پولیسو په ثبت کتاب کې ورکړل شوي.
AUP = افغان یونیفورم لرونکي پولیس؛ ABP = افغان سرحدي پولیس؛
ANCOP = د افغانستان د عامه نظم پولیس.

سرچینه: ISAF، د ملي پولیسو جلب و جذب 1389، 8/2010.

## د افغان ملي پولیسو روزنه

په تېرو درو میاشتو کې، ګډو ځواکونوپه افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت /ګډې امنیتي انتقالي قومنداني خبر ورکړ، چې 7,476 افغان ملي پولیس له روزنیزو کورسونو فارغ شوي دي. 4,589 د عامه نظم پولیس(افغان یونیفورم پولیس)، 1,431 سرحدي پولیس او 1,456 د افغانستان د عامه نظم ملي پولیس پولیس. ګډځواکونه، په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت /ګډه امنیتي انتقالي قومنداني وایي، چې د افغانستان د عامه نظم ملي پولیس فارغان په کوټو یا میشتغالیو کې ځای پرځای شول؛ سره له دې، چې غیرحاضر 209 ښوول شوي دي.[93]

## د افغان ملي پولیسو سواد

د ګډو ځواکونو په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت /ګډې امنیتي انتقالي قومنداني له مخې د افغان ملي پولیسو د سواد کچه 4.5% ده. د ځواکونو د سواد د کچې د لوړولو او د سواد د زده کړې په کورسونو کې د پرسونل د زیاتولو لپاره اوسنی موخې، د 2010 په دسمبر کې 20,000 ته رسېږي، چې د 2011کال په جولای کې به دا شمېره 40,000 ته لوړه شي؛ خو د ګډو ځواکونو په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت /ګډې امنیتي انتقالي قومنداني په اند لویه موخه په ابتدایي، دربیمه یا ټیټه کچه د ټولو افغان پولیسو لوستي کول دي.[94] د دې راپور تر چاپېدو وروسته، سیګار په دې لټه کې و، چې په کومو معیارونو، "ابتدایي، یا ټیټه کچه" پېژندلای شي او د بریاوو د ارزونې لپاره باید کوم معیارونه وکاول شي.



په اګست کې په کورنيو چارو وزارت کې د افغان ملي پوليس يو زده کوونکی لوجستکي زده کړې کوي. وزارت په لومړي ځل د افغان ملي پوليس پرسونل ته د لوجستک په اړه کمپيوټري زده کړې ورکوي. (د متحدو ايالتونو د هوايي ځواکونو تصوير، SSgt (Matt Davis

په تېرو درو مياشتو کې، ګډو ځواکونو په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت /ګډې امنيتي انتقالي قوماندانۍ هله د د افغانستان د عامه نظم ملي پوليس د تشکيلاتو لپاره د سواد کورسونه پيل کړ، چې په يوه ناڅاپي ازمېښت کې يې وليدل، چې د د افغانستان د عامه نظم ملي پوليس يوازې 6% پرسونل لوستی دی. د 2010 په جولای کې له 242 د افغانستان د ملکي نظم عامه پوليس نه ازموينه واخيستل شوه، چې يوازې 12 کسان پکې برياليي شو او په دې توګه د دوی فيصدي5%.[95]

د افغانستان د ملکي نظم عامه پوليس د افغان ملي ځواکونو د ځانګړو پوليسو ټولی دی. دا ښه روزل شوي دي او په يوازې ځان عمليات کولای شي او لوستي دي. دا ټولی د ولسواليو د پرمختيايي کارونو لپاره د کورنيو چارو وزارت د عملياتو لپاره اړين دی او کله چې د عامه نظم پوليس د لنډمهال لپاره د روزنې او تجهيز لپاره ولېږل شي؛ نو دوی د لنډمهال لپاره د هغوی ځای نيسي. د د افغانستان د عامه نظم ملي پوليس ځواکونو له ايساف سره يوځای د هېواد په جنوبي سيمو کې په کليدي عملياتو کې هم برخه اخيستې ده.[96]

په تېرو درو مياشتو کې، ګډو ځواکونو په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت /ګډې امنيتي انتقالي قوماندانۍ د افغانستان د عامه نظم ملي پوليس پر قومندان فشار راوړ، چې په زياترو هغو ځايونو کې، چې د افغانستان د عامه نظم ملي پوليس دنده ترسروي، د سواد د ازمېښت او روزنې کورسونه جوړ کړي. د ګډو ځواکونو په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت /ګډې امنيتي انتقالي قوماندانۍ له مخې، که څه هم د سواد لپاره ښوونکي پيدا شول؛ خو دا لړۍ ډېره ورو وه. په اګست کې د د افغانستان د عامه نظم ملي پوليس 592پرسونل په 10 ځايونو کې د سواد په کورسونو کې نومليکنه وکړه؛ د اکتوبر په لومړيو کې، 39 کسانو روزنيز کورسونه بشپړ کړل، چې دا په ابتدايي کچه د سواد د زده کړې ترلاسې و. د نومبر په پيل کې، د د افغانستان د ملکي نظم عامه پوليس NCO تشکيلاتو د بهترو زده کړو په ترلاسې لاس پورې کړ، چې په هرو شپږو اوونيو کې ترې د 150 لوستو کسانو هيله ده.[97]

## افغان ملي ښځينه پوليسې

د 2010 د اکتوبر پر 4مه، د CSTAC-A له مخې، 1,191 ښځمنو پوليسو په افغان ملي پوليسو کې دنده ترسروله:[98]

- 176 افسراني(د 3و جنرال افسرانو په ګډون)
- 417 خورد ضابطان
- 336 ګرځند پوليس
- 262 ملکي

په افغان ملي ځواکونو کې د ښځو استخدام د کورنيو چارو وزارت وروستی نوې کړلار ده. که دا تصويب شي؛ نو دا کړلار به ښځې له تبعيض او توپير وژغوري او د افغان ملي پوليسو په بېلابېلو برخو او رتبو کې به يې له نرو سره اوږه په اوږه د دندې او خدمت جوګه کړي. د کورنيو چارو وزارت پرېکړه کړې، چې تر 2014 کال پورې په افغان ملي پوليسو کې 5,000ښځينه پوليسې شاملې کړي.[99]

## د افغان ملي پوليسو پرمختياوې

د ګډو ځواکونو په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت /ګډې امنيتي انتقالي قومنداني له مخې، په تېرودرو مياشتو کې21 نوې پرمختيايي پروژې پيل شوې(د 82.2ميلونو ډالرو په ارزښت)، (د 718.7ميلونو ډالرو په ارزښت 227 رواني او (د 68.5ميلونو ډالرو په ارزښت) 27 پروژې بشپړې شوي دي. [100] سيګار د رواني حساب اخيستني په لړ کې د اسانتياوو او پرمختيايي چارو لپاره د افغان ملي پوليسو جوړ کړی پلان ارزوي.

## د افغان ملي پوليسو تجهيزات

لکه، په 3.24 شکل کې چې ښکاري، د 2010کال د جولای له 1مه د سپتمبر تر 19مې پورې، افغان ملي پوليسو ته 6,419 وسله، چې زياتره يې AK-47 وو، ورکړل شوه.[101] څرنګه چې په 3.4 جدول کې ښکاري؛ د مشترکه امنيتي انتقالي قومنداني په وينا، افغان ملي پوليسو ته 1,180 ګاډي او 1,181 مخابري سپارل شوي دي. دا د تېرو درو مياشتو تر شمېرې، چې 1,806 ګاډي او 1,650 راوديوګاني پکې ورکړل شوې وې، ټيټه وه.[102] د دې درو مياشتو تجهيزات، چې افغان ملي پوليسو ته ورکړل شوي دي، د بهرني پوځ د خرڅلاو (FMS) پروګرام يا د افغان ملي پوليسو او افغان ملي اردو د ګډ تړاو او وزارتونو په مرسته، له متحدو ايالتونو راغلي وو.[103]

## د کورنيو چارو له وزارت سره د نړيوالې ټولنې مرستې

د دفاع وزارت په وينا، د کورنيو چارو وزارت د اداري وړتيا د لوړولو او د معياري مشرانو د رامنځته کولو لپاره له دغه وزارت سره مرستې ته، له امريکا او نړيوالې ټولنې نه تر 200و زيات سلاکار راغلي دي. دا سلاکار د اړيکو او چارو په پرمختيا سره، د کورنيو چارو د وزارت د ملي حکومت د همغږۍ وړتيا زياتوي، چې له نورو وزارتونو، د ملي امنيت له شورا، ملي جرګې او ولسمشر سره تړونونه وکړای شي. دفاع وزارت وايي، چې د کورنيو چارو وروستي وزير شپږ نوي لومړيتوبونه ټاکلي دي:[104]

- ښوونه روزنه
- د مشرۍ رامنځته کول
- د اداري فساد پرضد مبارزه
- د ژوند د کيفيت او د کاري شرايطو ښه کول
- د تشکيل بيا کتنه او جوړونه

**د بهرنيو ځواکونو د خرڅلاو شعبه:** د بهرنيو ځواکونو د خرڅلاو د پروګرام اقتباس د دفاع وزارت د حکومت نه حکومت ته متحدو ايالتونو د تجهيزاتو، خدمتونو او روزنې د خرڅلاو کړندود(مېتود) دی. د دويزFMS، پلور-FMS خرڅلا د دفاع د امنيت د تيارونکې کمپنۍ(DSCA) په لاس تر څار لاندې و. د دوديزو FMS د تدارکاتو په مقابل کې، دفاع وزارت، د افغانستان د امنيتي ځواکونو لپاره د کانګريس د بېلې شوې پانګې په لومړۍ کارونه کې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د سمبالښت يا تجهيز او روزنې لپاره وسلې اخلي

**سرتاسري:** په ستراتيژيک او عملياتي کچه په يوه تالار کې، د يوه قومندان په لوجيستکي ساحه کې له يوه پوځ نه د سامانونو اخيستل او بل ته يې ورکړه، چې د دويمي اردو ستر نوښتونه وليدل شي. سرتاسري پلان بايد د ورکړې ځانګړې پروسيجر ولري.

سرچينه: د دولت د احتساب دفتر(متحده ايالات)267-9- "د افغانستان د وسلو حسابورکره" پرليکه، 10/14/2010؛ DSCA، "د بهرنيو ځواکونو خرڅلاو" پرليکه، 10/16/2010. دفاع وزارت، د نظامي اصطلاحاتو سيند"، پرليکه 7/12/2010

3.24 شکل

د ملي پولیسو په کار اچول شوي وسلې، جولای 31 – سپتمبر 19، 2010-11-07




یادونه: دا وسلې د ملي پولیسو ځواکونو ته له 7/31/2010 څخه تر 9/19/2010 لیږدول شوې وې.

سرچینه: NTM-A/CSTC-A، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/4/2010.

3.4 جدول

| افغان ملي پولیسو ته ورکړ شوي مخابرې او ګاډي | |
|---|---|
| **ګاډي** | |
| روښانه او د منځنیو تخنیکونو ګاډي | 988 |
| زریدار HMMWV[a] | 192 |
| **مخابرې** | |
| د لوړې فریکونسۍ مخابرې [b] | 1,128 |
| د لوړې فریکونسۍ مخابرې [c] | 53 |

الف. زریدار HMMWV، چې M1152، M1151 او M1152امبولینس ماډل
ب. د لوړې فریکونسۍ مخابرې، چې د بېلابېلو جوړښتونو موټرولا او ICOM رادیو سیستمونه لري.
ج. د لوړې فریکونسۍ مخابرې، چې د بېلابېلو جوړښتونو - CODANرادیو سیستمونه لري.

سرچینه: سیګار ته د ګډ ځواک مشترکه امنیتي انتقالي قومنداني ځواب، نېټه، 10/4/2010

- د شناخت او تنظیم د سیستم پرمختیا

د دفاع وزارت په وینا، په کورنیو چارو وزارت کې د حساب اخیستنې د وړتیا د زیاتولو د هڅو د یوې برخې په توګه، وزیر په دې وروستیو کې د 19 کلیدي وزارتي مقرریو امر ورکړ. وزیر وویل، چې نوموړې اراده لري، چې دا ډول ګامونه، په سیمه بیزه، ولایتي او ولسوالۍ په کچه هم ترسره کړي.[105]

## د متحدو ایالتونو ځواکونه

د 2010کال د سپتمبر پر 30مه، د مرکزي قومنداني (متحده ایالات) له مخې، 103,727 ځواکونو په افغانستان دنده ترسروله. دا ځواکونه په لاندې ډول استخدام شوي وو: [106]

- 79,985ایساف ته استخدام شول
- 2,756 ګډ امنیتي ځواکونو په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت /مشترکه امنیتي انتقالي قومندانیکې دنده ترسروې
- 9,135 د امریکا او افغانستان په ګډو ځواکونو (USFOR-A) کې دنده ترسروي.
- پاتې 11,851 نور(مشخص نه دي)

د 2010 کال د اکتوبر پر 18مه، دفاع وزارت خبر ورکړ، چې په افغانستان کې د خپلواکۍ د جګړې له پیله د یوځې مرګ ژوبلو شمېر 1,237 و. [107] په دغه شمېره کې 1,010 سرتېري په نښتو کې وژل شوي او 227 نور په همداسې پیسو کې مړه دي. پر دې سربېره، 4,529 ټپي شوي او 4,176 هم ټپي شوي؛ خو خپلو دندو ته په 72 ساعتونو کې بېرته راګرځېدلي دي.[108]

# د قومندان د تولي د ارزوني اوزار

د 2010 کال د سيګار د جولای په راپور کي راغلي دي، چي تېر کال د ايساف ګډې قوماندې هغه سيستم، چي دوی به د افغان ملي امنيتي ځواکونو د چمتوالي لپاره د سنجش په توګه کاراوه، بدل کړ. د 2010کال د اپريل په وروستيو کي، د ايساف ګډې قوماندې د يوه ټولي په کچه يو ارزونکی سيستم ځای پرځای کړ، چي د قومندان د تولي د ارزوني اوزار(CUAT) يي ورته وايه. دي د ورتياوو محک، چي له 2005 کال راهيسي د دولت ضد موخو پرضد د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ورتيا د غښتلتيا د څېرني لپاره کارول کېده، پرځای کړ.

د 2009 کال له اکتوبر نه د 2010 کال تر مې پوري سيګار، د ورتياوو سيستم وکوت او په دې پوه شو، چي دا د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ورتيا باوري ارزونه نه وه وړاندي کړې. سيګار، د ايساف ګډې قوماندې ته 10 سپارښتني وکړې، چي لاندي لاسته راوړني ولرئ:[109]

- د ارزوني د پايلو، څېرنه، باور او راپور ښه کړئ.
- د افغان ملي امنيتي ځواکونو په ورتياوو کي د پاملرني وړ زياتوالی راولئ
- د افغان ملي امنيتي ځواکونو د بريو له خنډونو سره، چي په ورتياوو محک کي ليدل شوي دي، مبارزه وکړئ.

CUAT ښکته د ولسوالی او حوزه په کچه د افغان ملي پوليسو او د قوماندانی او کنډ په کچه د افغان ملي اردو په ګډو، د ځای پرځای شوي

"تاسي بايد ډېر احتياط وکړئ...چي بې له بېړې د کوربه ملت دځواکونو پرمختيا چټکه شي، ځکه چي تاسي دومره ګرندي يئ، چي معيار مو پر لاره غورځولی دی.
"تاسي په دې هڅه کي يي چي معيار او يواځي معيار ترلاسه کړئ"

د ايساف او متحدو ايالاتو او افغانستان د ګډو ځواکونو مشر، جنرال ډيويډ پيټرياس

سرچينه: ګډ ځواکونه په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت /مشترکه امنيتي انتقالي قومنداني، افغان ملي امنيتي ځواکونه: د شمېر او معيار خبرې" 9/17/2010، پرليکه 10/21/2010.



ځواکونه ارزوي.[110] د ايساف په وينا، په دې کي د مشرۍ ډلبندي، عمليات، ورتيا، لوجيستک، تجهيزات، پرسونل، پاملرنه، خبري اترې او ښوونه روزنه راځي.[111] د CUAT سيستم ښېړ اوونيزه ارزونه کاروي، چي د افغان ملي امنيتي ځواکونو بېلابېلي برخي وارزوي. په اکتوبر کي، د ايساف ګډې قوماندې سيګار ته خبر ورکړ، چي د CUAT په عملي کېدو له څو اړخونو د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ارزوني مراحلو پرمختګ کړی دی، چي په دې کي د افغان ملي امنيتي ځواکونو د عملياتو پر اغېز ګڼ پاخه او کره راپورونه هم راځي.[112]

د CUAT له خوا د CM په سيستم کي پرمختيا، د نظامي هڅو د سمې او دقيقي ارزوني لپاره د دغه سيستم په ښه کولو کي د سيګار سپارښتنو ته اشاره کوي. د بېلګې په توګه، سيګار په دې پوه شو، چي د ورتياوو ارزوني پر څرنګوالي ډېر زيات ټينګار کوي، چي دا د افغان ملي ځواکونو د عملياتي ورتيا دقيق انځور نه شي وړاندي کولای.[113] د ورتياوو ډلبندی د سيستم غوندې. CUAT ارزونو د معيار چمتوالی ونبود، چي د افغان ملي امنيتي ځواکونو په عمومي توګه کارګر لري او مجهز او روزلي دي؛ سره له دې چي دې نوي سيستم قوماندان په دې برلاسي کړل، چي د معياري ضوابطو ژوندی



د 2010کال د سپټمبر پر 6مه، د کابل په غازي روزنيز مرکز کې په فراغت غونډه کې د افغان ملي اردو سرتېري تيارسی ولاړ دي. په دې تېرو مياشتو کې، د ايساف ګډې قوماندې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د چمتوالي او وړتيا د لوړولو لپاره د ارزونې په پياوړې کولو کې خپلو مرستو ته دوام ورکړ. (د ايساف تصوير، SSgt جوزف سوافورډ)

ارزونه وکړي، لکه مشري، عملياتي وړتيا و استخبارات. د CUAT يو لويه نښه د قومندان هر اړخيزه ارزونه ده، چې داسې ارزونکي ته اړه ده،چې ذهني ارزونې په کيسه ييزه بڼه وړاني کړي. [114]

CUAT همدا راز د پرسونل ځواک په اصطلاح کې د عملياتي وړتيا پر اندازه پرمختګ کوي. د وړتياوو د ډلبنديز سيستم په ارزونه کې، سيګار وليدل، چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د پرسونل د کچې د معلومولو لپاره کاربدونکي ميتودونه د ټولي په وړتيا کې غلو ښيي. د پرسونل شمېرنې، چې د وړتياوو د ډلبندۍ په سيستم کې کاربدلې، په هر ټولي کې د پرسونل د شمېر په معلومولو ولاړې وې. سيګار په دې پوه شو، چې دې شمېرو د هغه پرسونل، چې له دندې غير حاضر و، او د هغه پرسونل چې پر دنده وو، دقيقه شمېره ورنه کړه.[115] د ايساف دګډې قوماندې په وينا، CUAT د افغان ملي اردو ټوليو ته، چې د ايساف له ډلو سر ملګري وو، د حاضرو سرتېرو په اړه مالومات راټول کړي دي. د ناملو ټوليو په اړه، دوی د حاضرو سرتېرو فيصدي خپره کړې ده. [116]

د وړتياوو د ډلبندۍ د سيستم پرمهال، سيګار پوه شو، چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو ټوليو، چې لويې رتبې(وړتياوو1) يې ترلاسه کړې وې، په دې نه وو توانيدلي، چې خپل اسناد وساتي. دغه ټولي، چې پر کومه مياشته يې لوړې رتبې ټاکل کېدې، بېرته راګرځېدلي دي. سيګار په کار کې، د پښېمانتيا، تکليف او د سم څار، لاملونه وليدل. پر دې سربېره، سيګار پوه شو، چې د وړتياوو سيستم د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره تر وړتياوو1 پورې د رسېدو په مخ کې خنډونه پيدا کوي، څکه چې پايله يې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ټوليو لپاره د ايساف د څار کموالی او بشپړ له نظر غورځول و.[117] په سيپټمبر کې، د ايساف ګډې قوماندې خبر ورکړ، چې دا د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره په ګډه د يوې مثبتې انګېزې ورکونکي پروګرام د ترسرايني لپاره امکانات ګوري. په دې سره د افغان ملي امنيتي ځواکونو هغه اجزا، چې په لوړه کچه يې عملياتي لاسته راوړنې لرلې دي او بې له ايساف په يواځې توګه د عملياتو د کولو جوګه وي، مکافات کړي.[118]

# حکومتداري

د 2010 کال د سپتمبر پر 30مه متحدو ایالتونو په افغانستان کې پرمختیایي چارو او د حکومت د واک غزونې لپاره تر 16.15 بیلونه ډالره ورکړل.[119] په دې تېرو درو میاشتو کې د افغانستان اسلامي جهوري دولت او نړیوالو ملګرو یې د هغو کاري پلانونو او لومړیتوبونو پر لور مزل پیل کړ، چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت یې په جولای کې د کابل په کنفرانس کې یادونه کړې وه. دې پلان پر 2008 کال د افغانستان د ملي پرمختیا د کړلارې(ANDS) لپاره د حکومت د واک خپراوي ته د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ژمنتیا تصریح او رڼه کړه: "د ولسواکۍ د مراحلو پیاوړتیا او اساسي قانون، بشري حقونه، د قانون نقش، د عامه خدمتونو مهیاکول او د حکومت حساب اخیستنه".[120]

دا برخه، د ټاکنو او د ټاکنو د ترسره کېدو، سیمه ییزو حکومتداریو، عامه ادارو، قضایي سیستم او بشري حقونو په ګډون، د متحدو ایالتونو، نړیوالې ټولنې او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت پر هغو هڅو رڼا اچوي، چې د حکومت د واک له غزولو او د قانون له رول سره مرسته کوي. دا برخه په تېرو درو میاشتو کې پر نویو مقرریو هم رڼا اچوي.

## د 2010کال د سپتمبر ټاکنې

د 2010کال د سپتمبر پر 18مه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ولسي جرګې- د ملي شورا ټیټه برخې- 249 څوکیو لپاره ټاکنې ترسره کړې. [121] د اکتوبر په وروستیو کې چې دا راپور رسنیو ته راوته؛ نو د ټاکنو خپلواک کمیسون لا وروستۍ پایلې اعلان کړې نه وې.[122] د ټاکنو د خپلواک کمیسون ټاکنو ته د ورکړې نېټې له مخې، په پام کې وه، چې د 2010کال د اکتوبر پر 30مه د ټاکنو پایلې اعلان شي. [123]

د متحدو ایالتونو د بهرنیو چاروزارت په وینا، دې ټاکنو ځانګړې ارزښت لاره، ځکه چې ولسي جرګه پرله پسې پر ارګ خپل ځواک کاروي. د ځواک د دېربښت یوه بښه بېلګه د ولسي جرګې د غړیو له خوا د ولسمشر حامد کرزي د کابینې د کاندیدو غړیو ردول دي. د 2010کال له جنورۍ راهیسې ولسمشر کرزي، ولسي جرګې ته د کاندیدانو څو لسته ولېږل. د 2010کال د سپتمبر تر 30مې لا په 25نوماندو وزیرانو کې د 7و تصویب ترلاسه کړی نه و.[124]

د دفاع وزارت په وینا، امنیتي ستونزې او کمزورې حکومتي ادارې لا تراوسه د ټاکنو پر وړاندې خنډونه پیدا کوي.[125] د 2010کال د اکتوبر پر 21مه د ټاکنو د خپلواک کمیسون مشر اعلان وکړ، چې ځینې ګټیالي نوماندان په ټاکنو کې د کړې درغلۍ له امله پارلمان ته نه شي تللای. [126]د ټاکنو خپلواک کمیسون 224 هغه کاندیدان، چې په ټاکنو کې پرې د درغلۍ شک کېده، د ټاکنو د شکایتونو د اورېدو کمیسون ته وروپېژندل. که څه هم د لومړنیو رایه اچونکو شمېر 5میلونه تخمین شوی و؛ د ټاکنو خپلواک کمیسون، لکه په 3.25شکل کې چې ښکاري، 1.3 میلیونه رایې د درغلۍ له امله باطلې اعلان کړې. د ټاکنو خپلواک کمیسون د ټاکنو ورځې ته 5,510 ټاکنیز

له یوې رایې نه د زیاتو راویو د ورکړې د مخنیوي لپاره د ټاکنوخپلواک کمیسون د رایې اچونکي هر مرکز ته دوه بوتله رنګ ورکړ. هر رایه اچونکي به خپله ګوته د رنګ په بوتله کې ډننه کړه، چې مالومه شي، چې رایه یې ورکړې ده. د ټاکنو د خپلواک کمیسون په وینا، دا رنګ له 72نه تر 96ساعتو پورې پر ګوته پاتې کېږي؛ خو پر نوکانو بیا له 2 نه تر 4 اوونیو پورې پاتې وي. د هر رایې اچونې له مرکزه غوښتل شوي و، چې په یوه بهرني رنګ وګوري، چې د جعلي رایو مخه ونیول شي.

سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسون "د ټاکنو خپلواک کمیسون مطبوعاتي اطلاعیه وايي، چې نه پاکېدونی رنګ وکاروي" 9/14/2010.

3.25 شکل

هغه رايي چې اچول شوي او هغه چې بې کاره کړای شوي (په مليونونو)




يادونه: هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمنې شوي.

سرچينه: UNAMA، "مهم خبر،" 10/21/2010.

مرکزونه پرانيستي وو؛ خو د 2,543 مرکزونو رايي د درغلی د تور له امله لغوی شوې.[127] شخړو هم ټاکنې رد کړې. د بېلګې په توګه،د 2010کا د اګست پر 31مه، څلور سړي کانديدان او پنځه ښځمنې، چې د يوې ښځينه کاندې لپاره يې کمپاين کاوه، ووژل شول.[128]

## د ټاکنو پانګونه

د بهرنيو چارووزارت په وينا، د ټاکنو د عادي بوديجه 149.6 ميلونه ډالره وه. سره له دې، چې د ټاکنو د وروستيو پايلو تر اعلانه ټولې پيسې نه ورکول کېږي. د عادي بوديجې پانګونه، د ملګرو ملتونو د پرمختيا پروګرام(UNDP) په لاس متحدو ايالتونو او نړيوالې ټولنې وکړه.[129]

د 2010کال د سپتمبر تر 30مې پورې له 2008 نه تر 2010 پورې امريکا د افغانستان ټاکنو ته 180.9ميلونه ډالر ورکړي دي. دا مرستې درو پروګرامونو ته ورکړل شوي دي:[130]

- UNDP د سبا لپاره د قانوني او انتخاباتي وړتيا د ودې پروګرام د ټاکنو له عادي بوديجې سره مرسته وکړه. د 2009 او 2010 کال د ټاکنو د ترسرايني لپاره 55 ميلونه ډالره مستقيمه مرسته.
- د ټاکنيزې لړی له پروګرام سره مرسته، چې د ټاکنيز سيستم لپاره د نړيوالو مرستو له لارې، د افغانستان د ټاکنو قانون ته اضافي ظرفيت او د پوهانو مشورې برابروي. (عادي بوديجه): د 2008کال له سپتمبر راهيسې د 2011کال تر جونه، 58.5 ميلونه ډالره.
- د ټاکنيزې لړی له پروګرام سره مرسته، چې د ټاکنيز سيستم لپاره د نړيوال فنډ له لارې، د افغانستان د ټاکنو قانون ته اضافي ظرفيت او د پوهانو مشورې برابروي. (عادي بوديجه): د 2008 له جون نه د 2011 تر جون پورې 67.4 ميلونه ډالره

## د ټاکنو سمون

سيګار پر ټاکنو دوه راپوره جوړ کړي دي- چې يو يې د 2009 کال په جولا او بل په دې تېرو درو مياشتو کې د 2010کال د سپتمبر پر 9 دی-.[131] په خپل وروستي راپور کې، سيګار په 2004، 2005 او 2009 کال کې د افغانستان د ټاکنو د پروسې پلټنی کړې ده او د افغان ټاکنو د بريې 16 لاملونه يې په ګوته کړي دي. لکه په 3.5جدول کې چې ښوول شوي، دا موضوع پر دوو کټګوريو ويشلې ده: عملياتي ستونزې، چې ټاکنيزه پروسه يې د درغلی او نورو ستونزو له امله حساسه کړه او بل اوږدمهالي ستونزې، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له خوا سياسي پرېکړو او ټاکنيزې اصلاح ته اړې دي.[132]

3.5 جدول

**د ټاکنو موضوع د SIGAR د راپور د لوست په زده کړو کې شته دی**

| عملياتي موضوع | اوږدمهالي موضوع |
|---|---|
| د رايي اچوني د مرکزونو شناخت | د رايي اچونکو ډېرښت |
| د جعلي ټاکنيزو پاڼو مخنيوی | د کانديدانو پلټنه |
| د کانديدانو د استازو او د ټاکنو د څارنو راوستل | د خپلواک برېښنايي نظم جوړونه |
| له نيولو د رايو د زنځير ژغورنه | د يوې ناڅرګندې رايي بدلون |
| ژر رايه اچونه | د ټاکنو د شمېر کمول |
| د رايو ژر او رڼه شمېرنه | د ولسواليو او ښاريو لپاره د ټاکنو برابرول |
| د بدې اخيستنو پرضد پرېکنده غبرګون | |
| د رايو باطلول | |
| د شکايتونو د اورېدلو ځای | |
| د ګوندونو ترمنځ د همغږۍ پرمختيا | |

سرچينه: سيګار، 10-6 رسېدګې، "د افغانستان د ټاکنو د ترسرايني او تيارولو لپاره زده شوي لوستونه" 9/9/2010 , مخ i.

د بهرنيو چارووزات په وينا، د ټاکنو د خپلواک کميسون مشرتابه د ټاکنيزې اصلاح لپاره ګام پورته کړی دی، چې شفافيت او ټاکنيزه پروسه پياوړې کړې او د درغلی شونتياوې کمې کړي.[133] د بهرنيو چارووزارت په وينا، د ټاکنو د خپلواک کميسون د ټاکنو او لاندې فعاليتونو د ترسرايني مسووليت واخيست.[134]

- له افغان ملي امنيتي ځواکونو سره همغږې ولري، چې دا مالومه شي، چې د رايي اچوني کوم مرکز بايد د امنيتي ستونزو له امله وتړل شي.
- تر ټاکنو يوه مياشت مخکې د پرانيستو ټاکنيزو مرکزونو لست خپور کړي.
- د عامه خبروني د کمپاين ترسراينه
- د داسې پلان جوړول، چې پر بنسټ يې ټاکنيز شيان، انتخاباتي مرکزونو او له هغه ځايه بېرته د ټاکنو کميسون ته ولېږدول شي



**په هرات کې د رايي اچونو** د مرکزونو کارکونکي د ټاکنو پر ورځ د رايي شمېرلو تياری کوی. د ټاکنو خپلواک کميسون د ټاکنو د ترسرايني او تياري ټول مسووليت پر غاړه واخيست. (د يوناما تصوير)

د ټاکنو خپلواک کميسون د ټاکنو په اصلاحاتي طرحو او بوختياوو کې هم برخه اخيستې ده. د ملګرو ملتونو د سرمنشي په اند، د ولايتي دفترونو په پرانسته، د ټاکنو خپلواکو کميسون خپل مسووليت ډېر زيات نامتمرکزه کړی دی. ملګرو ملتونو راپور ورکړی دی، چې د ټاکنو د خپلواک کميسون ولايتي دفترونو د 2010کال د ټاکنو د ټولو شکايتونو په اړه پرېکړه کړې ده؛ د ټاکنو د خپلواک کميسون مرکزي ځانګې بيا يواځې انتخاباتي عريضو ته پام اړولی دی. UNDP او د ټاکنيز سيستم لپاره نړيوالو مرستو د انتخاباتو د کميسون له نامتمرکزو هڅو سره مرسته کوي.[135]

## د عامه ادارو پرمختګ/اداري تحول

د 2010 کال په جنورۍ کې، متحدو ايالتونو او نړيوالې ټولنې پرېکړه وکړه، چې په پرمختيايي چارو کې زياتېدونکې ډالر مستقيما د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت وزارتونو ته ورکړي. د متحدو ايالتونو ډېرې پروژې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له چوکاټه بهر ترسره کېږي، چې په دې سره د افغانستان عامه ادرې ځنډې ته شوې دي. سملاسي، متحد ايالتونه اراده لري، چې خپلو 50% بيارغنيزو چارو ته مستقيمي مرستي ورکړي. د دولت له لارې پانګونه به تر دوو ډېر کلونه ونيسي او دا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په وړتيا پورې تړلې ده،چې څرنګه په خپلو ادارو کې درغلي کموي او وړتيا زياتوي.[136] د ارزونې د پروسې په اړه د نورو مالوماتو لپاره د دې راپور "اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا" برخه وګورئ.

په تېرو درو مياشتو کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په وړو او لويو پوستونو کې د پام وړ پرمختياوې ليدل شوې دي. د بهرنيو چاروو وزارت په وينا، د ملي شورا د واک د غزيدا او پياوړتيا لپاره د ولسي جرګې هغه پرېکړو ته اشاره کېدای شي، چې د ولسمشر کرزيد کابينې ځو غړي يې رد کړل. ولسمشر کرزي د کابينې د کانديدانو لومړی لست د 2009کال د دسمبر پر 19مه وروليږه.[137] د 2010کال د سپتمبر تر 30مې لا کابينې په وزارتونو کې لنډمهالو سرپرستو وزيرانو کار پرمخ بيوه: د ټرانسپورټ وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، د مخابراتو وزارت، د مېرمنود چارو وزارت، د اوبو او برېښنا وزارت، د ښاري پراختيا وزارت او د عامې روغتيا وزارت. د بهرنيو چاروو وزارت دا هم وايي، چې د 2010 کال له جولای راهيسې هېڅ قانون نه پاس شوی، ځکه چې له دغه وخته ملي شورا رسمي غونډې نه دي کړې.[138]

د 2010کال په اګست په درغلۍ کې کې د کرزي د اداري د يوه غړي په نيول کېدو، ولسمشر کرزي د درغلۍ پرضد د مبارزې له ادارو ټوليو-د لويو جرمونو ځواک او حساس څېړنيز ټولي- چې د نيولو مسووليت يې پرغاړه و، د څېړنې امر وکړ. له سناتور جان کيري سره تر ليدو وروسته، ولسمشر هوکړه وکړه، چې دا دواړه اداري به همداسې خپلواکې وي او بې له کومې ويرې به د درغلۍ پرضد مبارزه کوي.[139]

په سپتمبر کې له پاکستاني ولسمشر سره په يوه ګډه خبري ناسته کې ولسمشر بيا په سيمه کې د سولې، امنيت او پرمختګ د راوستو اړونده خپله ژمنتيا تازه کړه.[140]په همدې نيت په تېرو درو مياشتو کې د سيمه ييزې همکارۍ لپاره ولسمشر کرزي په څو ناستو کې ګډون وکړ. د بېلګې په توګه، د 2010 کال د اګست 5مه، د ايران او تاجکستان له ولسمشرانو سره په يوه درې اړخيزه ناسته کې برخه واخيسته. د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وينا، دربواړو مشرانو د اورګاډي د پټليو، سرکونو، د انرژۍ يا برېښنا او انتقالي ليکو په ګډون د ګډو ستراتيژيکو پروژو په پرمختيا خبرې وکړې. دوی دربواړو ولسونو ترمنځ د ګډې همکارۍ په موخه د لنډمهالو، منځنيو او اوږدومهالو کړلاړو د جوړولو لپاره ګډه جرګه ګې هم جوړه کړه. [141]

د 2010کال د اګست پر 18مه، ولسمشر کرزي د روسيې له ولسمشره سره، چې د پاکستان او تاجکستان ولسمشران هم وو، په يوه ګډه ناسته کې وليدل. د دې ناستې زياتره بحث تر سيمه ييز اقتصادي پرمختګ او سولې يا ثبات پورې محدود وو. [142]

**د دفاع وزارت په وينا، د کنټرول او توازن مفهوم د افغانستان په دولت کې نسبتا نوی دی. که څه هم ملي شورا د واک پر ويش ډېرې تېزې خبرې وکړې؛ خو د افغانستان د ولسمشر دفتر بيا هم د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت تر ټولو خواکمنه برخه وه. دا دفتر پر ولسمشر سربېره څلور ځانګې يا اداري لري:**

- **د دفتر ريس**
- **د ملي امنيت شورا**
- **د اداري چارو دفتر**
- **د ولسمشر د وياند دفتر**

**د هرې ځانګې مشر ولسمشر ټاکي او بايد ملي شورا يې تاييد کړي. د ولسمشر د دفتر پر بنسټ، هره ځانګه دا واک لري، چې د خپلو چارو د ښه والي لپاره اړين ګامونه پورته کړي.**

سرچينه: دفاع وزارت، د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، نېټه، 10/8/2010؛ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د ولسمشر دفتر "ځانګې"، نېټه: 9/16/2010

## د ورتیا د لورتیا لپاره د متحدو ایالتونو مرسته

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ورتیا د لوړولو لپاره، په افغانستان کې د متحدو ایالتونو په ملکی مرستو کې پاموړ زیاتوالی راغلی دی. د بېلګې په توګه، په دې تېرو درو میاشتو کې د سیګارد راپور له مخې، د 2010 کال د سپتمبر تر 9 مې 418 ملکي امریکایان په افغانستان کې د متحدو ایالتونو له اهدافو سره کارونه کوي. متحد ایالتونه پلان لري، چې د 2012کال تر جنوری پورې د دوی شمېر 1,500 ته لوړ کړي.[143] په پلټنه کې د زیاتو مالوماتو لپاره، د دې راپور 2 مه برخه وګورئ.

متحد ایالتونه د ښاري ادارو د پروګرام او د والیانو د اجرااتو د مرستو په څېر پرګرامونو له لارې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ورتیا د پرمختیا لپار کار کوي. دا دواړه پروګرامونه د سیمه ییزو حکومتي خدمتونو د لوړولو لپاره مالي لګښت برابروي.[144]

### د والیانو د اجرااتو مرستي

د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو ټولني(USAID) له مخې، د والیانو د اجرااتو مرستي، والیانو ته د سیمه ییزو خدمتونو د سمبالښت لپاره پانګه او پیسي ورکوي.[145] والیان دا پانګې یا مرسته یواځې په شپږ ډوله خدمتونو کې لګولای شي:[146]

- ګاډي او تجهیزات
- سفر او ترانسپورټ
- د ټولني لاسرسی
- مالوماتي ټینکنالوژي او مخابرات
- د ورتیا لوړوالی
- د ملکي اسانتیاوو رغونه او څار

د دغه مرستي بریالی لګونه والي په دې برلاسی کوي، چې له خپلو بېلابېلو اړوندو څانګو او اجزاوو سره ټینګه اړیکه ولري.[147]

د 2010کال د اګست پر 20مه، متحدو ایالتونو وویل، چې د والي د اجرااتو مرستي له لارې، والیانو تر 3.6 میلونو زیات ډالر ترلاسه کړي او (لګولي) دی. نژدې 1.9 میلونه ډالره یې د 2010کال د جون له 21 نه د اګست تر 20مې مصرف شوي وو.[148]

والیان دا مرستي به نېغه توګه نشي ترلاسه کولای، بلکې د دې پرخای په دې پروژه کې د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو د ټولني(USAID) تړوني(قردادي) شریکانو په لاس مصرفېږي. د 2010کال د اکتوبر تر 4مه ټول 34 والیان د دې پروګرام برخه شول. هر والي ته د مرستي دوام د هغوی په کارونو او پرمختیاوو پورې اړه لري. د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو د ټولني(USAID) په وینا، والیان د لاندې پینځو کارونو په ترسراینه ارزول کېږي:[149]

- د پروګرام کیفیت
- د ګډ ګټو سم او مساوي وېش
- سلا مشوره
- حساب ورکونه او شفافیت
- د بودیجي د پرمختیا لارې چارې

### د افغانستان د ښاري چارو د ادارې پروګرام

د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو د ټولنې په وینا، د هر ولایت ښاروالۍ ښو ښاري خدمتونو ته اړې دي، په تېره هغه ولایتي مرکزونه چې واړه وي او نفوس یې هم لږ وي.[150] د افغانستان د ښاري چارو د ادارې پروګرام د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو د ټولنې په نوښت پیل شوی دی، چې په هر ولایت کې د ښاروالیو په کچه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولتي وړتیا وغوروي او سرچینې یې ډېرې کړي. د دې پروګرام موخه د ښاروالیو په دې برلاسي کول دي، چې لاندې اړین عامه خدمتونه وکړي:[151]

- د اوبو او انرژۍ یا برېښنا اداره او تنظیم
- د اوبو لپاره لښتي جوړول
- خوندي لارې
- چمنونه
- جامع مدیریت
- د ډنډونو پاکوالی
- د ځوانانو فعالیتونه
- شنه چمنونه او ښارونه

لکه د سیګار د 2010 د جولای په راپور کې چې راغلي، چې د ښاري چارو اصلي پروګرام پای ته رسېدلی او د تازه پروګرام لپاره تړونونه د 2010کال په جون کې لاسلیک شول.[152] لکه په 3.26 شکل کې چې ښکاري، چې له دغې نېټه وروسته په 14 کې 13 په ختیځ کې تر سیمه ییزې قوماندې د استخدام لګښت او 1 په سویل کې تر سیمه ییزې قوماندې د استخدام لګښت لاندې د خدمتونو په ترلاسي پیل کړی دی. د لښکرګاه اضافي ښاروالۍ ته عادي مرسته، چې څرنګه دې پروګرام ترسروله، ورکړل شوې ده. د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو د ټولنې د اندازې یا براَورد له مخې به پر دغه پروګرام 252.7میلونه ډالرولګېږي. د 2010کال د اکتوبر پر 21 متحدو ایالتونو 12میلونه ډالره دې پروګرام ته ورکړل، چې ټولې ژمنه کړې روپۍ یې 24.4 میلونه ډالرو و.[153]

د USAID په وینا، په هره ښاروالۍ کې حساب اخیستل روان دي، چې له وړتیا او جوړښت سره مرسته وشي. پر دې سربېره، په ختیځ کې د عامه ذهنیت سروی هم روانه ده، چې لومړي خدمتونه مالوم شي. د دې سروې یا ټولپوښتنې په پایله کې لاندې ځینې پروژې پیل شوې:[154]

- په اسداباد کې تر ځمکې د لاندې لښتیو رغونه
- په جلال اَباد کې ننګرهار لېسې ته نژدې د لویې لارې ترڅنګ د پلې لارو رغونه
- په غزني کې د کابل کندهار د لویې لارې د منځ دېوال جوړول
- په ښرنه کې تر ځمکې لاندې لښتیو رغونه

د امریکا متحدو آیالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې په وینا، د ښاري چارو د ادارې د پروګرام لپاره امنیتي کمربندونه او خنډونه لویې ننګونې دي. په ختیځ کې یواځنی ځای پارون دی، چې د دې پروګرام خدمتونه یې نه دي ترلاسه کړي، ځکه چې امنیتي ستونزو له ښاروالیو سره د مرستې مواد له خنډ وځنډ سره مخ کړل. د امریکا متحدو آیالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې وویل: څرنګه چې پارون ته ځمکنۍ لار نه ده تللې؛ نو کارګر اړ دي، چې په نظامي الوتکو کې هلته لاړ شي.[155]

که ولسمشر د ښاروالیو د نویو خدمتونو لپاره د نویو کارګر تشکیل تصویب نه کړي؛ نو دا ستونزې به نورې هم زیاتې شي. د امریکا متحدو آیالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې په وینا، که دا تشکیل تصویب نه شي؛ نو دا پروګرام به هم وځنډېږي. د تشکیل په تصویب کې ځنډ، د اصلي غړیو په تقرر کې ځنډ رامنځته کوي.[156]

شکل 3.26

: ښاروالی د دولتداری پروګرام: د مرستي ترلاسه کوونکي




یادونه: په هلمند کې لښکرګاه د دې پروګرام د پېل لپاره د تیاري فعالیتي مرسته ترلاسه کوي.

سرچینه: USAID، د سیګار د مالوماتو په وړاندي غبرګون، 10/4/2010.

## د سیمه ییز حکومتداری وده

متحد ایالتونه، د ولایتي بیارغوني د ډلو او د ولسوالیو د بیارغوني د ډلو د ولسوالیو د ملاتړ ټیمونه په لاس له سیمه ییزو حکومتداریو سره مرسته کوي. د سیګار د 2010 کال د جولای په درې میاشتني راپور کې راغلي، چې د ولایتي بیارغوني 27 ډلې په افغانستان کې کار کوي. متحد ایالتونه په دوی کې د 13و ډلو مشري پر غاړه لري؛ پاتي نور يې ایتلافي ملګري پرمخ بیايي. [157] د متحدو ایالتونو ملکي وګړي هم په دغو ډلو کې د سیمه ییزو حکومتداریو د خپلواک مدیریت په چوکاټ کې کار کوي، چې د ولسوالیو په کارونو کې پرمختیا راولي. د دغو نوښتونو زیاتره برخه په سویل کې چې د ترهګر پرضد پکې عملیات روان دي، په بېلابېلو ولسوالیو کې د دولتي خدمتونو رغوني ته ډېره پاملرنه کوي. [158]

د 2010کال د لومړیتوبونو او اجراتو د پلان د برخي په توګه، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت پتیېلي، چې د 2011کال په جولای کې د ولایتي بیا رغوني ډلې او د ولسوالیو د بیارغوني ډلې په ولایتي مرستندوی ډلو کې ورګډ کړي. [159] خو د بهرنیو چارود وزارت له مخې، متحد ایالتونه یواځي پر دې فکر کوي، چې د ولایتي بیا رغوني ډلې له نظامي منګولو اوباسي او ملکي وګړو ته يې وسپاري. [160] د امریکا د بهرنیو چاروو‌زارت ټینګار کوي، چې نور باید د ولایتي بیارغوني ډلې له منځه ولاړې شي، ځکه چې افغان ملي امنیتي ځواکونه د امنیت

**پر 2007کال IDLG جوړ شو، چې د والیانو او ولسوالانو د ټاکنې لړۍ وڅاري- دا کار مخکې کورنیو چارو وزارت کاوه.**

سرچینه: CRS, ، افغانستان: د طالبانو تر حکومت وروسته، امنیت او د متحدو ایالتونو کړلار، "7/21/2010, PP. 19–20.

3.27 شکل

سيمييزې قوماندې په ترتيب PRT، DST او د پرسونل ملاتړ




ونه: RC = سيمييزه قومندانۍ.

چينه: DoS، د سيګار د مالوماتو په وړاندې غبرګون، 10/4/2010.

لپاره د زيات مسووليت اخيستو ته چمتوالی ښيي او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت اداري، نادولتي ټولنې او خصوصي سکتور په اقتصادي پرمختيا کې لوی رول لوبوي.[161]

د 2010کال په سپتمبر کې، ټولټال 316 و ملکي وګړيو د ولايتي بيارغونې، د ولسواليو د بيارغونې په ډلو او په ولايتي وظيفوي ځواکونه کې دنده ترسروله. د بهرنيو چارووزارت له مخې، تر 2011 مالي کاله پورې به دا شمېر نور هم زيات شي.[162] 3.27 شکلونه، د سيمه ييزې قوماندې له مخې، د متحدو ايالتونو د دغه ملکي پرسونل وېش ښيي.

## قضايي اصلاحات او د قانون نقش

لکه چې د ابتکاري او اجرايوي پلان کې چې وښوول شوه، د قضا او قانون لپاره ملي پروګرام به د قانوني سيستمونو برخې ته، چې پر زياترو افغانانو ژور اغېز ښندي، ډېره پاملرنه وکړي. دا پروګرام به قانوني مرستې وکړي، قوانين به له وځيري، او افغان قضايي سيستم به ساده کړي.[163]

پر دې سربېره به د رسمي او نارسمي قضايي سيستم ترمنځ به د همغږۍ او همکارۍ د پيدا کولو هڅه وکړي.[164] په نارسمي قضايي سيستم کې شورا او جرګې دواړه راځي؛ دا جرګې چې په سيمه ييز کچه پرېکړې کوي، له رسمي قضايي سيستمه بهر دي. د امريکا متحد ايالتونو پرېکړه کړې، چې له دغو نارسمي قضايي سيستم

**شوراګانې او جرګې:** د کليو د مشرانو او سپين ږيرو جرګه. شورا دري کلمه ده، چې له عربي نه ورته راغلي او د "سلا مشورې" مانا ښندي او جرګه د پښتو کلمه ده، چې د ترکي له "سرکل" نه ورته راغلي ده. دا دوديزې جرګې راټولېږي او د وګړو، کورنيو، کليو او قبيلو ترمنځ شخړې او جګړې هواروي.

سرچينه: USIP، "د دوو غورو ټکر": په افغانستان کې د دولتي او نادولتي شخړو اوارۍ، "12/2006 7مخ.

سره د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو د مرستي(USAID) د پروګرام له لارې مرسته وکړي دا به په هغو سيمو کي چي د ترهګرو له منګولو وتي دي، بيا د جرګو يا نارسمي قضايي سيستم ورغوي.[165]

د 2009 کال په دسمبر کي، سيګار په قضايي سيستم کي د افغان دولتي مامورينو لپاره پر خونديتوب او امنيت باندي يو ارزونکی راپور وړاندي کړ. سيګار پوه شو، چي د متحدو ايالتونو قضايي امنيتي مرستي د ستراتيژيک فکر د کليدي ټوکونو او همغږی له نشته سره مخ دي. سيګار په دې هم پوه شو، چي افغان قضايي مشران د دنده په ترسراينه کي له زياتو ګواښونو سره مخ دي.[166]

## قضايي سيستم

افغان قضايي سيستم، څو وزارتونه او نوري دولتي اداري، چي په بېلابېلو جنايي قضايي سيستمونو کي کار کوي، سره تړي. په دې کې، د بهرنيو چاروزارت، لويه څارنوالي، ستره محکمه، او د عدليې وزارت راځي.[167]

د 2010 کال د سپتمبر پر 30مه، د افغان خپلواکو مدافع وکيلانو ټولنې، 1,113 مدافع وکيلان لرل- دا شمېر په تېرو درو مياشتو کي 14% ته لوړ شو، د بهرنيو چارود وزارت د نشه يي توکيو پرضد د مبارزي او د قانون د پلېيني نړيوالي ټولني (د نشه يي توکيو او د قانون د تنفيذ د چارو نړيواله اداره) له مخي، د مدافع وکيلانو ټولنه د مدافع وکيلانو پر استخدام اندېښمنه ده، ځکه په افغانستان کي وکالت يوه نېټه دنده ده.[168] د متحدو ايالتونو له قضايي سکتور سره د مرستي پروګرام ګردی مېز راغوښتی دی، چي پر دې خبرې وکړي، چي څرنګه مسلکيان افغانانو ته د منلو وړ کېږي. په دې ګردي مېزونو کي به د حقوقو او شريعت زده کوونکي، د حقوقو د ښوونځي محصلان، د مدافع وکيلانو د ټولني استازي او فعال مدافع وکيلان برخه اخلي.[169]

د 2010کال د سپتمبر پر 30مه، 2,347 وړو څارنواليو د لويي څارنوالی په چوکاټ کي کار کاوه. د نشه يي توکيو پرضد د مبارزي او د قانون د پلېيني نړيوالي ټولنه له مخې، لږ تر لږ 300 څارنوالی په ولايتونو کي دي؛ نو څرنګه چي د دوی اجراات لږ او ورته مخامخ امنيتي ستونزي ډېري دي؛ نو دا ستونزمنه ده، چي دوی وساتل شي. په افغانستان کي ټولي 133 ښځمني څارنوالاني دي، چي 92 يي په کابل او 41 يي په ولايتونو ک دي.[170]

د نشه يي توکيو پرضد د مبارزي او د قانون د پلېيني نړيوالي ټولنه له مخې، د 2011 کال تر مارچ پوري د څارنوالی په غړيو کي د زياتوالي شونتيا شته دی. دا پراختيا به په کابل کي د دوو نوو قضاوو رامنځته کولو ته پام وکړي: د اداري فساد پرضد به د مبارزي محکمه له 3 نه تر 5 څارنوالان ولري او د مېرمنوپر وړاندی د تاوتريخوالي محکمه به 11 څارنوالال ولري.[171]

د ملګرو ملتونو د نشه يي توکيو او جرمونو اداره له لويي څارنوالی سره د دې څارنوالانو ته د اخلاقي نظام، معيار او مسلکيتوب مرسته کوي.[172]دا کوډ 28 مادي لري، چي د څارنوالی اجراات معياري کوي.[173]

د نشه يي توکيو پرضد د مبارزي او د قانون د پلېيني نړيوالي ټولنه له افغان قضايي سيستم سره د مرستي په موخه د څارنوالانو او مدافع وکيلانو د روزني لپاره له متحدو ايالتونو نه قانونپوهان يا سلاکاران راغوښتي، چي دوی وروزي. دا روزنکي مستقيما قضاوو ته نه ځي؛ د دې پرځای دوی يواځي د څارنوالانو تر سلاکاری، قانوني روزنيز کورسونو، لارښوونو او مرستو پوري محدود دي. د 2010 کال د سپتمبر تر 30 مي د نشه يي توکيو پرضد د مبارزي او د قانون د پلېيني نړيوالي ټولني په پنځو ولايتونو کي څلور قانوني روزونکي درلودل. بلخ، هرات، کندوز، ننګرهار او پکتيا. د نشه يي توکيو پرضد د مبارزي او د قانون د پلېيني نړيوالي ټولني نور ټول روزونکي په کابل دي.[174]

**د افغانستان اساسي قانون غواړي چي بايد هيڅ قانون له اسلامي قانون سره په ټکر کی نه وي- دا يو داسي حکم دی، چي پخپله اساسي قانون کی يي نيمګړتيا او تناقضات پيدا کړي دي. اسلامي قانون پر شريعت (په عربي کي "لارې" ته وايي) ولاړ دی. شريعت له قرآن، حديثو، چي د حضرت محمد له لارښوونو او ژوند راوتي دي، او د اسلامي علماوو له اجتماع جوړ دی.**

سرچينه: د ناتو، "د ملکي پوخيانو د ادغام مرکز: ښځې، افغاني قانون او شريعت، 8/2010، 5مخ.

## د متحدو ایالتونو له قضایي سکتور سره د مرستې پروګرام

د نشه يي توکيو پرضد د مبارزې او د قانون د پلې‌نې نړیوالي ټولنې(د نشه يي توکيو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله اداره) په مرسته، د قضایي سکتور سره د مرستې پروګرام د څارنوالانو په ګډون له افغان قانونپوهانو سره د مرستې په موخه، غواړي، چې د افغان جنایي قضایي سیستم وړتیا یا ظرفیت لوړ کړي. قضایي سکتور سره د مرستې پروګرام د څارنوالانو او په قضایي سیستم کې د نورو مسلکیانو ترمنځ د اړیکو په رغولو، له دفاعي جنایي سیستم سره مرسته کوي.[175]

په هرو درو میاشتو کې قضایي سکتور سره د مرستې پروګرام د افغان قضایي سیستم د غړیو لپاره ولایتي روزنیز کنفرانسونه جوړوي. د 2010کال له جولای نه تر سپتمبره، قضایي سکتور سره د مرستې پروګرام په هلمند، لغمان او بادغیس کې درې دا ډول کنفرانسونه جوړ کړي وو. راروان کنفرانسونه د لوګر، وردک او ارزګان لپاره جوړېږي،[176] قضایي سکتور سره د مرستې پروګرام اضافي روزنیز کورسونه په پنځو ولایتونو کې جوړ کړل، جزیات يې په 3.6 جدول کې راغلي دي.

د نشه يي توکيو پرضد د مبارزې او د قانون د پلې‌نې نړیوالي ټولنې(د نشه يي توکيو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله اداره) په وینا، په تېرو درو میاشتو د افغان قانونپوهانو لپاره د روزونکو په شمېر کې زیاتوالی راووست، چې په جون کې 38 او په سپتمبر کې 62 شو. پر دې سربېره د قضایي سکتور سره د مرستې پروګرام((JSSP 30 امریکایي قانونپوهانو د 2010 کال د سپتمبر پر 30مه د امنیتي پاکونې او پراخولو ته چمتو دي. د افغان او امریکایي څارنوالانو په استخدام هیله کېږي، چې دا پروګرام راروانو درو میاشتو ته هم وغزېږي. د نشه يي توکيو پرضد د مبارزې او د قانون د پلې‌نې نړیوالي ټولنې (د نشه يي توکيو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیوالې ادارې) دا وښووله، چې په دې شمېر کې د قضایي سکتور سره د مرستې پروګرام، هغه غړي، چې په اداري، سیمه مرستو، مالوماتي ټیکنالوژۍ، خریدارۍ او امنیتي برخه کې کار کوي نه راځي.[177]

## د اصلاح سیستم او د زندانونو سمون

د نشه يي توکيو پرضد د مبارزې او د قانون د پلې‌نې نړیوالي ټولنې(د نشه يي توکيو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله اداره) پر بنسټ، د افغانستان د اصلاح سیستم له نړېدو، نالوستۍ، د ډېرو غړیو له پېښمانتیا، له نه تمویل، د زندان په اداري چارو کې له سیاسي لاسوهنو، د ګڼ شمېر امنیتي ستونزو، د زندانیانو له ډېرښت او ګڼې ګوڼې سره مخ دی. چې د قانون پلې‌نې او قضایي سیستم وغوړېد؛ نو افغان زندانیان به د زندانیانو له یوې ګڼې ګوڼې او د

3.6 جدول

د JSSP په مټ د دوديزې روزنې ترسراینه، د 2010کال له جولای نه تر سپتمبره پورې.

| روزنه | ځای | نېټه |
|---|---|---|
| قانوني روزنه د مجازاتو قانون او د جرمونو عناصرو ته ډېره پاملرنه کوي. | بلخ | 8/15/2010 |
| د څېړنو د سمون د څانګې افسرانو ته راپور لیکنه. افسرانو ته، د سمو او کره مالومات د ترلاسي او راپور، د شاهدانو د څرګندونو اورېدل او لیکل او د جرم د ځای د سمې انځورنې په ګډون، د پولیسو د بنسټي اصول زده کړه ورکړل شوه. | کندوز او تخار | 8/18/2010<br>8/25/2010–8/24 |
| د افغانستان تر قانون لاندې پر پرمختللي جرمي پروسیجر سیمینار. په دې سیمینار کې 7قاضیانو، 10و څارنوالانو او د پولیسو 8و افسرانو ګډون کړی و. | ننګرهار | 7/31/2010–7/17 |
| پر مېرمنو د زور زیاتي د مخنیوي د قانون په اړه څېړنغونډه. دا څېړنغونډه، د مېرمنواو نرو یا جینډر د موضوع په اړه د JSSP د زیاتي پاملرنې ښکارندويي کوي. | کندوز | 8/1/2010<br>8/8/2010 |

سرچینه: د نشه يي توکو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله اداره، د SIGAR د مالوماتو په وړاندي غبرګون، نېټه، 10/4/2010.

داسي سیستم سره لاس وګرېوان شي، چې مخکې له مخکې ډک دی.[178] په پای کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اصلاح بل بدیل وپلټه. د دې د لومړیتوبونو او د کار په پلان کې، د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د افغان زندانیانو او د ځوانانو د نیولو د مرکز لپاره دوه شپږمیاشتني اهداف وټاکل.[179]

- د ټولنیزو خدمتونو په ګډون د بدیل اصلاحي فرمانونو پرمختیا
- د زندانیانو لپاره د تفریحي پروګرام جوړول

د نشه یي توکیو پرضد د مبارزې او د قانون د پلېینې نړیوالې ټولنې پر بنسټ، د زندانیانو د مدیریت لپاره ځای پرځاینه ډېره مهمه ده. دوی د اصلاحي سیستم لپاره له نړیوالو قوانینو سره برابربږي. د نشه یي توکیو پرضد د مبارزې او د قانون د پلېینې نړیوالي ټولنې ولیدل، چې د کارونو پیدا کول او مشروطه ازادي له زندانیانو سره په زندان کې د هوسا اوسېدو مرسته کوي.[180]

یو بله ښه انګېزه، د نشه یي توکیو پرضد د مبارزې او د قانون د پلېینې نړیوالې ټولنې د کسبونو د پروګرام په پام کې نیول دي. د افغان زندانیانو د ډلبندۍ د سیستم له مخې، د زندان کارګر په یوه بېښه کې د لاس لرلو په موخه له زنداني پوښتنې ګروېږنې کولای شي. کسبي پروګرام د ورتیا د غوړولو او اخلاقو یا چلند د سمولو لپاره زندانیانو ته د کار مواقع ګوري. دا پرځان ډاډینه او خودکفا هم ده: زندانیان د دې پروګرام د دوام لپاره مرسته ترلاسه کوي.[181]

د کسبي پروګرام لپاره د متحدو ایالتونو مرسته د د نشه یي توکیو پرضد د مبارزې او د قانون د پلېینې نړیوالي د ټولنې د سموني د سیستم د ملاتړ پروګرام څخه راځي. د سموني د سیستم د ملاتړ پروګرام د افغان مرکزي زندان له مدیریت سره د اصلاح لپاره ځانګوال ورلېږي. دا ځانګوال به د زندانونو مسول افسران، په منځنۍ کچه مسوولین او عام کارګر روزي او لارښووني به ورته کوي. د سموني د سیستم د ملاتړ پروګرام روزونکي د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره کاروي، چې د ورتیا د لوړاوي، نوښتونو، بنسټي او ځانګړې روزنې او د کره او سم سیستم د استخدام او پرمختیا له لارې پاک، خوندي او بشري افغاني اصلاحي سیستم ورغوي. د سموني د سیستم د ملاتړ پروګرام د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره مرسته کوي، چې د زندانیا ترمنځ کسبي پرمختیایي پروګرام پرانیزي. اوسني پروګرام دا لاندې کسبونه رانغاړي؛ د غالي اوبدل، اوسپنګري، خیاطي او د کمپیوټر د اساسي پروګرامونو زده کړه.[182]

د نشه یي توکیو پرضد د مبارزې او د قانون د پلېینې نړیوالي ټولنه د زندان د رغوني پروژې ته هم پیسې ورکوي، چې په دې کې څرخي پله د زندان بشپړه رغونه هم راځي. په دې رغونه کې د زندان د صنعت رغونه هم راځي، چې زندانیان پکې کسبي زده کړې کوي او د زندان په صنعتي پروګرام کې برخه اخلي. د دې رغونې لپاره د 2010کال د اکتوبر په منځیو کې مهالوېش جوړ شو. د 2010کال د اکتوبر پر 18مه د نشه یي توکیو پرضد د مبارزې او د قانون د پلېینې نړیوالي ټولنې په وردکو او بغلان کې د زندان د تاسیساتو د رغوني لپاره له افغان جوړښتي شرکتونو سره تړون وکړ.[183]

## بشري حقونه

د 2010کال د سپتمبر پر 20مه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون د سولې د نړیوالي ورځې په ویاړ یوه اعلامیه خپره کړه. په اعلامیه کې، کمیسون په جګړه کې له ټولو ښکېلو خوا غوښتي و، چې د جګړې پرمهال د عامو افغانانو حقونو ته پام وکړي.[184] دې ځانګې په افغانستان کې د افغانان له بېځای کېدو، توکمیز او سیمه تبعیض او د جینډر له برابرۍ سره په تړلیو ځانګړیو موضوعات باندې تازه مالومات خپاره کړل.

د نشه يي توکيو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله اداره په وینا، کمزوري خدمتونه تراوسه د ځوانو زندانیانو په ازار کې لاس لري. د دغو ځوانو زندانیانو عمر له **12** نه تر **17**کلنو پورې دی؛ زیاتره یې په غلاوو کې نیول شوي دي؛ خو وژونکي یا قاتلان هم پکې شته. د زیاترو مسلکي او علمي پروګرامونو، د رواني روغتیایي خدمتونو او تفریح اسانتیاوې نابسنده دي. د افغانستان د مرکزي زندان مدیریت، د نیول شویو ځوانانو لپاره منځنۍ اسانتیاوې هم نه برابروي.

سرچینه: د نشه یي توکیو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله اداره، د SIGAR د مالوماتو په وړاندې غبرګون، نېټه، 10/4/2010.

3.28 شکل

د غټو پېښو له امله د خلکو بې ځایه کېدنې، 1978 - 2010-11-07




یادونه: کډوالو او په داخل کې بې ځایه شویو خلکو په 2002 کې هغه وخت هیواد ته ستنېدل پیل کړل چې افغان دولت په واک کې راغی.

سرچینه: CIVIC، "د ملکي نظامي کډون مرکز: په داخل کې بې ځایه شوي خلک،" 9/8/2010.

## بېځایه شوي افغانان

لکه په 3.28 شکل کې چې راغلي بېځایه کېدنه د افغانانو لپاره نوې خبره نه ده. د 2010 کال د سپټمبر تر 30 هېواد دننه نژدې 298,000(تقریبا، 49,000 کورنی) افغانان بېځایه شوي وو. د بهرنیو چارووزارت په وینا، په دوی کې 104,000 د 2009کال د جولای او د 2010کال د اګست ترمنځ له خپلو ځایونو په زوره شړل شوي وو. [185]پر تشدد سربېره، وچکالی، زلزلې او نورو طبیعي ناورینو هم افغانان بېځایه کړي دي. [186]

د استخدام او لومړیتوبونو په لست کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، له بېځایني سره تړلي ځینې موخې په نښه کړي دي. د بېلګې لپاره، د خپلو هڅو په لړ کې د سیمه ییزې همکارۍ د پیاوړتیا لپاره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت پلان لري، چې له ایران او پاکستان سره د افغان کډوالو پر خوندي راستنېدنه تړون وکړي. پر دې سربېره، د بېځایه شویو وګړیو په اړه، د مهمو موخو د ترلاسی لپاره نوی پلان په 2008 کې په ANDS کې جوړ شوی و: [187]

- د افغانستان د وزارتونو د وړتیاوو پیاوړتیا، چې له راستانه شویو سره سم چلند وکړي او دوی وهڅوي، چې په خپلو سیمو کې له خپلو ملګرو سره هماهنګ شي.
- د ښووني روزنې، روغتیایي ساتنه، پنا، برېښنا، اوبو او ځمکو په څېر د لومړنیو اړتیاوو او د کار د شرایطو د برابرولو له لارې افغان کډوال راستنولو ته هڅول.

## وزارتونه

افغان څو توکمي یا قومي ټولنه ده. د بهرنیو چارووزارت په وینا، پښتانه د 42% او ډېره کې دی. لکه په 3.29شکل چې ښوول شوي دي، تاجک او هزاره دویم لوی قومونه دي. د بهرنیو چارووزارت په وینا، هزارګانو د روان تبعیض په اړه راپور ورکړی دی. د بېلګې په توګه، له دوی نه تل پر سرحد، چې پښتانه پرې ازاد ځي راځي، بدي غوښتل کېږي.[188]

سره له دې، چې کوم قانون نشته دی، چې لړه کې دې په سیاست کې له ګډونه ایسار کړي؛ خو زیاتره قومونه وایي، چې په هغو ولایتونو کې چې د دوی شمېر یکې لږ دی، د دولتي پوستونو په کچه له نورو سره مساوي حقونه نه لري. [189]په ولسي جرګه کې لس چوکۍ د کوچانو لپاره-یو کوچنی ګرځنده قوم دی- بېلې دي. د ملي شورا ځینې غړي په ولسي جرګه کې د کوچانو له څوکیو سره همږي نه دي، ځکه چې د دوی په اند، د دوی تر نورو

3.29 شکل

د افغانستان وګړي
د قومیت په ترتیب (سلنه)




سرچینه: DoS، د سیکار د مالوماتو په ورانډې غبرګون، 10/8/2010.

لړکیو ډېر نه او دا له اساسي قانون سره، چې یکې ویل شوي دي، چې له ټولو افغانانو سره باید یو ډول چلند وشي- ټکر دی.[190]

## مذهبي خپلواکي

د بهرنیو چاروزارت په وینا، په دي تېرو میاشتو کې د مذهبي لړکیو لپاره حوصله تنګه شوي ده. د نه تحمل ښې نښې، د خلکو په استازی د ملي شورا د غړیو تېزي خبرې، د تلویزیوني پروګرامونه، چې پر مذهبي لړکیو باندي تېری کوي او عمومي ازار او تاو تریخوالی. په تېرو درو میاشتو کې، شیعه مسلمانان(د ټول نفوس19%) د سني مسلمانانو(د ټول نفوس80% جوړو) تر تبعیض لاندي وو. [191]

د بهرنیو چاروزارت ولیدل، چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت قضایي، د اساسي قانون او د بشري حقونو د کمیسون له رنګارنګو مذهبونو(سني او شیعه) نه په نامستقیمه توګه د مذهبي تحمل د زیاتون کار اخلي. د بهرنیو چاروزارت په وینا، که څه هم په دولت کي د ګډون لپاره د مذهبي لړکیو لپاره کوم قانون نشته دی؛ خو د ملي شورا نژدي 35% څوکی شیعه مسلمانانو نیولي دي.[192] همدا راز په دي تېرو درو میاشتو کي د ښځو چارو وزارت او د حج او اوقافو وزارت په ګډه کار وکړ، چې جوماتونو د مېرمنو تګ ته لار پرانیزي. [193]

## د نر او ښځې برابري

د اجرااتو او لومړیتوبونو په پلان کې، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ورتیا د لوړولو له لاري د افغانو مېرمنولپاره د ملي اقدام په پیل لاس پور کړ، چې د افغانو مېرمنو لپاره د ملي اقدام پلان د پروګرام اجراات چټک شي. دا پروګرام به هڅه وکړي، چې د افغان مېرمنو لپاره د ملي اقدام د پلان وړاندي کړي موخې_د نر او ښځې برابري- ترلاسه کړي. دا به د موخو د ترلاسه کولو لپاره د افغان مېرمنو لپاره د ملي اقدام د پلان پالیسي، پلانونه او بودیجي پروګرام، مدیریت کاروي او د همدوی اصول به د ټول افغان دولت د بېلابېلو برخو د ارزوني لپاره پور اخلي.[194]

د ناټو د چاپي خبر له مخې،زیاتره افغان ښځي ویرېږي، چې د بیاګډون او پخلایني لړی به د دوی حقونه اغېزمن کړي. هغه ډلې، چې د پخلاینې د لړی برخه دي- طالبان او نوري جنګیالی ډلې- د مېرمنوپرضد د سنګر د پرانیستو او تاوتریخوالي له امله ښې مشهوری دي. پخوا، د حامد کرزی حکومت د مذهبي ډلو تر خوښی د مېرمنوحقونه قربان کړي دي. د بېلګي په توګه، د 2009 کال په مارچ کې ولسمشر کرزي د شیعه ګانو د شخصي احوال قانون لاسلیک کړ. په دي کې راغلي دي، چې ښځه باید له کوره تر وتو مخکې اجازه واخلي. او د 2010کال په اپریل کې د اقتصاد وزیر ښځینه مشرانو ته وویل، چې ښځې باید د روغي جوړې او پخلاینې تر څو خپل حقونه قربان کړي. [195]

د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن په افغانستان کې د مېرمنوله حقونو سره د مرستي ژمنتیا بیا تازه کړه؛ سره له دې چې افغان مېرمني ویرېږي، چې د سولې د راوستو فشار به د جینډر برابری له منځه یوسي. د سولې د عالي شورا (په 70 غړیو کې) یواځې 8 ښځې دي. بیا دوی دا اندېښنه هم لري، چې د سولې په خبرو کې د مېرمنوغرېورته کول په لومړیتوبونو کې نه راځي.[196]

**د افغانو مېرمنولپاره د ملي اقدام پلان:** الف. لس کلن پلان چې د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د نر او ښځو په مساویتوب کې مرسته کوي. د افغانستان اساسي قانون او د افغانستان ملي پرمختیایي کړلار، د افغانو مېرمنولپاره د ملي اقدام پلان لومړنی مدرک وباله، چې د جینډر د برابری حقونه یې تشریح کړل.

سرچینه: UNIFEM، "د افغانو مېرمنولپاره د ملي اقدام پلان" پرلیکه، 9/17/2010.

# بیاپخلاینه

د بیاپخلاینې ځانتیاوې د متحدو ایالتونو او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په کړلارو کې شته دي. په جنوری کې د لندن په کنفرانس او په جنون کې د سولې په جرګه کې په پام کې ونیول شوه. د بیاپخلاینې لړی د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت، د لومړیتوبونو او استخدام یو ډېر مهم پلان دی. عام ژوند ته د جنګیالیو د راګرځولو لپاره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د لاندنیو موخو د ترلاسي لپاه د افغانستان د سولې او بیاپخلاینې پروګرام پرانیزي: [197]

- د سیمه ییزي او نړیوالي همکارۍ ملاتړ.
- سولې او بیاپخلاینې ته د سیاسي او قضایي شرایطو برابرول.
- د جنګیالیو او د دوی د قومندانانو هڅونه، چې جګړه پرېږدي او د سولې په راوستو کې برخه واخلي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت هیله من دی، چې دا پروګرام به په زرګونه پخواني جنګیالي پخلا کړي. په راروانو پنځو کلونو کې به پروګرام په 220و ولسوالیو کې 4,000 تولنې پیاوړي کړي. [198]

د 2010کال د سپتمبر پر 4مه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د سولې عالي شورا جوړه کړه، چې د ولایتي او ولسوالیو د چارواکو، د سیمه ییزو دولتي ادارو او سیاسي، قومي او مذهبي مشرانو په مرسته د افغانستان د ولایتي بیارغوني ډلي مشري وکړي. [199]دفاع وزارت پتېیلي ده، چې د افغانستان د بیاپخلاینې پروګرام پرانیزي، چې د افغانستان له ولایتي بیارغوني ډلو سره مرسته وشي. د دفاع وزارت په وینا، مخکې له دې چې د بیاپخلاینې کومه لړی پیل شي، باید موخې مشخصې شي. [200]

- د بیاپخلاینې د مرستو په اړه باید نړیوال تولنه او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت یوه تړون ته سره ورسېږي.
- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت باید داسې یو پروسیجر جوړ کړي، چې د مالي مرستندویانو مرستې د ولایت او د ولسوالیو کچې ته ورسول شي.
- د سولې عالي شورا او ګډ سیکرتریت باید د بیاپخلاینې پروګرام ته د کارکونکو د استخدام لړی پای ته ورسوي.
- د بیاپخلاینې ولایتي او ولسوالیو جرګه ګی باید جوړې شي.

د متحدو ایالتونو د دفاع وزارت په وینا، د 2010کال د سپتمبر تر 30مې لا د سولې عالي شورا او ګډ سیکرتریت د پرسونل استخدام یا غوراوی نه و بشپړ کړی. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او نړیوالې تولنې ته د مرستو د ورکولو لپاره پر یوه تړون خبرې کولې. [201]

که څه هم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لا تراوسه په رسمي پروسیجر کې نښتی دی؛ خو د افغانستان د ولایتي بیارغوني ډلو ځینې غړي له مخکې نه پر دندو ګومارل شوي دي. [202]د بېلګې په توګه، د بهرنیو چارو وزارت وایي، چې د هلمند والي د افغانستان د ولایتي بیارغوني ډلو لپاره د یوه کاري پلان په جوړولو بوخت دی. [203]پر دې سربېره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لندمهالي شوراګانې هم جوړکړې، چې په تولنیزه بیاپخلاینې ته لار هواره کړي. کله چې د افغانستان د ولایتي بیارغوني ډله بشپړه شوه؛ نو دا شوراګانې به د ولایتي او ولسوالیو د بیاپخلاینې جرګه ګی شي. [204]

د استخدام او لومړیتوبونو د پلان له مخې، افغاني ښځې، نادولتي ملکي تولنې او نورې ډلې به له هر پخواني جنګیالي سره د عالي شورا بحثونه او پرېکړې څارې. [205] د ملګرو ملتونو سرمنشي خبر ورکړ، چې د افغانستان لپاره به د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې د سولې او بیاپخلاینې د فرعي جرګه ګیو مشري کوي، چې دا به له پروګرام سره د کېدونکې لویه مرسته هماهنګ کوي. [206]

## د افغانستان د سولې او بیاپخلاینې پروګرام درې مرحله لري:

**1:** تولنیزه پراختیا، د باور رغونه او خبرې اترې-د ولایات او ولسوالیو مشران په فردي یا ډله ییزه توګه د سولې د پروسیجر په اړه خپل مالومات وړاندې کولای شيَ.

**2:** چټکوالی: پخواني جنګیالي، چې غواړي د سولې له پروسې سره مله شي او تولنیز او سیاسي ژوند ته راګډ شي. چټکوالي کې د لومړنی ارزوني ګډون، د ورتیا پلټنه، د وسلو تدویر او راجسترول هم راځي.

**3:** د سولې ټینګښت- په تولنه کې د ارزونې په کچه به، دا پروګرام په ولایتونو، ولسوالیو او ولسي کچه ترسره شي او په هر ولس کې به بیلابېلي اړتیاوې رابرسېره کړي، لکه بنستي خدمتونه، ښوونه روزنه او تخنیکي او حرفه یي روزنې.

سرچینه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، استخدام او لومړیتوب پلان، 7/20/2010، 40مخ.



د اګست پر 21مه په بادغيس کې له ورېږ پخلاينې سره وسله پر ځمکه کېښودې. (د اَيساف تصوير)

## د بياپخلاينې لپاره مرستې

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت وايي، چې د بياپخلاينې پر هڅو به په پنځو کلو کې نژدې 784ميلونه ډالره ولګېږي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لا دا نه ده مشخصه کړې، چې د دوی له بوديجه پرته به څومره پيسې له بهره راځي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د امريکا متحد ايالتونه پلان لري، چې 50 ميلونه ډالره مستقيما د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره وکړي، چې جرګه ګی مالي اړتياوې پرې حل کړي.[207] پر دې مستقيمې مرستې سربېر، دفاع وزارت ژمنه بنوولې، چې د 2010مالي کال لپاره له ARP سره د ملي دفاع له مجاز قانون نه 100 ميلونه ډالره مرستې وکړي. د 2010کال د سپتمبر پر 30مه ARP د زندانيانو د خلاصون، د خوندي استوګنځيو د پروژې او په بغلان کې د 286, 442 ډالرو په ارزښت د روزنيز پروګرام په لړ کې له شوراګانو سره بنې مرستې کړې وې د بهرنيو چارو وزارت وايي، چې د نړيوال پرمختګ لپاره د متحدو ايالتونو مرستې له ARP نه بهر په هلمند کې د پخلاينې اضافي مرسته هم پيل کړې ده. د دې پروګرام زياته پاملرنه، کرنيزو مرستو، روزنو او د کار په بدل کې د پېسو ورکړ ته وه. د 2010 کال د سپتمبر پر 30مه نورو نړيوالو ډونرانو هم د افغانانو په مشرۍ د پخلاينې لړۍ ته 190ميلونه ډالر ومنل.[208]

## د ملګرو ملتونو د بياپخلاينې هڅې

د 2010کال په جون کې د سولې د مشورتي جرګې د پرېکړليک د غوږ په توګه ملګري ملتونه موافقه وکړه، چې د تحريم پر خپل ليست(چې پخوا د ترهګرو د تور لست په نامه يادېده) کتنه کوي او د هغو غړيو نومونه به تری لرې کوي، چې نور له توريستي ډلو سره ناسته پاسته نه لري.[209] د ملګرو ملتونو سرمنشي وويل، چې د دغه لست بياکتنه د 2010کال د جولای په 30مه بشپړه شوه. د بياکتنې ډلې وويل، چې په 488و کې به 443 کسانو نومونه په لست کې پاتې وي، 132 يې هغه دي، چې په طالبانو پورې تړلي وو. جرګه ګی له لسته د نورو 45و کسانو د لرې کولو پرېکړه وکړه، 10 هغه چې پخوا يې له طالبانو سره لار درلوده.[210]

پر دې سربېره، جرګه ګی وويل، چې د درو زياتي افغانانو نومونه به پر لست ورزيات شي-تولو د طالبانو لپاره د مرستو په راټولولو کې لاس لاره. د ملګرو ملتونو سرمنشي وويل، چې د جرګه ګی پرېکړې په عمومي توګه د ټولو افغانانو لپاره د منلو وې. له دې سره د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسون يوه استازي انديښنه وښوده، چې له تور لست نه د نومونو ايستل به هغه کسان، چې په جنګي جرمونو ککړ دي، خونديتوب يا مصونيت ورکړي.[211]

## پخلاينه

يوه وړه پخلاينه ده، چې له ټيټ رتبه جنګياليو سره ترسره کېږي؛ خو دا د جنګياليو له مشرانو سره پخلاينه ده. د استخدام او لومړيتوبونو په پلان کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په دې يوه شو، چې لويه پخلاينه يو نوښت دی، چې "پراخ فکر" غواړي. له لويې پخلاينې سره متوقع ملاتړ به له مشرانو سره د مرستې او د ملګرو ملتونو له تور لسته د نومونو د لرې کولو له ادرسه وي.[212]

د بهرنيو چارو وزارت وايي، چې دا لويه پخلاينه د پروګرام له لارې نه، بلکې له ډيپلوماتيکو چينلونو ترسره شي. متحد ايالتونه به د جنګياليو مشرانو سره د دې پخلاينې ملاتړ هله وکړي، چې که دا مشران له جګړې لاس واخلي، له القاعده سره اړيکې وشلوي، ټولو ترهګريز فعاليتونه پرېږدي او د افغانستان له اساسي قانون سره سم ژوند تېر کړي.[213]

> "د بياپخلاينې پروګرام پر يوه پراخ ستراتيژيک هدف باندې ولاړ، چې افغان سړي او ښځې يې مشري کوي او يو سوله ييز، مستحکم او خوښ افغانستان غواړي."
>
> — د لومړيتوب او استخدام پلان

سرچينه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، استخدام او لومړيتوب پلان، 7/20/2010، 39 مخ .

# اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

عمده اقتصادي او ټولنيزې پرمختياوي د افغانستان په دې درو مياشتو کې د راضي کونکي غذايي حبوپاتو محصول، د غذا په بيو کې پورته والی ، او په بانکي سيستم کې د اعتماد يو ېحران د اداري فساد ادعاوو او غلطي اداري سره سم د ملت په يوه خورا لوی خصوصي بانک کې (کابل بانک). د 2010 کال په جولای کې د کابل کنفرانس په پيروی، زياترو پرمختياوو د سيمه ييزه انرژی او زيربنائي همکاري په برخه کې زياتوالی، د ترکمنستان، افغانستان پاکستان او هند (TAPI) ترمنځد ګازو د نل ليکي د ترون په ګډون وښود، (د څلورو نومول شويو هيوادونو لپاره).

همدا راز په دې درو مياشتو کې متحده ايالاتو د مالي ادارو د تنظيم او د کورنيو عايداتو د زياتوالي لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د وړتيا د لوړو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ. پر دې سربېره، متحده ايالاتو يو پروګرام اعلان کړ، چې په افغانستان کې د خپلواکو رسنيو پرمختيا وغوړېږي او د ملکيتونو د لانجو د حل لپاره، چې ډېرې تاريخي شخړې يې رامنځته کړې دي، د ميکانيزم د پياوړتيا له لارې خصوصي سکتور غښتلی کړي.

د خصوصي امنيتي سکتور پر ترونوالو باندې د ولسمشر کرزي بنديز که څه هم، کېدای شي، په دغو او نورو پرمختيايي پروژو کې د متحده ايالاتو او د پرمختيايي شريکانو وړتيا يې اغېزمنه کړي چې دا او د بيارغوني نوري پرژې تر سره کړي. خو بيا هم متحده ايالات د خصوصي سکتور د ترونوالو د نظم لپاره د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره مرسته کوي او د خصوصي سکتور پر ترونوالو د بنديز له امله د مرستندويو کارګرو د اغېزمنی او ستونزې له کبله د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت سره خبرې کوي. پر دې موضوع د جزياتو لپاره 1برخه وګورئ.

## لاربنودې نښې نښانې

په تېر درو مياشتو کې اقتصادي پرمختيا د خوړو د بيو د لوړېدو او د امانتونو د وراني کاروني په لړ کې د کابل بانک د تورونو تر تسلط لاندې وه.

## مالي زياتوالی

د غنمو، اوړو، بوره او غوړو(چې له کوچو وتي وي) بيې لوړې شوې. غنم د افغانستان د خوړو مهمه برخه ده.[214] څرنګه چې د 3.30 شکل په مخ کې ښوول شوي تر دوه کلن کمښت وروسته، د 2010 کال په جولای او اګست کې د افغانستان په زياترو برخو کې د غنمو بيې په لوړېدو شوې.[215] دا لوړوالی د پاکستان تر سيلونو، چې دا هېواد يې له کرنيزه پلوه ويجاړ کړ، وروسته رامنځته شو. [216]دې پرمختيا افغانستان اغېزمن کړ، ځکه چې دا هېواد د خوراکي توکيو له پلوه پر ګاونډيانو، په تېره پر پاکستان او قزاقستان، چې د ده کورنی اړتياوې پوره کړي، تکيه دی.[217]

3.30 شکل

په ټاکلو بازارونو کې د غنمو د خرڅلاو بيه، اګست 2008 – اګست 2010 (افغانی\کيلو)




همدغه شان د ناټو د يوې خپروني له مخې، له اپريل نه تر اګسته پورې، د اوړو په بيو کې په اوسط ډول 51.4%، د بورې په بيو کې 37.5% او د غوړو په بيه کې 30.6% زياتوالی راغی.[218] د غذايي موادو د بيو لوړوالی انديښني ته په ځواب کې، د افغانستان دتجارت او صنعت دفتر يو کميسون جوړکړ چې د روژې په اوږدو کې د غذايي توکو تنظيم کړي اتاقونو يو پلاوی وټاکه، چې د روژې لپاره د خوراکي توکيو بيو وټاکي.[219] د پلاوي مشر اعلان وکړ چې دا دفتر له دې دورې نه بغير هم د بيو د څارني لپاره خپلو هڅو ته دوام وکړي.[220]

## ګومارنه

د ګومارني په اړه د اعتبار وړ معلومات نشته. دا ننګونه د کار او ټولنيزو، چارو وزارت، د شهدا او معلولينو وزارت او د کار د نړيوالي ټولني(ILO) له خوا په پيل شوي نوي پروګرام کې په پام کې ونيول شوه.

له پرمختيا سره په تړلي بله ګومارنه کې د آيساف (ISAF)قومندان د افغان لومړي پروګرام په توکه د دې پروګرام پر اهميت ټينګار وکړ.

### د غوره کارونو پروګرام

د کابل د کنفرانس په ورځو کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او د کار د نړيوالي ټولني له خوا لاسليک شوی تړون به د افغانستان د غوره کارونو لومړنی پروګرام ترسره کړي. د دې پروګرام موخې دا دي: د روزنې مهارتونو او کار د مارکيټ د معلوماتو له مخې د ګومارني زياتوال، د کار د نړيوالو اصولو دودونه، د کار خاوندانو او کارګرو د استازی لپاره د پياوړو ملکي ټولنو رغونه.[221] په پام کې ده، چې دا پروګرام په راتلونکي پنځو کلونو کې تر سره شي. د دې د موخو په منځ کې:[222]

- د ګومارنې يا استخدام په مهمو استازو باندې د کار د مارکيټ د کلني راپورنو توليد، چې په دې کې د بې کارۍ، د لږ کارې،دنفوسو د کارې قوت او د معاش کچه راځي.
- د ګومارنې يا استخدام د توليد راپورونه د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د استخدام په طرحه شوي اغېزمن پروګرام او پاليسيو کې مرسته کوي
- د مهمو صنعتونو او سکتورونو شناخت، چې د ترسره کيدو لپاره يې د کار دپلانو له مخې پکې ښځمنې کار کوي
- سړو او ښځو ته د مهارتونو د روزنې لپاره فرصتونو زياتول
- د استخدام د خدمتي مرکزونو پياوړتيا، چې د کار پلټونکي له استخدامي مواقعو سره نښلوي
- دکار نړيوالو معيارونو تصويب او د دغو معيارونو د پليدو لپاره دکار او ټولنيزو چارو دوزارت دوړتيا پياوړتيا

- د ماهرو او نامختصصو کارګرو لپاره د لږو معاشونو ټاکل.
- د کوچنيو کارګرو د برطرفه کولو بهير
- د صنعتي سازمانونو اړيکو پرمختيا، چې په منظمه توګه ليدنه کوي او (لږ تر لږه 20%) د ښځو استازې پکې وي

## د افغان لومړنى پېرودلو له مخې د دندو رامنځته کول

لومړى افغانستان د متحده ايالاتو نوښت دى، چې د افغانستان له خپلو شرکتونو نه د پيرلو د هڅوني له لارې افغان استخدام زيات کړي. په تېرو درو مياشتو کې، جنرال پيترياس د لومړى افغانستان لارښوده کړلاره د مقابل طغيان پر ضد د برياليي ترون په نامه بيا بيان کړه.[223] دا کړلاره ناټو، آيساف او په افغانستان کې مېشتو امريکايي ځواکونو ته لارښوونه کوي، چې د افغاني توليداتو په پيرلو سره افغانان اجاره واخلي او د دوى وړتيا وغوړوي. د افغانانو لپاره د کار د پيدا کولو د تړون په لړ کې د بېلګې په توګه، ده د کابل ملي سوداګريزه کمپني ياده کړه، چې 500افغانان پکې کار کوي او د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره په ورځ کې نژدې 2,400بوټونه جوړوي.[224] د بلې بېلګې په توګه يې د ناټو د افغانستان روزنيز مشن، د افغان ساپي د پوښاک شرکت ته اشاره وکړه، چې 700کارګر لري (چې 50%يې ښځې دي) او د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره تر 100,000 يونيفارمونه په مياشت کې جوړوي.[225]

## بانکي سيستم

په دې تېرو درو مياشتو کې، د افغانستان بانک، د اداري له لاسه د امانتونو د ناوړه کاروني په تور، د کابل بانک چارې په لاس کې واخيستې. د ناټو د خپروني پر بنسټ، په دغه درغلى او د امانتونو په ناسمه کارونه کې د کابل بانک ګڼونوال شامل وو، چې د بانک پيسې يې په خپلو شخصي کارونو او د ملکيتونو په پيرلو کې لګولي وى. په دې کې ځينو ډېر لوى زيانونه واړول. د متحده ايالاتو د خزانه دارى له مخې، افغان مرکزي بانک د افغانستان په اسلامي جمهوري دولت او کابل بانک پورې د ترليو زېرمو پيسې کابل بانک ته ولېږدولې. د ناټو د خپروني پر بنسټ،د افغانستان بانک په اقداماتو باندې د کابل بانک نه د پيسو پر ايستو بنديز ولګېد.[226] په اکتوبر کې، سيګار د افغانستان د بانکي سکتور د پرمختيا د ارزونې لپاره يوه نوې حسابرسي پيل کړه؛ پر نورو موخو سربېره به دا افغانستان ته د راتلونکو او وتونکو پيسو سيستم جوړ او وارزوي.[227]

**د افغانستان د مرکزي بانک په غوښتنه، د متحدو ايالتونو خزاني افغانستان ته يوه بېړنۍ ډله ولېږله، چې د افغانستان بانک ظرفيت پياوړى کړي او له دې لارې د کابل بانک حالت ته ځواب ووايي. د خزانه دارى له مخې، د متحدو ايالتونو هېڅ مالياتي ډالر د کابل بانک د تضمين لپاره نه کارول شوي او نه به وکارول شي.**

سرچينه: د متحدو ايالتونو خزانه داري، سيګار خبرو خامو معلوماتو ته ځواب، نېټه: 10/4/2010.

کابل بانک د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د استادانو، پوليسو او نورو ملکي مامورينو معاشونه ورکوي. په لنډه توموده کې، د خزانه دارۍ له مخې، متحده ايالات، د افغان ملي امنيتي ځواکونو د معاشونو په ورکړه کې د لاسوهنې هېڅ هيله نه لري. خزنه داري وايي، چې پر هر حال دا اړينه ده، چې د افغانستان پر رسمي بانکي سيستم د نړيوالو او عامه باور يا ډاډ بياپيدا کولو لپاره افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د درغلۍ هر راز بېلګو ته لاسرسی ولري.[228]

د کابل بانک حالت د افغانستان لپاره د نړيوال بانک د نوي کريډټ پر اسانتيا خبرې اترې اغېزمنې کړې. لکه چې د سيګار د 2010کال د جولای په درې مياشتني راپور کې راغلي، د نړيوال بانک يوه پلاوي په کابل کنفرانس کې ګډون وکړ او د دغه بانک د تمديدي کريډيټ د اسانتيا له پانګې يې د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت د اقتصادي پرمختيا له پروګرام سره د 125ميلونو ډالرو تړون وکړ. نوی تړون د سپتمبر په پيل کې د لاس ليک لپاره د نړيوال بانک مشريزې ته تر وړاندې کېدو له مخه مهالوېش شو. بيا هم، د بانکي سکتور د پېچلتياوو له امله، د دسمبر په پيل کې د نوي پروګرام لپاره د مشريزې خبرې اترې وځنډېدې.[229]

د اکتوبر په 1 د دغه نوي پروګرام په اړه نړيوال بانک وويل، چې که څه هم تر زاړه نظام لاندې په بېلابېلو برخو کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت فعاليتونه بريالي وو؛ خو بې عيبه نه وو. په ځانګړې توګه، نړيوال بانک د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له خوا د عامه شرکتونو د ترديد حواله وکړه او زياته يې کړه، چې وروستی "د لوی بانک لانجې د افغانستان نوی مالي نظام زيانمن کړ او د هېواد د درغلۍ او حکومتدارۍستونزې يې رابرسېره کړې." د بانکي سيستم پياوړتيا د نړيوال بانک په بېلابېلو موخو کې د هر نوي اقتصادي پروګرام لپاره د يوې موخې په څېر وپېژنده.[230]

## د غيرسمي نغدي معاملو تنظيم

د افغانستان اقتصاد په ابتدايي بڼه پر نغدو ولاړ دی: د خزانه دارۍ له مخې، تر 5%کم افغانان بانکي حسابونه لري. په پايله کې، زياتره افغانان خپل کارونه او سوداګري په دوديزه بڼه د حوالو د سيستم له لارې ترسرکوي. په اصل کې، د افغانستان نږدې -70 80% مالي بهير د حواله دارو د نارسمي شبکو له لارې پرمخ ځي.[231]

د ګډ مالي سيستم چلنجو د ټاکلو په خاطر، خزانه داري له د افغانستان بانک سره تخنيکي مرسته کوي، چې د څېړنې د ځانګې وړتيا او نظم يې پياوړی کړي.[232] دهغو ډېره توجه د حواله دارۍ سيستم ته ده. متحده ايالات همدا راز د افغانستان بانک سره د يوه مالي استخباراتي ټولی د جوړولو مرسته هم کوي، چې د پيسو د وينځلو، د ترهګرۍ د پانګونې او نور مالي جرمونه کشف او مخنيوی وکړي. د افغانستان بانک او د مالي استخباراتي ټولی د کار د بشپړتيا لپاره د لويو جرمونو پرضد د مبارزې ځواک ته يو سلاکار هم چمتو کوي، چې د مالي جرمونو د څېړنې وړتيا وغوړوي.[233]

د دې هڅې د يوې برخې په توګه، مالي استخباراتي ټولی، حواله دارو ته د لايسنسونو د ورکړې پروژه پيل کړې ده. د خزانه دارۍ له مخې، دې پروګرام د هغو حواله دارو، چې په مياشت کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د خپلو مالي فعاليتونو راپور ورکوي، شمېر له 0% نه 65% ته لوړ کړ.[234]

مالي استخباراتي ټولی همدا راز د افغانستان بانک کرنسي هم خرڅلاو ته بړدي، چې د زياتو کرنسيو پېرل معلوم کړي او بيا يې پايلې د افغانستان د ګمرکونو د چارواکو په لاس د ټولو شويو پيسو او مالونو د اعلاميې له فورمو سره پرتله کړي. د خزانه دارۍ پر بنسټ، د دې مېتود په کارونه، مالي استخباراتي ټولی په دې پوه شوه، چې په

**د ترهګرو د مالي شبکو پرضد مبارزه:**
**د 2010کال په جولای کې، د 13224 اجرايي فرمان په کارونه د متحدو ايالتونو حکومت د طالبانو او حقاني ډلې د درو کليدي مشرانو او پانګورو د متحدو ايالتونو شتمنۍ کنګل او بنده کړه. او د متحده ايالتونو خلک يې له دوی سره د هر ډول مالي معاملې نه منع کړل. درې ترهګريزه مشران، ګل آغا اسحاقزی، امير عبدالله او ناصرالدين حقاني هم د ملګرو ملتونو د جرګه ګۍ په 1267 تلفيقي لست ور زياد شول. د ملګرو ملتونو ټول غړي هېوادونه اړ دي، چې په دې لړليک يا فهرست کې د راغليو وګړو شتمنۍ او تګ و را تګ کنګل او بند کړي او دوی ته د وسلو د مخنيوي په خاطر يوه موسسه جوړه شي.**

سرچينه: خزانه داري، سيګار ته ځواب، نېټه: 10/4/2010 د ملګرو ملتونو د امنيت شورا کميټه د 1267(1999) پرېکړه ليک له مخې د القاعده، طالبانو او د ورسره افرادو په مورد کې رامنځته شوي ده . پرليکه: 10/10/2010.

متوسطه توګه تر 1.3میلونو زياتي نغدي پيسي (د بېلابېلو کرنسيو) له افغانستان نه دوبۍ ته لېږدول کېږي.[235] د خزانه دارۍ له مخې، که څه هم مالي استخباراتي ټولي د پيسو لېږد کشف کړای شو؛ خو هېڅ داسي رسمي سيستم نشته، چي د کابل له هوايي ډګر نه وتونکي او راتلونکي پيسي وشمېري. د داخلي امنيت د وزارت په مشرۍ د متحده ايالاتو د سلاکارو يوې ډلي د دغو نغدو پيسو د لېږد پرضد د رسمي مبارزې لپاره يو پلان رغولی دی. د خزانه دارۍ له مخې، دا پلان د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته سپارل شوی دی؛ خو تراوسه لا پلي شوی نه دی. خزانه داري زياتوي، چي له افغانستان نه د پيسو ايستل معمولي نه دي، بلکي دا ښيي، چي دا هېواد له يوه لوی مالي ګواښ سره مخ دی. تېرکال، د افغانستان واردات 8.8بيلونه ډالره او صادرات 2.2بيلونه ډالره وو. د خزانه دارۍ له مخې، د دې پايله د 6.6بيلونو ډالرو يا نژدې %49مالي ناورين و. د وارد شو مالونو يا خدمتونو پيسي يا بايد د رسمي بانکي سيستم له لارې او يا نغدي ورکړل شي.[236] د کابل له هوايي ډګر نه د وتونکو او راتلونکو پيسو لپاره د سيګار څېړني پلان په موخه، د جزياتو لپاره 2مه برخه وګورئ.

## مالي پايښت

د غوره کار له مخې د مالي پايښتي پراختيا زياتوالی، د متحده ايالاتو، افغانستان او پاکستان د سيمه ييز ټيکاو يا ثبات د کړلارې په لويو موخو کې راځي.[237] د دغو موخو د ترلاسي لپاره، د خزانه دارۍ، تخنيکي مرستندوی په افغانستان کې شپږ غړي لري، چي د مالي ادارې، بوديجې، داخلي کنټرول او د ګټو د ټولولو په برخه کې د ماليې وزارت ورتيا پياوړې کړي.[238] له تېرو درو مياشتو راهيسي د متحده ايالاتو سلاکاران له ماليې، ټرانسپورټ او هوانوردۍ وزارت سره مرسته کوي، چي د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې د تم ځايونو(پارکينګ)، کېناستو او له هوايي حدودو د تېرېدو د فيس لپاره د ګټو د ټولولو سيستم ورغوي. د خزانه دارۍ له مخې، د متحده ايالاتو سلاکارانو په کورني او نړيوالي ملکي هوانوردۍ پورې تړلی داسي ماليه يا فيس موندلی دی، چي د افغانستان اسلامي جمهوري دولت يې نه ټولوي. خزانه داري زياتوي، چي د متحده ايالاتو د هوانوردۍ فدرالي اداره به د ټولولو اداري سيستم واخلي او د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې به يې ولګوي، چي په خپلاسي يا اتومات ډول به د ماليې د ټولولو ټول ملکي فعاليتونه کنټرولوي او هر مسافر ته به بيل ورکوي. د يوه پوهاوي له مخې، د ماليې او هوانوردۍ وزارتونو به په ګډه په دې برخه کې معلومات او اسناد شريکوي او د دغو ماليو په راټولولو، بيل کولو او ارزولو کې به مساوي برخه اخلي. د خزانه دارۍ له مخې، د هوانوردۍ د فدرالي اداري او خزانه دارۍ په مټ رامنځته شوی دا ګډون جوړښت به په نژدې راتلونکي کې چارواکو ته وسپارل شي.[239]

## اړين خدمتونه

په تېرو درو مياشتو کې لکه څرنګه چي په شبرغان کې د انرژۍ د زېرمو د پرمختيا او د خصوصي سکتور د پانګونې سمبالو لپاره د متحدو ايالاتو هڅو دوام درلود، دغسي د سيمه ييزې انرژۍ همکارۍ بهير هم روان و. د ښوونې او روزنې په برخه کې، افغان چارواکو د متحده ايالاتو له تخنيکرو سره په ګډه کار وکړ، چي په ښوونځيو کې د افغانو نجونو د مسموم کولو مسوولين وپېژني. او د عامې روغتيا وزارت د ګوزڼ د واکسينو لړۍ پيل کړه، چي د افغانستان په شمال کې د وبا د خپرېدو مخه ونيسي . متحده ايالاتو همدا راز يو نوی نوښت اعلان کړ، چي په افغانستان کې د ګرځندو خبرونو او معلوماتو خدمتونه رامنځته کړي، چي په پراخه کچه خبرونه خپاره شي.

## انرژي

په تېرو درو مياشتو کې په يوې ځانګړې پرمختيا کې، د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان وزيرانو د

**د 2009کال په جنورۍ کې، په کابل کې 70 جواز لرونکو حواله دارانو، د افغانستان د پيسو نوي کولو او مينځلو ضد قانو سره سم راپور نه ورکاوه. د متحدو ايالتونو سلاکارانو، FinTRACA، او DAB د ځانګړي ځانګړې له تخنيکي مرستې سره له حواله دارانو سره وکتل او د راپور نوې فورمې يې جوړې کړې. په پايله کې، تر 200 زياتو حواله دارانو ته په کابل او په ټول هېواد کې تقريبا 495 کسانو ته جواز ليکونه ورکړل شوي دي. دوی د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د غير مجازحواله دارانو د پېژندو لپاره کار کوي. د خزانه دارۍ له مخې، د حواله دارانو لپاره د راپور د ورکړې يو خپل لاسي سيستم جوړ شوی دی، او په راتلونکي کال کې به يې کارونه اجباري شي.**

سرچينه: خزانه دارۍ، سيګار ته خواب، نېټه: 9/29/2010.

**هوايي حق العبور:** الوتکه چي کله د يوه په هوايي فضا کې پرواز کوي نو خپل هوايي حق العبور ورکوي، مګر نه هغه هيواد ته چي الوتکه پکښي کښيني.

سرچينه: د متحدو ايالتونو ولسي جرګه، د FFA د 2009کال د تجويز قانون، 5/19/2009، 81 مخ.

ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هندوستان د ګازو د نل ليکي يو تړون لاسليک کړ. څرنګه چې په 3.31شکل کې ښوول شوي، په تړون کې نژدې د 1,800کيلومتره اوږدې نلليکي خپراوی هم راځي، چې پکې به له ترکمنستان نه، افغانستان، پاکستان او هند ته طبيعي ګاز ځي. اسيايي پرمختيايي بانک د دغې پروژې له پانګوني سره دلچسپي ښوولې ده. پر نورو ګټو سربېره، به د ګازو دغه نلليکه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د نلليکې د لېږد او د ګاز د خپراوي د ماليې له لارې ډېره ګټه ورسي. د معادنونو د وزير له خولې، ټاکلې ده، چې د 2010کال په دسمبر کې به د ګازو د نل ليکې پر پروژې د دغو څلورو هېوادونو ولسمشران لاسليک کوي.[240]

د نړيوال امنيت د تحليلي موسسې په يوه ليکنه، د احتياط په يوه يادښت کې، د نل ليکې د پرمختيا ترمخه لويو خنډونو ته ګوته نيولې ده. دوی په افغانستان کې امنيتي ننګونې هم رانغاړي، د ترکمنستان د ګازو د مقدار پر سر ناموافقه او په سيمه کې د نورو پلان شويو نلليکو سيالي، ايران هم په دې کې راګډوي. اسيايي پرمختيايي بانک وايي، چې د دغې نل ليکې مرکزي لګښت نژدې 7.6 بيلونو ډالرو ته رسيږي.[241]

په اګست کې، روسيې اعلان وکړ، چې دوی به د اوبو د برېښنا د بندونو او د ګازو د څاګانو د کېندې په ګډون په افغانستان کې په بنسټي انرژۍ کې پانګونه کوي.[242] په دې کې د هغو بنسټونو بيارغونه هم راځي، چې د پخواني شوروي اتحاد د نيواک پرمهال په افغانستان کې جوړ شوي دي. څرنګه چې د 2010کال د سيګار د جنورۍ په راپور کې راغلي دي، په 1980و کلونو کې د روسيې په ګډون، افغانستان د طبيعي ګازو له صادراتو ډېره ګټه پورته کوله. په افغانستان کې د شوروي د نيواک پرمهال د طبيعي ګازو زياتره څاګانې وايستل شوې او د وتو پرمهال يې محدودې شوې.[243]

په تېرو درو مياشتو کې، د معدنونو وزارت، د افغانستان په شمال په سرپل کې د نفتو د توان او د طبيعي ګازو د منابعو د معلومولو د پرمختيا په اړه څو اعلانونه خپاره کړل. په اګست کې، د وزارت وياند په سرپل کې د ګازو د شتو څاګانو د نوې رغونې په تعقيب لومړی کېندنې وکړې.[244]

د معدنونو وزارت د بلخ او شبرغان ترمنځ د نفتو د يوې بلې ځا د انکشاف خبر هم ورکړ، چې د 1.8بيلونه بېرله تېل پکې دي. د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې له مخې، دا راپور د شوروي اتحاد د وختو پر اسناد ولاړ زوړ راپور دی، نوی نه دی.[245]

پر نفتو سربېره، شبرغان د طبيعي ګازو څاګانې هم لري. د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې له مخې، د متحده ايالاتو حکومت د افغانستان د معدنونو له وزارت سره د دغو زېرمو د پرمختيا تخنيکي مرسته کوي. په تېرو درو مياشتو کې د متحده ايالاتو د سمندرپورې خصوصي پانګونې شرکت مرستيال مشر افغانستان ته لاړ چې، په شبرغان کې د 150- 200ميګاواټو ګازو د راايستنې د پرمختيا پر وړانديز خبرې وکړي.[246] د اوپيک وړانديز، چې تراوسه لا د پلان لاندې دی، درې برخې لري:[247]

- د نړيوال پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره به د افغان ګاز له شرکتونو سره د وړتيا د رغونې مرسته وکړي، چې پروژې ته طبيعي ګاز تيار کړي.
- د اقتصادي پرمختيا لپاره د آغا خان د ادارې او متحده ايالاتو د انرژۍ د دوو شرکتونو په ګډون به خصوصي پانګوږ په مساوي توګه، ټولټال 50میلونه ډالره او د اوپيک 250میلونه ډالره پور پر دې پروژې ولګېږي. انرژي به د يوه اوږدمهاله پلان له مخې د افغانستان د برېښنا پر شرکت خرڅه شي.
- اسيايي پرمختيايي بانک به د افغانستان د برېښنا شرکت ته د تارونو د غزولو د سيستم او د کريډټ د ملاتړ مرسته کوي.

3.31 شکل

د طبيعي ګاز د وړانديز شوې TAPI نل ليکې لاره




سرچينه: د تګلارې د بديلونو لپاره د کاناډا مرکز، "د ناامنه هېواد له لارې نل ليکه: افغانستان، کاناډا، او د انرژۍ نوې ستره لوبه،" جان فوسټر، Foreign Policy Series, Vol. 3, No. 1، 6/19/2008، مخ 5.

له مرکز سره د ترلي ظرفيت په پرمختيا کې، د نړيوال پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو ادارې اعلان وکړ، چې د افغانستان د برېښنا له شرکت سره د کارګرو لپاره به د انګليسي ژبې کورسونه جوړ کړي. د نړيوال پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو اداره وايي، چې په کابل کې د دوی د نغلو د برېښنا بند بيارغونه، کمپيوټري سيستم لري، چې د چلښت لپاره د ليکلي انګليسي زده کړه غواړي. په کابل کې د سروبي د برېښنا هم همدا ډول سيستم لري، چې انجينران يې د انګليسي ژبې زده کړو ته اړتيا لري. دا د افغانستان د انرژۍ په سکتور کې د سيګار د جنورۍ د ارزوني پايلې په ګوته کوي او دا ښيي، چې د متحده ايالاتو هڅو د افغانستان د انرژۍ لپړد ډېر کړی د؛ خو ټيکاو اوس هم د يوې ننګوني په توګه پاتې دی.[248]

په تېرو درو مياشتو کې، د متحده ايالاتو مرکزي قوماندې وويل، چې په کندهار کې د برېښنا د خپراوي ننګونې ته يو حل په ګوته کېږي. مرکزي قوماندې د 10ميګاواټو برېښنا توليدونکو دوو جنريټرو ترون هم کړی دی، چې لومړنی به يې د 2010کال د دسمبر په 1 د کندهار په صنعتي پارک کې ولګېږي. دويم به د 2011کال په فرورۍ کې د کندهار په لويديځه برخه کې ولګېږي. دا ترون د جوړښت او ساتنې پر لګښت سربېره د 60و ورځو د تېلو لګښت هم مني. يساف، د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام له ځانګړي برخې، د افغان ښستونو د ماليې لپاره 600ميلونه ډالره غوښتي دي. مرکزي قوماندې دا غوښتنه تاييد کړه او د لاس ليک لپاره يې د دفاع سرمنشي ته ولېږله. مرکزي قوماندې وويل، چې که دا غوښتنه لاس ليک شي؛ نو د تګ راتګ پيسې به د افغان ښستونو د ماليې له لارې ورکول کېږي. که لاس ليک نه شي؛ نو د قومندان د بيړني ځواب پروګرام ماليې به کارېږي.[249]

## ښوونه او روزنه

د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې په وينا، دغې ادارې، په 2009مالي کال کې له پوهنې وزارت سره 7ميلونه ډالره(د پوهنې وزارت د بوديجې %8 جوړوي) او په 2010مالي کال 5.7ميلونه ډالره(د پوهنې وزارت د بوديجې%4جوړوي) مرسته کړې. دا ماليې له دانش نړيوال پرمختيايي شبکې سره، چې د ډنمارک د بهرنيو چارو د وزارت برخه ده، د نظم له لارې رامنځته کېږي.[250]

د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره له دانش نړيوال پرمختيايي شبکې سره د ګډو پيسو ترون لري، چې له مخې يې له لومړي نه تر شپږم ټولګي پورې د نصاب د پښتو او دري کتابونو د چاپ لګښت ورکول کېږي. له 2007نه تر 2011پورې به پر دغه پروګرام، د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې 25ميلونه ډالر ولګېږي. دا پنځه کلن ترون به د 2012کال د مارچ پر 2مه پای ته ورسېږي.[251] 3.7 جدول د لومړني ښوونځي د نصاب هغه کتابونه ښيي، چې د ترون د لومړيو درو کلونو په اوږدو کې د متحده ايالاتو او ډنمارک په مرسته چاپ شوي دي.

**افغان کوچنيانو په لومړني ښوونځي کې څه زده کوي: له لومړي ټولګي نه تر شپږم ټولګي پورې د پوهنې وزارت په نصاب کې دا مضامين شامل دي: رياضي، د ژبو لوست(پښتو او دري)، د ژوند مهارتونه، تاريخ، ټولنيزمطالعات، ساينس او انګليسي. پر دې سربېره پښتو او دري د دويمو ژبو په توګه هم ښوول کېږي.**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 10/4/2010.

3.7 جدول

**د افغانستان د نصاب کتابونه: د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره-DANIDA ترون کوي**

| | د کتابونو شمېر(په ميلونو) | د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې د مالي شريکونه، (په ميلونو ډالر) | د DANIDAد مالي شريکونه (په ميلونو ډالر) |
|---|---|---|---|
| 1 کال | 23.66 | 4.53 | 5.11 |
| 2 کال | 15.39 | 3.12 | 4.68 |
| 3 کال | 40.67 | 10.02 | 9 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 10/4/2010.



په اکتوبر کې، نجونې په کتار کې انتظار باسي ، چې د افغانستان د ملکي نظم له ملي پوليسو نه د ښوونځي کتابونه او اړين توکي ترلاسه کړي. متحده ايالات او ډنمارک د ټول افغانستان لپاره له لومړي ټولګي نه تر شپږم ټولګي پورې د نصاب د کتابونو له چاپ سره مرسته کوي. (د آيساف تصوير، د .G.A ولب)

د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره وايي، چې د نصاب د کتابونو خپراوی او وېش د پوهنې وزارت پرغاړه دی، چې کتابونه د ولايتونو رياستونو ته سپاري. د پوهنې وزارت ولايتي رياستونه د نصاب کتابونه بيا د ولسواليو د پوهنې مديريتونو ته ورکوي. د افغانستان په سويلي او ختيځو برخو کې د نصاب د کتابونو په وېش کې دفاع وزارت د افغان ملي اردو د کتارونو په مټ مرسته وکړه. د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې له مخې، د نصاب د نژدې 19.2 ميلونه کتابونه د ۱۳۸۸ل کال(2009/2010) په اوږدو کې وويشل شول.[252]

په افغانستان کې د متحده ايالاتو د کړلارې يوه مهم غرې، د نجونو په ګډون ټولو وګړو ته د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له موخو سره مرسته کوي. په تېرو درو مياشتو کې، دا موخې د نجونو زده کونکو د مسموم کولو پېښو وننګولې. د 2010کال د اګست پر 25مه يوې پېښې تر 60زيات زده کونکي او ښوونکي ناروغ کړل. د اګست پر 28مه په کابل کې يوې بلې پېښې 48 نجونې او ښوونکې له بېړني طبي ګواښ سره مخ کړې. د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې له مخې، لومړنيو اټکلونو د دې پېښو لامل سختې عصبي حملې وښوولې؛ خو طبي ازمايښتونو جوته کړه، چې لږ تر لږه په يوه پېښه کې خو سموم موجود و. د ناټو/آيساف زهرپېژندونکو د اغېزمنو زده کونکو وينه وازمايله او دا ثابته شوه، چې دا سموم لاسي و او د کرنې ناورين ضد درمل، په تېره ملاتيون، پکې کارول شوي وو، چې په منظم يا نامظم ډول پاشل شوي وو. د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې پر بنسټ، پر نجونو دا ډول بريدونه د طالبانو تر شړل کېدو وروسته پرله پسې شوې دي. امريکا غږ ته په يوه مرکه کې د عامې روغتيا وزارت دا ومنله، چې په تېرو دوو کلونو کې په ورته پېښو کې د بېلابېلو 10و قربانيانو وينه، چې وازمايل شوه؛ نو ارګانو فاسفيت يوه اندازه سموم پکې و.[253]

د ښوونځيو پر زده کونکو د روانو بريدونو په ځواب کې، د امريکا متحده ايالاتو او افغانستان په ګډه د ملګرو ملتو د بشري حقونو شورا ته يو قانون وړاندې کړ، چې د رايو په اتفاق سره لاس ليک شو. دې قانون د ملګرو ملتونو پر اړوندو ادارو او نړيوالو ټولنو غږ وکړ، چې د ښوونځيو ښځينه زده کونو ته د زهر ورکولو په ګډون، پر افغان زده کونکو د شويو ټولو بريدونو د څېړنې لپاره د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره مرسته وکړي.[254]

**ملاتيون:** هغه مرکب چې په کرنيز درملو کې د حشراتو د کنترول لپاره په زياته پيما نه کارول کېږي اورګانفسوفسټ دی.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 10/4/2010.

## روغتيايي خدمتونه

د عامي روغتيا وزارت په هغو دوو وزارتونو کې راځي، چې د کوربه هېواد لپاره د ترون د ترلاسې په موخه د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ایالاتو اداري تصديق کړی دی. په دې لړ کې، عامي روغتيا وزارت ته د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ایالاتو اداري 236میلونه ډالره ورکړي دي، چې د پنځو کلو لپاره د روغتيايي ځانګړي خدمتونه رامنځته کړي.[255]

په تېرو درو مياشتو کې، د عامي روغتيا وزارت د ګوزڼ د واکسينو دوه لوی کمپاينونه ترسره کړي دي. د ګوزڼ د ختمولو د نړيوالي طرحې له مخې، د افغانستان شمالي ولايتونه له تېرو لسو کلو راهيسي له ګوزڼه خالي دي. په سپتمبر کې، بيا هم دې تولنې د کندوز په امام صاحب ولسوالی کې د ګوزڼ د يوه نوي کيس راپور ورکړ. کندوز، چې له تاجکستان سره پر پوله پروت دی، د دې کال په پيل کې پکې د ګوزڼ مهمې پېښې رامنځته شوې. زياتو ازمايښتونو وښووله، چې له پاکستان سره لګېدلي سيمي هم د ګوزڼ د رامنځته کېدو ځايونه دي.[256]

په پايله کې، د عامي روغتيا وزارت، په پنځو شمالي ولايتونو(کندوز، بدخشان، تخار، بغلان او بلخ) کې د واکسينو درې ورځنی ببړنی لړی پيل کړه، چې تر پنځو کلونو ټيټ عمري نژدې 1.5 ميلونو کوچنيان پکې واکسين شول. د ملګرو ملتونو خبري اژانس وايي، چې سيمه ييزو روغتيايي چارواکو هم هڅه کوله، چې هر وګړی، چې د افغانستان-تاجکستان له سرحده تېرېږي، واکسين کړي. پر دې سربېره، د 2010کال د اکتوبر پر 3مه په ټول هېواد کې د ګوزڼ د واکسينو کمپاين پيل شو.[257] د عامي روغتيا وزارت دا کمپاين د ګوزڼ پرضد د نړيوالي طرحې په مرسته پيل کړی و. دا نوښت د متحده ایالاتو د ناورينونو د کنټرول د مرکزونو، د نړيوال روغتيايي ټولنې، د ملګرو ملتونو د ماشومانو بوديجې او د نورو نړيوالو ټولنو په مرسته پيل شوی و؛ خو په دوی کې تر نورو ټولنو متحده ایالاتو لويه ونډه لرله.[258]

په اګست کې، د عامي روغتيا وزارت د غزني په نووا ولسوالی کې د وبا د پېښو خبر ورکړ. د عامي روغتيا وزارت دې ته ببړنی ځواب وواېه، چې په دې کې طبي اړتياوې او د وبا درمل شامل وو. وزارت پر دې سربېره د انجيوګانو نارسمي سيمه ييز پرسونل هم وروزه، چې دا ناروغي کشف او درمل کړي. د کمپاين پرمهال، د عامي روغتيا وزارت مرستيال د ټول هېواد په کچه د روغتيا د ساتنې د مسلکيانو کمی درک کړ.[259]

په تېرو درو مياشتو کې، متحده ایالاتو اعلان وکړ، چې په دې څلور کلنو کې به د روغتيايي ساتنې په برخه کې د ښځينه کارګرو د روزنې لپاره په ژمنتيا سره 37میلونه ډالره ولګوي.[260] په تېرو درو مياشتو کې د ميندو په روغتيا کې د نړيوال بانک ترسره کړې سروې، د روغتيا د ساتنې په برخه کې د افغانو ښځو پر زياتولو ټينګار وکړ. سروې په ډاګه کړه، چې که څه هم په افغانستان کې د ميندو مړينه په 100,000 کې له 1,600نه 1,400و ته راټيټه شوې ده؛ خو بيا هم دا شمېر تر اوسه ډېر زيات دی. د 2008کال د اسنادو له مخې، د 172هېوادونو سروې وښووله، چې په افغانستان کې تر ټولو زياتې ميندې د مرګ له ګواښ سره مخ وې( په 11 کې 1). سروې د بالغو ميندو د مړينې د يوه امکان په توګه په ډاګه کړې، چې 15کلنه ښځه به د ميندو په روغتيا پورې د تړليو لاملونو له امله مري.[261]

د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ایالاتو اداره، په افغانستان کې د روغتيا د ساتنې د روانو نوښتونو شمېر لري. 3.8جدول د هغه پروګرام د فعاليتونو تازه راپور ښيي، چې په تېرو درو مياشتو کې د پاسنيو نوښتونو لاندې ترسره شوي دي.

---

**تصديق:** د USAID يوه پروسه ، چې د يوه بهرني هېواد د يوه وزارت وړتيا يا ظرفيت ټاکي، چې د يوه ځانګړي ترون په خاطر د USAID سرمايې حساب او خرڅول کنټرول کړي. دا ديوه وزارت عمومي تصديق نه دی. مخکې له دې چې يو بهرنی وزارت د کوربه هيواد ترون له USAID څخه تر لاسه کړي، تصديق غوښتل اړين دی. تراوسه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دوه وزارتونه د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحدو ایالتونو له اداري نه د يوه کوربه هېواد د ترون لپاره تصديق شوي دي. د عامي روغتيا وزارت (د پنځو کلونو لپاره 236ميلونه ډالره) او د مخابراتو وزارت(د درو کلونو لپاره، 1ميلون ډالر)

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 9/14/2010.

3.8 جدول

| د 2010کال جولای-سپتمبره، د روغتيايي پاملرنې منتخب فعاليتونه | | | |
|---|---|---|---|
| د متحده ايالاتو پروګرام | د پيل او بشپړتيا نېټه | د پروژې د بشپړتيا لګښت(په ميلونونو ډالر) | فعاليتونه |
| د روغتيايي خدمتونو لوی شراکت د روغتيا په برخه کې له عامي روغتيا وزارت سره ترونو کوي | 7/2014–7/2008 | 236.5 | سيمه ييزو انجيوګانو ته 9.8ميلونه ډالره ورکړل شول؛ په زندان کې د روغتيايي خدمتونو لپاره کاري پلان، چې د مهالويش له مخې د 2010کال په اکتوبر کې تر سره کيده ، بشپړ شو. |
| د نري رنځ د کنټرول مرستندوی پروګرام (TB CAP) | 9/2010–10/2009 | 5.2 | 21 ښځينه کارکونکې چې د درملني کړلارې کې روزل شوي ، ښځو ته TB پاملرنې د تثبيت لپاره وټاکل شوې |
| د چلند يا سلوک د بدلون لپاره تبليغات: د افغانستان لپاره د خصوصي سکټور د روغتيايي توليداتو او خدمتونو پ پراختيا (COMPRI-A) | 11/2011–2/2006 | 34.7 | د پاکو اوبو، د ډي هايډريشن او د ماشومانو د زوکړې ترمنځ د واټن په اړه د 1, 350 راديويي او 1,125تلويزيوني اعلانونو خپراوی؛ د ماشومانو ترمنځ د واټن په اړه د يوې تلويزيوني لړۍ توليد؛ د ماشومانو ترمنځ د واټن او د کوچنې د بقا لپاره د 454و فارمسستانو روزنه. |
| د لوړو زده کړو پروژه: د کابل طبي پوهنتون (KMU) | 2011–1/2007 | 5.4 | د افغانستان د طبي زده کړو د ټولنې د پورټال جوړښت؛ د کابل د طبي پوهنتون د پوهنځی او محصلينو لپاره د ځېرنې مېتودولوژۍ کورسونو رامنځته کول. |
| د عامې روغتيا له مرکزي او ولايتي رياستونو سره تخنيکي مرسته | 9/2011–7/2006 | 83.6 | په وردګو او هلمند کې د ولايتي روغتيايي سلاکارانو استخدام او ټاکنه؛ د کورنې پلان جوړونې پروګرام ارزيابي کول ، چې د 2010 کال په اکتوبر کې به تر سره شي . |
| د روغتيايي خدمتونو د مرستو پروژه | 11/2011–7/2006 | 78.9 | د ټولنيزې روغتيا لپاره د نرسنګ د نصاب او د نرسنګ زده کړو ته د کره معيارونو د رامنځته کولو لپاره له عامې روغتيا وزارت نه د مصوبې ترلاسې او پرمختيا ، 4 ببرنې زيرنيز او نوي پيدا شوي ورزشونه د 64 ماهرو خدمتګرانو لپاره ترسره شول. |
| د روغتيايي او ښوونيزو اسانتياوو رغونه | 1/2011–1/2008 | 33.0 | د خيرکوټ ولسوالی لپاره د 20بستريز او د ګرديز لپاره د 100بستريز روغتون فرعي ترونونه تصويب شول. |
| د درمل جوړوني سيستمونو پياوړتيا | 9/2012–5/2008 | 4.5 | د خوړو او درملو د توليداتو لپاره د تنظيمي مکانيزيمونو او سيستمونو ارزونه؛ د درملو دکيفيت پياوړتيا لپاره د سپارښتنو پرمختيا. |
| د DHS مقياس: د افغانستان د مړينو ځېړنه(د مورنی مړينې ځېړنه) | 12/2011–5/2009 | 3.5 | دا صحرايي کار د دې ځانګړي نښان لپاره په May کې پيل شو؛ په 9/30/2010 کې 76%کلسترونه د بېلګې په توګه ورانديز شول، د 64% په اړه سروې وشوه او په سروی شوو کې د 54%هغو اسنادو په ډيټابيس کې واچول شول؛ په نا امنه ولايتونو کې د 28و ساحوي مرکچيانو وګومارل شول. |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 10/4/2010.

## ترانسپورټيشن

څرنګه چې د سيګار د 2010کال د اپريل په درې مياشتني راپور کې راغلي دي، د متحده ايالاتو حکومت د افغان هوايي ترافيک له څارونکو سره د مرستې له لارې د ملکي هوانوردی وړتيا رغوي. د 2010کال د سپتمبر پر 30مه د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې دوه څارونکي ځای پرځای شول. دوی د ملکي هوانوردی په برخه کې د هند په الله اباد، اوکلاهوما په ښار کې د متحده ايالاتو د فدرالي هوانوردی د اداري په اکاډمی او په کابل کې د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردی په انستيټيوټ کې روزل شوي وو. دوی د نړيوالې ملکي هوانوردی د تخنيکي شرکتونو د پروګرام په لارښوونه، پر 2009کال په دنده پيل وکړ. د دې روزنې ټرون په سپتمبر کې پای ته ورسيده او اُيساف نوی ټرونوال پيدا کړ، چې روزنه پرمخ بوځي.[262]

د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې پر بنسټ، په تېرو درو مياشتو کې درې نور څارونکي تر روزنې لاندې وو؛ هيله ده، چې دوی به دا روزنې د 2010کال د دسمبر تر 31مې پای ته ورسوي. نولس نورو تازه زده کونکو په کابل کې د ملکي هوانوردی په روزنيز انستيټيوټ کې روزنه پيل کړې ده.[263]

## رسنۍ

د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې، د سوله ييز او تل پاتي افغانستان لپاره د معلوماتو خپلواکي يو کليدي بنسټ ګڼي. په هېواد کې د خپلواکو رسنيو د پياوړتيا په موخه، د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې افغانستان د رسنيو د پرمختيا او پياوړتيا له پروژې سره د 22و ميلونو ډالرو د مرستو اعلان کړی دی.[264] د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې له مخې، دا پروژه به د رسنيو په پرمختيا کې مسلکي او تخنيکي واټن ختم کړي. د دې پروژې په بنسټي موخو کې دا راځي: د افغان خبريالانو د مسلکي مهارتونو پياوړتيا، د شونتيا تر بريده زياتو اورېدونکو يا لوستونکو ته د پيغام د رسولو اسانتيا برابرول، د قانوني او منظمي مفاهمې لپاره د اداني پياوړتيا او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د وړتيا غښتلتيا، چې رسنۍ منظمې کړای شي. په تېرو درو مياشتو کې، ، د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې، د افغانستان د رسنيو د پرمختيا او پياوړتيا د پروژې د بنسټي موخو د ترلاسې لپاره د مالي مرستو يو غوښتنليک خپور کړی دی، چې د خبرونو د منځپانګې د زياتې توزيع ته به لار پرانيزي. دا ډالې به د ګرځند افغان تليفون خبري او معلوماتي خدمتونه، چې د موبايل خبر په نامه يادېږي، ورغوي.[265]

په تېرو درو مياشتو کې د 2010کال د سپتمبر پر 5مه د يوه ژورنالست سيد حامد نوري له وژنې د افغان خبريالانو ستونزې او ورته مخ ننګونې په ډاګه کړې. ښاغلی نوري د افغانستان له ملي راديو تلويزيون سره کار کاوه او د ملي شورا د رييس وياند هم و.[266]

## د صنعت او طبيعي زېرمو پرمختيا

دا برخه، په تېرو درو مياشتو کې د کرنې، معدني منابعو، سوداګريز او خصوصي سکتور په برخه کې لويو پرمختياوو ته اشاره کوي. کرنيزې پرمختيا ته د متحده ايالاتو د پاملرنې د بشپړتيا لپاره، سيګار يوه نوې حسابرسي اعلان کړې، چې د افغانستان له کرنيز سکتور سره د متحده ايالاتو او نورو مرستندويو پراخې مرسته وپېژني او دغه مرستې سره همغږې او راتلونکې ننګونې درک کړي.[267]

## کرنه

څرنګه چې د سيګارد 2010کال د جنورۍ په درې مياشتني راپور کې راغلي دي، اوربښتونه د افغانستان په کرنه کې لوی لاس لري؛ خو بيا هم اصلاحي تخمونو، سرو او نورو پرمختګونو ته لاسرسی ډېر اړين دی. د متحده ايالاتو د سفير، ايکن بيري په وينا، دا شيان د غنمو، د افغانستان د لويو محصولاتو، چې د هېواد نيمې اړتياوې پوره کوي، د توليد په مټ د خوراکي امنيت د پياوړتيا کيلي دي. د متحده ايالاتو د هڅو د يوې برخې په توګه د دې سکتور پياوړتيا، د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره به سږکال 260,000 وړو افغان بزګرانو ته 13,000ميټريک ټنه د غنمو اصلاحي تخمونه او 40,000ميټريک ټنه سره ورکړي.[268]

د کرنې، اوبو ورکولو او مالدارۍ وزارت له مخې، په 2010کال کې د افغانستان د غنمو توليد 4.53 ټنه اټکل شوی دی. د وزارت د راپور له مخې، دا 15%له متوسط حد څخه لوړ دی. که څه هم 11%تر تېر کال ټيټ دی. د ژمي غنم له مې نه تر جونه وو او د پسرلي غنم په درو مياشتو کې ټول شول.[269] د سيګار د 2010کال د جولای په درې مياشتني راپور وايي، چې سږکال د افغانستان په ځينو سيمو کې د غنمو په توليد کې د هوا حالت لاس لاره. که څه هم سيلونو د غنمو او سبو يو څه توليداتو د افغانستان په نورو برخو کې اغېزمن کړل.

3.32 شکل

د غلي واردات، 2004/05-2009/10 (په مليونونو ټنه)




يادونې: هغه شمېرې چې په اټکل اغېزمنې شوې دې. په ټولو کې ميده وريجې شاملې دې. بېل کلونه د کرو غلو په کلونو پورې اړه پيدا کوي.

سرچينه: FAO/GIEWS، "د هېواد لنډيز: افغانستان،" 9/8/2010، مخ 1.

**د افغانستان د کرنيز سکتور په يوځلي تحرک کې له 2002راهيسې د متحده اياالتو حکومت 1.5ميلونه ډالره پانګونه کړې ده. په کليدي يا لومړنيو موخو کې دا راځي: د کرنيزو محصوالتو زياتوالی، د بزګرو او مارکيټونو ترمنځ د تړاو ټينګښت او د هغو افغانانو ډېرول، چې ګټه يې له لوړبيې قانوني محصولاتو څخه وي؛ لکه مېوه(انګور، انار، خوبانی، منې، خټکي او نور) او نورې مېوې.**

سرچينه: په کابل کې د متحده اياالتو سفارت، "د 2010کال د افغانستان د زياتيدونکي توليدي زراعت شاهد (AVIPA) د غنمو د وېش په اړه د ټرون د مراسمو پرمهال د متحدو اياالتو د سفير کارل ايکينبيري وينا،" 10/5/2010؛ د متحده اياالتو د دفاع وزارت، د افغانستان او پاکستان د سيمه ييز ټيکاو يا ثبات کړلار، 1/21/2010، 6مخ.

د کرنې، اوبو ورکول او مالدارۍ وزارت له مخې، د 2010کال د وريجو، وربشو او جوارو په ګډون د ټولو غلو کچه، 5,9 ميلونو ټنو ته رسېږي. د FAO له مخې، دا تر 2005-2009کاله(5.232ميلونه ټنه) بنه لوړ دی.که څه هم تر ټېرکال %10ټيټ دی.[270]

د غلو او حبوباتو واردات ښايي د ځينو لاملونو له مخې کم شي.[271] د پاکستان د لومړي وزير په وينا، د پاکستان د پېښور په دره کې ويجاړونکو سيلونو د دې هېواد د کرنيزو بنسټونو يو په پنځمه برخه ويجاړه کړې او د کرنيزو محصوالتو ته يې زيان اړولی دی.[272] په پايله کې، همدا توقع کېده، چې پاکستان به افغانستان ته پر تلونکو غلو، غوښو او نورو کرنيزو توليداتو بنديز لګوي.[273] پر دې سربېره، ناسمې هوا په روسيه، قزاقستان او اوکراين کې د غنمو توليدات کم کړي دي.[274] مخکې له مخکې د قحطۍ د خبر ورکونې د سيستم شبکې په وينا، د 2010کال د اګست پر 15مه، روسيې د غنمو پر صادراتو د بنديز اعلان وکړ.[275] 3.32 شکل، چې د تېر کال په پرتله سرکال افغانستان ته د غلو په وارداتو کې کمښت راغلی دی.

## لوړو ارزښتو محصولات ته ارتقا

په تېرو درو مياشتو کې، د کرنې وزارت د مېوې د ونو په کرلو کې د پامور زياتوالي خبر ورکړ.[276] پر دې سربېره د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده اياالتو اداري راپور ورکړ، چې د ترتيب تخنيکونو، تړلو، درجه بنديو او د زېرمه کولو پرمختياوو د افغاني محصوالتو ارزښت لوړ کړی دی.[277] د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده اياالتو اداري عمومي څارن د دې ادارې د بديل پرمختيايي پروګرام د توسيعي يوه حسابرسي خپره کړه، چې د افغانستان په سويل په هلمند، ارزګان، نيمروز او فراه کې د کوکنار د کر مخنيوی وشي. ده په ډاګه کړه،چې د 2009کال په دسمبر کې 11,000افغان بزګر د نويو کرنيزو مېتودونو له مخې روزل شوي وو. د کار له پيله، دې پرمختيايي پروګرام د سيمه ييزو بزګرو له مارکيټ سره مرسته کړې او د توليد پېرنه يې 3.8ميلونو ډالرو ته رسولې ده.[278] څرنګه چې د سيګار د 2010کال د اپريل په دری مياشتنې راپور کې راغلي دي، د نړيوالي پرمختيا لپاره د

متحده ايالاتو اداري، خپلي لوېي انجيو ته نژدي 30ميلونه ډالره، د سولي او د افغانستان د باارزښته غلو د توليد لپاره ورکړي. [279]، د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري د راپور له مخې، د 2010کال د سپتمبر پر 30مه، د سولي رينبو ته1.9 ميلونه ډالر ورکړل شول. په دې دوران کې، د دې پروګرام نژدې 25% د بنسټونو او بيارغوني، نرسريو او د نرسريو د لېږد، د بوټو توکي، ونو، د تظاهر نخچو، د مرکزي بازارموندني علمياتو، د فارمونو د بيارغوني، کارځايونو او روزنيزو برخو او د ټرونوالو د ماليو په ګډون په پانګونو او لېږد لګېدلي دي. پاتي 75% پر پرسونل، ګټو، سفرونو، حق الزحمو، دفترونو او کمپيوټري سامانونو، د کور پر لرګينو سامانونو، ګاډو، د ګاډو پر کرايو او د سرباړو مديريتونو په بيو لګېدلي دي. د دې پروژې د پيل لپاره 86 افغانان، 1امريکايي او د دريېمي نړی 2 وګړي وګومارل شول[280]

د نړيوال پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو د اداري پر بنسټ، دې پروګرام تراوسه 6,680 افغانانو ته کومکي بڼ د جوړولو، د انګورو د بڼونو د ارتقا، د سبو د کر، د پخلنځي د بڼ د جوړولو او د کورنی هګيو د توليد په برخه کې مرسته کړې ده. د 2010کال د سپتمبر پر 30مه، دا په ځينو له پايلو نه ډکو پروګرامونو کې راته:[281]

- نژدې 425هيکتاره بڼونه او بوزغلي وشول؛ 1, 336بزګرو غوره غلي وکرلې؛ 1,754وګړي وروزل شول.
- توليدونکو 6.9 نيټه ټنه عالي او تازه انګور، د يخ ساتني او د بنډل د تخنيکونو نه په استفاده صادر کړل. د بزګرو ګټه په ټن کې په پاکستان کې له 33 ډالرو نه 327 ډالرو او په هند کې 759 ډالرو ته لوړه شوه.
- په هلمند، باميان،پکتيا او ننګرهار کې 325 کورنيو ښځو د چرګې د بچو په ساتنه او د سبو د بڼونو په جوړونه پيل وکړ.
- د مېوو د وچولو د تخنيکونو پرمختيا او له صادرونکو سره د ښو اړيکو لرل، د وچو خوبانيو په بيو کې پاموړ زياتوالی راووست. افغان بزګرانو، چې په دودېزو مېتودونو يې په 7و کيلو ګرامو کې 150- 170 افغانی ترلاسه کولې، اوس په 7 و کيلو ګرامو کې 400-450 افغانی ترلاسه کوي. يواځې په اګست کې 10ميټريک ټنه خوبانی صادرې شوې دي.

په پای کې، د دفاع وزارت په افغانستان کې د کاروبار او ټيکاو د عملياتو وظيفوي ځواک د کشمش د صنعت ارزونه بشپړه کړه. د شوروي اتحاد تر نيواک له مخه افغانستان د کشمشو په درو لويو صادرونکو هېوادونو کې راته. له هغه وخته تر اوسه هغه سيستم، چې له انګورو نه کشمش جوړوي، ډېر خراب شوی دی. دفاع وزارت دې پايلي ته رسېدلی دی، چې د پروسې د اسانتياوو نوی هنر به په 2 ميلونو ډالرو ورغول شي. د کاروبار او ټيکاو د عملياتو وظيفوي ځواک د متحده ايالاتو د انګورو د لويو واردونکو او يوې افغان کمپنی ترمنځ ګډ وينچور، چې د اوږدمهالي پانګوني، وېش او د ټيکنالوژۍ ټرون پکې راځي، رامنځته کړی دی.[282]

## د معدنونو استخراج

لکه د سيګار د 2010کال د جون په راپور کې چې راغلي، متحده ايالاتو د خپلو هڅو په لړ کې د افغانستان د معدني شتمنيو تخمين خپورکړی دي، چې د خصوصي سکټور پانګونه وغوړوي. ورپسې، په درو مياشتو کې، د کانونو وزارت وړانديز بيا وکړ، چې د حاجي ګک د اوسپنی کان بيا ورغوي.[283]نړيوال بانک په وينا، د حاجي ګک د اوسپني د تيرو کان د نړۍ تر ټولو لوی نارغېدلی کان دی.[284]د مناقصي د اعلان پرمهال د کانونو وزارت وويل، چې شوروي دا نژدې 1.8بيلونو ټنو اوسپنيزو تيرو کان بللی و. د کانونو وزارت د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د اداري او نړيوال بانک په مرسته په سپتمبر کې په نيويارک کې د پانګوني په جوړ شوي سيمينار کې جزيات وړاندې کړل.[285]

**د اوسپنې تيږه:** د ستيل په جوړولو کې کارېدونکې ذرې. د اوسپنې له نړيوالو لوړېدونکو بيو سره سم د حاجي ګک د معدن څارنه د 2009کال په اکتوبر کې د اوسپنې د تيرې بيه، چې يوه وچه ميټرک ډبره په 95.95 امريکايي سينټه وه، د 2010کال په اګست کې دوه چنده شوه او هره وچه ميټرک ډبره 203.32ته ورسېده.

سرچينه: IMF، "د اوسپنې د تيرې مياشتنی بيه، 2009، اکتوبر2010- اګست، پرليکه 10/2/2010.

چينايي کمپنۍ په افغانستان کې تر ټولو نورو نړيوالو کمپنيو په کانونو کې پانګونه کوي. د جيانګسي د مسو کمپنۍ، چې د مورو و پلار کمپنۍ يې دولتي ده او د چين د مسو شرکت، چې دا هم يو دولتي شرکت دی، د افغانستان د عينک د مسو د کان بيارغونه پر غاړه لري.[286] د دې تړون د يوه غړي په توګه، د 2010کال د سپتمبر پر 22مه د چين ميټرولورجيکل شرکت د کانونو له وزارت سره يو تړون لاسليک کړ، چې د اورګاډي د پټلۍ يوه سيمه ييز ليکه، چې کابل له پاکستان او ازبکستان سره وتړي، وغزوي. [287] د کانونو وزارت وويل، چې دا د يوه لوی پلان برخه ده، چې افغانستان د پاکستان او ايران له بندر سره وتړي.

## سوداګري

د 2010کال د سپتمبر پر 14مه افغان کابينې د افغانستان-پاکستان د سوداګرۍ د ترانزيتي تړون متن لاسليک کړ. ورپسې اقدام، د کورنيو چارو د وزارت په وينا د پاکستان و، چې تر قانوني اصلاحاتو وروسته يې کابينې ته وړاندې کړي، په دې توګه دواړو هېوادون په رسمي توګه د استخدام تړون لاسليکولای شي. د 2010 کال د اکتوبر پر 7مه، د پاکستان د لومړي وزير وياند رسنيو ته په خبرو کې وويل، چې کابينې دا تړون لاسليک کړی دی. [288]

په تېرو درو مياشتو کې بله سوداګريزه پرمختيا، له مزارشريف نه د ازبکستان تر سرحده د اورګاډي د 75کيلومتري پټلۍ کار هم په بشپړېدو دی. دې ته د اسيايي بانک له لارې مالي متحده ايالات او جاپان ورکوي. پر دغه پټلۍ به کانټينرونه، چې له خپل اصلي ځای نه سيلبند راغلي وي، بې له مالي ازبکستان او افغانستان ته اوړې رااوړي. د اَيساف په وينا، د نژدې نيمو افغانانو وارد شوي شيان د حيرتان د بندر له لارې راځي. د اورګاډي تر پټلۍ مخکې دلته پر سيند يو اړخيز پول و، چې افغانستان او ازبکستان يې سره نښلول.[289]

## د خصوصي سکتور پرمختيا

د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې په وينا، ځمکو ته نه لاسرسی د خصوصي سکتور پرمخ لوی خنډ دی. په افغانستان کې د ځمکې خصوصي مالکيت جواز نه دی، بلکې يوه رسمي سند ته اړتيا ده. ځکه چې په افغانستان کې د ځمکو يوه ځانګړې برخه راجستر نه ده او تر نارسمي ترتيباتو لاندې ده. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د 90%ځمکې د ملکيت ادعا لري. د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې په وينا، د ځمکو پر سر لانجې تاريخي ريښه لري.[290]

دغو ننګونو ته د لاسرسي لپاره د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې د ځمکو د معلومولو او اقتصادي بيارغونې په نوښتونو کې 56.3ميلونه ډالره مرسته وکړه.[291] د د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې په وينا، د 2009-2004 کال د دې پروژې ګټه دا شوه، چې په 21و ولايتونو کې د 6.5ميلونو ځمکو د ملکيت اسناد جوړ شول، د ملکيت د راجسترۍ مراحل له 34 نه 3و ته راټيټ او ساده شول او د نخچو او سروې د تخنيکونو نه په استفاده کرنيزې ځمکو بيې لوړې شوې.[292]

د ځمکو د معلومولو او اقتصادي بيارغونې د نوښتونو د تعقيب لپاره، د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې په تېرو درو مياشتو کې په افغانستان کې د ملکيتونو يا ځمکو د اصلاحاتو پروژه پيل کړه. په لويو موخو کې يې د ملکيتونو پر سر د لانجو د مخنيوي او حل لپاره د يوه ميکانيزم جوړښت او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ملکيتونو د ادارې او پلان د وړتيا پياوړتيا. د ظرفيت د لوړولو په لړ کې به دا پروژه له لاندې وزارتونو او وګړو سره تخنيکي مرسته کوي: د کرنې، اوبو ورکولو او مالدارۍ وزارت، نوې جوړه شوې د افغانستان د ملکيتونو اداره، د کليو د پراختيا وزارت، د افغان جيودزۍ او کارتوګرافۍ اَمريت، د سترې محکمې د ملکيتونو د

**د کرنيزو ځمکو سروې:** د غيرمنقولې دارايي سرحد يوه پراخه اندازه ، د ارزښت، مالکيت او او سرحد په ګډون. املاکي مزرعې د مالکيت حقوقو په تاسيسولو او د ځمکو پر سر د مخالفتونو حلولو کې مهم لاملونه دي.

سرچينه: نړيواله انګليسي ډيکشنري، پرليکه 10/16/2010.

راجسترۍ اداره او افغان ښاروالۍ.[293]

د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري تاييد کړه، چې د څمکو د معلومولو او اقتصادي بيارغوني د نوښتونو پروژه به د کليو د کرنيز ځمکو خپلول، چې د زياترو يې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت دعوه لري، نه تائيدوي. د دې پرځای به، پروژه نورې اوږدمهالي بې لانجو دولتي ځمکي او نورې ستراتيژۍ رااخلي، چې له استخدام او پانګوني سره مرسته وکړي.[294]

## د افغانستان د وزارتونو ارزونه

د کابل په کنفرانس کې متحده ايالتونو او نورو مرستندويو هېوادونو د افغانستان د لومړيتوبونو په برخه کې د پرمختيايي پروژو نژدې ترسرايني ته ژمنتيا وښوده. د دې هڅې د يوې برخې په توګه، ډونرانو اعتراف وکړ، چې که د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په خپلو ادارو کې درغلي له منځه يوسي؛ نو دوی به د حکومت له لارې پروژو ته ټکس ورکوي.[295]

د متحده ايالاتو حکومت او او نور نړيوال مرستندوی هېوادونه د افغانستان د وزارتونو د وړتياوو د لوړتيا لپاره د اروزني يوه لړۍ پيلوي، چې بيا نېغه په نېغه حکومت ته ټکس ورکړي. د دې پروژې موخي دا دي: د ماليي د اداره کولو، د درزونو د شناخت او د کمزوريو د له منځه وړو لپاره د يوه وزارت د وړتيا ارزونه. پر نور کتنو سربېره، ارزونه کېدای شي، د يوه وزارت ترتيبي جوړښت، عملياتي او حسابي سيستم، د خريدارۍ پاليسي او پروسيجر او داخلي کنترول ته وګوري. ارزونه به د دغو ستونزو د هواري لپاره اقدامات هم کوي. د متحده ايالاتو چارواکي پر دې ټينګار کوي، چې د اروزني پروسيجر يوازې د دغو وړتيا لنډه ارزونه ده او له دې نه ګوره چې يو وزارت بايد ځواب ووايي يا شفافه وي، که نه. پر دې سربېره، دا ارزونه د دې تضمين نه شي کولای، چې قانون ضد کارونه به نه پېښېږي. د متحده ايالاتو له مخې، زياتره مخنۍ غوښتني مخکي له دې چې ارزونه رسمي پيل شي، کنټل کېږي.[296]

- د متحده ايالتونو د ټولو شرکتونو او نړيوالو مرستندوی هېوادونو ترمنځ شريک معيارونه شته دي، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د وزارتونو د ارزوني لپاره ترې کار واخلي.
- د اجماع له مېتودولوژۍ نه په استفاده د بشپړو صلاحيتونو څېړنه
- ډاډ، چې د ګواښ د کمښت لپاره مناسب پلې شوي دي.

د سيګار له چارواکو سره د کتو پرمهال، د متحده ايالاتو چارواکو د متحده ايالاتو دا پاليسي تاييد کړه، چې د افغانستان وزارتونه بايد پرمختللي ځواب ورکونه او شفافيت وښيي، چې نېغه په نېغه مرستي ترلاسه کړي.[297]

# د نشه يي توکو پرضد مبارزه

له 2002کال راهيستي د متحده ايالاتو حکومت-د 2010مالي کال ته د 980.11ميلونو ډالرو په ګډون- تر 4.49بيلونو زيات ډالر په افغانستان کې د نشه يي توکو پرضد مبارزې ته ځانګړې کړي دي.[298] په تېرو درو مياشتو کې، د کوکنارو د کر د کمښت لپاره له عملياتو او بديلي پرمختيايي چارو کار اخيستل شوی دی. د 2010کال په سپتمبر کې، د نشه يي توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر د افغانستان د کوکنارو په اړه يو کلنه سروې خپره کړه. سروې وښووله، چې 123,000هيکتاره ځمکه لا له کوکنارو نه ده پاکه شوې. دا شمېرې پر 2009کال خپرې شوې دي. د کوکنارو توليد 3,600MT ته راټيټ شو- 48%کمښت په 2009کال کې- خو تراوسه د بزګرانو لپاره 604ميلونه ډالره ګټه کوي. د هلمند او کندهار په ګډون، د کوکنارو په لويو کرونکو ولاياتو کې د کوکنارو د کر د کمښت لامل ناروغی هم دي.[299]

په تېرو درو مياشتو کې، د نشه يي توکو پرضد په نوي کړلاره کې د راغليو موخو د ترلاسي لپاره په ابتدايي توګه د بنديز پر عملياتو او بديلو پرمختيايي چارو تکيه شوې ده. لاندې فرعي ځانګې د دې هڅو جزئيات وړاندې کوي.

## د بنديز عمليات

د متحده ايالاتو د دفاع وزارت له مخې، په تېرو درو مياشو کې افغان ملي امنيتي ځواکونو او آيساف په ګډه 43 لوی عمليات ترسره کړي دي. دوی په ګډه ګزمه ، کمربند او پلټنې فعاليتونه او د زندانيانو عملياتو کې بخت دي. د دې عملياتو په پايله کې، لاندې نشه يي توکي او په نشه يي توکو پورې تړلي توکي ترلاسه شول:[300]

- 5,700 کيلو ګرامه، هيروين
- 4,500 کيلو ګرامه کيمياوي مواد
- 1,705 کيلو ګرامه مورفين
- 1,527 کيلو ګرامه اپيوم

پر دې سربېره، افغان ملي امنيتي ځواکونو او آيساف په ګډه 96 داسې وګړي ونيول، چې د نشه يي توکيو په سوداګرۍ کې يې لاس لاره.[301]

**کمربند او پلټنه:** د استخباراتي اسنادو په ګډون د افرادو يا ځيزونه د پلټنې لپاره د يوې سيمې د محاصرې عمليات.

سرچينه: د متحده ايالاتو پوځ، " د مقابل پاځو تاکتيکونه" پرليکه 10//19/2010.

## پرمختيايي بديل پروګرامونه

د متحده ايالاتو د مرستو له اغېز سره د مرستې لپاره، سيګار د 2010کال په اکتوبر کې يوه حسابرسي وکړه. دا به په ځانګړې توګه په لاندې ساحو پورې محدود وي:[302]

- په 2010مالي کال کې د متحده ايالاتو او نورو مرستندويو هېوادونو مرستې
- د متحده ايالاتو له نورو شبکو، ډونرانو او د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د متحده ايالاتو د کرنيزو مرستو د همغږۍ او حفاظتي حد.

- د نشه يي توکيو پرضد مبارزې د موخو د ترلاسي اړوند د متحده ايالاتو د کرنيزو مرستو اغېزمنتيا
- د افغانستان د کرنيز سکتور په پرمختيا کې شته ننګوني

لکه چې د سيګار د 2010کال د اپريل په رپوټ کې راغلي، د ټيکاو نوې کړلار، کرنه د يوه مشروع او روا دندې د پيدا کولو غوره وسيله ګڼي، چې په مټ يې کېدای شي، هغه پانګه کم کړي، چې د جګړه ييزو موخو لپاره يي کوکنار رامنځته کوي.[303] د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره، وابي، چې د بزګرو لپاره د روا کار د پيدا کولو لپاره مهمه ده، چې موږ پر بديلو پرمختيايي کارونو فکر وکړو او په هغو سيمو کې، چې په زياته کچه کوکنار کري، بايد لوړ محصولات دود او ورته بازار پيدا کړو. په دې کار کې د مالونو او توليداتو د وړو راوړو لپاره د سرکونو بيا رغونه، له توليدي ډلو سره کار او د بزګرو او د خصوصي سکتور نورو غړيو لپاره د تخنيکي مرستو رامنځته کول، راځي. د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري وويل، چې بهرني سکتور(لکه؛ امنيت، ناروغۍ او د کوکنارو خامې بيې) د دې پروګرام لاسته راوړني ټکنی کولای شي. د لاسته راوړنو د څار لپاره اړينه ده، چې له نورو پروګرامونو سره، چې پر قانونمندی، د قانون پر نقش، حکومتداری او ممنوعيت ټينګار کوي، په ګډه کار وشي.[304]

د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري دوه پروګرامونه په ابتدايي توګه په لويديځ او سويل کې، چې د نشه يي توکيو د کر لوی ځايونه دي، د بديلو محصولاتو لپاره ترسرکوي:[305]

- په سويل لويديځ کې د بديل پرمختيايي پروګرام پراختيا
- د کرنيز توليداتو د زياتوالي لپاره د افغانستان مدرکونه

د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري پر بنسټ، په سويل لويديځ کې د بديل پرمختيايي پروګرام پراختيا ته 75ميلونه ډالره ځانګړي شوي دي. د کرنيز توليداتو د زياتوالي لپاره د افغانستان مدرکونو پروګرام 300ميلونه ډالره بوديجه لرله.[306] لاندې فرعي څانګې د دې پروګرامونو په اړه جزئياتجزيات وړاندې کوي.

## په سويل لويديځ کې بديل پرمختيايي پروګرام

د 2010کال د جولای پر 29مه د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري د عمومي څارن دفتر په سويل لويديځ کې د بديل پرمختيايي پروګرام په اړه، چې پر 2008کال رامنځته شوی دی، يوه حسابرسي وکړه، ارزونکو ومونډله، چې د بديلو پرمختيايي پروګرامونو او په دغو ولايتونو کې د اقتصادي مواقعو د زياتولو له لارې دا پروژه د کوکنارو پر ضد په مبارزه کې د خپلو موخو د ترلاسي پر لور روانه ده. که څه هم، د لاندې شيانو په ګډون، دوی د پروګرام د زياتوالي د پايښت په اړه د ستونزو ساحي وپېژندلې: [307]

- د پروګرام د تعقيب نشتوالی
- د غلو د بيو لپاره د مارکيټونو او بې ثباتي لاس رسي
- د اوبو نشتوالی

لکه، د سيګار د 2010کال په درې مياشتني رپورټ کې راغلي دي، چې په سويل لويديځ کې بديل پرمختيايي پروګرام به د 2011کال په مارچ کې پای ته ورسيږي.[308] د 370ميلونو په ارزښت پنځه کلن تعقيبي پروګرام د جون پر 14مه لغوه شو، ځکه چې په سويل لويديځ کې د بديل پرمختيايي پروګرام چاراواکو په دې اړه، چې څوک به د ترون مشري کوي، اختلافات لرل. د افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ايالاتو استازو کېدای شي پر دې بحث کړی وي، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت اداره به د دې پروګرام مشري کوي؛ خو په سويل لويديځ کې د بديل پرمختيايي پروګرام چاراواکي د افغانستان حکومت ته د دې پروګرام د مشرۍ سپارلو په اړه خوښ نه

وو."د متحده ایالاتو لپاره د صلاحیت نشتوالی او د افغانستان د پروګرامونو ملاتړ".[309]

د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري OIG په خپله ارزونه کې وښووله، چې که د بزګرو کرنیزو تولیداتو ته بازار پیدا نه شي؛ نو دوی بېرته د کوکنارو کر ته مخه کړي او په دې سره به د کوکنارو کر ډېر شي. په سویل او لویدیځو ولایتونو کې ناامنه سرکونه، مارکیټونو ته د بزګرو د کرنیزو محصولاتو د رسولو پر وړاندې یوه بله ننګونه ده. په ځینو حالتونو کې، لکه په فراه کې، چې بزګر بازار ته کرنیز محصولات وړي؛ نو باید په هر پاټک کې پیسې ورکړي، چې په دې سره دوی په تاوان کې پرېوځي.[310]

د ارزونکو په وینا، د کوکنارو د کر د کمښت لپاره د اوبو شتون ډېر اړین دی. دوی په فراه کې د اوبو لنډمهالی شتون ولید، په پسرلي کې یواځې د یوه فصل لپاره کافي وي. د دې ننګونو د حل لپاره، د پروګرام اداره په هغو سیمو کې چې یواځې په اوړي کې اوبه لري، د اوبو د زېرمو پلان لري، چې له دې لارې به د بدیل فصل غم وخوړل شي. [311]د اوبو د اداري د یوه بل اړوند سیستم په هڅه کې، د متحده ایالات، د افغانستان د اوبو، کرنې او ټیکنالوژۍ د لېږد پروژه د کرنیزو ځمکو په کچه د کانالي سیستم خبره کوي. ټورنوټونه رڼا ده، چې په سرپوښ پوښلي ده او د اوبو د بهېدو مسیر کنترولوي.[312]

له دې ننګونو سره سره ارزونکو وموندل، چې په سویل لویدیځ کې بدیل پرمختیایي پروګرام ډېرې بریاوې هم لرلې دي. په دې بریاوو کې د کار 45 نغدو پیسو د کار د پروژو بریالی ګومارنه ده، چې سرکونه، کانالونه او بازارونه جوړوي، له بزګرو سره نژدې د 3.8میلونو ډالرو د تولیداتو د خرڅلاو مرسته او د فراه د کرنې بیارغونه او د فراه د بزګرو له ټولنې سره د کار د پیدا کولو مرسته. [313]

## د کرنې پلس په تولیداتو کې د زیاتوالي لپاره د افغانستان کوپن

د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو ادرې له مخې، د کرنې پلس په تولیداتو کې د زیاتوالي لپاره د افغانستان کوپن پروګرام په کلیو کې د بزګرو، چې پخوا یې کوکنار کرل، د روزنې او د کرنیزو ګټو د زیاتوالي له لارې د بدیلو پرمختیایي هڅو سره مرسته کوي. که څه هم د د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو ادرې ولیدل، چې پروګرام پر خپل مسیر نه دی روان، خو بیا هم منابعو له کوکنارو نه د بزګرو لاس وکیښ. د دې پرځای،د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري دا پای ته ورسوله، چې "له دغو معلوماتو او روزنو نه ترلاسه شوې ګټې، چې کرنیز تاکتیکونه پرمختللي کوي، د کوکنارو یو ژوندی بدیل دی، چې د کوکنارو د کر پرضد له بزګرو سره په پرېکړو کې مرسته کوي."[314]

د جولای له 1نه د 2010کال په اګست کې د پروګرام تر بشپړتیا پورې، د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره، په هلمند او کندهار کې بزګرو ته 11,954کوپونه ورکوي. په دې کوپون کې اصلاحي تخمونه، لکه سفنجونو، ګاځرو، سرو رومیانو او د تربجو تخمونه راځي. د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري وویل، چې د کوپون د پروګرام له مخې به د اوبه خور پمپونه هم ورکړل شي.[315]

# د فساد پرضد مبارزه

متحده ایالاتو او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت تراوسه په افغانستان کې له درغلۍ سره د مبارزې لپاره کوم اقدامات او ګومارنې نه دي کړې. په تېرو درو میاشتو کې د سیګار رپوټ وښووله، چې څرنګه چې متحده ایالاتو تراوسه د درغلۍ په ضد کومه کړلار نه ده جوړ کړې؛ نو د متحده ایالاتو مرستې د منسجمو لارښوونو له ګټې بې برخې دي.[316] د یوې جلا هڅې په توګه، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د 2010کال په جولای کې اعلان وکړ، چې د شفافیت او حساب ورکونې یو نوی ملي پروګرام پیلوي.[317]

د ملي دفاع وزارت پر بنسټ، د درغلۍ پرضد د متحده ایالاتو او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت هڅې د محدوودو سیاسي ارادو، د کمزوري مرکزي دولت، په لوړه کچه د درغلیزو ډلو شتون او د لړو نیونو له امله له ګواښ سره مخ دي. [318] د شفافیت نادولتي نړیوالې ټولنې په 2010کال کې د لندن کنفرانس ګډونوالو ته په پرانیستې لیک کې ټولې ستونزې ولیکلې. لیک په افغانستان کې د درغلۍ پر ژور اغېز ټینګار وکړ؛ لکه په لوړه کچه درغلي د بیارغونې هڅې کمزورې کوي او پر خپل دولت باندې د افغانانو باور زیانمنوي. د شفافیت نادولتي نړیوالې ټولنې دا هم په ګوته کړه، چې زیاتره افغانان د استخدام او امنیت پرځای له درغلۍ نه ډېر اندېښمن دي. دا د کمزوري افغانستان په برخه کې بېخي سمه ده.[319]

درغلي په افغانستان کې له مالي ټګیو سره مرسته کوي؛ که څه هم د شفافیت نادولتي نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د درغلیو نور ډولونه هم په ګوته کړي دي:[320]

- دوستي او قومپالنه
- جنسي استفاده او تېری
- د بشري کارګر ګواښنه او زور یا د ځاني، ټولنیزو یا سیاسي ګټو لپاره د مرستو ترلاسی
- له دې ارزونو استفاده
- د ځانګړو ډلو په ګټه، هدف کول یا نوملیکنه
- ناموخنو ډلو ته د مرستو لېږد

## د متحده ایالاتو د درغلۍ پرضد د مبارزې کړلار

د سیګار په تېر درې میاشتني رپوټ کې راغلي دي، چې له 2002 نه تر 2010پورې متحده ایالاتو د افغانستان د بیارغونې لپاره 55.7بیلونه ډالره ورکړي دي؛ خو په دې مرستو کې په افغانستان کې د درغلۍ پرضد د مبارزې لپاه هېڅ کړلار نه ده جوړه شوې.[321] متحده ایالاتو همدا راز د افغانستان د درغلۍ پرضد د مبارزې له ادارو سره، چې د بیارغونې د فنډ پرځای لګولو کې یې مرسته کولای شوه، لږه مرسته کړې ده.[322]

د سیګار د ارزونې له مخې، په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت یوې څو اړخیزې ادارې اوس په افغانستان کې د متحده ایالاتو لپاره د درغلۍ پرضد د مبارزې کړلار جوړه کړې ده؛ خو د ارزونې د نېټې له امله، د کورنیو

چارو وزارت تراوسه لا دا کړلار نه وه تصويب کړې. که دا کړلار تصويب شي؛ نو د افغان ادارو د شفافيت او حساب ورکونې لپاره د متحده اياﻻتو ادارو ته لارښوونه کوي.[323] د ارزونې او د معلوماتو په اړه يې، د دې رپوټ 2مه برخه ولولئ.

د متحده اياﻻتو د درغلۍ پرضد د مبارزې کړلار څلور موخې لري، د درغلۍ ضد له نړيوالو پاليسو سره د کار د عيارول:[324]

- د افغانستان په ادارو کې د درغلۍ د کمښت لپاره د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د شفافيت او حساب ورکولو مرسته.
- د مالي څار پرمختيا.
- د قضايي ظرفيت پياوړتيا، چې د درغلي چارواکي گوښه او مجازات شي او پرضد يې دوسيې وچلول شوي او په اړه يې پلټنې وشي.
- له داسې ملکي ټولنو سره مرسته، چې د زده کړو او اختيار له لارې عام وګړي د شفافيت او حساب ورکول په پروسه کې شامل کړي.

د دغو موخو د ترلاسې لپاره، دا کړلار، د نړيوال بانک، د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام او د نړيوالې پرمختيا لپاره د برتانيې ادارې په ګډون د نورو نړيوالو ادارو او متحده اياﻻتو ګډو هڅو ته اړتيا لري. کړلارې همدا راز د متحده اياﻻتو مرستندويې هڅې په ځانګړو اندازو پورو وتړله، چې د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره په ګډه خپرې شوې. د متحده اياﻻتو جوړښتي اصول د افغانستان اسلامي جمهوري دولت هڅوي، چې د درغلۍ پرضد د مبارزې د خپلې ستراتيژۍ د استخدام او پرمختيا مشرې پر غاړه واخلي.[325]

## د درغلۍ پرضد د مبارزې له هڅو سره د متحده اياﻻتو مرسته

د درغلۍ پرضد د متحده اياﻻتو د کړلارې له نشت سره سره په افغانستان کې د متحده اياﻻتو ادارو په تېرو درو مياشتو کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د درغلۍ ضد مبارزې سره پامور مرستې کړې دي. د بېلګې په توګه، د کورنيو چارو د وزارت د مخدره موادو او د قانون د تنفيذ د چارو نړيواله اداره د افغانستان له لوى څارنوال سره مرسته کوي، چې د درغليزې دوسيې د څېړنې، تعقيب او درخواست وڅارل شي. د عدليې وزارت د پلټنې د فدرالي بيورو، د نشه يي توکيو د څارنې ادارې او د متحده اياﻻتو د مارشال خدمتونو په مرسته د قانون د پلي‌نې سلاکار برابروي، چې د درغلۍ پرضد د افغان مبارزې غړي وروزي.[326]

د متحده اياﻻتو ماليې وزارت د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د عامه مالي ادارې د پرمختيا لپاره د افغانستان د له ماليې وزارت سره تخنيکي مرسته کوي. پر دې سربېره، د تخنيکي مرستندوى د متحده اياﻻتو د ماليې وزارت د اقتصادي جرمونو ټولى د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د افغانستان د مالي استخباراتي ټولي په رغونه مرسته کوي. دا ټولى د افغانستان د مالي معامﻻتو او د رپوټونو د تحليل د مرکز په نامه يادېږي. پر دې سربېره، د متحده اياﻻتو اداره، د کورني امنيت د وزارت، د دفاع وزارت او د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده اياﻻتو ادارې له مرستو برخمنه ده.[327]

**د مالي استخباراتو ټولى:** يوه ځانګړې دولتي اداره ده، چې د پيسو د لېږد، د ترهګرۍ د پانګونې او نورو مالي جرمونو پرضد مبارزه کوي. د مالي استخباراتو ټولى يوه مرکزي اداره ده، چې له مالي ادارو د معلومات(لکه د شکمنو معاملو رپوټونو) د اخذ او شننې او اړوندې ادارې ته د ورکړې مسووله ده.

سرچينه: د دولت د احتساب دفتر (متحده اياﻻت)، "نړيوال مالي جرم: د متحده اياﻻتو PATRIOT قانون له مقرراتو سره ترلې د خزانه دارۍ نقش او مسووليتونه،" 5/2006، 2مخ.

## د درغلۍ پرضد د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت هڅې

د ملي شفافیت او حساب اخیستني پروګرام، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د لومړیتوبونو او استخدام طرحه وړاندې کړه، چې موخه یې د کنترول لپاره د شفافیت او حساب اخیستلو پرمختیا ده. تر دې پروګرام لاندې پروژې به، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ادارو او چارواکو د کارونو د ارزونې او څارنې لپاره په افغانستان کې د یوه اغېزمن او اړوند څار رامنځته کوي. د دې پروګرام موخې دا دي:[328]

- د څار د اړوندې او اغېزمنې ادارې رامنځته کول.
- د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ادارو او چارواکو د کارونو د ارزونه او څارنه
- مالي سیستم او د مرکزي او ولایتي حکومتونو د مهندسۍ پروسیجر.
- د یوه اغېزمن مېکانیزم رامنځته کول، چې د درغلۍ او د شخصي ګټو لپاره له دولتي منصبونو نه د ګټې اخیستلو مخنیوی وکړي.
- د عامه او سوداګریز سکتور د پیاوړتیا.
- د شفافیت رامنځته کول او په ساده او پوهاوي وړ چلند سره د عوامو پوهاوی.
- د سیاسي حساب اخیستلو زیاتول.

د پروګرام د موخو د ترلاسي لپاره، د درغلۍ پرضد د مبارزې ټولي، له لویو جرمونو سره د مبارزې څواک، د څارنې د لوی دفتر، د کنترول او ارزونې اداره او د جینایي قضایي څواک په ګډون د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لا له مخکې څارن برخه‌ای کړي دي.

## د درغلۍ پرضد د مبارزې ټولی

پر 2008کال د دې له جوړېدو راهیسې د درغلۍ پرضد د مبارزې ټولی د لوی څارنوال په دفتر کې کار وکړ، چې د درغلۍ د څو دوسیو څارنه وکړي. [329] په دې وخت کې، د کورنیو چارو وزارت له مخې، د درغلۍ پرضد د مبارزې ټولي د درغلۍ یواځې یوه دوسیه څارلې ده: یوه جنرال د نشه یي توکیو او په فنډونو کې د درغلۍ له امله اته کاله زندان تېر کړ. [330] د کورنیو چارو وزارت له مخې، د لوړپوړو چارواکو په څارنه کې لویه ننګونه د نورو لوړپوړو چارواکو لاسوهنه ده.[331]

د دې ننګونو ته پام، د کورنیو چارو وزارت ځینې اقدامات په ګوته کړل، چې د درغلۍ پرضد د مبارزې لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت وړتیا وغوړوي:[332]

- د درغلۍ پرضد د مبارزې ټولي او له لویو جرمونو سره د مبارزې څواک ته یې نور مسلکي څارن هم ورکړل او د دوی معاشونه یې هم لوړ کړل.
- روښانه مخلیکی، له ځانګړو لارښوونو سره د درغلۍ پرضد د مبارزې لپاره قوانین رانغاړي، چې څارن د درغلیو د دوسیو پرمهال له کمو تېروتنو سره مخ شي.

د 2010کال په اګست کې د درغلۍ پرضد د مبارزې ټولي 51 څارن لرل. د کورنیو چارو وزارت له مخې، دا شمېر اوس زیات شوی دی؛ خو د 2010کال د سپتمبر تر 30مې کوم ځانګړی شمېر نه و. د کورنیو چارو وزارت پر دې ټینګار کوي، چې لویې څارنوالۍ داسې ډېر څارنوالان نیولي دي، چې پلټل شوي نه دي او نالوستي دي.[333]

## له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک

له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک سرې تښتوني، ډله ییز جرمونو او عامي درغلي ته ځانګړی دی. له لویو جرمونو سره د مبارزې د ځواک د پلټنې ټولی له منځنیو نه تر لوړ پوړو چارواکو پورې څیړلي. د کورنیو چارو وزارت له مخې، د افغانستان اسلامي جمهوری دولت له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک وړ ځواک بولي. که څه هم د کورنیو چارو وزارت وايي، چې له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک د نیونو د وړتیاوو په مټ ، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ګواښي.[334] په تېرو درو میاشتو کې د درغلی پرضد د مبارزې د نوې ارزونې په اعلان سره، سیګار به له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک د پیاوړتیا لپاره د متحده ایالاتو هڅې وارزوي.

تراوسه د 2009 کال په نومبر کې دا یوه استثناء وه، چې له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک 18 کسان ونیول؛ د 4 و جرم ثابت شو. د کورنیو چارو وزارت په وینا، په دوی کې 7نیونې ډېرې مهمې وې له دې سره سره ، د 2010کال په جون کې د محمد ضیاء صلاحي له نیولو راهیسې، د کورنیو چارو وزارت او لویې څارنوالی، له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک د لوړپوړو چارواکو له نیولو منع کړ. د کورنیو چارو وزارت په وینا، له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک، درې داسې نیونې کړې، چې تراوسه اچول شوې دي؛ لوی څارنوال دوسیې له ACU نه بهر کړې او نظامي محکمې ته یې وسپارلې.[335]

له لویو جرمونو سره د مبارزې د ځواک د متحده ایالاتو څارن، د څېړنې له فدرالي بیورو، د امریکا له مالیې وزارته او د متحده ایالاتو له پوځه راځي. نړیوال څارن د فرانسې له جنینډرمیر او د انګلستان د برتانیې د جدي ډله ییزو جرمونو له ادارې راځي او له لویو جرمونو سره د مبارزې له ځواک سره مرسته کوي. دا څارن په پلټنه کې برخه نه اخلي؛ خو له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک ته لارښوونه کوي، چې څرنګه یوه غوره او لویه څېړنه رامنځته او اورګنایز کړي. له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک، همدا راز د متحده ایالاتو او نړیوالو قانون د پلېینې له 16پرسونل نه هم روزنه ترلاسه کوي.[336]

## د څارنې لویه اداره

پر 2008کال ولسمشر کرزي د څارن لویه اداره رامنځته کړه، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د درغلی پر ضد د مبارزې د ملي کړلارې د ګومارنې څارنه وکړي. وروسته د 2010کال په جنوری کې د لندن په کنفرانس کې، ولسمشر کرزي ژمنه وکړه، چې د دې ټولنې ناپېیلیتوب او واک پراختیا به منظوروي؛ بیا هم د سیګار د 2010کال د اګست د ارزونې رپوټ وايي، چې د څارنې لویه اداره همغسې کمواکې، ناځېلواکې او بې ظرفیته ده.[337] د څارنې له لویې ادارې سره د متحده ایالاتو مرستې د 2010کال په مارچ کې پای ته ورسېدې؛ خو بیا هم د کورنیو چارو د وزارت په وینا، د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې، د دغې ادارې12 غړیو ته معاشونه ورکړي دي.[338]

## د کنترول او ارزونې اداره

د کنترول او ارزونې اداره، هم د افغانستان په لویو ادارو کې راځي، چې د افغانستان د دولتي ادارو، نادولتي شرکتونو او د نړیوالو فنډونو ارزونه پر غاړه لري. سیګار د 2010کال په ارزونه کې ولیدل، چې د کنترول او ارزونې ادارې جوړښت کمزوری، واک او خپلواکي کمه ده، چې په دې توګه دا په اغېزمنه بڼه د درغلیو پرضد مبارزه نه شي کولا.[339]

په تېرو درو میاشتو کې متحده ایالاتو پرېکړه وکړه، چې د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د اقتصادي حکومتدارۍ او د ابتکارونو د رامنځته کولو له لارې د کنترول او ارزونې له ادارې سره مرسته وکړي.

د کورني چارو وزارت په وینا، د کنترول او ارزوني اداره به د ارزوني د نوي قانون له مخې هم مرستې ترلاسه کړي. له دې قانونه هیله کېږي، چې د افغانستان په اسلامي جمهوري دولت کې د کنترول او ارزوني د اداري خپلواکي او د ارزوني نقش او مسوولیتونه رانه کړي. د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري په وینا، هیله ده، چې دا قانون به د 2011کلا په مارچ کې تصویب شي.[340]

## د قضایي جرمونو پرضد د مبارزې ځواک

د 2005 د نشه یي توکیو پرضد د مبارزې د قانون تر چتر لاندې رامنځته شو، د قضایي جرمونو پرضد د مبارزې ځواک د نشه یي توکیو د دوسیو څار او پلټنه پر غاړه لري. [341] د متحده ایالاتو او برتانیې اداره چیان له افغان څارنو سره د دوسیو په وړاندې کولو او پرمختیا کې مرسته کوي. د ابتدایي او مرافعې محکمې قاضیان هم وخت پر وخت له دغو اداره چیان سره ګوري، چې پر نافیصله شویو دوسیو ورسره وغږېږي.[342]

د مبارزې ځواک په ځانګړې توګه د هیروینو او د نشه یي توکیو قاچاق ته ځانګړی دی؛ خو د درغلیو دوسیې هم څېړي. د بېلګې په توګه، د درغلی یوه وروستی دوسیه د ګمرک او د سرحدي چارواکو وه، چې د نشه یي توکیو د قاچاق په بدل کې یې بډې اخیستې وې.[343]

## د پیسو د لېږد پرضد افغان اداره

دا اداره د 2004 د پیسو د لېږد پرضد د افغان قانون تر چتر لاندې جوړه شوې ده، د پیسو د لېږد پرضد د افغان اداره، یوه افغان اداره ده. د دې د ویبپاڼې په وینا، د دې موخې د داسې وګړو مخنیوی دی، چې پیسې له ناقانونه لارو لېږي.[344]

د OTA په وینا، د درغلی پرضد د زیاترو تولیو پیسې د همدې تولې له لارې پاکېږي. د بېلګې په توګه، د پیسو د لېږد پرضد افغان اداره، د درغلی پرضد د مبارزې تولې ته داسې مالي اسناد او معلوماتو ورکوي، چې د درغلو چارواکو په پلټنه کې ترې کار اخیستل کېدای شي. پر دې سربېره، د پیسو د لېږد پرضد افغان اداره، د هغو چارواکو چې په درغلی کې لاس لري، مالي شتمنی څېروي. دغه مالي شننې بیا، د درغلی پرضد د مبارزې تولې او له لویو جرمونو سره د مبارزې ځواک ته سپارل کېږي. د پیسو د لېږد پرضد افغان اداره، د لوړو چارواکو اسناد د څارنې لویې ادارې ته سپاري.[345]

د OTA په وینا، لېږد پرضد افغان اداره، له متحده ایالاتو او نورو نړیوالو ډونرانو سره کار کوي، چې د فنډونو برېښنایي لېږد پیاوړی کړي. برېښنایي لېږد تړونوالو ته د زیاتو نغدو پیسو د لېږد امکانات کموي. [346] له مالي جرمونو سره د مبارزې په موخه د لېږد پرضد د افغان ادارې د هڅو لپاره د دې رپوټ د "اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا" برخه ګورئ.

**شفا لمس**

د 10مې غرنۍ برخې له 1نظامي تيپ د ډلې يو ډاکټر يوه سيمه ييزه افغانه ښځه ګوري. په اکتوبر کې دوه ورځې د غورماچ په کلينک کې د 2و روغتيايي کارګر او 7و ډاکټرانو تر 400زيات وګړي وکتل. په تېرو درو مياشتو کې، د متحده ايالاتو حکومت اعلان وکړ، چې د 37ميلونو ډالرو په بدل کې به په راروانو ځلورو کلونو کې د روغتيا په برخه کې افغانې ښځمنې روزي. (د دفاع وزارت انځور، بلير نيلينډز)

# 4 د نورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

په هرو درو میاشتو کې د افغانستان د بیارغوني ځانګړی عمومي پلټونکی، له نورو شرکتونو د څارنې د بشپړو شویو او روانو فعالیتونو تازه راپور غواړي. دا شرکتونه په افغانستان کې څارنه ترسروي او بیا يې پایله SIGAR ته وړاندې کوي:

- د دفاع وزارت، د عمومي پلټونکي دفتر
- د کورنیو چارو وزارت، د عمومي پلټونکي دفتر
- د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات)
- د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره
- د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عمومي پلټونکي دفتر

د دې راپور له نورو برخو سره د همغږۍ لپاره له لاندنیو بدلونونو سره، چې شننې څرنګه ښکاري، همداسې لیږل شوې دي: د بشپړو نومونو پرځای لنډیزونه یا مخففات؛ لویو توریو کره کول، تړاو، او غوره لیکدود او د لومړي وګړي پرځای دریم وګړی

## د څارنې بشپړ شوې فعالیتونه

4.1 جدول له امنیت او بیارغوني سره د تړلیو هغو 17و پروژو د څار لست وړاندې کوي، چې په تېرو درو میاشتو کې برخه والو شرکتونو يې راپور وړاندې کړی دی. ځکه چې د متحده ایالاتو د دولت د احتساب دفتر د

4.1 جدول

| د 2010کال د سپتمبر پر 30مه د متحده ایالاتو د شرکتونو د پلټنې فعالیتونه | | | |
|---|---|---|---|
| **شرکتونه** | **د راپور شمېره** | **نېټه** | **د پروژې سرلیک** |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D-2010-083 | 9/30/2010 | د نوي کابل د ودانیو رغونه، چې د پلان او همغږۍ له نشت سره مخ ده |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D-2010-081 | 8/27/2010 | د سویل لویدیځې اسیا په تړونونو کې د اردو کارېدوني وخت او مواد |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D-2010-078 | 8/16/2010 | د سویل لویدیځې اسیا په تړونونو کې د هوایي پوځ کارېدوني وخت او مواد |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D-2010-079 | 8/13/2010 | له ژبپو سره د تړون لپاره د متحده یالاتو د پوځ د استخباراتو او امنیتي قوماندې مقررات |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) میرو | MERO-A-10-11 | 9/2010 | په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت امنیتي غواکونه |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) میرو | MERO-I-10-10 | 8/2010 | په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې د بهرنیو اتباعو د خدمتونو د صلاحیت لپاره محدوده کتنه او پالیسي |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات)-10-921T | 7/21/2010 | د نشه یي توکیو څارنه د نشه یي توکیو د کمښت لپاره نړیوال پروګرامونه له پامور ننګونو سره مخېږي؛ خو مرسته د متحده ایالاتو موخې له خنډ سره نه شي مخولای/ |

4.1 جدول (ادامه)

**د 2010کال د سپتمبر پر 30مه د متحده ایالاتو د شرکتونو د پلټنې فعالیتونه**

| شرکتونه | د راپور شمېره | نېټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات)-10-720 | 7/16/2010 | نظامي روزنه: پلي او سمندري ځواکونه د راتلونکي پروژو لپاره له ننګونو سره مخ دي |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | د دولت د احستاب دفتر10-932T- | 7/15/2010 | د افغانستان پرمختیا: د نړیوالي پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره د متحده ایالاتو د پرمختیایي مرستندویو پروګرامو په څار کې له ننګونو سره مخ ده |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات)-10368- | 7/14/2010 | د افغانستان پرمختیا: اداري لوړتیا او ارزونکي هڅې د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري کرنیزه پروګرامونه پرمختللي کولای شي |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | GAO-10-756SP | 7/14/2010 | د افغانستان پرمختیا: بېوزلي او د نااصلو شیانو تولید د دولت احتساب 368-10- ته بشپړتیا |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات)-10660- | 7/1/2010 | جګړه بیزه مرسته: چارو کورني کنترول د چاودېدونکو توکیو د بې کاره کولو د تنظیم د سیستم پرمختیا ته اړتیا درلوده |
| د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره | A-2010-0196-ALL | 9/21/2010 | تړوني عملیات، د افغانستان او عراق لپاره ګډ تړوني عملیات، سیمه بیز تړوني مرکز-فنټي (جلال آباد)، افغانستان |
| د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره | A-2010-0198-ALL | 9/21/2010 | تړوني عملیات، د افغانستان او عراق لپاره ګډ تړوني عملیات، سالرنو سیمه بیز تړوني مرکز، افغانستان |
| د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره | A-2010-0135-ALL | 7/12/2010 | تړوني عملیات، د افغانستان او عراق لپاره ګډ تړوني عملیات، د کندهار سیمه بیز تړوني مرکز، افغانستان |
| د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري د عمومي پلټونکی دفتر | 5-306-10-002-S | 9/29/2010 | په افغانستان کې د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري د پروژو د امنیتي چارو د لګښت کتنه |
| د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري د عمومي پلټونکی دفتر | 5-306-10-011-P | 7/29/2010 | د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري حساب ورکړه/ دا فغانستان د بدیل پرمختیا پروګرام خپراوی، سویل لویدیځ |

یادښت: میرو= د منځني ختیځ سیمه بیزه اداره

سرچینه: د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، SIGAR ته ځواب، نېټه، 10/5/2010، د کورنیو چارو د وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د منځني ختیځ سیمه بیزه اداره، SIGAR ته ځواب، نېټه، 10/5/2010،د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره، SIGAR ته ځواب، نېټه، 10/4/2010؛ SIGAR ته ځواب، نېټه، 10/6/2010 د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري، SIGAR ته ځواب، نېټه، 9/29/2010

خپلو روانو او بشپړو کړیو فعالیتونو شننې سره راټولې کړې، هغه شننې به د "روانو فعالیتونو" په نامه په دې راپور کې وروسته وګورئ.

## د دفاع وزارت، د عمومي پلټونکي دفتر

د نوي کابل د ودانیو رغونه، چې د پلان او همغږۍ له نشت سره مخ ده
(د راپور شمېره. D-2010-083، د 2010کال د سپتمبر د 30مې نوښت)

ډلبندي شوی راپور

د سویل لویدیځې آسیا په تړونونو کې د اردو کارېدوني وخت او مواد
(د راپور شمېره، D-2010-081، د 2010کال د اګست د 27مې نوښت)

په سویلي آسیا کې د کار د ترسرایني لپاره، په افغانستان کې د بیارغونې او امنیتي چارو د مرستو په ګډون، د اردو تړون او د دفاع وزارت د پروګرام چارواکو 18ځله او د موادو د تړون د ترتیب چارې په سمه توګه نه دي ترسره کړې. د بېلګې په توګه، د امنیتي ادارو، پالیسیو، پروګرامونو او پروسیجر په برخه کې د افغانستان د اسلامي

جمهوري دولت د مرستي لپاره د 428میلونو ډالرو تړون. د تړون او پروګرام چارواکو له ناوړو یا بې باورو سرچینو او بې انصافه سیالیو سره( په 18 کې 10) تړونونه کړي دي، د وړو بیو(په 18 کې 17) پلټنه یې نه ده کړې او نه یې د وخت او د توکیو د تړون بنه سره توجیه کړې دي(په 18 کې 12). دا پېښې ځکه رامنځته شوې دي، چې د تړون او پروګرام چاروا‌کیو قوانینو ته پاملرنه نه ده کړې. پر دې سربېره، د تړون د څار د مسوولو نظامي چارواکو د نابسنده پلان او سازمانی له امله، د تړون او پروګرام چارواکو د 18 تړونونو او چارو لپاره وړ څارګر اجاره ګر رامنځته کړي نه دي.

د سویل لویدیځې آسیا په تړونونو کې د هوايي پوځ کارېدونې وخت او مواد
(د راپور شمېره، D-2010-078، د 2010 کال د اګست د 16 مې نوښت)

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر وموندل، چې د چاپېریال او انجینرۍ لپاره د هوايي ځواکونو د دفتر د تړون او پروګرام چارواکیو، د 120.8میلونو ډالرو په ارزښت شپږو کارونو د څارنې لپاره وړ څارګر اجاره ګر نه دي رامنځته کړي. په ځانګړې توګه شپږ. کتل شوي کارونه، چې د تړون او پروګرام مسوولینو، تړونوال اداره کړي نه دي، چې په افغانستان او عراق کې د 110.2میلونو ډالرو په ارزښت د رغونې پنځه کارونه وڅارې، د 98.6میلونو په ارزښت د پنځو کارونو د حساب بنه یې کتلې نه ده او د شپږو کارونو لپاره یې کره څارنه نه ده کړې. دا شرایط ځکه رامنځته شول، چې د دویم سرلیک د تړون د مشر استازو په افغانستان او عراق کې ساحو ته نه وو تللي او د دویم سرلیک د اجاره ګرو کارونه یې نه وو اداره کړي. د تړون د افسر په وینا، دومره پرسونل نه و، چې د حساب بنې وځېري. په پایله کې، د هوايي ځواکونو هېڅ ډاډ نه لاره، چې اجاره ګر موثر او اغېزمن کار کوي. د بېلګې په توګه، د نیمګړو او ناقصو رغونو او د نورو جدي انجینرۍ او رغنیزو ستونزو له امله د افغان ملي اردو په ودانۍ کې اور ولګېد. پر دې سربېره، هواي ځواکونو د مزدورانو لپاره هم دومره پیسي منلې وې، چې د اصلي کارونو په تړونونو کې شاملې نه وې. په تېره، اجاره ګرو د مزدورانو لپاره 24.3میلونه ډالر غوښتل، چې د AFCEE چارواکو ورسره منلې نه وې.

له ژبېو سره د تړون لپاره د متحده یالاتو د پوځ د استخباراتو او امنیتي قوماندې مقررات
(د راپور شمېره. D-2010-079، د 2010کال د اګست د 13مې نوښت)

د 2010کال د جنورۍ د ویشتو د پېښې په ځواب کې، چې په افغانستان کې وشوه او یو ژباړن او د متحده ایالاتو ځواکونه پکې شامل وو، د دفاع وزارت د پلټنې عمومي افسر د W911W4-07-D-0010 په ګډون د 40و کارونو حالت وځیره، چې دا وکتل شي، چې تړوان وړ امنیتي مقررات لرل که نه. تړون او 24 کارونو د ژباړن د نیولو لپاره د یوه تاریخ تېرې کړلارې ماخذ وړاندې کړ، سره له دې چې د تړون او کارونو مقررات، د یوه پیاوړي ژباړن لپاره اوسني اصول رانغاړل. سره له دې چې، INSCOM د 2008کال تر هوکړه لیک له مخه تړون صادر کړی و؛ خو د تړون مقررات د 2008کال د مې د نظامي هوکړه لیک د څارګرو ضد پالیسي او امنیتي اصولو له مخې جوړ شوی و. د INSCOMیوه چارواکي وویل، چې د 1998کال د هوکړه لیک ماخذ کول یوه پلټنه او د پلانونو فرمان و، چې د راتلونکي کارونه پرې سم کړی شي. پر دې سربېره، د دفاع وزارت د پلټنې عمومي دفتر داسې تړون او په 40 کې 38داسې کارونه هم وموندل، چې د دفاع وزارت د پالیسي له مخې یې د وسلو تکړې یې د وړلو لپاره اجاره ګرو ته سپارلې وې.( 2و کارونو لرې څرګندونې لرلې)

## د کورنیو چارو وزارت د پلټنې د عمومي مشر دفتر- منځنی ختیځ، سیمه ییز دفتر

په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت امنیتي ځواکونه
(د راپور شمېره، MERO-A-10-11، د 2010کال په سپتمبر کې خپور شوی دی)

د دې ارزونې موخه دا وه، چې په کابل کې د متحده ایالاتو د امنیتي ځواکونو د تړون د مقرراتو او اړتیاوو یو لنډیز او هراړخیزه کتنه وړاندې شي. ځانګړې موخې یې دا دي: (1) د تړون مقررات او غوښتنې؛ (۲) آیا تړون کوم ګام پورته کړی دی او کومې لاسته راوړنې یې لرلي دي؛ (3) اړوندې ځانګې تړون څرنګه اداره کړی دی، چې په کابل کې د شمالي امریکا د نظامي ډلو لپاره یوه څارنه رامنځته کړي؛ (4) تړون په اغېزمنه توګه ترسرېده؛ (5) تړون 52.222.50ماده په پام کې نیولې وه، چې اداري حل لاره وړاندې کوي، که، د تړون د اصطلاح پرمهال، که اجاره ګر یا فرعي اجاره ګر په سرې تښتونه کې لاس ولري؛ (٦( د شمالي امریکا نظامي ډلو لپاره ساتندویانو خوندي او سوله ییزه چاپېریال وړاندې کړی دی که نه او آیا ځانګې، دتړون او کارونو لپاره کوم پلټنه ترسره کړې.

د افغانستان د کابل په امریکایي سفارت کې د بهرنیو اتباعو د خدمتونو د پلټنې لپاره د کړلارو او پروسیجر لنډه او محدوده کتنه.
(د پروژې شمېره، MERO-I-10-10، د 2010کال په اګست کې خپور شوی دی)

د دې ارزونې موخې دا وې: (1) د هغو کړلارو او پروسیجر کتنه، چې د بهرنیو خدمتونو ملي پلټونکو په لاس د سیمه ییزو افغان کارګرود ارزونې د شخصي امنیت د استخدام لپاره ترسره شوې؛ (2) د بهرنیو خدمتونو ملي پلټنې د فایلونو کتنه؛ (3) د اسنادو د څېړنې تخنیکونه، چې د بهرنیو خدمتونو د ملي پلټنې د پرسونل پواسطه کارېږي، چې د بهرنیو خدمتي اتباعو لپاره، چې په کابل کې په سفارت کې کار کوي، ډاکټر ومومي؛ او (4) د سفارت د اوسنیو کارکونکو د کورنې او ملګرتیایي تړاونو ټاکنه.

## د متحده ایالاتو د نظامي ارزونې شرکت

تړوني عملیات، ګډه تړوني قومانده-افغانستان او عراق، د تړون سیمه ییز مرکز-فینټي(جلال آباد)، افغانستان

(د راپور شمېره، A-2010-0196-تول، د 2010کال د سپتمبر د 11مې نوښت)

د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې ادارې، د افغانستان/عراق د ګډې تړوني قوماندې د عمومي قوماندان په غوښتنه دا حساب اخیستنه پیل کړه. سره له دې چې د تړون سیمه ییز مرکز د لېوالو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د سملاسي تړون په واسطه، د تړون خپله لړۍ بریالۍ ترسره کړه، ځینې تړونونه په 2008مالي کې ترسره شوي دي او د 2009کال لومړۍ درې میاشتې یې سم اجراات او اداره نه وو کړي. په دې برخه کې هم ستونزې وې، ځکه چې اړو فعالیتونو لنډمهالی، منځمهالي او اوږدمهالي پلانونه په کافي اندازه نه وو ترسره کړي او بسنده اداري جوړښت او پروسیجر هم نه و، چې د اجاره ګر کارونه اداره کړي، او ځکه د سرعت کچې او نورو ننګونو د تړون د پرمختیایي غوښتنو پرځای د تړون په ترسراینه زیات ټینګار وکړ، د اجاره ګرو د کارونو اداره او د نورو اداري

کارونو ترسراینه. پر دې سربېره، پرمختګونو ته اړتیا وه، چې دا باوري کړي، چې ټول تړونونه په بریالی بڼه تړل شوي او ناکارېدلی فنډ همداسي پاتي دی.

تړوني عملیات، ګډه تړوني قوماندهـافغانستان او عراق، د تړون سیمه بیز مرکز، سالرنو سیمه بیز تړوني مرکز، افغانستان
(د راپور شمېره، -A- 2010-0198 ټول، د 2010کال د سپتمبر د 21 مې نوښت)

د متحده ایالاتو د پوځ د پلټني اداري، د افغانستان/عراق د ګډې تړوني قوماندې د عمومي قومندان په غوښتنه دا حساب اخیستنه پیل کړه. سره له دې چې د تړون سیمه بیز مرکز د لېوالو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د سملاسي تړون په واسطه، د تړون خپله لړۍ بریالی ترسره کړه، ځیني تړونونه په 2008مالي کې ترسره شوي دي او د 2009کال لومړۍ درې میاشتې یې سم اجراات او اداره نه وو کړي. په دې برخه کې هم ستونزې وې (1) د عملیاتو د پلټني اداره بسنده نه وه، (2) اړو فعالیتونو او د تړون مرکز، لنډمهالی، منځمهالي او اوږدمهالي پلانونه په کافي اندازه نه وو ترسره کړي (3) اړو فعالیتونو بسنده اداري جوړښت او پروسیجر هم نه لاره، چې په لوړه کچه د تړون غوښتني رامنځته کړي او د اجاره ګر کارونه اداره کړي، او (4) ځکه د لوړ سرعت کچې او نورو ننګونو د تړون د پرمختیایي غوښتنو پرځای د تړون په ترسراینه زیات ټینګار وکړ، د اجاره ګرو د کارونو اداره او د نورو اداري کارونو ترسراینه.

تړوني عملیات، د افغانستان/عراق ګډه تړوني قومانده، د کندهار سیمه بیز تړوني مرکز، افغانستان
(د راپور شمېره، -A- 2010-0135ټول، د 2010کال د جولای د 12مې نوښت)

دا راپور یوازې د رسمي کاروني لپاره جوړ شوی دی(FOUO) د متحده ایالاتو د پوځ د پلټني اداري، د افغانستان/عراق د ګډې تړوني قوماندې د عمومي قومندان په غوښتنه دا حساب اخیستنه پیل کړه. سره له دې چې د تړون سیمه بیز مرکز د لېوالو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د سملاسي تړون په واسطه، د تړون خپله لړۍ بریالی ترسره کړه، ځیني تړونونه چې په 2008مالي کې ترسره شوي سم اجرا او اداره شوي نه وو. په دې برخه کې هم ستونزې وې (1) د عملیاتو د پلټني اداره بسنده نه وه، (2) اړو فعالیتونو او د تړون مرکز، لنډمهالی، منځمهالي او اوږدمهالي پلانونه په کافي اندازه نه وو ترسره کړي (3) اړو فعالیتونو بسنده اداري جوړښت او پروسیجر هم نه لاره، چې په لوړه کچه د تړون غوښتني رامنځته کړي او د اجاره ګر کارونه اداره کړي، او (4) ځکه د لوړ سرعت کچې او نورو ننګونو د تړون د پرمختیایي غوښتنو پرځای د تړون په ترسراینه زیات ټینګار وکړ، د اجاره ګرو د کارونو اداره او د نورو اداري کارونو ترسراینه.

## د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو د شرکت د عمومي پلټونکي دفتر

په افغانستان کې د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري د پروژو د امنیتي چارو د لګښت کتنه
د ریپورت د خپریدو شمېره (د راپور شمېره 5-306-10-002-S, او د خپریدو نیټه ي September 29, 2010)

اخري ریپورت د 2010 کال د سپتمبر په 29 نیټه خپور شو. د تکرار موخه ي داوه تر حو معلومه شي چې شخصي امنیتي قراردادکوونکي د USAID اداري مبلغ په ناسمه توګه د طالبانو په اختیار کې د حان د حفاظت لپاره نه وي ورکړي. د د تکرار (Review ) په نتیجه کې داسي معلومات پیدانشو چې دا په داګه کړي چې د دریو پروژه

په تطبيق کې شخصي امنيتي قراردادکوونکي د حان د حفاظت لپاره پيسي طالبانو ته ورکړي وي. داسي شايعات موجود و چې افغاني فرعي قراردادکوونکو په دغه دريو پروژه په تطبيق کې د ځان د حفاظت لپاره په ليرو پرتو سيمو کې طالبانو ته پيسي ورکړي وي. د حفاظتي چارو د سمون په خاطر يو مقدار مبلغ کمونيتي غرو ته ورکړشويدي چه شايد طالبان او يا د طالبانو حمايت کوونکي پکې شامل وي. همدارنگه داسي نشاني موجودي دي چه په جلال اباد کې د LGCD دفتر سره پراخه درغلي شوي دي . داسي هم معلوميږي چې په جلال اباد کې درغلئ ته هم لاره هوارشويده. د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري د عمومي پلټونکي دفتر دغه څرګندوني، د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري د عمومي پلټونکي دفتر ته لېږلي دي/څېړني.

ددي موندنو په رنا کې د د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري د عمومي پلټونکي دفتر خپل پراخه ځيرني پيل کړي او هم په دغه لار کې د درغلئ د مخنيوي بين المللي اداري ، SIGAR ، د متحده ايالاتو داخلي استخباراتو، د افغانستان د تعقيب محلي اداره او د افغانستان د جرمونو سره د مبارزي اداره سره په ګډه کار کوي، چې حقيقت معلوم کړي. د 2010 کال په جون کې ددغي اداري لخوا لس تنه ( انجنيران او نور کارکوونکي ) چې په درغليو کې ښکيل وو، له خپلو دندو ګوښه کړی شو.

پدې راپور کې څلور سپارستني شوې دي، چې د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو له اداري سره کومک وکړي چې خپل فرعي قرار دادکوونکو ته اجازه ورنه کړي چې د نوموړي اداري له فنډ څخه د طالبانو او يا په جرمونو کې ښکيلي دلي استفاده وکړي او هم په اداره کې د درغليو مخه ونيسي.

د جنوب غرب حوزي د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري بديل د توسعوي پروگرام د انکشاپ اديت

د راپور نمبر(No. 5-306-10-011-P او د خپريدو نيته د 2010کال د جولاي د مياشتي 29)

اخري راپور د 2010 کال د جولاي د مياشتي په 29 نيته خپور شو. د حساب اخيستني موخه داوه، چې معلومه کړي چې ايا د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداري د بديل پرمختيايي پروګرام د 75 ميليونه دالره بوديجي په مصرف عمومي اهداف ( د کوکنارو د کښت مخنيوي ، خلکو د بديل معيشيت انکشافي پروګرامونو وړاندي کول او خلکو د اقتصاد ي فرصوتونو پياوړتيا په جنوبي او ليديحو ولايتو کې ) لاسته راغلي دي.

د حساب اخيستني په نتيجه جوته شو چې نوموړي پروګرام خپل اهداف ( په جنوبي او لويديځو ولايتونو کې د کوکنارو د کښت مخنيوی ) لاسته راوري دي. ددي په څنګ کې اديت دي ته اشاره وکړه چې داسي موضوعات موجود دي د پروژه مثبتي لاسته راورني (Out come ) د سوال لاندي راولي. اول ، اديت داسي انګيري چې د کوکنارو په پرله پسي توګه کمښت د امکان څخه ليری دی ځکه چې: (1) د بديل د انکشافي پروګرامونو د منظمي حارني نشت. (2) د جنوبي ولايتونو بحراني حالت نه پريږدي چې نوموړي ولايتونه په دغه پروګرام کې شامل شي . (3) د دوی غلي داني مارکيت ته لار نلري او هم يې نرخونه په ځای ولار او مناسب نه دي . (4) د پروګرام کنترول په نتيجه کې د کوکنارو کښت او جمع اوري متاثره کيږي . (5) د نورو نباتاتو د کښت لپاره د اوبو نشتوالي. اديت داهم ښکاره کړه چې د پروګرام ناوخته شروع کيدل شايد په راتلونکي کې د بعضو ستونزو سره مخامخ شي. د پروګرام ناوخته شروع کيدنه د امنيت د نشت له امله ، له شمال څخه جنوب ته د پروګرام انتقالول او هم د کار په مقابل کې د نقدو پيسو ورکولو د ستراتيژئ نشتوالی. سره له دې چې دا ستونزې د دې حساب اخيستني ترمهاله تر ډېره حل شوي وي، خو د اَيساف د بيا اداري او د فنډ د زياتوالي لپاره د کورنيو چارو د وزارت تصويب تر لاسه کول په راتلونکي کې پر پروګرام منفي اغېز کوي، که سم اداره نه شي. اديت د پروګرام د څارني لپاره دري ډوله سپارستني کړې دي.

## د روانو فعالیتونو ځارنه

د 2010 کال د سپتمبر میاشتي په 30 نیته ونده اخیستونکو ادارو د 34 روانو فعالیتونو د ځارني راپور چي د امنیت او بیارغاوني سره تړاو درلودلو ورکړی و. د دغه فعالیتونو د لست ذکر په 4.2 جدول کي شویدی. په پدي برخه کي هغه ټول معلومات چي د ادارو لخوا ورکړ شویدي، موجود دي.

## د دفاع وزارت، د عمومي پلټونکي دفتر

د دفاع وزارت د کارونو د احتمالي لیدني په جریان کي د زیاتو ستونزو سره مخامخ شوی دی، چي په رسمي دول دغي ته "د وحشت په مقابل کي جهاني جنګ "وایي. د دفاع وزارت د عمومي پلټني افسر د دې ننګونو پر بنسټ لومړیتوبونه پېژندلي او په سویلي اسیا کي یي د خپل شتون او د سمندر پوري غاړي راتلونکو عملیاتو په پراخوالي یي دې ته ځواب ویلی دی. د دفاع وزارت د تلپاتي ازادی عملیاتو لپاره د سمندر پوري غاړي راتلونکو عملیاتو ته دوام ورکوي، دا به د مشن پر ترسراینه خپله پاملرنه وساتي او دا به باوري کړي، چي ډیپارټمنټ له خپلو جنګیالیو سره د مرستي لپاره د ده سرچیني په اغېزمنه توګه کاروي.

4.1 جدول

| د 2010کال د سپتمبر تر 30مي پوري د متحده ایالاتو د شرکتونو د کتني روان فعالیتونه | | | |
|---|---|---|---|
| **شرکتونه** | **د پروژې شمېره** | **د نوبښت نېټه** | **د پروژې سرلیک** |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2010-D000FL-0276.000 | 9/2/2010 | په افغانستان کي د قومندان د چټک ځواک د پروګرام د پیسو د اختصاص او راپور کنترول |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2010-D000JA-0165.001 | 6/21/2010 | د ژبپوه د مرستي لپاره د متحده ایالاتو د پوځ د استخباراتو او امنیتي قوماندي د تړون اجراات |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2010-D000JO-0229.000 | 6/14/2010 | د افغانستان په پروان کي د زندانیتوب د اسانتیاوو تړون |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2010-D000SPO-0198.000 | 4/19/2010 | د پراخو افغان ملي پولیسو د اداره کولو، روزني او مجهزولو د هڅو مرسته |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2010-D000JB-0157.000 | 3/4/2010 | د افغان ملي پولیسو، د تجهیزاتو د رغوني، ځارني او خدماتي پروګرام تړون |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2010-D000JA-0138.000 | 2/18/2010 | په افغانستان کي معلوماتي عملیات |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2010-D000FL-0100.000 | 2/18/2010 | د قومندان د بېړني پروګرام د پیسو د لګښت د پروسي داخلي کنترول، په افغانستان کي عملیات رامنځته کړل |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2010-D000JA-0091.000 | 12/9/2009 | په افغانستان کي د متحده ایالاتو د ځوکوانو لپاره د ځواکونو د خوندیتوب پروګرام |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) | D2008-D000CD-0256.000 | 8/7/2008 | د دفاع وزارت د زغرورو بدنه تړون |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) میرو | 10- د منځني ختیځ سیمه بیزه اداره-3021 | 9/2010 | په افغانستان کي د نشه یي توکیو پرضد د مبارزي او د قانون د پلیښي د چارو نړیوالي بیورو د سموني د سیستم د ملاتړ پروګرام کتنه(د تړون ارزونه) |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) میرو | 10- د منځني ختیځ سیمه بیزه اداره-3004 | 9/2010 | د سرشمېرني، کدوالو او کډوالی د بیورو د پروګرام د اغېزو کتنه، چي افغان کډوال بېرته راستانه او ځای پرځای شي |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) میرو | 10- د منځني ختیځ سیمه بیزه اداره - 3002 | 2/2010 | په کابل کي د متحده ایالاتو د سفارت د عملیاتو او رغوني او ځارني لپاره له PAE سره د متحده ایالاتو د کورنیو چارو د وزارت د تړون کتنه |

4.2 جدول (ادامه)

| د 2010کال د سپتمبر تر 30مي پورې د متحده ایالاتو د شرکتونو د کتنې روان فعالیتونه | | | |
|---|---|---|---|
| شرکتونه | د پروژې شمېره | د نوښت نېټه | د پروژې سرلیک |
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات) میرو | 10- د منځني ختیځ سیمه ییزه اداره-3001 | 2/2010 | په افغانستان کې د نشه یي توکیو پرضد د مبارزې د افغان تولي د عملیاتو او رغونې او څارنې لپاره له PAE سره د متحده ایالاتو د کورنیو چارو د وزارت د تړون کتنه |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 351525 | 8/13/2010 | د ټیکاو د عملیاتو او کار روزګار لپاره د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د کار ځواک |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 320794 | 7/21/2010 | افغانستان ته د متحده ایالاتو د مستقیم فنډ شمېرنه |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 351514 | 6/14/2010 | نظامي لاربنوونه او د بریګیډ مرسته |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 351492 | 4/30/2010 | په افغانستان کې له عملیاتو سره د پرسونل، تهجیز او لېږد مرسته |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 351489 | 4/26/2010 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د صلاحیتونو ارزونه |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 320766 | 4/1/2010 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ملکي وګړیو زیاتوالی |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 351463 | 3/12/2010 | د افغانستان د ISR وړتیاوې |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 120874 | 11/12/2009 | په افغانستان او عراق کې د جبري کلنیو تړونونو کتنه |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 320712 | 9/2/2009 | د افغان ملي اردو د وړتیا د لوړولو لپاره د متحده ایالاتو هڅې |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 351393 | 8/21/2009 | د بېړنیو عملیاتو لپاره د دفاع وزارت روغتیایي پاملرنې اړتیاوې |
| د دولت د احتساب دفتر(متحده ایالات) | 320680 | 5/8/2009 | په افغانستان کې د څښاک د اوبو، فاضله اوبو او اوبه خور او غلو پروژې |
| د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره | A-2010-ALL-0568.000 | 9/2/2010 | مایکرو- د عملي ترتیب کړیو افسرانو پېرنه-افغانستان-پلان |
| د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره | A-2010-ALL-0480.000 | 5/21/2010 | د چمتو-افغانستان د USFOR-A د لوژیستکي ملي پراخوالي د پروګرام د کورس د تمدید د پروسې پر سر هوکړه |
| د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره | A-2010-ALL-0421.000 | 3/29/2010 | د لوژیستکي ملي پراخوالي د څلورم پروګرام د تړونو د اړتیاوو ټاکنه- افغانستان |
| د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره | A-2010-ALL-0103.000 | 2/22/2010 | د پلورنکي د لګښت د دویمي بنې کنټرول-افغانستان |
| د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره | A-2009-ALL-0531.000 | 5/19/2009 | د قومندان د بېړني غبرګون پروګرام-افغانستان |
| د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عمومي پلټونکی دفتر | نه ترسره کېږي | نه ترسره کېږي | د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/ افغانستان د وزارتي مرستې د پروسې کتنه |
| د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عمومي پلټونکی دفتر | نه ترسره کېږي | نه ترسره کېږي | د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/افغانستان د اوبو، کرنې او ټیکنالوژۍ د لېږد پروګرام ته لاس رسی |
| د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عمومي پلټونکی دفتر | نه ترسره کېږي | نه ترسره کېږي | د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/افغانستان د روغتیایي او ښوونې روزنې د اسانتیاوو پروګرام ته لاس رسی |
| د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عمومي پلټونکی دفتر | نه ترسره کېږي | نه ترسره کېږي | د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/د افغانستان د امریکایي پوهنتون فعالیتونو ته لاس رسی |
| د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عمومي پلټونکی دفتر | نه ترسره کېږي | نه ترسره کېږي | د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/افغانستان، په افغانستان کې د ټولنیزې ښوونې روزنې په پرمختګ کې د شراکت ارزونه |

سرچینه: د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، SIGAR ته ځواب، نېټه، 10/5/2010، د کورنیو چارو د وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، د منځني ختیځ سیمه ییزه اداره، SIGAR ته ځواب، نېټه، 10/5/2010،د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره، SIGAR ته ځواب، نېټه، 10/4/2010؛ SIGAR ته ځواب، نېټه، 10/6/2010 د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې، SIGAR ته ځواب، نېټه، 9/29/2010.

د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د سویل لویدیځې آسیا د پلان د ګډې ډلې، د فدرالي او د دفاع وزارت د سمندر پورې غاړې راتلونکو عملیاتو پورې د تړلیو پلټونکو فعالیتونو لپاره شراکت رامنځته کوي او اسانوي یې. ډلې د 2010کال د اګست پر 14مه خپله غونډه وکړه.

د 2010 مالي کال لپاره، د تلپاتې ازادۍ په عملیاتو پورې د تړلیو پلټونکو فعالیتونو، په رغنیزو چارو کې د پرسونل خوندیتوب، د متحده ایالاتو د پرسونل لپاره د خوندیتوب پروګرام، د شتمنیو حساب، ناوړو ورکړو پیسو، د تړونونو ادارې، تړوني عملیاتو، د نظامیانو وړتیاوو او د افغان ملي ځواکونو لپاره د فنډ د کنټرول او او پلان ارزونې ته اشاره کوي.

### د پلټنې فعالیتونه

د 2010کال د څلورمې درې میاشتنۍ لپاره، د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د مشر دفتر د پلټنې 33روان فعالیتونه لرل او 12نورو راپورونو ته یې اشاره کوله، چې د تلپاتې ازادۍ عملیات سپورټ کوي. په دغو 33و روانو پروژو کې، 9 په افغانستان کې د بیارغونې یا امنیتي عملیاتو پورې اړه لري او د درې میاشو په راپور کې راغلي دي. په 12و خپرو شویو راپورونو کې، 4 په افغانستان کې د بیارغونې یا امنیتي عملیاتو پورې اړه لري او د درې میاشو په راپور کې راغلي دي.

په افغانسان کې د قوماندان د چټک غبرګون د پیسو د راپور او شتمنیو کنټرول
(د پروژې شمېره، D2010-D000FL-0276.000، د 2010کال د سپتمبر د 2مې نوښت)

د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د مشر دفتر دا ګوري، چې ایا د قوماندان د چټک غبرګون د پیسو پر راپور او شتمنیو داخلي کنټرول په افغانستان کې د عملیاتو لپاره بسنده دي. په ځانګړې توګه، د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د مشر دفتر به کنټرول وڅېري، چې دا باوري شي، چې لګښت مناسب دی او دا بشپړ، دقیق او بامفهومه اسناد هغو پرېکړه کونکو ته، چې د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام مسوولیت پرغاړه لري خپاره شوي دي. دا د حساب اخیستنې د لړۍ دویمه حساب اخیستنه ده، چې د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام لګښت ته، چې په افغانستان کې پر مرستندویو عملیاتو لګېدلی، اشاره کوي.

د ژباړن لپاره د متحده ایالاتو امنیتي قوماندې او استخباراتو د تړون د امنیتي مقرراتو ټاکنه
(د پروژې شمېره، D2010-D000JA-0165.001.، د 2010کال د جون د 21مې)

د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د مشر دفتر دا ګوري، چې په افغانستان کې د ژباړن لپاره د متحده ایالاتو امنیتي قوماندې او استخباراتو د تړون (W911W4-07-D-0010) مقررات په اغېزمنه توګه ترسره شوي دي. دا د پروژو د لړۍ یوه پروژه ده، چې په افغانستان کې د ژباړن د مرستې په برخه کې کتنه کوي. D2010-D000JA-0165.000 پروژه دې ته اشاره کوي، چې په افغانستان کې د ژباړن د مرستې تړون(W911W4-07-D-0010) د دقیقو امنیتي مقررات په بر کې نیسي.

د افغانستان په پروان کې د زندانیتوب د اسانتیاوو تړون
(د پروژې شمېره. D2010-D000JO-0229.000، د 2010کال د جون پر 14مه ترسره شوې)

د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د مشر دفتر دا ګوري، چې ایا د فدرالي او نورو قوانینو او اصول پر بنسټ، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د سرتېرو انجینرانو او د متحده ایالاتو ځواکونو په پروان کې د رغونې خدمتونه وړاندې کړي دي او د توقیف د اسانتیاوو لپاره یې د رغنیزو تړونونو اداره کړې دي. په ځانګړې توګه، د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د مشر دفتر به دا وګوري، چې آیا د پروان د زندان د رغونې پرمهال د متحده ایالاتو د اردو، د انجینرۍ سرتېرو په ځانګړې توګه، د اجاره ګرو کار اداره کړی دی او ایا د متحده ایالاتو د اردو، د انجینرۍ سرتېرو، د اجاره ګرو د بې پروایی، درغلۍ پرضد کوم ګام پورته کړی دی.

د پراخو افغان ملي پولیسو د روزنې، تجهیز او ادارې لپاره مرستندویه هڅې
(د پروژې شمېر، D2010-D000SPO-0198.000، د 2010کال د اپریل د 19مې نوښت)

د دفاع وزارت د عمومي پلټني د مشر دفتر به دا وګوري، چې د افغان ملي پوليسو د روزنې، تجهيز او اداري لپاره د ناټو، آيساف ايتلاف او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت موخې، پلانونه، لاربوونې او سرچينې چمتو شوي، عملي او صادر شوي دي. د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د مشر دفتر به د د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د مشر د دفتر د راپور د سپارښتنو په غبرګون کې اخيستې ګامونه هم وڅېري. تر لېږدېدلو مخکې عملياتي څارنه-2009-006 او تر لېږدېدلو مخکې عملياتي څارنه007-2009- څرنګه چې يې په دوی پورې تړاو لاره.

د افغان ملي پوليسو، د تجهيزاتو د رغونې، څارنې او خدماتي پروګرام ترون
(د پروژې شمېر، D2010-D000SPO-0198.000، د 2010کال د اپريل د 19مې نوښت)

د دفاع وزارت عمومي تفتيش د افغان ملي اردو د نقليه وسايطو او د تعمير ترون، د کيفيت او د کيفيت د کنترول موجودو لارو تضمين ټاکي. ټاکلې ده چې د دفاع وزارت عمومي تفتيش به دا معلومه کړي چې حکومت قراردادي اړتياوې ګوري، او څارنه تر سره کيږي. بر سيره پر دې، د دفاع وزارت عمومي تفتيش به دا معلومه کړي چې قرارداد کونکې زياتې پانګې ته ضرورت لري چې قراردادي دنده ښه تر سره کړي، او قراردادي د بيا اداينې د برخو ښه تعديل لپاره يومعقول وړانديز وکړي.

په افغانستان کې معلوماتي عمليات
(د پروژې شمېره D2010-D000JA-0138.000، د 2010کال د فبروري د 18مې نوښت)

د دفاع وزارت عموي تفتيش د متحده ايالاتو مرکزي قومنداني او په افغانستان کې د متحده ايالاتو قواوې د دې دپاره ارزيابي کوي چې په افغانستان کې معلوماتي عمليات تر سره کړي. بر سيره پر دې، د د فاع وزارت عمومي تفتيش به دفاع وزارت سازمان له خوا چمتو شوی ملاتړ ارزيابي کړي چې دا قومندانوي د دې وړتيا لري چې معلوماتي عمليات ترسره کړي.

د قومندان د بېړني پروګرام د پيسو د لګښت د پروسې داخلي کنترول، په افغانستان کې عمليات رامنځته کړل
(د پروژې شمېره D2010-D000FL-0100.000، د 2010کال د فبروري د 18مې نوښت)

د دفاع وزارت د عمومي تفتيش دا ټاکي چې د قومندان د بيړني ځواب د داخلي کنترول پرګرام د پيسو اداينې جوړه شوي دي چې په افغانستان کې د عملياتو ملاتړ وکړي او د دفاع وزارت د ورکړې سيستمونو له لارې يې وڅېري ، دا کافي دي. ټاکلې ده، هغه به دا تشخيص کړي چې دا څارنې د کمپيوټر تحليل شوي دپيسو د ورکړې معتمدې ډيټا سره سمون خوري، او پيسو ورکړې صحي دي، او د دوی د غوښتل شوي موخې لپاره استعمال شوي.

په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځوکوانو لپاره د ځواکونو د خونديتوب پروګرام
(د پروژې شمېره D2010-D000JA-0091.000، د 2009کال د ديسمبر د 9مې نوښت)

د دفاع وزارت د عمومي تفتيش د لومړنی اجتماع د اسانتياو او په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو جوازلرونکو ساحو لپاره د ځواک ساتنې له پرګرامونو څخه ليدنه کوي. ټاکلې ده چې هغه به د پرګرام ملاتړ او سرچينې چې قومندانان يې د اسانه پلان جوړونې لپاره لري تشخيص کړي او مصؤن پرګرامونه د دوی ځواکونه ساتې. دا ليدنې په بګرام هوايي ډګر، کندهار هوايي ډګر، کمپ ايګر د نوي کابل محوطې باندې را څرخيده.

د دفاع وزارت د زغرورو بدنه ترون
(د پروژې شمېره D2008-D000CD-0256.000، د 2008کال د اگست د 7مي نوبښت)

د دفاع و زارت د عمومي تفتيش ترونونه او د زغرو لپاره قراردادي پروسه او د مربوطه ازمويني اسانتياوي ارزوي. بيستيزي موخي دا دي د قراردادیانو دځانګړنو او مشخصاتو ارزيابي، قراردادیانو ته د ورکړې معيار، د کيفيت د تضمين پروسه او هغه اړيکي چې د حکومتي مقاماتو او قراردادیانو تر منځ به موجود وي. د کيفيت د تضمين پروسي بياليدنه د زغرو د ترنونو د لومړي جنس د امتحانو او قبلو د پايلو ليدنه وي. د دفاع وزارت د عمومي تفتيش د 2009 د ديسمبر په 21 دا نمبر D-2010-029 راپور ورکړي، د دفاع وزارت د زغرو ترونونو د پيسو د ورکړې ترون مباحثه. د دفاع وزارت د عمومي تفتيش پلانونه دا دي چې په دې پروژې پوري ترلي اضافي راپورنه ورکړي.

## د کورنيو چارو وزارت د پلټنې د عمومي مشر دفتر- منځنی ختيځ، سيمه ييز دفتر

### د پلټنې فعاليتونه

په افغانستان کې د نشه يي توکيو پرضد د مبارزې او د قانون د پلېينې د چارو نړيوالي بيورو د سمونې د سيستم د ملاتړ پروګرام کتنه(د ترون ارزونه)
(د پروژې شمېره 10-MERO-3021، د 2010کال د سپتمبر)

موخې: د دې ارزوني لومړنی موخي دا دي چې تشخيص کړي.
(1) تخنيکي روزنه، بنسټيز ظرفيت تعمير، او د رهبريت روزنه چې د سمونو سيستمونو او دعدليي وزارت مقاماتو لپاره ځانګړې او اغيزمن دي. (2) د نوي زندان تعمير، دانساني اړيکو او د ثابتو معيارنو جوړيدل او په ويو مناسب حالت کې تکميليږي.(3) د زندان د ډلبندۍ سيستم عام مجرمين له ياغيانو نه بيلوي.(4) هغه پرګرامونه چې د زندانيانو راډيکالايزيشن کم کړي، اغيزمن دي . او(5) د کافي سموني اسانتياوي موجود دي چې د ښځو او نوځوانانو له ضرورتونو څخه ليدنه وکړي.

د سرشمېرني، کډوالو او کډوالی د بيورو د پروګرام د اغېزو کتنه، چې افغان کډوال بېرته راستانه او ځای پرځای شي
(د پروژې شمېره -10-MERO3004، د 2010کال د سپتمبر)

موخې: د دې کار د تر سره کيدو موخي دا دي چې لاندي څيزونه معلوم او ټاکي. (1) د ترونونو اړتياوې او تدارکات د مهاجرينو لپاره د ملګرو ملتونو له عالي کميشنرۍ (2) ،(UNHCR) د سره صليب نړيوالي کميټه، او انجوګانو سره. (3) د مرستو څومره اړتياوې جمع شوي وي. (4) که د پرګرام سرته رسول او اندازې تاسيس شوي او تر سره شوي او (5) په کابل کې د سفارت او ولايتي بيارغوني ټيمونه اغيزې دي چې په افغانستان کې د بشردوستي همږۍ او اداره کړي.

په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت د عملیاتو او رغوني او څارنې لپاره له PAE سره د متحده ایالاتو د کورنیو چارو د وزارت د تړون کتنه
(د پروژې شمېره 3002-MERO-10، د 2010کال د فبروري )

موخې: د دې کړنې د ترسره کېدو موخې به دا څېزونه تشخیص او معلوم کړي (1) د تړون او د دندې د سپارښتنو تیارې او اړتیاوې.(2) د مالي لګښت اندازه، څانګه د سفارت د ځای برابرولو، عملیاتو او ساتنې لپاره د تړونونو له لارې د2005-2009 پورې اړ شوه چې لګښت وکړي.(3) د PAE تړون د ترسره کېدو اغیزه په کابل کې د سفارت د ځای او ساتنې په برابروالی (4) د ثبتولو او د سرمایې حسابولو او په افغانستان کې د متحده ایالاتو اماده شوي تجهیزاتو او سرمایو مصؤن کولو لپاره د PAE نظارتونه، که څه هم تجهیزات په سمه توګه حساب شوي، او د حساب ورکوني حفظ لپاره ننګوني (5) دا څانګه په افغانستان کې تړون او دندې سپارښتنې چې د PAE د کړنې سهوه او خطا معلومه کړي څومره کنترول او اداره کوي،(6) تړون د FAR 52.222.50, ماده بیانوي، هغه چې د تړون په اړډو کې اداري خسارات جبران وي، قراردادي یا فرعي قراردادي په وګړو کې سختو ترافیکي فعالیتونو لپاره ګوماري او ،(7) څانګه څومره اطمینان ورکوي چې دا مصارف په سمه توګه حمایه شوي او ځانګړي شوي دي.

دPAE سره د دولت دتړون ځانګې تجدید چې په افغانستان کې د نشه ئي موادو ضد ډلو لپاره عملیات او حفاظت برابروي
(د پروژې شمېره -3001MERO-10، د 2010کال د فبروري)

موخې: د دې پروژې د ترسره کېدو موخې دادي چې تشخیص کړي (1) د دندې سپارښتنو او تړون تدارکات او اړتیاوې.(2) د مالي لګښت اندازه، څانګه د سفارت د ځای برابرولو، عملیاتو او ساتنې لپاره د تړونونو له لارې د2005-2009 پورې اړ شوه چې لګښت وکړي، (3) په افغانستان کې د نشه یي توکوضد افغانو ډلو لپاره د ساتنې او عملیاتو اسانتیا تاکلو باندې د PAE تړون د ترسره کېدو اغیزه (4) د ثبتولو او د سرمایې حسابولو او په افغانستان کې د متحده ایالاتو اماده شوي تجهیزاتو او سرمایو مصؤن کولو لپاره د PAE نظارتونه، که څه هم تجهیزات په سمه توګه حساب شوي، او د حساب ورکوني حفظ لپاره ننګوني (5) دا څانګه په افغانستان کې تړون او دندې سپارښتنې چې د PAE د کړنې سهوه او خطا معلومه کړي څومره کنترول او اداره کوي،،(6) تړون د FAR 52.222.50, ماده بیانوي، هغه چې د تړون په اړډو کې اداري خسارات جبران وي، قراردادي یا فرعي قراردادي په وګړو کې سختو ترافیکي فعالیتونو لپاره ګوماري او ،(7) څانګه څومره اطمینان ورکوي چې دا مصارف په سمه توګه حمایه شوي او ځانګړي شوي دي.

## د حکومت د حساب ورکولو وزارت

تیرو دریو میاشتو کې د حکومت د حساب ورکوني دفتر د کانګرس نه مخکې په افغانستان کې د متحده ایالاتو پرمختیایي مرستې او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نشه ئي موادو ضد هڅو تېروتنه تائید کړه، د متحده ایالاتو د ځواکونو روزنې سره تړلې درې راپورونه ورکړل.USAID کړنيز پرګرآمونه او د IED ضد کوښښونه، او په سمه یز او ولایتي غربت کچې لپاره یوه خاصه خېروني ټاکلې ده او په افغانستان کې د لویو حاصلاتو تولید.

- د لومړي مدرک تائید د 2010 د جولای په 15 د پارلمان دکمټي نه مخکې په دولت کې د یوې فرعي کمیټې تخصیص و،بهرني عملیات او ور سره تړلي پرګرامونه. د حکومت د حساب ورکوني دفتر وموندله چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو پرمختیایي پرګرامونه له ګنشمیر ننګونو سره مخ دي، لکه د کار چاپیریال کې د لو تهدید شتون دی، د رسمي ښوني او روزني پر مخ د مشکلاتو شتون دی ، د کارمندانو په راګرزیدو کې د معلوماتو د شریکولو او ساتلو لپاره د یوه رسمي میکانیزم نشتون دی او GIROA وزاردتونه، د وړتیا فقدان او د اداري فساد ننګوني. برسیره پر دي د افغانستان لپاره USAID ماموریت هم په ټینګه توګه د اداري او ارزوني لپاره جوړي شوي لاردو څخه پیروي نه کوي. د موجودي اداري د یوثابتي غوښتني دي نشتون او د ارزوني لاري چاري ، د USAID مرستي پرګرامونه هم د ادادري فساد په وړاندي ډېر ټیټ خوړونکي دي ، درغلی ، تلف کول او ناوړه استفاده. د دي په خاطر چې په افغانستان کې یې د پرمختیایي پرګرامونو اداره ښه والی وموميّ ، د حکومت د حساب ورکوني دفتر دا وایي کوي چې USAID رئیس دي دا ګامونه تعقیب کړي ، (1) د متقاعدو پرګرامونو ترسرکیدل موخي او روزنکي ولري .(2) په مکمله توګه ارونه او د پرګرام استعمال دیټا او ارزوني چې روان پرګرامونه تشکیل او د راتلونکو پرګرامونو خبر وکړي ، (3) د رسمي زدکړي پاته کیدل ټاکل او (4) او د رهبریت د ښه والي د USAID قراردادیانو د اداري او استفادي لپاره (GAO-10-932T).
- دوهم تائید 2010 دجولای په 21 د پارلمان مخکې و او د کمیټي تیروتنه او حکومت د اصلاحاتو فرعي کمیټه په داخلي پالیسي کې. د حکومت د حساب ورکوني دفتر وموندله چې کله په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نشه یي موادو ضد نړیوال پرګرام او په نورو ځایو کې د متحده ایالاتو له امنیت سره تړلي د بهرنی پالیسي موخو پراخ ملاتړ، متقابل یاغیتوب، او حکومتداري ، او دوی بوازي په جلا توګه د غیر قانوني توکو د کمښت لپاره د جوړو شویو موخو لیدنه وکړه. د افغانستان په مرکزي او ولایتي حکومتونو کې د سیاسي تصمیمونو د نشت په ګډون، د افغانستان لپاره په پام کې نیولي موخي د ځینو لاملونه له امله نه دي ترلاسه شوي. پر 2009کال، متحده ایالاتو په افغانستان کې د نشه یي توکیو پرضد د مبارزي ستراتیژي بیاراژوندې کړه، چې ناقانونه هڅي کمي او له کرني سره مرسته زیاته شي. د افغانستان په مرکزي او ولایتي حکومتونو کې د سیاسي تصمیمونو د نشت په ګډون، د افغانستان لپاره په پام کې نیولي موخي د ځینو لاملونه له امله نه دي ترلاسه شوي. د بېلګې په توګه، د دي کارونو په لړ کې هغه مبارزه راځي، چې د نشه یي توکیو پرضد بېلابېلو ډلو کړي ده او په بېلابېلو برخو کې شوی ده. په دي کې د سړي تښتوني او د کوکنارو کر هم راځي (د دولت د احتساب دفترT921-10-). د 2010کال په اپریل کې، د دولت د احتساب د دفتر سپارښتني، چې په افغانستان کې د نشه یي توکو پرضد د مبارزي لپاره د متحده ایالاتو د حکومت وړتیا پیاوړې شي (GAO-10-291).
- د متحده ایالاتو د دولت د احتساب دفتر د پلي او سمندري ځواکونو د هڅو خبر ورکوي، چې د خپل مشن په اوږدو کې داسي ځواکونه وروزي، چې د افغانستان د فنډ له پراختیا سره مرسته وکړي، ځکه چې خدمتونه د راتلونکو روزنو د غوښتنو د ترلاسي لپاره د له ډېرو ننګونو سره مخېږي. په ځانګړي توګه، د اردو د پروژو ظرفیت، چې په لنډمهالو روزنیزو مرکزونو کې غواړي، چې نظامي ډلي وروزي، چې د راتلونکي

د تعرضي، دفاعي او د ټيکاو د عملياتو لپاره د روانو او اوږدمهالو عملياتو غوښتنې پوره کړي. تر څو چې اردو د روزنې خدمتي ستراتيژي له سره نه وي کتلې، تر هغې دا نه شي ټاکلای، چې څرنګه د راتلونکو روزنيزو غوښتنو لپاره سرچينې وپلټي، يا د روزنې خدمتي وړتيا ځای پرځای کړي. په راتلونکي کې، سمندري ځواکونه پلان لري، چې خپلې روزنې پراخې کړي، چې زياتو ځواکونو ته د يوځای روزنې زمينه برابره شي؛ خو دا په خپله روزنيز مرکز کې دومره ځای نه لري. دا په پام کې نيولې جزيرې بديل په پام کې نيسي او هيله ده، چې تر 2012مالي کال پورې يوې پرېکړې ته ورسېږي. د دولت د احتساب دفتر دا سپارښتنه کوي، چې اردو د يوې ګواښندې مرستې او پلان په لټه کې ده، چې د روزنې د ظرفيت درزونه او ستونزې حل شي او له دې سره مرسته کوي، چې څرنګه دا د خپلو ځواکونو په مشرۍ د جزئي روزنو د ترسرايني لپاره شته سرچينې زياتولای شي (د دولت د احتساب دفتر-720-10).

- د دولت د احتساب دفتر، په افغانستان کې کرنې د پروګرامونو په اړه د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې په اړه راپور وړاندې کوي، چې له 2008راهيسې، دې ادارې په افغانستان کې د اړ کارونو له ادارې پلان پرته کارونه ترسره کړي دي. په ځانګړې توګه، د دولت د احتساب د دفتر د کتنې له مخ يې، د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې، د خپلو اتو کرنيزو پروګرامونو لپاره د استخدام د ملګرې ادارې پلانونه نه دي تصويب کړي؛ دا يې نه ده ثابته کړې، چې په دغو کارونو کې موخو ته رسېدلې که نه، د دغو اتو پروګرامونو لپاره يې د پروګرام د کارونو اسناد او تشريح نه ده وړاندې کړې؛ او هغه پرېکړې نه ده راخيستې، چې د پروګرام له کارونو سره تړاو لري، چې د پروګرام په فنډ کې ادلون بدلون راولي. د دولت د احتساب دفتر، سپارښتنه کوي، چې د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې چاروکو د کارونو د پلان د ترلاسې، ادارې او ارزونې او د معلوماتو د لېږد لپاره ځينې ګامونه پورته کړي دي، د بېلګې په توګه، د استخدام د ملو کارونو د ادادې او موخو تصويب، د پروګرام د اسنادو او ارزونو تشريح او ژباړه، او د ادارې پوهې انتقال (د دولت د احتساب دفتر-368-10).
- د دولت د احتساب دفتر د چاودېدونکيو توکيو د خنثۍ کولو د ګډې ټولنې په اړه خبر ورکوي، چې دا ټولنه اړه ده، چې د چاودېدونکيو توکيو پرضد د مبارزې لپاره زيات اقدامات وکړي، چې په دې کې د چاودېدونکيو توکيو پرضد د دې ټولنې د اغېزمنې مبارزې لپاره د پرمختيايي پروسې مرسته، د چاودېدونکيو توکيو پرضد د پرمختيايي پروسې د تصويب د کتنې امکانات برابرول، او د داخلي کنټرول د سيستم د کمزوريو حل کول. د دولت د احتساب دفتر سپارښتنه وکړه، چې د دفاع وزارت، د چاودېدونکيو توکيو د خنثۍ کولو د ګډې ټولنې، د داخلي کنټرول د سيستم د پرمختيا جريان اداره کوي (د دولت د احتساب دفتر660-10-).
- د دولت د احتساب دفتر په افغانستان کې د سيمه ييزې او ولايتي ببوزلې د کچې او د لويو کرنيزو توليداتو په اړه ځانګړې خپرونه وايي، چې د 2007/2008کلونو په اوږدوو کې په افغانستان کې په سويل لويديځه سيمه کې د ببوزلې کچه %23 او په ختيځ او لويديځو-مرکزي سيمو کې%45 وه. يوه ځانګړې نخچه د 34ولايتونو په اړه معلومات ورکوي، چې په دې کې د ښکاک پاکې اوبه، روغتيايي اسانتياوې او بريښنا راځي. د دولت د احتساب دفتر همدا راز خبر ورکوي، چې د 2007 او 2008کال ترمنځ په اوړي کې د غنمو توليدات زيات وو، په بې اوبو سيمو کې بيا کوکنار او الوګان زيات وو او په بارانې پنبه او جوار په باراني سيمو کې ډېر وو؛ د ژمي پرمهال د شولو، جوارو او سرګيوم توليد په بې اوبو سيمو کې زيات وو (د دولت د احتساب دفتر-10-756SP ).

پر دې سربېره، د دولت د احتساب دفتر، د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د مستقیم مرستیال د پلټنې لپاره د متحده ایالاتو د داخلي کنټرول په اړه یوه نوې پاملرنه وکړه.

## د متحده ایالاتو د نظامي ارزونې شرکت

### د پلټنې فعالیتونه

مایکرو- د عملي ترتیب کړیو افسرانو پېرنه-افغانستان-پلان
(د پروژې کوډ A-2010-ALL-0568.000، د 2010کال د سپتمبر د 2مې نوېښت)

دا حساب اخیستنه به دا وټاکي، چې ایا د ساحوي کارګرو د افسرانو د مایکرو خریداریو پروسیجر بسنده کنټرول لاره، چې د خریدارۍ اړتیاوې او حساب ترسره کړي.

د چمتو-افغانستان د USFOR-A د لوژیستکي ملي پراخوالي د پروګرام د کورس د تمدید د پروسې پر سر هوکړه
(د پروژې کوډ A-2010-ALL-0480.000، د 2010کال د مې د 21مې نوېښت)

دا ازمايښتونه په افغانستان کې ترسره کېږي. دا به دا وټاکي، چې ایا د USFORد لوژیستکي ملي پراخوالي پروګرام کارونو داسې سم او رغنده ګامونه پورته کړي دي، چې دا ډاډه کړای شي، چې اړتیاوې د کتنې د پلاوي پواسطه کنټل شوې دي.

د لوژیستکي ملي پراخوالي د څلورم پروګرام د تړونو د اړتیاوو ټاکنه- افغانستان
(د پروژې کوډ A-2010-ALL-0421.000، د 2010کال د مارچ د 29مې نوېښت)

دا حساب اخیستنه به دا وټاکي، چې ایا د لوژیستکي ملي پراخوالي د څلورم پروګرام د تړون لپاره ټاکندوی او اعتباري پروسه موجوده وه او کارونه ترسره شوي وو.

د پلورنکي د لګښت د دویمي بنې کنترول-افغانستان
(د پروژې کوډ A-2010-ALL-0103.000، د 2010کال د فبروري د 22مې نوېښت)

دا حساب اخیستنه به دا وټاکي، چې په سویلي اسیا(افغانستان) کې اردو اغېزمن کنټرول لاره، چې په پام کې عملیاتو لپاره د خرڅلاو د لګښت کچه باوري کړای شي. دا حساب اخیستنه به دا وټاکي، چې په سویلي اسیا(افغانستان) کې اردو اغېزمن کنټرول لاره، چې په پام کې عملیاتو لپاره د خرڅلاو د لګښت کچه باوري کړای شي.

د قوماندان د بېړني غبرګون پروګرام-افغانستان
(د پروژې کوډ A-2009-ALL-0531.000، د 2009کال د مې د 19مې نوېښت)

دا حساب اخیستنه به دا وټاکي، چې ایا، په افغانستان کې د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام دومره اغېزمن کنټرول لاره، چې قوماندانانو او د ټولنې پرسونل پروګرام په سمه توګه ترسره کړی دی.

## د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو د شرکت د عمومي پلټونکي دفتر

### د پلټنې فعالیتونه

د دې درو میاشتو په اوږدو کې، د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د عوملې پلټنې د مشر دفتر له نړیوال پرمختللي انجینرۍ ټولنې سره د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې د 3.5میلونو په ارزښت د یوه مالي تړون خبر ورکړ. دې حساب اخیستنې 12.115 ډالرو ناقانونه لګښت پیدا کړ. همدارنګه د دې درو میاشتو په اوږدو کې، څلور نور مالي حساب اخیستنې پلان کېدې، رواني وې یا د راپور ورکولو په حال کې وې. د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې او د همدې ادارې د عمومي پلټنې د مشر د دفتر لپاره د افغانستان مالي حساب اخیستنه د عامه رایو او د DCAAپواسطه روانه ده.

د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/ افغانستان د وزارتې مرستې د پروسې کتنه

موخې: دا معلومول دي، چې ایا د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره/افغانستان وزارتي مرستندوی پروسه د متحده ایالاتو د لګښتو د سم مصرف لپاره کوم باور ورکولای شي، چې ، چېٔ د متحده ایالاتو پیسېٔ به بېځایه نه پرځای لګېږي.

د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/افغانستان د اوبو، کرنې او ټیکنالوژۍ د لېږد پروګرام ته لاس رسی

موخې: دا معلومول دي، چې د افغانستان د کرنې د پرمختیا لپاره AWATT خپلو موخو ته رسېدلی دی، چې د ادارو کار اغېز او د محدودو اوبو سرچینې او پالیسي اداره کړي، د اوبو د لېږد لپاره یې د ماشینونه مساعد کړي دی.

د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/افغانستان د روغتیایي او ښوونې روزنې د اسانتیاوو پروګرام ته لاس رسی

موخې: هغه فعالیتونه چې د USAID د عمومی پروګرام له خوا تمویل شوی، او د هغه عمده موخی د GIRoAد ظرفیت لوړولو له طریقه چی کولای شی خپلو خلکو ته غوره روغتیایی اسانتیاویی د ولایتی روغتونونه له طریقه او د تکړه روزونکو او قابلو لپاره د روزنیزو مرکزونو له لاری تشخیص او په ګوته کړی.

د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/د افغانستان د امریکایي پوهنتون فعالیتونو ته لاس رسی

موخې: دا ټاکل دي، چې د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/افغانستان په افغانستان کې د امریکایي پوهنتون د مرستې موخې ترلاسه شوې دي، چې د محصلینو او ورو کسانو زیاتون دي او د بنسټونو او نورو اړتیاوو رغول دي.

د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/افغانستان، په افغانستان کې د ټولنیزې ښوونې روزنې په پرمختګ

کې د شراکت ارزونه

موخې: دا ټاکل دي، چې د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې/افغانستان د ښوونې روزنې د پروګرام ټاکلې موخې ترلاسه شوې دي که نه، چې د کوچنیانو لپاره د زده کړو رامنځته کول وو دا هغه کوچنیان رانغاړي،چې د افغانستان په لرو پرتو سیمو کې اوسېږي.

## د نورو ادارو څېړنې

SIGAR په افغانستان کې د نورو ادارو د مرستې لپاره له دوی سره د څېړنو په ترسراینه کې مرسته کړې ده. د 2010کال د سپتمبر پر 30مه د دفاع وزارت د عمومي پلټنې د دفتر د مشر په لاس پنځه ښکاره دوسیې وڅېړل شوې (DoS OIG-INV). 4.3 جدول د 2010کال د سپتمبر په 30مه د ترسره شویو پرانیستو او بندو دوسیو لست وړاندې کوي.

4.3 جدول

د څېړنې فعالیتونه: د نورو ادارو څېړنې

| شرکتونه | خلاصې دوسیې | بندې دوسیې | ټولې دوسیې |
|---|---|---|---|
| د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(متحده ایالات)- INV | 5 | 0 | 5 |
| ټول | 5 | 0 | 5 |

سرچینه: SIGAR ته د د دفاع وزارت د پلټنې د عمومي مشر خواب، نېټه، 2010/5/10.

**د سيګار رسمي ټاپه**

د سيګار رسمي ټاپه د متحده اياالتو او افغانستان ترمنځ د هڅو د ارتباط استازيتوب کوي ځو د بيا رغونې احتساب او نظارت وکړي. د ټاپې په منځ کې د پورتنۍ غاړې په برابر فقره په دري کې ده او د ”سيګار“ مانا لري. ټاپې په منځ کې د کښتنۍ غاړې سره فقره په پښتو کې ده او همدا مانا لري.

# ضميمې
# او پايليکونه

# الف ضميمه

## د راپور قانوني غوښتنې

په ضميمو کې ورکړ شوي پاڼې دي راپور ته راجع کيږي چې د سيګار د قانوني ګرځولو لايحې سره اړوند غوښتنو په اساس، د مالي کال 2008 د ملي دفاعي صلاحيت ورکولو قانون پی ايل نمبر 181-110، برخه 1229 لاندې (جدول الف.1)، او د راپور ورکولو غوښتنې چې د عمومي پلټونکي لخوا د شپږ مياشتنې راپور ورکولو لپاره په نخښه شوي دي، چې په عمومي توګه د 1978 کال د عمومي پلټونکي د قانون لاندې او په (U.S.C 5. ضميمه 3) (جدول الف.2) کې ورکړ شوی دي.

جدول الف.1

| د پي ايل لمبر 110-181, § 1229 لاندې<br>د دې راپور د سيګار د درې مياشتنې راپورونو اوغوښتنو معاينه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکي ژبه** | **د سيګار عمل** | **برخه** |
| نظارت کول | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي پلټونکی بايد نيغ په نيغه د بهرنيو چارو وزير<br>او يا د دفاع وزير ته راپور ورکړي او يا د هغوی د عمومي نظارت لاندې وي. | د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکوي | ټولې برخې |
| مسووليتونه | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيا رغوني نظارت -<br>دا به د عمومي پلټونکي وظيفه وي چې د هغو پيسو چې اختصاص شوي او يا په بله مانا په ا فغانستان کې د بيا رغونې لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونو هم چې د دې پروګرامونو په کارولو سره ترسره شوي، د چلند، سمبالولو او خرڅ نظارت وکړي او د پلټنو او تحقيقاتو انسجام يې وکړي. | کتنه اختصاص شوی\ موجودې بوديجې<br><br>د هغو پروګرامونو، عملياتو، قراردادونو کتنه چې اختصاص شوي\موجودې بوديجې کاروي. | ټولې برخې |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې بوديجو د مسووليت او لګښت د حساب کتاب نظارت | د اختصاص شويو\موجود بوديجو د مسووليتونو او لګښتونو کتنه | د سيګار د نظارت<br><br>بوديجې |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د بيا رغونې د هغو فعاليتونو کتنه چې د اختصاصونو او خېراتونو لخوا تمويل شوي وي. | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوي وي | د هغو قرادادونو کتنه چې اختصاص شوي او موجودې بوديجې کاروي | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د رياستونو، ادارو، او د متحده ايالاتو د سازمانونو، او شخصي او نادولتي سازمانونو ترمنځ د داسې بوديجو او ورسره تړلې معلوماتو د لېږدل نظارت او کتنه | د اختصاص شويو\موجود بوديجو د داخلي او خارجي لېږد کتنه | ضميمه ب |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې بوديجو په کارولو د تاريخچو سمبالتيا د دې لپاره چې په راتلونکې کې د داسې بوديجې[و] تفتيشونه او معاينې اسانې کړي | د تفتيشونه تاريخچې سمبالول | د سيګار نظارت<br>ضميمه ج<br>ضميمه د |
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان ترون او د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ په تطبيقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندويه هيوادونو سره د متحده ايالاتو د ارتباط د اغېزمنتيا نظارت او کتنه | نظارت او کتنه څرنګه چې تشريح شوي | تفتيشونه |

جدول الف.1 (دوام لري)

| د پي ایل لمبر 110-181, § 1229 لاندې<br>د دې راپور د سیګار د درې میاشتني راپورونو اوغوښتنو معاینه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سیګار توانمنوونکي ژبه** | **د سیګار عمل** | **برخه** |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د اضافي پیسو د ورکړې څېړنه لکه د دوه ځلې پیسو ورکول یا دوه ځله بل او هر ډول احتمالي غیرقانوني یا ناسم عمل چې د فدرال مامورینو، قراردادیانو، یا اړوندو کسانو لخوا شوی وی، او د عدلیې ورات ته د دې ډول راپورونو ورکول، کله چې ضرورت وي، چې دا ډاډ ترلاسه شي چې نورې څېړنې، قانوني تعقیب، د اضافي پیسو بیرته ترلاسه کول، او نور جبرانوونکي کارونه ترسره شي. | د تحقیقاتو ترسره کول او راپور کول څرنګه چې تشریح شوي دي | تحقیقات |
| برخه 1229(f)(2) | د نظارت سره اړوند نورې دندې.-<br>عمومي پلټونکی باید داسې سیستمونه، پروسیجرونه، او کنټرولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندې وساتي چې عمومي پلټونکی یې د پراګراف (1) لاندې د وظیفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګڼي. | د سیستمونو، پروسیجرونو، او کنټرولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | ټولې برخې |
| برخه 1229(f)(3) | د 1978 کال د قانون لاندې د عمومي پلټونکي وظیفې او مسوولیتونه.—<br>په هغه برسیره، . عمومي پلټونکی باید د عمومي پلټونکي 1978 د قانون لاندې د عمومي پلټونکیو وظیفې او مسوولیتونه هم ولري. | هغه وظیفې چې د عمومي پلټونکي په قانون کې مشخص شوي دي | ټولې برخې |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو انسجام.-<br>عمومي پلټونکی باید د لاندې هر یو سره همکاري وکړي او د هغوی همکاري هم ترلاسه کړي:<br>(الف) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (ب) د بهرنیو چارو وزارت عمومي پلټونکی، او (ج) د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري عمومي پلټونکی. | د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID له عمومي پلټونکو سره همکاري | د نورو ادارو نظارت |
| مرکزي ملاتړ او نورې سرچینې | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د مرکزي ادارو څخه مرسته.—<br>د مرکزي حکومت د هر ریاست، اداري، یا بل سازمان څخه د عمومي پلټونکي د کومو معلوماتو یا مرستې په غوښتلو سره، د دغې اداري مشر باید، تر کومه حده چې عملي کېدونکي او د کوم موجود قانون خلاف نه وي، عمومي پلټونکي، یا د هغه استازي ته، دغسې معلومات یا مرسته ورکړي. | څرنګه چې غوښتل شوی وي<br>د ملاتړ تمه وکړئ | ټولې برخې |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د همکارۍ نه کولو راپور ورکول.—<br>هر کله او هر وخت چې د عمومي پلټونکي لخوا د مرستې یا معلوماتو غوښتنه شوې وي، د عمومي پلټونکي په قضاوت او اختیار سره، چې بې له معقول دلیل رد شې یا ورنکړای شي، عمومي پلټونکی باید بې له ځنډه د هغوی راپور د بهرنیو چارو وزیر یا د دفاع وزیر ته ورکړي، څنګه چې مناسب وي، او همدا رنګه مناسب او اړوند د کانګرس کمیټې ته د هغوی راپور ورکړي. | | |

جدول الف.1 (دوام لري)

| د پي ایل لمبر 110-181, § 1229 لاندې<br>د دې راپور د سیګار د درې میاشتنې راپورونو اوغوښتنو معاینه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سیګار توانمنوونکې ژبه** | **د سیګار عمل** | **برخه** |
| راپورونه | | | |
| برخه 1229 (i)(1) | درې میاشتنې راپورونه.-<br>د هر مالي کال د دریو میاشتو د پای نه تر ۳۰ ورځو زیات نه، عمومي پلټونکی باید د کانګرس مناسبو کمېټو ته یو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لري د دغې درې میاشتنې راپور د پای د وخت څخه د راپور د داخلولو د وخت پورې په دې مهال کې د عمومي پلټونکي او د هغه د فعالیتونو د هغو پروګرامونو او عملیاتو لاندې چې بودیجه او پیسې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوې وي یوه خلاصه وړاندې کړي. په هر راپور کې، د هغې دورې چې په دې راپور کې یې یادونه شوې وي، د هغو مسوولیتونو، لګښتونو، او عایداتو یو تفصیلي بیان چې په افغانستان کې د بیا رغونې او بیا جوړونې د فعالیتونو سره ملګرې وي، باید په ګډون د لاندې شامل وي: | راپور - 30 ورځې وروسته د هر کال د درې میاشتنی<br><br>د عمومي پلټونکي فعالیتونه خلاصه کول<br><br>د ټولو مسوولیتونو، لګښتونو، او عایداتو تفصیلي بیان | ټولې برخې<br>ضمیمه ب |
| برخه 1229(A)(1)(i) | د اختصاص شویو/خیرات کې ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | د اختصاص شویو/خیرات کې ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | ضمیمه ب |
| برخه 1229(B)(1)(i) | د هغو لګښتونو یو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نېټې د افغانستان په بیا رغونه کې لګول شوې، د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې، تر کومه چې تطبیقېدونکې وې، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو د لګښتونو د یو اټکل سره ملګرې. | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب د هرې پروژې یا پروګرام د نالګول شویو بودیجو لیست جوړول | بودیجې<br><br>یادونه 1 |
| برخه 1229(C)(1)(i) | د هغو بودیجو سره تړلې یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او بودیجو ته د بهرنیو ملتونو یا نړیوالو سازمانونو لخوا ورکړل شوې وي د کومو بودیجې چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوې وي، او د داسې عایداتو مسوولیتونه او یا لګښتونه | د مرستندویه ادارو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه، او لګښتونه | بودیجې |
| برخه 1229(D)(1)(i) | د هغو بودیجو سره تړلې یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنیو نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو څخه ورکړل شوې وي د کومو بودیجې چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوې وي، او د داسې عایداتو هر ډول مسوولیتونه او یا لګښتونه | د نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه او لګښتونه | بودیجې |
| برخه 1229(E)(1)(i) | د هغو ادارو یا سازمانونو فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوې پیسې ترلاسه کوي او یا په بله توګه د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوي وي | د هغو ادارو یا کوم سازمان فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوې بودیجې ترلاسه کوي | بودیجې<br><br>ضمیمه ب |

جدول الف.1 (دوام لري)

| د پي ايل لمبر 110-181, § 1229 لاندې<br>د دې راپور د سيګار د درې مياشتني راپورونو اوغوښتنو معاينه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **برخه** |
| برخه 1229(F)(1)(i) | د هر هغه قرارداد، بوديجې، تړون يا د بوديجې د بل کوم ميکانزم په صورت کې چې په پراګراف (2)* کې يې يادونه شوې ---<br>(1) د قرارداد يا د بوديجې د بل کوم ميکانزم رقم؛<br>(2) د قرارداد يا د بوديجې د بل کوم ميکانزم د ساحې لنډ بحث؛<br>(3) په دې اړه يو بحث چې څرنګه د متحده ايالاتو د حکومت هغه رياست يا اداري چې په دې قرارداد، بوديجه، تړون، يا د بوديجې په بل ميکانزم کې کار کوي د مهمو کانديدانو وړانديزونه وپيژندل يا وغوښتل چې دغه قرارداد، بوديجه، تړون، يا د بوديجې بل کوم ميکانزم ترسره کړي، د نورو مهمو ادارو يا اشخاصو د يو ليست سره چې د دې وړانديز ورته شوي يا غوښتل شوي و؛ او<br>(4) د حق او منظورۍ هغه اسناد په کومو چې د دې پروسو د پرېکړې بنسټ و له هغو پروسو پرته چې بشپړه او پرانستې مقابله وړاندې کوي | د قراداد جزييات تشريح کړئ | يادونه 1 |
| برخه 1229(3)(i) | عامه ترلاسه کېدل.—<br>عمومي پلټونکی بايد په يوه عامه ترلاسه کېدونکې انټرنېټي ويبپاڼه د دې ضمني برخې د پراګراف (1) لاندې هر راپور په انګليسي او نورو هغو ژبو کې خپور کړي چې عمومي پلټونکی پوهيږي چې په افغانستان کې په پراخه پيمانه ويل کيږي او خلک پرې پوهيږي. | د راپور خپرول څرنګه چې يې لارښودنه شوې | www.sigar.mil<br><br>درې او پښتو ژباړه<br>تر کار لاندې |
| برخه 1229(4)(i) | بڼه.—<br>د دې فرعي برخې لاندې غوښتل شوی هر راپور بايد په ښکاره بڼه وړاندې شي، خو کېدای شي محرمې ضميمې ولري، که چيرې عمومي پلټونکي هغه ضروري وګڼي | د راپور خپرول څرنګه چې يې لارښودنه شوې | ټولې برخې |

# ضميمې

جدول الف.2

**د 1978 کال د عمومي پلټونکي قانون د 5 برخې لاندې**
**د شپږ میاشتنی راپور ورکولو د غوښتنې سره سم، څنګه چې تعدیل شوي دي (5 U.S.C. ضمیمه 3)(د عمومي پلټونکي قانون)**

| د عمومي پلټونکي قانون برخه | د عمومي پلټونکي قانون ژبه | د سيګار عمل | برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 5(a)(1) | د مهمو ستونزو، ناوره استعمالولو، او نيمګړتياوو تشريح | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د پلټنو، څېړنو، او معاينو له راپورونو څخه د ستونزو، ناوړه استعمال، او نيمګړتياوو لست | د نورو ادارو نظارت<br>د پوښتنو ليکونه په www.sigar.mil کې وګورئ |
| برخه 5(a)(2) | د مهمو ستونزو، ناوړه استعمال، يا نيمګړتياوو په اړه، د سپارښتنو او اصلاحي کړنو تشريح | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د پلټنو له راپورونو څخه د سپارښتنو لست | د نورو ادارو نظارت<br>د پوښتنو ليکونه په www.sigar.mil کې وګورئ |
| برخه 5(a)(3) | د هر پام وړ سپارښتنې په ګوته کول چې په مخکينيو خلاصه شوي راپورونو کې تشريح شوي وه او د کومو په اړه چې اصلاحي کړنې نه دي بشپړې شوي | له مخکينيو خلاصه شويو راپورونو څخه د ټولو نابشپړ شويو اصلاحي کړنو لست برابر کړئ | تر کار لاندې |
| برخه 5(a)(4) | د هغو مسالو لنډيز چې تعقيب کوونکي مقامونو ته راجع شوي او تعقيب او محکوميت چې د هغوی په نتيجه کې ترلاسه شوی | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د هغو څېړنو لست چې ليږل شوي دي | د نورو ادارو نظارت |
| برخه 5(a)(5) | د هر راپور لنډيز چې د دفاع وزير ته د 6(b)(2) برخې لاندې کېږي (هغه بېلګې چې غوښتل شوي معلوماتو ورکول رد کړی شوي يا نه دي ورکړ شوي) | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د هغو بېلګو لست چې د سيګار پلټونکو، څېړونکو، يا معاينه کوونکو ته د معلوماتو له ورکولو انکار شوی وه | د نورو ادارو نظارت |
| برخه 5(a)(6) | د هرې تفتيشونه راپور، معايني راپور او ارزونې راپور چې خپاره شوي دي، د موضوع په اساس ويشل شوي يو لست برابرول...چې تر پوښتنې لاندې مصارفو ارزښت په ډالرو او د بوديجو د ښه استعمال لپاره ورکړ شوي سپارښتنې څرګندې کړي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د راپورونو لست | د نورو ادارو نظارت |
| برخه 5(a)(7) | په ځانګړې توګه د هر مهم او پام وړ راپور لنډيز | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار د پام وړ راپورونو لنډيز برابرول | د نورو ادارو نظارت<br>د مهمو راپورونو بشپړ لست په www.sigar.mil کې موندلای شي |
| برخه 5(a)(8) | احصاييوي جدولونه چې د تفتيشونه د راپورونو ټول شمير او د تر پوښتنې لاندې مصارفو ټول ارزښت په ډالرو باندې وښيي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د احصاييوي جدولونو جوړول چې د سيګار له راپورونو څخه<br>د تر پوښتنې لاندې مصارفو ډالري ارزښت څرګندوي | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ<br>تر کار لاندې |
| برخه 5(a)(9) | احصاييوي جدولونه چې د تفتيشونه راپورونو، د معاينې د راپورونو، او ارزونې راپورونو ټول شمير ښکاروي او د اداري له خوا د بوديجو د لا غوره استعمال او کار اخيستلو لپاره د سپارښتنو ډالري ارزښت څرګند کړي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سيګار له راپورونو څخه احصاييوي جدولونه جوړ کړئ تر کار لاندې چې د اداري لخوا د غوره استعمال لپاره کارول شويو بوديجو ډالري ارزښت څرګندوي | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ |
| برخه 5(a)(10) | د تفتيشونه، معايني او ارزونې د هر راپور لنډيز چې د راپور ورکولو له دورې نه مخکې خپاره شوي دي او د کومو په اړه چې تر اوسه پورې اداري پريکړه د راپور ورکولو د دورې تر پايه پورې نه وي شوې، د هغو دلايلو يوه تشريح چې اداري پريکړې ولې نه دي شوې، او يو بيان چې د اداري پريکړې د ترلاسه کولو لپاره د خوښې وړ مهال ويش وړاندې کړي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول د سيګار د تفتيشونه<br>د راپورونو يو لنډيز وړاندې کړئ<br>چې په هغو کې د سيګار لخوا ورکړ شوي سپارښتنې اوس هم پرانيستې دي | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ<br>نشته |

جدول الف.2 (دوام لري)

**د 1978 کال د عمومي پلټونکي قانون د 5 برخې لاندې**
**د شېږ ماشتنې راپور ورکولو د غوښتنې سره سم، څنګه چې تعديل شوي دي (5 U.S.C. ضميمه 3)(د عمومي پلټونکي قانون)**

| د عمومي پلټونکي قانون برخه | د عمومي پلټونکي قانون ژبه | د سيګار عمل | برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 5(a)(11) | د هرې مهمې اداري پريکړې د تعديل د دلايلو تشريح اوڅرګندونه | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ |
| | | د سيګار د تفتيشونه هغه راپورونه تشريح کړئ چې په هغوی کې په اداري پريکړو د پام وړ او مهمې سمونې شوې دي | نشته |
| برخه 5(a)(12) | د هر ډول د پام وړ اداري پريکړو په اړه معلومات چې له عمومي پلټونکي له هغوی سره په مخالفت کې وي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ |
| | | د سيګار د تفتيشونه هغه راپورونه تشريح کړئ چې په هغوی کې سيګار له اداري پريکړو سره مخالف وه | د راپور ورکولو په دې دوره کې د مناقشې وړ پريکړې نه وې |
| برخه 5(a)(13) | د فدرال مالي مديريت د بهترولو د 1996 کال قانون د برخه 804 لاندې تشريح شوي معلومات (هغه بيلګې او دلايل چې کله يوه اداره ورکړ شوي نيټې پورې لکه څنګه چې په پلان کې په نښه شوې دي، پوره کړې نه وي) | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول | د SWA/JPG د غړيو راپورونه وګورئ |
| | | کله چې مديريت اصلاحي پلان په وخت نه وي بشپړ کړي، معلومات ورکړئ | د راپور ورکولو په دې دوره کې د مناقشې وړ پريکړې نه وې |
| برخه 5(a)(14)(A) | يوه ضميمه چې په هغې کې د نورو لخوا د کتنې لاس ته راوړنې وي چې د راپور ورکولو د دورې په جريان کې د يو بل عمومي پلټونکي د دفتر لخوا ترسره شوي وي؛ يا | SIGAR په خپل ويب سايټ کې د ټر ټولو تازه کتنو بشپړ نتايج، او د هغوی لخوا راپورونه خپاره کړي دي (په جولای 2010 کې بشپړ شوي، تر اوسني راپور ورکولو دورې نه مخکې) | په www.sigar.mil کې په بشپړ ډول خپاره شوي دي |
| برخه 5(a)(14)(B) | که چيرې د راپور ورکولو د دورې په موده کې هيڅ کتنه نه وي ترسره شوې، يو بيان چې د وروستي ځل کتنې نيټه ښيي او د يوه بل عمومي پلټونکي د دفتر لخوا ترسره شوې وي | 15 جولای 2010 | په www.sigar.mil کې په بشپړ ډول خپاره شوي دي |
| برخه 5(a)(15) | د بل عمومي پلټونکي د دفتر لخوا ترسره شوې کتنې په ترڅ کې د هر ډول پاته شوي سپارښتنو لست چې په بشپړه توګه نه دي تطبيق شوې، په ګډون د يوه بيان چې د تطبيق وضعيت تشريح کوي او ولې تطبيق کول نه دی بشپړ شوی | هيڅ - د کتنې په ترڅ کې ټولې سپارښتنې په اغيزمنه توګه عملي شوي دي، او جبرانونکي ګامونه پورته شوي دي، تر 30 سپتمبر 2010 سره سم | سپارښتنې او اړوند مواد په بشپړ ډول په www.sigar.mil کې خپاره شوي دي |
| برخه 5(a)(16) | هره هغه کتنه چې د سيګار لخوا د عمومي پلټنې د کوم بل دفتر لپاره د راپور ورکولو په موده کې ترسره شوې وي، په شمول د يوه لست د هغو سپارښتنو چې نه دي عملي شوي او له مخکيني کتنې راهيسې په خپل ځای پای ته دي. . . کوم چې لا تصفيه شوي نه دي او يا په بشپړه توګه تطبيق شوي نه دي | نه راجع کيږي (سيګار د راپور کولو د مودې په جريان کې د کوم بل عمومي پلټونکي کتنه ترسره کړې نه ده، يا يې په کتنه کې برخه نه ده اخيستې) | د سيګار نظارت |

يادونه 1: که څه هم په عادي ډول ډاټا د سيګار په ويب سايټ کې موجود وي (www.sigar.mil)، خو هغه ډاټا چې سيګار ترلاسه کړې ده په نسبتاً خام شکل کې وي او اوسمهال د سيګار د راتلونکو ټولو موخو لپاره کتل کيږي، تحليل کيږي، او تنظيم کيږي.

* تر پوښښ لاندې "د قراردادونو، مرستو، تړونونو، او د بوديجو مکانيزمونه" د پي ايل نمبر 181-110 په 1229 (i) برخې په (2) پراګراف کې تعريف شوي دي، لکه چې —

"هر لوی قرارداد، مالي مرسته، تړون، يا د بوديجې مکانيزم چې د متحده اياالاتو د دولت د هر رياست يا اداري لخوا پکې برخه واخيستل کيږي، او په هغوی د افغانستان د بيا رغونې لپاره اختصاص شوي او يا بل ډول ورکړ شوي پيسې شاملې وي، که له هر ډول دولتي يا شخصي سازمان سره د لاندې هر مقصد لپاره وي:

په افغانستان کې د فزيکي انفراسټرکچر جوړول يا بيا جوړول.
د افغانستان د سياسي يا ټولنيزي اداري تاسيس يا دوباره تاسيس.
د افغانستان خلکو ته د توليداتو يا خدمتونو برابرول."

# ب ضميمه

## د متحده ايالاتو د دولت اختصاص شوي بوديجې (په ميليونو ډالرو)

دا جدول ب.1 د افغانستان د بيا رغوني د هڅو لپاره د اختصاص شويو بوديجو د پروګرام، يو کال، په حساب ليست وړاندې کوي.

جدول ب.1

| د متحده ايالاتو د بوديجو سرچينې | | ټول |
|---|---|---|
| امنيت | | |
| د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه (ASFF) | DoD | 27,833.24 |
| روزنه او تجهيزات (د دفاع وزارت) | DoD | 440.00 |
| بهرني پوځي مالي مرستې (FMF) | DoS | 1,058.50 |
| نړيواله نظامي ښوونه او روزنه (IMET) | DoS | 8.30 |
| NDAA برخه 1207 انتقال | نوري | 9.90 |
| **ټول: امنيت** | | **29,349.94** |
| **دولتداري او پرمختيا** | | |
| د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP) | DoD | 2,639.00 |
| د اقتصادي ملاتړ بوديجه (ESF) | USAID | 11,143.41 |
| پرمختيايي ملاتړ (DA) | USAID | 885.21 |
| د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (AFSA) | DoD | 550.00 |
| د ماشوم بقا او روغتيا (CSH + GHAI) | USAID | 486.42 |
| د توليداتو د اعتبار اردو (CCC) | USAID | 30.09 |
| د ازادۍ د ملاتړ قانون (FSA) | USAID | 5.00 |
| د متحده ايالاتو د نړيوالي مرستې اداره (نوري) | USAID | 34.27 |
| د اټومي وسلو د خپرولو مخنيوي، تروريزم ضد، ماينونه ليرې کول، او اړوند (NADR) | DoS | 371.60 |
| د ولايتي بيا رغوني د ټيم مشاوران | USDA | 5.70 |
| د خزانې تخنيکي مرسته | خزانه | 3.52 |
| **ټول: دولتداري او پرمختيا** | | **16,154.22** |
| **دمخدره موادو پرضد مبارزه** | | |
| د مخدره مواد نړيوال کنټرول او د قانون نفاذ (INCLE) | DoS | 2,853.75 |
| د نشه يي توکيو بندېز او د نشه يي توکيو پر ضد فعاليتونه (DoD CN) | DoD | 1,511.17 |
| د نشه يي توکيو په اړه د تنفيذ اداره (DEA) | DoJ | 127.37 |
| **ټول: د مخدره موادو پرضد مبارزه** | | **4,492.29** |
| **بشري** | | |
| پي ايل 480 عنوان I | USDA | 5.00 |
| پي ايل 480 عنوان II | USAID | 701.21 |
| په مصيبت کې مرسته (IDA) | USAID | 372.53 |
| د انتقال نوښتونه (TI) | USAID | 34.44 |
| د مهاجرت او مهاجرو مرسته (MRA) | DoS | 590.10 |
| داوطلب سوله ساتنه (PKO) | DoS | 69.30 |
| د مهاجر او مهاجرت بيړنۍ مرسته (ERMA) | DoS | 25.20 |
| خواړه د پرمختګ لپاره | USDA | 109.49 |
| 416 (b) د خوړو کومک | USDA | 95.18 |
| خواړه د تعليم لپاره | USDA | 50.49 |
| ايمرسن بوديجه | USDA | 22.40 |
| **ټول: بشردوستانه** | | **2,075.34** |
| **د نړيوالو چارو عمليات** | | |
| **نظارت** | | **76.40** |
| **نوري** | | **3,955.80** |
| **ټول: د نړيوالو چارو عمليات** | | **4,032.20** |
| **ټولې بوديجې** | | **56,103.99** |

يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د تازه معلوماتو په نتيجه کې د مالي کال 2009 اختصاص د هغه په نسبت چې په تيرو دريو مياشتو کې راپور ورکړ شوي وه لوړ شو.

سرچينه: DoD، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 10/22/2010؛ DoD، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځوابونه 10/20/2010، 15/10/2010، 10/6/2010، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ مالي کال 2010 ضميمه يي: مالی کال 2010 د دفاع د تشريح څرګندونه؛ DoS، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځوابونه، 10/15/2010 او 10/12/2010؛ خزانه، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب،10/12/2010؛ OMB، سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځوابونه، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ DoJ، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 7/7/2009؛ USDA، د سيګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 4/2009.

# ضميمي

| مالي کال 2010 | مالي کال 2009 | مالي کال 2008 | مالي کال 2007 | مالي کال 2006 | مالي کال 2005 | مالي کال 2004 | مالي کال 2003 | مالي کال 2002 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | |
| 9,166.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 995.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 413.70 | 191.00 | 57.00 |
| 1.50 | 1.40 | 1.60 | 1.10 | 0.80 | 0.80 | 0.60 | 0.30 | 0.20 |
| 0.00 | 0.00 | 9.90 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 9,168.27 | 5,608.34 | 2,761.50 | 7,407.50 | 1,908.93 | 1,682.60 | 564.30 | 191.30 | 57.20 |
| | | | | | | | | |
| 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 | 0.00 | 0.00 |
| 3,346.00 | 2,182.55 | 1,399.51 | 1,210.71 | 473.39 | 1,280.57 | 893.88 | 239.29 | 117.51 |
| 0.00 | 0.40 | 149.43 | 166.81 | 185.01 | 169.58 | 153.14 | 42.54 | 18.30 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 250.00 | 135.00 | 165.00 | 0.00 |
| 94.30 | 58.23 | 63.07 | 100.77 | 41.45 | 38.00 | 33.40 | 49.68 | 7.52 |
| 4.22 | 4.22 | 13.02 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.33 | 7.30 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.00 | 0.00 |
| 2.90 | 3.55 | 22.32 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.50 | 0.00 |
| 57.80 | 48.60 | 26.60 | 36.60 | 18.20 | 38.20 | 66.90 | 34.70 | 44.00 |
| 0.00 | 5.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.44 | 0.75 | 0.13 | 0.19 | 0.95 | 0.06 | 1.00 | 0.00 |
| 4,505.22 | 2,854.36 | 2,163.03 | 1,724.02 | 933.24 | 1,913.30 | 1,332.38 | 534.04 | 194.63 |
| | | | | | | | | |
| 589.00 | 484.00 | 307.08 | 251.74 | 232.65 | 709.28 | 220.00 | 0.00 | 60.00 |
| 391.11 | 235.06 | 189.64 | 290.97 | 108.05 | 224.54 | 71.80 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 18.80 | 40.59 | 20.38 | 23.66 | 16.77 | 3.72 | 2.87 | 0.58 |
| 980.11 | 737.86 | 537.31 | 563.09 | 364.36 | 950.59 | 295.52 | 2.87 | 60.58 |
| | | | | | | | | |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.00 |
| 27.40 | 65.41 | 177.00 | 60.00 | 60.00 | 56.60 | 49.20 | 46.10 | 159.50 |
| 29.93 | 27.28 | 17.01 | 0.03 | 0.04 | 4.22 | 11.16 | 85.77 | 197.09 |
| 0.99 | 0.87 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.60 | 11.22 | 11.69 | 8.07 |
| 71.89 | 76.79 | 44.25 | 53.80 | 36.00 | 47.10 | 63.30 | 61.50 | 135.47 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 15.50 | 20.00 | 9.90 | 23.90 |
| 0.00 | 0.20 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.00 |
| 0.00 | 12.09 | 20.55 | 9.47 | 23.24 | 30.10 | 9.08 | 4.96 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 34.58 | 14.14 | 46.46 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.08 | 10.02 | 6.12 | 9.27 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 22.40 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 130.21 | 182.64 | 281.21 | 123.30 | 144.36 | 165.14 | 204.66 | 248.33 | 595.49 |
| | | | | | | | | |
| 34.40 | 25.20 | 14.30 | 2.50 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 1,599.50 | 1,047.60 | 434.40 | 207.80 | 131.90 | 136.10 | 207.60 | 35.30 | 155.60 |
| 1,633.90 | 1,072.80 | 448.70 | 210.30 | 131.90 | 136.10 | 207.60 | 35.30 | 155.60 |
| 16,417.71 | 10,456.00 | 6,191.75 | 10,028.21 | 3,482.79 | 4,847.73 | 2,604.46 | 1,011.84 | 1,063.50 |

# ج ضميمه
## د سيگار تفتيشونه

### بشپړې شوي تفتيشونه
د راپور ورکولو په دي دوره کې، سيگار اووه تفتيشونه بشپړې کړي، لکه چې په جدول ج.1 کې ښودل شوي دي.

جدول ج.1

| له 30 اکتوبر 2010 سره سم د سيگار بشپړې شوي تفتيشونه | | |
|---|---|---|
| راپور شمېره | د راپور سرليک | د صدور نېټه |
| سيگار-تفتيش -5-11 | د افغانستان د دولت مامورينو او تخنيکي مشاورينو ته متحده ايالاتو د معاشونو په مرسته کې د بی ثباتي اغيزي او د ساتني نشتوالي په اړه اقداماتو ته اړتيا ليدل کيږي. | 10/29/2010 |
| سيگار-تفتيش-4-11 | په مالي کلونو 2007 تر 2009 کې، د دفاع وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، او USAID تر 17.7 ميلیارده ډالرو زياتي پيسي نيژدي 6900 قراردادیانو او نورو مؤسسو ته د افغانستان د بيارغوني لپاره منلي دي. | 10/27/2010 |
